۶ - مـــصارف تـــرمیم و حفـــظ و مراقبـت امـــوال و ملکیتـــی کـــه درکـــار یـــا تجـــارت ضـــروری بـــوده و مـــورد اســـتفاده قـــرار می گیرد.

۷ – امـــوال منقـــول وغیـــر منقـــول بـــه اســـتثنای (زمـــین زراعتـــی) کـــه در کـــار تجـــارت مـــورد استفاده قرار گرفته و یا بـه منظور تولیـد عایـدات در اختیـار مؤلـد مـی باشـد ، اسـتهلاك آن مطـابق تعلیماتنامۀ مالیـات بـر عایـدات قابـل مجرائـی اسـت، مجمـوع کـسرات اسـتهلاك مـا ل یـا

ټول کسرات د هغو له تمامې شوې بیې څخه زیات، مالیه ورکوونکي ته دمجرایي ورې ندي، که چېرې حقیقي یا حکمي شخص، د شتمنۍ د لاسته راوړولو په بدل کې له ورکړو څخه، ددې قانون د حکمونو د دوه اویایمې مادې د حکم مطابق، مالیه وضع نکړي، د هغۀ د شتمنۍ د تمامې شوې بیې د هغې برخې د استهلاک چې له هغې څخه مالیه وضع شوې نده، د مجرایي مستحق نه ګرځي.

۸- هغه مالیه او محصول چې په خپل ذات کې د کار او سوداګرۍ لپاره لازمي لګښت یا د عایداتو په منظور د مال او ملکیت د لرلو لپاره لازمي لګښت او یا د عایداتو د تولید لپاره لازمي لګښت وي ، پدې شرط چې مالیه یې د مالي کال په موده کې ورکړل شوې وي او یا ټوله شوې وي . هغه مالیات چې د دې قانون د حکمونو مطابق وضع شوي دي او هغه مالیات چې د کار او سوداګرۍ د لازمي لګښتونوله جملې څخه ونه شمېرل شي ، د مجرایي ورې ندي ، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول اټکل

ملکیت بیشتر از قیمت تمام شد آن قابل مجرائی به مالیه ده نمی باشد ، هرگاه شخص حقیقی یا حکمی از تأدیات در بدل حصول دارائی مطابق حکم مندرج مادۀ هفتاد و دوم این قانون مالیه را وضع نه نمایند ، مستحق مجرائی استهلاك آن بخش از قیمت تمام شد دارائی که از آن مالیه وضع نشده است، نمی گردد.

۸ - مالیه و محصولی که بذات خود مصرف لازمی جهت کار و تجارت یا مصرف لازمی برای داشتن ما ل و ملکیت به منظور عایدات ویا مصرف لازمی برای تولید عایدات باشد ، مشروط براینکه مالیۀ آن در ظرف سال مالی تأدیه شده ویا تجمع نموده باشد. مالیاتیکه طبق احکام این قانون وضع گردیده و مالیاتی‌که از جمله مصارف لازمی کار و تجارت به حساب نرود ، قابل مجرائی نیست، مگر اینکه دراین قانون طوری دیگری پیشبینی

شوي وي .

۹- ددریو کلونو په ترڅ کې منقولو او غیر منقولو مالونو ته له حریق ، زلزلې او نورو نا څاپي پېښو څخه ورپېښ شوي زیانونه ، پدې شرط چې بیه یې تثبیت وي او پدې هکله مثبته سند وړاندې او د بیمې د مؤسسولخوا جبران شوي نه وي .

۱۰- پر عایداتو باندې د مالیاتو د تعلیماتنامې مطابق په کاریاسوداګرۍ کې له نه ترلاسه کېدو وړ پورونو څخه رامنځته شوی زیان .

۱۱- د هغۀ حکمي شخصیت په واسطه چې د هېواد د نافذه قوانینو مطابق تأسیس شوی وي، په پیسو باندې د ورکړل شوې وندې ګټه .

۱۲- د کار یا سوداګرۍ نور لګښتونه او د عایداتو د تولید په منظور د منقولو او غیر منقولو مالونو په واک کې د لرلو لګښتونه او په اړوندو تقنیني سندونو کې درج د عایداتو د تولید لګښتونه .

(۲) په لاندې مواردو کې د لګښتونو کسر او وضع کول غیر مجاز او د مجرایي وړ ندي :

گردیده باشد.

۹ -خسارات وارده ناشی از حریق، زلزله، و سایر حوادث غیر مترقبه به اموا ل منقول وغیرمنقول درخلال سه سال، مشروط براینکه قیمت آن تثبیت بوده و سند مثبته را در این مورد ارائه و از طرف مؤسسات بیمه جبران نگردیده باشد.

۱۰ - خسارۀ ناشی از قروض غیر قابل حصول درکار یا تجارت طبق تعلیماتنامۀ مالیات بر عایدات.

۱۱ - مفاد سهم تأدیه شده به پول توسط شخصیت حکمی ایکه مطابق قوانین نافذۀ کشور تأسیس گردیده باشد.

۱۲ - سائر مصارف کار یا تجارت و مصارف در اختیار داشتن اموال منقول و غیر منقول به منظور تولید عایدات و مصارف تولید عایدات مندرج اسنادتقنینی مربوط.

(۲) کسر و وضع مصارف در موارد آتی غیر مجاز بوده ، قابل مجرائی نمی باشد:

۱- د بلنو او اعلانونو لګښتونه چې په اقتصادي او سوداګريزو فعاليتونو پورې مرتبط نه وي .
۲- هغه حکمي او حقيقي اشخاص چې د دې قانون د حکمونو مطابق د ونډې له ګټې،تکټانې،حق الامتياز، کرايې، کمښن، اجورې، معاشونو، ددې قانون په دوه اويايمه ماده کې له درج شوو معاملو او نورو ورته عوايدو څخه د مالياتو په وضع کولو مکلف دي، خو د هغو مالیات يې وضع کړې نه وي.
۳- په افغانستان کې د يوۀ غير مستقل غير مېشت شخص پر نمايندګۍ باندې هر ډول هغه خرڅونه چې غير مېشت شخص يا ورسره کوم اړوند شخص ته ورکړل يا ومنل شي .

د نه مجرايي ورړ لګښتونه
نولسمه ماده :
(۱)دلاندې اقلامو په شمول د شخصي لګښتونوکسر اووضع کول غير مجاز دي، اودمجرايي ورندي:
۱- هغه ورکړې (تأديات) چې د ماليه ورکوونکي يا يې د کورنۍ د ګټې او خوښۍ په غرض

۱ - مصارف دعوت ها و اعلانات که مرتبط به فعالیت های اقتصادی و تجارتی نباشد.
۲ - اشخاص حقیقی و حکمی که مطابق احکام این قانون مکلف به وضع مالیات از مفاد سهم، تکتانه، حق الامتیاز، کرایه، کمیشن، دستمزد، معاشات، معاملات مندرج مادۀ هفتاد ودوم این قانون وسایر عواید مشابه بوده اما مالیات آنرا وضع وتأدیه ننموده باشد.
۳ - بالای نمایندگی غیرمستقل یک شخص غیرمقیم درافغانستان، هرگونه مخارج که به شخص غیرمقیم یاکدام شخص مرتبط باآن تأدیه ویا متقبل گردد.

مصارف غیر قابل مجرائی
مادۀ نزدهم:
(۱) کسر و وضع مصارف شخصی بشمول اقلام ذیل غیر مجاز بوده قابل مجرائی نمی باشد:
۱ - تأدیاتیکه به اشخاص غرض منفعت و خوشی مالیه ده یا فامیلش صورت

اشخاصوته صورت مومي .
۲- د مالیه ورکوونکي یایې د کورنۍ د حویلۍ یا د اوسېدو د ځای د ساتنې او ځارنې، تر میمولو، تعمیر،دمفروشاتو د اصلاح لګښتونه او نورلګښتونه او یا هر مال او ملکیت چې د مالیه ورکوونکي یایې د کورنۍ ګټې اخستنې ته مختص وي.
۳-پرشخصي دیونو باندې ټکټ پولي.
۴- د کار ځای ته د تلو راتلو لګښتونه او د شخصي مقصدونو لپاره د سفر لګښتونه .
۵- د ژوند ، ټکر(تصادم) او روغتیا د بیمې او د مالیه ورکوونکي او د هغۀ د کورنۍ دخوندیتوب په منظور، د نورو د ادعا پر خلاف د بیمې لګښت.
۶- د هغو مالونو او ملکیت چې په شخصي مقصدونو تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي، د ساتنې په غرض د هر ډول بیمې لګښت .
(۲) په لاندې مواردو کې د لګښتونو کسر او وضع کول هم غیر مجاز دي،د مجرایي وړ ندي :

می گیرد.
۲ - مصارف حفظ و مراقبت، ترمیم، تعمیر، اصلاح مفروشات و سائر مصارف حویلی یا محل رهایش مالیه ده یا فامیلش یا هر مال و ملکیتی که مختص به استفاده مالیه ده ویا فامیلش باشد.
۳ - تکت پولی بر دیون شخصی.
۴ - مصارف رفت و آمد به محل کار و مصارف سفر برای مقاصد شخصی .
۵ - مصرف بیمه حیات ، تصادم و صحت و بیمه علیه ادعای دیگران به منظور مصئونیت مالیه ده و فامیلش.
۶ - مصارف هر نوع بیمه غرض محافظت اموال و ملکیت که به مقاصد شخصی مورد استفاده قرار می گیرد.
(۲)کسر و وضع مصارف درموارد آتی نیز غیر مجاز بوده، قابل مجرائی نمی باشد :

۱- د ځمکې ، ودانیو او دوامدارو شیانو (ماشین ، تجهیزاتو، ثابتې اثاثیې ، مفروشاتو او د الحاقیې یا په هغې کې د اصلاحاتو تمام شوی لګښت) تمامه شوې بیه . د دې قانون د اتلسمې مادې د (۱) فقرې په (۷) جزء کې درج شوي لګښتونه او په درېیم فصل کې درج شوي حکمونه لدې امر څخه مستثنیٰ دي .

۲- په احتیاطي زېرمې زیاتول، دنه ترلاسه کېدو وړ پورونو او هغو ته په ورته مقصد زېرمه .

۳- د غیر مېشتو اشخاصو لخوا چې د افغانستان له کورنیو سرچینو څخه عواید ترلاسه کوي، بهرنیو دولتونو ته ورکړل شوي مالیات ، خو دا چې پدې هکله ژمنلیک موجود وي .

د کورنیو سرچینو عواید

شلمه ماده:

(۱) د کورنیو سرچینو عواید په لاندې ډول دي :

۱- د پورونو ټکټانه ، ګټه ایزې: (مفادي) تحویلي او پانګه اچونې .

۲- له هغو مېشتو شرکتونو څخه چې په افغانستان کې فعالیت

۱ - قیمت تمام شد زمین، تعمیرات و اشیای دوامدار (ماشین، تجهیزات ، اثاثیه ثابت، مفروشات و مصارف تمام شد الحاقیه یا اصلاحات در آنها) . مصارف استهلاك مندرج جز(۷) فقرۀ (۱) مادۀ هجدهم و احکام مندرج فصل سوم این قانون از این امر مستثنی است.

۲ - افزودی به ذخیرۀ احتیاطی، ذخیره به مقصد قروض غیر قابل حصول و امثال آن.

۳ - مالیات تأدیه شده به دول خارجی از طرف اشخاص غیر مقیم که از منابع داخل افغانستان عواید حاصل می نمایند ، مگر اینکه معاهده ای در مورد موجود باشد.

عواید منابع داخلی

مادۀ بیستم:

(۱) عواید منابع داخلی قرار ذیل می باشد:

۱- تکتانه قروض، تحویلی های مفادی و سرمایه گذاری ها.

۲- عواید مفاد سهم از شرکتهای مقیم که در افغانستان فعالیت

کوي، د وندې د ګټې عواید .
۳- د خدمتونو په وړاندې دمعاش، حق الزحمې او له آزادو شغلونو څخه د مزدورۍ عواید .
۴- د کرایو او له منقولو او غیر منقولو مالونو څخه د حق الامتیاز عواید .
۵- د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ د پلورنې عواید .
۶- د هر ډول بیمو په شمول له پلورنو څخه د کمیشن اخستل .
۷- د هېواد په دننه کې د سوداګریزو فعالیتونو عواید .
۸- د هغو منقولو مالونو د پلورلو یا لېږدولو عواید چې په سوداګریزو یا استخدامي فعالیتونو کې له هغو څخه ګټه اخستل کېږي .
۹- د حق الامتیاز، فیس او کمیشن عواید چې د افغاني میشت لخوا ورکول کېږي .
۱۰- د نفتي موادو ، معدني موادو یا نورو سرچینو له اکتشاف او استخراج څخه راپیدا شوي عواید .
۱۱- د هېواد په دننه کې د نورو عایداتي سرچینو

می نمایند.
۳- عواید معاش، حق الزحمه و دستمزد از مشاغل آزاد در مقابل خدمات.
۴- عواید کرایه ها و حق الامتیاز از اموال منقول و غیر منقول.
۵- عواید فروش دارائی منقول و غیر منقول.
۶- اخذ کمیشن از فروشات بشمول انواع بیمه.
۷- عواید فعالیت های تجارتی در داخل کشور.
۸- عواید فروش یا انتقال اموال منقول که در فعالیت های تجارتی یا استخدامی از آن استفاده بعمل می آید.
۹- عواید حق الامتیاز، فیس و کمیشن که توسط مقیم افغانی تأدیه می گردد.
۱۰- عواید ناشی از اکتشاف و استخراج مواد نفتی، موادمعدنی یا سایر منابع.
۱۱- عواید سایر منابع عایداتی در داخل کشور

عوایـــد چـــې د دې قـــانون د حکمونـو مطـابق د مالیـاتو تـابع ګرځي .

(۲) د دې قـــانون د موخـــو د تطبیق په منظور د نهه ویشتمې او دېرشمې مادې په استثنیٰ د دې مـــادې د (۱) فقـــرې پـــه (۵) جزء کې د (غیر منقولې شتمنۍ) اصطلاح په یوۀ شرکت یا بل بنسټ کـې چـې د شـتمنۍ ارزښـت یـې اساساً د اشخاصـو د مـستقیم یـا غیر مستقیم مالکیت په پایله کې تراسـه کېـږي، پـه لاتـدې توګـه د هـر ډول ګټې پـه بـر کـې نیوونکې ده :

۱- په افغانستان کې غیر منقوله شتمني .

۲- د هایـدرو کـاربن ، د کـانونو د جـواز او د کـانونو د واک لیـک د قراردادونو په شمول هغه ډول چې د دې قـانون پـه دوولـسم فـصل کـې تـصریح شـوي دي ، پـه افغانـستان کې د غیر منقولې شتمنۍ ګټه .

(۳) د دې قـانون د موخـو د تطبیـق په منظور د هغه د نهه ویشتمې او دېرشـمې مـادې پـه اسـتثنیٰ ، د کانونو لـه استخراج څخه رامنځتـه

کـه مطـابق احکـام ایـن قـانون تـــابع مالیـــات قـــرار می گیرد.

(۲) بـه منظـور تطبیـق اهـداف ایـن قـانون بـه اسـتثنای مـواد بیست و نهم و سی ام، اصطلاح (دارائـــی غیرمنقـــول) منـــدرج جـز (۵) فقـرۀ (۱) ایـن مـاده دربرگیرنـــدۀ هرنـــوع مفـــاد دریـــك شـــرکت یـــا نهـــاد دیگریکـــه ارزش دارائـــی آن اساســاً درنتیجـۀ مالکیـت مستقیم یـا غیرمستقیم اشخاص دریافـت مـی گـردد ، قـرار ذیل است:

۱ - دارائـــی غیرمنقـــول در افغانستان.

۲ - مفـاد دارائـی غیرمنقـول در افغانستان بـه شـمول قراردادهـای هایـدروکاربن، جـواز معـادن و صلاحیت نامۀ معادن طوریکه در فصل دوازدهم ایـن قـانون تـصریح گردیده است.

(۳) بـه منظـور تطبیـق اهـداف این قانون به استثنای مواد بیست و نهـــم و ســـی ام آن عوایـــد ناشـی از اسـتخراج معـادن کـه در

شوي عوايد چې د دې مادې د (۱) فقرې په (۱۰) جزء کې توضیح شوي دي، د هر ډول پلورنې او نورو مفادي معاملو په بر کې نیوونکي دي .

جزء (۱۰) فقرۀ (۱) این ماده توضیح گردیده است ، دربرگیرندۀ هرنوع فروش و سایرمعاملات مفادی می باشد.

درېیم فصل
د شتمنۍ د پلورنې ، تبادلې یا لېږدونې له درکه ګټه یا زیان

فصل سوم
مفاد یا زیان از درك فروش، تبادله یا انتقال دارائی

پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع ګټه

یو ویشتمه ماده :

د ثابتو شتمنیو د پلورلو یا تبادلې له درکه ګټه او په کسب او سوداګرۍ کې پانګونه پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ده .

مفاد تابع مالیات بر عایدات

مادۀ بیست ویکم:

مفاد از درك فروش یا تبادلۀ دارائی های ثابت و سرمایه گذاری در پیشه و تجارت ، تابع پرداخت مالیات بر عایدات می باشد.

د مالي کال د مالیې وړ ګټه

دوه ویشتمه ماده :

د سهامي شرکت یا محدودالمسئولیت شرکت د شتمنۍ د پلورلو یا تبادلې له درکه تر لاسه شوې ګټه ، د هغۀ مالي کال د مالیې وړ ګټه ده چې په ترڅ کې یې د شتمنۍ لېږد بدلو صورت مونډلی وي .

مفاد قابل مالیۀ سال مالی

مادۀ بیست و دوم:

مفاد حاصله از درك فروش یا تبادلۀ دارائی شرکت سهامی و یا شرکت محدود المسئولیت، مفاد قابل مالیۀ سال مالی می باشد که د رخلا ل آن انتقال دارائی صورت گرفته باشد.

د ملکیت له لېږدېدو څخه مالیه

درویشتمه ماده :

(۱) د لاندې شتمنیو د پلورلو ، تبادلې یا دملکیت دنورو هر ډول لېږدېدو له درکه ترلاسه شوې ګټه ، د مالیې وړ ګټه ګڼل کېږي :

۱- د سرقلفۍ په شمول د کسب یا سوداګرۍ پرېښودل .

۲- د تجهیزاتو ، ماشین آلاتو ، ودانیو ، ځمکې (اراضۍ) او یا د هغو د اجزاوو په شمول فابریکه .

۳- هغه تجهیزات چې په سوداګریز کار او فعالیت او د اشخاصو او مالونو په حمل او نقل کې استعمالېږي .

۴- په سهامي امحدودالمسئولیت شرکت کې ونډې .

(۲) له میراث څخه د پیدا شوې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ له لېږدېدو څخه لاسته راغلې ګټه د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثنیٰ ده .

مالیه از انتقال ملکیت

مادۀ بیست و سوم:

(۱) مفاد حاصله از درك فروش، تبادله یا سایر انواع انتقال ملکیت دارائی های ذیل، مفاد قابل مالیه شناخته می شود:

۱ - واگذاری پیشه یا تجارت، به شمول سر قلفی.

۲ - فابریکه ، به شمول تجهیزات، ماشین آلات، تعمیرات و اراضی ویا اجزای آنها.

۳ - تجهیزاتیکه در کار و فعالیت تجارتی و حمل و نقل اشخاص و اموال استعمال می گردد.

۴ - اسهام در شرکت سهامی یا محدودالمسئولیت.

(۲) مفاد حاصله از انتقال دارائی منقول و غیر منقول ناشی از میراث از حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده مستثنی است.

له مالیې وړ عوایدو څخه د لګښتونو کسر او وضع کول

څلېریشتمه ماده :

د شتمنیو د پلورلو ، تبادلې او لېږدولو عواید (دمیراث په

کسر و وضع مصارف از عواید قابل مالیه

مادۀ بیست و چهارم:

عواید فروش ، تبادله و انتقال دارائی ها (باستثنای میراث) ،

استثنیٰ ، په بشپړډول رپوټ ورکول کېږي او لدې عوایدو څخه د مالیې وړ ګټې د ټاکلو په ترڅ کې لاندې اقلام د وضع کولو وړ دي :

۱- د شتمنۍ او پلورل شوې پانګونې تمامه شوې بیه د هغۀ مبلغ په کسر سره چې د استهلاک له درکه د هغو د ترلاسه کولو له نېټې څخه د معاملې تر وخته پورې د مجرایي وړ وي .

۲- د پلورنې لګښت د کمېشن، اعلانونو ، د وثایقو د ټکټ په شمول او د شتمنیو د لېږدونې نور لګښتونه .

د ورځې په بیه د مالیې تثبیتول

پنځه ویشتمه ماده :

د منقولو او غیر منقولو شتمنیو د لېږدونې د هر ډول معاملې په ترڅ کې(د میراث په استثنیٰ) د ورځې بیه ، د مالیې د سنجش او تثبیت بنسټ دی .

پرمالیې ورکونې باندې د شتمنۍ لېږدونې د ډول نه اغېزه

شپږ ویشتمه ماده :

د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ د لیږدونې ډول(دمیراث په استثنې) به صورت مکمل راپور داده شده و اقلام ذیل حین تعیین مفاد قابل مالیه از این عواید قابل وضع می باشد:

۱ - قیمت تمام شد دارائی و سرمایه گذاری فروخته شده با کسر مبلغی که از درك استهلاك از تاریخ تصاحب آن الی زمان معامله قابل مجرائی باشد.

۲ - مصارف فروش به شمول کمیشن، اعلانات، تکت وثایق و سائر مصارف انتقال دارائی ها.

تثبیت مالیه به قیمت روز

مادۀ بیست و پنجم:

حین هر نوع معامله انتقال دارائی های منقول و غیر منقول (باستثنای میراث) قیمت روز اساس سنجش و تثبیت مالیه می باشد.

عدم تأثیر نوع انتقال دارائی بر مالیه دهی

مادۀ بیست و ششم:

نوع انتقال دارائی منقول و غیر منقول (به استثنای میراث)

له نومورې لیږدونې څخه دترلاسه شوې ګټې پرمالیې ورکونې باندې اغیزه نه لري.

لـه مـالیې وړ عوایـدو څخـه د را پیدا شوي زیان وضع کول

اووه ویشتمه ماده :

د مالي کال په ترڅ کې په کسب یا سوداګرۍ کې د ګټې اخستنې وړ ثابتو شتمنیوله پلورنې یا تبادلې څخه را پیدا شوی زیان د مؤدي له مالیې وړ عوایدو څخه د وضع وړ دی ، پـدې شـرط چـې د نومـورې پلـورنې او تبـادلې ګټـه اصـلاً د مالیې وړ وي .

لـه مـالیې وړ عوایـدو څخـه د اضافي زیان نه وضع کېدل

اته ویشتمه ماده :

د ونـډود سـندونو لـه پلـورنې یـا تبـادلې څخـه را پیـدا شـوی زیـان د وضـع کولـو وړنـدی ، خـو داچـې د غـه زیـان د ونـډې د سـندونو لـه پلـورنې یـا تبادلې څخه له تر لاسه شوې ګټې څخـه چـې پـه عـین کـال کـې یـې صـورت مونـدلی دی راپیـدا شـوی وي. هغـه ګټـه چـې پـدې ډول لـه ترلاسه کېږي له هغۀ زیان څخه چې بـر مالیـه دهـی مفـاد حاصـله از انتقـال مـذکور تأثیرندارد.

وضع زیان ناشی از عواید قابل مالیه

مادۀ بیست و هفتم:

زیـان ناشـی از فـروش یـا تبادلـۀ دارائـی هـای ثابـت مـورد اسـتفاده در پیـشه یـا تجـارت در خـلال سـال مـالی، از عوایـد قابـل مالیـۀ مـؤدی قابـل وضـع می باشد ، مشروط بر اینکه مفاد فروش یا تبادله متذکره اصلاً قابل مالیه باشد.

عدم وضع اضافی زیان از عواید قابل مالیه

مادۀ بیست و هشتم:

زیـان ناشـی ازفـروش یـا تبادلـۀ اسـناد سـهم، قابـل وضـع نمـی باشد ، مگر اینکه این زیان از مفاد حاصـل از فـروش یـا تبادلـۀ اسناد سهم که درعین سال صورت گرفته اسـت نـشأت نمـوده باشـد . مفادیکـه باینـصورت بدسـت میآیـد ،از زیانیکـه از چنـین معاملـه عایـد مـی گـردد اضـافه باشـد ، مبـلغ

لـه دغـه ډول معـاملې څخـه عایـد پرې، زیاتـه وي، اضـافګي مبلغ د مالیې تابع دی، خوکه دغه زیـان لـه ګټې څخـه اضـافه وي، د زیـان اضـافګي مبلـغ د موضـوعي وړندې .

اضـافګی تـابع مالیـه بـوده امـا اگـر ایـن زیـان اضـافه از مفـاد باشـد ، مبلـغ اضافـگی زیـان قابـل موضوعی نمی باشد.

د شـتمنۍ د ارزښـت لـه زیاتېـدو څخه د مالیې سنجش

نهه ویشتمه ماده :

د شـتمنۍ د ارزښـت د زیاتېـدو د مـالیې د تثبیـت او سـنجش ډول په لاندې توګه دی :

۱- د دې قانون په درویشتمه مـاده کـې درج شـوې ګټـه چـې پـه (۱۸) میاشتو یـا لـه هغې څخـه پـه زیاتـه موده کې د شخص ملکیت وي ، د لاندې یـوۀ یـا څـو شـرطونو پـه لرلـو سره تثبیت او سنجول کېږي :

- لېږدېدنې (دمیراث په استثني) د پلـورنې پـه ډول صـورت نـه وي موندلی .

- لېږدول شوې شتمني، پانګه ایزه شتمني وي .

- شتمنۍ ، د پلورنې یـا دکسب او سـوداګری د انحـلال پـه تـرڅ کـې لېږدول شوې وي .

۲- د مـالي کـال پـه تـرڅ کـې د

سـنجش مالیـه از تزئیـد ارزش دارائی

مادۀ بیست و نهم:

طـرز تثبیـت و سـنجش مالیـه تزئیـد ارزش دارائـی قرارذیـل است :

۱ - مفـاد منـدرج مـادۀ بیـست و سوم ایـن قـانون کـه در خـلال (۱۸) ماه یا بیشتر از آن ملکیت شـخص باشـد ، باداشـتن یـك و یـا چنـد شـرط ذیـل تثبیـت و سـنجش می گردد:

- انتقـال (باسـتثنای میـراث) طـور فـروش صـورت نگرفتـه باشد.

- دارائی، انتـقال یافتـه ، دارائی سرمایوی باشد.

- دارائی ، حین فروش یـا انـحلال پیـشه یـا تجـارت انتـقال یافتـه باشد.

۲ - مالیـات بـر عایـدات

شخص پر عایداتو باندې مالیات چې د دې مادې په (۱) جزء کې له درج شویو شرایطو څخه د یوۀ مطابق ولېږدول شي ، د دې مادې په (۳) جزء کې درج له موضوعه مخصوص نرخ سره له ټولو سرچینو څخه د هغۀ دمالیې وړ عوایدو له حاصل ضرب څخه عبارت دي .

۳- پدې ماده کې درج موضوعه مخصوص نرخ په لاندې ډول ترلاسه کېږي:

- دشتمنۍ له لېږدېدوڅخه ترلاسه شوې ګټه(دمیراث په استثني)،د هغو کلونو پرشمېر باندې تقسیمېږي چې شتمني دهغۀ په ملکیت کې وي.

- کلنۍ متوسطه ګټه یا لدې تګلارې څخه ترلاسه شوې ګټه له مالیې وړ نورو عوایدو سره جمع او د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج شوي جدول د نرخ مطابق، سنجش او ترلاسه شوې (حاصله) مالیه پر هغۀ مبلغ باندې تقسیمېږي چې سنجش پرې شوی دی،مطلوب نرخ تثبیتوي، که چېرې مطلوب نرخ په سلو کې له دوو څخه لږ وي،په هغۀ صورت کې

شخص در خلال سال مالی که طبق یکی از شرایط مندرج جزء(۱) این ماده انتقال یابد ، عبارت از حاصل ضرب عواید قابل مالیه اش از تمام منابع با نرخ مخصوص موضوعه مندرج جزء (۳) این ماده می باشد.

۳- نرخ مخصوص موضوعۀ مندرج این ماده قرار ذیل دریافت می گردد:

- مفاد حاصله از انتقال دارائی (به استثنای میراث) تقسیم تعداد سال های می شود که دارائی در ملکیت وی بوده باشد.

- مفاد متوسط سالانه یا مفاد حاصله از این روش با سایر عواید قابل مالیه جمع و مطابق نرخ جدول مندرج مادۀ چهارم این قانون سنجش و مالیه حاصله تقسیم مبلغیکه بر آن سنجش شده است، نرخ مطلوب را تثبیت می نماید ، هرگاه نرخ مطلوب کمتر از دو فیصد بوده، در آنصورت نرخ قابل

د تطبیق وړ نرخ په سلو کې دوه دی.

د منقولو اوغیر منقولو مالونو د پلورنې مالیات

دېرشمه ماده :

(۱) ددې قانون په درویشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، دهغو مالونو بیه چې د حقیقي شخص لخوا د پلورنې یا د منقولو او غیر منقولو مالونو د لېږد له لارې ترلاسه کېږي، د ملکیت دلېږدېدو په وخت کې پر عایداتو باندې د مالیاتو په عوض، په سلو کې د یوې مالیې د ورکړې تابع ګرځي.

(۲) ددې قانون په درویشتمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، دهغو مالونو بیه چې د خرڅلاو یا د منقولو مالونو د لیږد له لارې د حکمي اشخاصو په واسطه لاسته راځي، پرعایداتو باندې د مالیاتو په عوض د لېږدېدو په وخت کې په سلو کې یو مالیې د ورکولو تابع ګرځي، دغه ډول مالیات مخکې ورکړه (پېش پرداخت) ګڼل کېږي او په مالیه کې د بېلانس او اظهارنامې په وړاندې تطبیق دو فیصد می باشد.

مالیات فروش اموال منقول و غیر منقول

مادۀ سی ام:

(۱) بارعایت حکم مندرج مادۀ بیست و سوم این قانون قیمت اموالیکه ازطریق فروش یا انتقال اموال منقول وغیر منقول توسط شخص حقیقی حاصل می گردد، به عوض مالیات بر عایدات تابع پرداخت یك فیصد مالیه هنگام انتقال ملکیت قرار می گیرد.

(۲) بارعایت حکم مندرج مادۀ بیست و سوم این قانون قیمت اموالیکه از طریق فروش یا انتقال اموال منقول توسط شخص حکمی حاصل می گردد، به عوض مالیات بر عایدات تابع پرداخت یك فیصد مالیه هنگام انتقال قرار می گیرد. این مالیات پیش پرداخت محسوب شده، حین ارائه بیلانس و اظهارنامه در مالیه

کولو سره مجرايي ورکول کېږي.

مجرائی داده می شود.

څلورم فصل
شرکتونه

فصل چهارم
شرکت ها

اصطلاحګاني

يودېرشمه ماده :

(۱) شراکت : د دوو يالـه دوو څخه د زياتو اشخاصو يووالی (اتحاد) دی چې د اړونـدې اساسـنامې مطابق په ګډه سره کار او سوداګري کـوي اوګټـه يـا زيـان يې ويشي.

(۲) شريک : هغه شخص دی چې په شرکت کې ونډه ولري .

(۳) د شراکت اساسنامه: د قواعدو ټولګـه ده چـې شـريکانو هغه منلي او پر بنسټ يې شرکت اداره کوي .

(۴) تضامني شرکت : هغه شرکت دی چې له شريکانو څخه هر يو په انفرادي يا ټوليزه توګه د شرکت د ټولو پورونو او د يونو په ورکړه مکلف دي .

(۵) ګډ تـضامني شـرکت : هغـه شرکت دی چې يو يا څو شريکان پکې د شرکت د پورونو او ديونو په نـسبت د تـضامني اوغيـر

اصطلاحات

مادۀ سی و یکم:

(۱) شـراکت: اتحـاد دو يـا بيـشتر از دو شـخص اسـت کـه مطـابق اساسـنامۀ مربـوط مـشترکاً کـار يـا تجـارت نمـوده و نفـع يـا زيـان آنـرا تقسيم می نمايند.

(۲) شـريك: شخـصی است کـه در شرکت سهم داشته باشد.

(۳) اساسـنامۀ شـراکت : مجمـوع قواعديست کـه شـرکا آنـرا قبـول نموده و باساس آن شرکت را اداره می نمايند.

(۴) شرکت تضامنی: شرکتی است که هر يك از شرکا طور انفرادی يا دسـته جمعـی مکلـف بـه تأديۀ تمام قروض و ديون شرکت می باشند.

(۵) شـرکت تـضامنی مخـتلط: شـرکتی اسـت کـه در آن يـك يا چند شريك نسبت به قروض و ديـون شـرکت دارای مـسئوليت

محدودمسئولیت لرونکي وي اوپاتې شریکان ، په شرکت کې د هغوی د ونډې تر اندازې پورې د محدودمسئولیت لرونکي وي .

(۶) محدودالمسئوولیت شرکت : هغه شرکت دی چې شریکان پکې منفرداً د شرکت د پورونو او دیونو په نسبت مسئول نه وي او د هر شریک مسئولیت په شرکت کې د هغۀ د ونډې تر اندازې پورې محدودوی .

(۷)سهامي شرکت:هغۀ شرکت دی چې پانګه یې ټاکلې او په ونډو وېشل شوې وي او د هر شریک د مسئولیت اندازه د هغۀ د ونډې تر اندازې پورې محدوده وي .

پر محدودالمسئولیت او تضامني مختلطو شرکتونو باندې د تطبیق وړ حکمونه

دوه دېرشمه ماده :

(۱) محدودالمسئولیت شرکت،د سهامي شرکتونو په هکله ددې قانون د تطبیق وړ حکمونو تابع دی.

د دې قانون په منظور، د دغه ډول شرکت شریکان ، ونډه لرونکي او د ګټې وېش ئې ، د ونډې ګټه تضامنی و غیر محدود بوده و متباقی شرکا دارای مسئولیت محدود باندازه سهم شان در شرکت می باشند.

(۶) شرکت محدودالمسئولیت: شرکتی است که در آن شرکا منفرداً نسبت به قروض و دیون شرکت مسئول نبوده و مسئولیت هر شریك محدود باندازۀ سهم وی در شرکت می باشد.

(۷) شرکت سهامی: شرکتی است که سرمایۀ آن معین و منقسم به اسهام بوده و اندازۀ مسئولیت هر شریك به اندازۀ سهم آن محدود باشد.

احکام قابل تطبیق بالای شرکت های محدودالمسئولیت و تضامنی مختلط

مادۀ سی و دوم:

(۱) شرکت محدودالمسئولیت تابع احکام قابل تطبیق این قانون در مورد شرکتهای سهامی می باشد.

به منظور این قانون، شرکای همچو شرکت، سهمداران و توزیع مفاد آن، مفاد سهم پنداشته

ګډل کېږي .
(۲)تـضامني مخـتلط شـرکت،د تـضامني شـرکتونو پـه هکلـه د دې قـانون د تطبيـق وړ حکمونـو تـابع دی.

د تضامني شرکت مالیات
دري دېرشمه ماده :
تضامني شرکت د حکمي شخصيت پـه توګـه پـدې قـانون کـې درج پـر عايداتو باندې د مالياتو تابع ندی.
شريکان د حقيقي اشخاصو په توګه په انفرادي ډول پر عايداتو باندې د مالياتو تابع دي .
د تـضامني شـرکت عايـدات د شـريکانو د انفـرادي عايـداتو پـه صـورت چې د هغـو هـر يـو مکلـف دی د شرکت له عايداتو څخه خپله ونډه په خپلـو د مـاليې وړ عوايدو کې داخله کړي ، پرعايداتو باندې دمالياتو د ورکړې تابع دي .

دنګه (خالصو) عوايدو ټاکل
څلور دېرشمه ماده :
تضامني شرکت مکلف دی هر کال ټولـو ترلاسـه شـوو مبـالغو ، اړونـدو لګښتونو او ورکړو (تأديـاتو) څخه ړېوټ ورکړي او خپل خالص عوايد په انفرادي توګه وټاکي .

می شود.
(۲) شرکت تضامنی مختلط تابع احکـام قابـل تطبيـق ايـن قـانون درمورد شرکت های تضامنی می باشد.

مالیات شرکت تضامنی
مادۀ سی وسوم:
شرکت تضامنی منحیث شخصیت حکمـی تـابع مالیـات بـر عايـدات منـدرج ايـن قـانون نمـی باشـد.
شـرکا منحيـث اشـخاص حقيقـی طـور انفـرادی تـابع مالیـات بـر عايدات می باشند.
عايدات شرکت تضامنی بصورت عايدات انفرادی شرکا کـه هر يك آن مکلـف اسـت سـهم خـود را از عايـدات شـرکت در عوايـد قابـل مالیـۀ خـود داخـل نمايـد ، تـابع پرداخـت مالیـات بـر عايدات می باشد.

تعیین عواید خالص
مادۀ سی و چهارم:
شـرکت تـضامنی مکلـف اسـت، سـالانه از تمـام مبـالغ حاصـله، مـصارف و تأديـات مربـوط راپـور داده و عوايـد خـالص خـود را طـور انفرادی تعیین نماید.

شرکت مکلف دی په جلا ډول د هر شریک له ونډې څخه په لاندې مواردو کې رپوټ ورکړي :
۱- خالصه ګټه یا خالص زیان .
۲- د مالونو او منقول او غیر منقول ملکیت د پلورنې یا تبادلې له درکه ګټه یا زیان.
۳- معاش ، ټکټ پولي ، د ونډې ګټه ، پېشکي او هغو ته ورته .

د ترلاسه شوو مبالغو وېش
پنځه دېرشمه ماده :
دتضامني شرکت ترلاسه شوي مبالغ، لګښتونه اوخالصه ګټه داسې ګڼل کېږي چې په اړونده اساسنامه کې ددرج شوو شرایطومطابق، د شریکانو په واسطه ویشل شوي دي.

شرکت مکلف است به صورت جداگانه از سهم هر شریک درموارد ذیل گزارش دهد :
۱ - مفاد خالص یا زیان خالص.
۲ - مفاد یا زیان از درك فروش یا تبادله اموال و ملکیت منقول و غیر منقول .
۳ - معاش، تکت پولی، مفاد سهم، پیشکی و امثال آن.

تقسیم مبالغ حاصله
مادۀ سی و پنجم:
مبالغ حاصله، مصارف و مفاد خالص شرکت تضامنی چنین پنداشته می شود که طبق شرایط مندرج اساسنامۀ مربوط، توسط شرکا تقسیم گردیده است.

پنځم فصل
د محاسبې قواعد

فصل پنجم
قواعد محاسبه

د سندونو ترتیبول او ساتنه
شپږ دېرشمه ماده :
د مالیې وړ عوایدو لرونکي حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي د خپلو منقولو او غیر منقولو مالونو او عوایدو ټول سندونه او دفترونه او د معاملو صورت

ترتیب و نگهداری اسناد
مادۀ سی و ششم:
اشخاص حقیقی و حکمی دارای عواید قابل مالیه مکلف اند ، تمام اسناد و دفاتر و صورت حساب معاملات اموال منقول و غیر منقول و عواید خود را در

حساب په اړوند مالي کال کې ترتیب او وساتي او د غوښتنې په صورت کې یې د مالیې وزارت د اړوندو مؤظفینو په واک کې ور کړي .

د محاسبې وروستۍ طریقه
اووه دېرشمه ماده :
سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونه مکلف دي خپل عواید د محاسبې د وروستۍ طریقې په واسطه چې عواید او لګښتونه کله چې د ورکړې وړ ګرځي ، په پام کې نیسي ، تثبیت کړي .

د محاسبې نقدي طریقه
اته دېرشمه ماده :
مالیه ورکوونکی مکلف دی، خپل د مالیې وړ عواید دمحاسبې د نقدي طریقې مطابق ، هغه وخت چې د عوایدو او لګښتونو ورکړه صورت مومي،تثبیت کړي. مالیه ورکوونکی کولای شي دمالیې وزارت په موافقه د خپلو عوایدو د تثبیت لپاره وروستۍ طریقه هم وټاکي. سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونه لدې امر څخه مستثني دي ، د استهلاکاتو وضع پر عایداتو باندې

سال مالی مربوط ترتیب و نگهداری نموده ، در صورت مطالبه به دسترس مؤظفین مربوط وزارت مالیه قرار دهند.

طریقۀ بعدی محاسبه
مادۀ سی و هفتم:
شرکتهای سهامی و محدود المسئولیت مکلف اند عواید خود را توسط طریقۀ بعدی محاسبه که عواید و مصارف را وقتیکه قابل تأدیه می شود ، درنظر می گیرد ، تثبیت نمایند.

طریقۀ نقدی محاسبه
مادۀ سی و هشتم:
مالیه دهنده مکلف است، عواید قابل مالیۀ خود را طبق طریقۀ نقدی محاسبه حینیکه تأدیۀ عواید و مصارف صورت می گیرد ،تثبیت نماید. مالیه دهنده می تواند به موافقه وزارت مالیه جهت تثبیت عواید خود طریقۀ بعدی را نیز تعیین نماید. شرکت های سهامی و محدود المسؤلیت از این امر مستثنی بوده، وضع استهلاکات مطابق تعلیماتنامۀ مالیات

د مالیاتو د تعلیماتنامې مطابق صورت مومي .

د سندونو او دفترونو ډول او محتوي

نهه دېرشمه ماده :

د مالیې وزارت کولای شي پر عایداتو باندې د مالیاتو د سالمې اداري ، د واقعي عوایدو د تثبیت او له هغو څخه د سم رپوټ د وړاندې کولو په منظور، د مالیاتو ورکوونکي د سندونو او دفترونو ډول او محتوي تثبیت کړي .

د کال آخره موجودي

څلوېښتمه ماده :

اجناس ، محصولات او هغه مواد چې په کار او سوداګرۍ کې تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي ، د هر مالي کال په آخر کې موجودي کېږي او بیه ایښودنه یې د تمامې شوې بیې یا د بازار د بیې (هره یوه چې لږ وي) پر بنسټ صورت مومي . هغه مالیه ورکوونکی چې په صنایعو ، سوداګرۍ یا په نورو کارونو بوخت وي، مکلف دی د خپلو اجناسو ، محصولاتو او اړوندو موادو موجودي د مالیې وزارت د ترتیب شوې کړنلارې بر عایدات صورت می گیرد.

شکل و محتوای اسناد و دفاتر

مادۀ سی و نهم:

وزارت مالیه، به منظور ادارۀ سالم مالیات برعایدات، تثبیت عواید واقعی و ارائۀ راپور درست از آن، شکل و محتوای اسناد و دفاتر مالیات دهنده را تثبیت نماید.

موجودی اخیر سال

مادۀ چهلم:

اجناس، محصولات و موادیکه در کار و تجارت مورد استفاده قرار می گیرد، در اخیر هر سال مالی موجودی گردیده و قیمت گذاری آن به اساس قیمت تمام شد یا قیمت بازار (هر یک که کمتر است) صورت می گیرد. مالیه دهنده ایکه در صنایع، تجارت یا سائر کارها مصروف بوده مکلف است موجودی اجناس، محصولات و مواد مربوط شانرا طبق طرزالعمل مرتبه وزارت مالیه

مطابق اجراء کړي .

د سوداګریزو دوو یا زیاتو مؤسسو د عوایدو تثبیت

یو څلوېښتمه ماده :

په هغۀ صورت کې چې دوه یا زیاتې سوداګریزې مؤسسې یا اقتصادي فعالیتونه ، په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه دعین حقیقي یاحکمي اشخاصو ملکیت وي یایې تر تصرف لاندې وي ، د مالیې وزارت کولای شي، دمالیې ورې عوایدو د معلومولو اولـه تېښتې (فرار) څخه یې دمخنیوي په مقصد ، ترلاسه شوی مبلغ،کسرات،اعتبارات یا مجرایي ګانې دهغو ترمنځ تقسیم اوو وېشي.

اجرأ نماید .

تثبیت عواید دو یا بیشتر مؤسسات تجارتی

مادۀ چهل ویکم:

درصورتیکه دو یا بیشتر مؤسسات تجارتی یا فعالیت های اقتصادی، طور مستقیم یا غیر مستقیم ملکیت عین اشخاص حقیقی یا حکمی بوده یاتحت تصرف آنها قرار داشته باشد ، وزارت مالیه می تواند ، به مقصد معلوم نمودن عواید قابل مالیه و جلوگیری از فرار آن، مبلغ حاصله، کسرات، اعتبارات یا مجرائی ها را بین آنها تقسیم و توزیع نماید .

شپږم فصل
د سهامي او محدود المسئولیت شرکتونو په هکله خاص حکمونه

فصل ششم
احکام خاص در مورد شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت

د عملیاتي زیان مجرایي

دوه څلوېښتمه ماده :

(۱) په هغۀ صورت کې چې سهامي شرکت یا محدودالمسئولیت شرکت په یوۀ مالي کال کې عملیاتي خالص زیان ولري ، دغه زیان په دریو راوروسته کلونو کې

مجرائی زیان عملیاتی

مادۀ چهل و دوم:

(۱) در صورتیکه شرکت سهامی یا شرکت محدودالمسئولیت در یك سال مالی زیان خالص عملیاتی داشته باشد ، این زیان از عواید قابل مالیه اش در

او هر کال د زیان درېیمه (ثلث) برخه دهغۀ له مالیې وړ عوایدو څخه مجرایي ورکول کېږي . د دې قانون د ا ووه څلوېښتمې مادې په (۳) فقره کې درج شوی حکم لدې امر څخه مستثني دی .

(۲) که چېرې په هېواد کې مېشت شرکت له هغې سرچینې څخه چې له افغانستان څخه بهر فعالیت لري د عوایدو د ترلاسه کولو په منظور ، خپل د مالیې وړ عواید د دې قانون په دوو لسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق یا د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عملیاتي خالص زیان د هغو فعالیتونو له په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې دننه له یوې سرچینې څخه د عوایدو د تولید په منظور او دهغۀ فعالیتونه چې له افغانستان څخه په بهر کې د عوایدو د تولید په منظور وي ، په جلا توګه ثبت او وړاندې کړي ، له هغو فعالیتونو څخه عملیاتي خالص زیان چې له افغانستان څخه په بهر سرچینه کې رامنځته کېږي، د هماغې بهرنۍ سرچینې له عوایدو څخه دکسر وړ دی

خلال سه سال بعدی و هر سال ثلث زیان آن مجرائی داده می شود. حکم مندرج فقرۀ (۳) مادۀ چهل و هفتم این قانون از این امر مستثنی است.

(۲) هرگاه شرکت مقیم کشوربه منظورحصول عواید از منبع ایکه خارج از افغانستان فعالیت دارد ، عواید قابل مالیه خود را مطابق حکم مندرج مادۀ دوازدهم این قانون یا خسارۀ خالص عملیاتی مندرج فقرۀ (۱) این ماده را با نظرداشت فعالیت های که به منظور تولید عواید از یك منبع در داخل افغانستان و فعالیت های آن که به منظور تولید عواید ازیك منبع درخارج افغانستان می باشد ، به طور جداگانه ثبت و ارائه نماید ، زیان خالص عملیاتی از فعالیت هائیکه در منبع خارج از افغانستان عاید می گردد ، ازهمان عواید منبع خارجی قابل کسر بوده و انتقال می یابد . زیان

اولېږدول کېږي. نوموړی زیان له هغو مالیې وړ عوایدو څخه چې سرچینه یې په افغانستان کې وي، دکسر وړ ندی .

وندو لرونکو ته د شرکت د شتمنیو وېشل

دري څلوېښتمه ماده :

د وندې لرونکي یا شریک په واسطه دشرکت وندو لرونکو یاشریکانو ته دسهامي یامحدودالمسئولیت شرکت د شتمنیو وېش د وندې د تمامې شوې بیې د تنقیص یایې په پانګه کې دتنقیص په توګه ګڼل کېږي.دوندې ګټه او دانحلال د وخت وندې لدې امر څخه مستثني ده .

متذکره ازعواید قابل مالیه که منبع آن درداخل افغانستان می باشد ، قابل کسر نیست.

توزیع دارائی های شرکت به سهمداران

مادۀ چهل و سوم:

توزیع دارائی های شرکت سهامی یا محدودالمسئولیت به سهمداران یا شرکای شرکت توسط سهمدار یا شریك به حیث تنقیص در قیمت تمام شد سهم یا تنقیص در سرمایه اش پنداشته می شود. مفاد سهم و سهم وقت انحلال از این امر مستثنی است.

د شرکت د انحلال پر وخت شتمنیو وېش

څلور څلوېښتمه ماده :

د وندې لرونکي یا شرکت په واسطه دسهامي یامحدودالمسئولیت شرکت دانحلال په وخت کې دشتمنیو وېش، د دې قانون د دریم فصل د مندرجاتو مطابق د شتمنیو د پلورنې یا تبادلې د وجهې په توګه ګڼل کېږي.

توزیع دارائی ها حین انحلال شرکت

مادۀ چهل و چهارم:

توزیع دارائی ها حین انحلال شرکت سهامی یامحدودالمسئولیت توسط سهمدار یا شرکت مطابق مندرجات فصل سوم این قانون بحیث وجه فروش یا تبادله دارائی ها پنداشته می شود.

مبلغ یا نورې وېشل شوې شتمنۍ د ورځې د نرخ پر بنسټ منفي د ونډه لرونکي د ونډې تمامه شوې بیه یا د شرکت د پانګې مبلغ (چې وېش له هغه څخه صورت مومي) ، د ونډه لرونکي یا شریک له مالیې وړ عوایدو څخه عبارت دي .
دجزئي یا کلي انحلال په صورت کې دسهامي یا محدودالمسؤولیت شرکت د شتمنیو وېشل، دشرکت د ګټې یا زیان په توګه نه ګڼل کېږي .

د پیسو یا نورو شتمنیو وېش
پنځه څلوېښتمه ماده :
پیسې یا نورې هغه شتمنۍ چې د سهامي یا محدودالمسئولیت شرکت په واسطه له ترلاسه شوو عوایدو څخه ونډه لرونکو یا شریکانو ته وېشل کېږي ، د ونډې ګټه ګڼل کېږي، لاندې حالات پکې شامل دي :
۱-دهغۀ سهامي یامحدودالمسئولیت شرکت په واسطه چې د هېواد د قوانینو مطابق جوړ شوی له ترلاسه شوو عوایدو څخه په پیسو باندې د ورکړل شوې ونډې ګټه ، دهغۀ شرکت له عوایدو څخه چې ورکوي

مبلغ یا سایر دارائی های توزیع شده باساس نرخ روز، منفی قیمت تمام شد سهم سهمدار یا مبلغ سرمایه شرکت (که توزیع از آن صورت می گیرد) عبارت از عواید قابل مالیه سهمدار یا شریك می باشد.
توزیع دارائی های شرکت سهامی یا محدود المسؤولیت در صورت انحلال جزئی یا کلی به حیث مفاد یا زیان شرکت پنداشته نمی شود.

توزیع پول یا سایر دارائی ها
مادۀ چهل و پنجم:
پول یا سایر دارائی های که توسط شرکت سهامی یا محدودالمسئولیت از عواید حاصله به سهمداران یا شرکا توزیع می گردد، مفاد سهم پنداشته شده ، شامل حالات ذیل می باشد:
۱ - مفاد سهم تأدیه شده به پول توسط شرکت سهامی یا محدودالمسئولیتی که مطابق قوانین کشور ایجاد گردیده، از عواید شرکتی که آنرا تأدیه می نماید، به استثنای حکم جزء (۲) فقرۀ (۲) مادۀ

یې ، د دې قانون د اتلسمې مادې د (۲) فقرې د(۲) جزء په استثنې ، د مجرایې ورې ده .

۲- کـه چېـرې د ونـډې ګټـه ، د ونـډې یـا پـور یـا هغـو تـه د ورتـه سـندونو پـه ډول ورکـړل شـي ، د سـهامي یـا محدودالمـسئولیت شـرکت لـه عایـداتو څخـه د وضـع کولو ورنده.

۳- د هغې ونډې ګټه چې د پیسو پـه ډول ورکـول کېـږي، د ترلاسـه کېـدو پـه وخـت کـې ، د ترلاسـه کـوونکي د مـالیې ورې عایـداتو پـه توګه ګڼل کېږي .د ونډې هغه ګټه چې د پور د ونډو د سندونو یا هغـو ته د ورتـه پـه ډول ورکـول کېـږي ، د ترلاسه کېدو په وخت کې ، د ترلاسه کـوونکي د مـالیې ورې عوایـدو پـه توګه نه ګڼل کېږي .

د مالیې وضع کول

شپږم څلوېښتمه ماده :

(۱) هغـه انتفاعي یـا غیـر انتفـاعي حکمـي اشـخاص چـې د هېـواد د قوانینو مطابق جوړ شوي وي ، په لاندې توګـه پـر عایـداتو بانـدې د مالیاتو په وضع کولو مکلف دي :

۱- د دې قـانون د حکمونـو مطـابق هجـــدهم ایـــن قـــانون ، قابـــــل مجرائـــــی می باشد.

۲ - هرگـاه مفـاد سـهم بـصورت اســناد ســهم یــا قرضــه و امـــثال آن تأدیـــه گـــردد ، از عایـدات شـرکت سـهامی یـا محدودالمـسئولیت قابـل وضـع نمی باشد.

۳ - مفـــاد ســـهمیکه بـــشکل پـــول تأدیـــه مـــی شـــود ،حـــین حـــصول، عایـــدات قابـــل مالیـه حاصـل کننـده محـسوب مـــی گـــردد. مفـــاد ســـهمیکه بـــشکل اســناد ســـهم قرضـــه و امثال آن تأدیـه می گردد ، حین حـصول، بحیـث عوایـد قابـل مالیـه حاصـل کننـده محـسوب نمی شود.

وضع نمودن مالیه

مادۀ چهل و ششم:

(۱) اشـخاص حکمـی انتفـاعی یـا غیر انتفاعی ایکه مطابق قوانین کشور ایجاد شده باشند ، مکلف بـه وضـع مالیـات بـر عایـدات بطور ذیل می باشند:

۱ - وضـع مالیـه از معاشـات و

د اړوندو کارکوونکوله معاشونو او مزدوریو څخه د مالیې وضع کول .

۲- د دې قانون د حکمونو مطابق له ټکټ پولې ، د ونډې له ګټې ، حق الامتیاز، جایزو، مکافاتو، د قرعې او بخشیشې ګانو، له درکه عوایدو حق الخدمت څخه په سلو کې د شلو مالیې وضع کول .

(۲) په دې ماده کې درج وضع شوې مالیه د راتلونکې میاشتې تر لسمې نېټې پورې دولت ته ورکول کېږي .

(۳) حکمي اشخاص چې د دې قانون د حکمونو مطابق له معاشونو او مزدوریو څخه د مالیې وضع کول اجراء کوي ، مکلف دي د مالي کال په تېرېدو سره د راتلونکي کال د لومړۍ میاشتې په ترڅ کې هغو اشخاصو ته چې مالیه یې له معاش او مزد څخه وضع شوېده ، په هغهٔ ترتیب سره چې د مالیې وزارت یې تجویز وي، د مالیې د وضع کولو ، د معاش د اندازې او په نورو مواردو کې له جزئیاتو څخه په لیکلی توګه خبر ورکړي .

(۴) هغه شخص چې مالیه وضع کوي ، مکلف دی د میاشتنیو دستمزد های کارکنان مربوط مطابق احکام این قانون.

۲ - وضع بیست فیصد مالیه از عواید تکت پولی، مفاد سهم، حق الامتیاز، جوایز، مکافات، عواید از درك قرعه و بخششی ها ، حق الخدمت، مطابق احکام این قانون.

(۲) مالیه وضع شده مندرج این ماده الی تاریخ دهم ماه بعد به دولت تأدیه می گردد.

(۳) اشخاص حکمی که وضع مالیه از معاشات و دستمزد ها را مطابق احکام قانون اجرا می نمایند ، مکلف اند با گذشت سال مالی در خلال ماه اول سال بعد به اشخاصی که مالیه از معاش و مزد شان وضع گردیده، به ترتیبی که وزارت مالیه تجویز می نماید جزئیات را درمورد وضع مالیه، اندازهٔ معاش و سایر موارد دیگر، کتباً اطلاع دهند.

(۴) شخصی که مالیه را وضع می نماید ، مکلف است جزئیات

ورکړو (تأدیاتو) او د مالیې د وضع کولو جزئیات د مالیې وزارت ته د راتلونکې میاشتې تر لسمې نېټې پورې په هغهٔ ترتیب سره چې دمالیې وزارت یې تجویز وي ، رپوټ ورکړي .

(۵) که چېرې له یوې سرچینې څخه د مالیې صحیح مقدار د دې قانون د حکمونو مطابق وضع شوی وي ، داسې ګڼل کېږي چې پر عایداتو باندې مالیات بشپړ رفع شوي دي .

(۶) هغه حقیقي اشخاص چې له یوې څخه له زیاتو سرچینو څخه عواید ولري ، د اظهار لیک په ډکولو او وړاندې کولو مکلف دي، مالیه یې د دې قانون د حکمونو مطابق سنجول کېږي او د مخه وضع شوي مبلغ له مالیاتو څخه د مجرایي وړ ګڼل کېږي .

د استهلاک او زیان مجرایي

اووه څلوېښتمه ماده :

(۱) هغه منظور شوي تشبثات چې د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګې اچونې د قانون د حکمونو مطابق ثبت اوراجستر شوي وي،د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له لومړۍ

تأدیات و مالیه وضع شدهٔ ماهانه را به وزارت مالیه الی تاریخ دهم ماه بعد به ترتیبی که وزارت مالیه تجویز می نماید ، گزارش دهد .

(۵) هرگاه مقدار صحیح مالیه از یك منبع مطابق به احکام این قانون وضع گردیده باشد ، طوری پنداشته می شود که مالیات بر عایدات کاملاً رفع گردیده است.

(۶) اشخاص حقیقی ایکه عواید بیشتر از یك منبع داشته باشد ، مکلف به خانه پری و ارائه اظهارنامه بوده، مالیهٔ آن طبق احکام این قانون سنجش گردیده و مبلغ وضع شده قبلی از مالیات، قابل مجرائی دانسته می شود .

مجرائی استهلاك و زیان

مادهٔ چهل و هفتم:

(۱) تشبثات منظور شدهٔ که مطابق احکام قانون سرمایه گذاری خصوصی داخلی وخارجی ثبت و راجستر شده باشند ، از تاریخ اول سرطان

نېټې څخه په لاندې ډول د ودانیو او تجهیزاتو د استهلاک د مجرایي مستحق ګڼل کېږي . د اتلسمې مادې د (۱) فقرې په (۷) جزء کې درج شوی حکم لاندې امر څخه مستثني دی :

۱-د ودانۍ لپاره،څلور کاله موده .

۲- دتجهیزاتو لپاره، دوه کاله موده.

(۲) د ودانیو او تجهیزاتو مجاز استهلاک په هرمالي کال کې په مساویانه توګه سنجش اومجراء ورکول کېږي.که چېرې دتشبث ثابته پانګه،دمالي کال له نیمایي څخه کمه موده د هغۀ په واک کې وي،په هماغه کال کې دکلني استهلاک له نیمائي مجرایي څخه ګټه اخستی شي اوپه هغۀ صورت کې چې ثابته پانګه له شپږو میاشتو څخه زیات دهغۀ په واک کې پاتې شي داستهلاک له بشپړې مجرایي څخه په هماغۀ کال کې برخمن کېږي.

(۳) هغه منظور شوي تشبثات چې د مالي کال په اوږدو کې له عملیاتي خالص زیان سره مخامخ

سال ۱۳۸۳حسب آتی مستحق مجرایی استهلاك تعمیرات و تجهیزات پنداشته می شوند. حکم مندرج جزء (۷)فقرۀ (۱) مادۀ هجدهم از این امر مستثنی است:

۱-برای تعمیر، مدت چهار سال.

۲-برای تجهیزات، مدت دو سال.

(۲) استهلاك مجاز تعمیرات و تجهیزات د رهر سال مالی به صورت مساویانه سنجش و مجرائی داده می شود. هر گاه سرمایۀ ثابت تشبث در مدت کمتر از نصف سال مالی د راختیار وی قرار داشته باشد ، از نصف مجرائی استهلاك سالانه درهمان سال مستفید می گردد ، درصورتی که سرمایه ثابت بیشتر ازشش ماه در اختیار وی قرار داشته باشد ، از مجرائی کامل استهلاك در همان سال مستفید می شود.

(۳) تشبثات منظور شدۀ که در طول سال مالی مواجه به زیان خالص عملیاتی گردیده

شوي وي، د قانوني دفتر او سندونو په کتنې سره ،د دې قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې د درج شوو تشبثاتو په استثني د ۱۳۸۳ کال د چنګاښ له لومړۍ څخه په هر را وروسته کال کې د رامنځته شوي زیان تر بشپړ رفع کېدو پورې، له خپلو مالیې ورځ عوایدو څخه مجرایي ترلاسه کوي .د منظورو شوو تشبثونو د وارده زیان محاسبه د دې قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق صورت مومي . پدې قانون کې د درج شوي استهلاک لګښتونه او د مالیاتي معافیت په میعاد(مودې) پورې اړوند نور لګښتونه او له منظورې دمخه میعاد لګښتونه، دعملیاتی خالص زیان په محاسبه کې نه شاملېږي.

اووم فصل
د بیمې د شرکتونو مالیات

د بیمې د شرکتونو په هکله د تطبیق وړ حکمونه
اته څلوېښتمه ماده :
ددې فصل په موادو کې درج شوي حکمونه د بېمې د شرکتونو په

باشند ، به ملاحظۀ دفتر و اسناد قانونی به استثنای تشبثات مندرج مادۀ چهل و دوم این قانون از اول سرطان سال ۱۳۸۳ در هر سال بعدی الی رفع کامل زیان وارده ،از عواید قابل مالیه شان مجرایی حاصل می نمایند .محاسبه زیان وارده تشبث های منظور شده، مطابق حکم مندرج مادۀ چهل و دوم این قانون صورت می گیرد. مصارف استهلاکات مندرج این قانون و سایر مصارف مربوط به میعاد معافیت مالیاتی و مصارف میعاد قبل از منظوری در محاسبه زیان خالص عملیاتی شامل نمی گردد.

فصل هفتم
مالیات شرکت های بیمه

احکام قابل تطبیق در مورد شرکت های بیمه
مادۀ چهل و هشتم:
احکام مندرج مواد این فصل در مورد شرکت های بیمه قابل

هکله د تطبیق وړ دي ، پدې شرط چې د لاندې شرطونو لرونکي وي :

۱- د افغانستان د قوانینو مطابق د سهامي شرکتونو په ډول جوړ شوي وي .

۲- د شرکت فعالیت، د بیمې له یوې ساحې څخه زیات لکه د پېښو او زیان بیمه ، د ژوند بیمه او نورو بیموي فعالیتونو په شان په بر کې ولري .

۳- د خپلې بیمې د هرې ساحې او فعالیتونو لپاره د جلا محاسبې او زېرمې لرونکي وي .

د بیمې د شرکتونو پر عایداتو باندې دمالیاتو تابع عواید

نهه څلوېښتمه ماده :

د بیمې د شرکتونو لاندې عواید پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي :

۱- د تکټ پولې ، د ونډې د ګټې ، د کرایې عواید او نور هغه عواید چې له پانګونې او ملکیت څخه لاسته راځي .

۲- له غیر بیمې فعالیتونو څخه ترلاسه شوي عواید .

۳- د حریق، غلا، د ناروغۍ د پېښو، زیانونو یا هغۀ زیان په

تطبیق می باشد ، مشروط براینکه حاوی شرایط ذیل باشند:

۱ - مطابق قوانین افغانستان بشکل شرکتهای سهامی تأسیس شده باشد.

۲ - فعالیت شرکت، بیشتر از یك ساحه بیمه، مانند بیمه حادثات وزیان، بیمه حیات و سائر فعالیت های بیموی را در بر داشته باشد.

۳ - برای هر ساحه بیمه و سائر فعالیتهای خود دارای محاسبه و ذخایر جداگانه باشد.

عواید تابع مالیات بر عایدات شرکت های بیمه

مادۀ چهل و نهم:

عواید ذیل شرکتهای بیمه، تابع مالیات بر عایدات می باشد:

۱ - عواید تکت پولی ، مفاد سهم ، کرایه و سائر عوایدیکه از سرمایه گذاری و ملکیت بدست می آید.

۲ - عواید حاصله از فعالیتهای غیر بیمه.

۳ - عواید حاصله از حق بیمۀ در مقابل حریق، سرقت،

مقابل کې د بیمې له حق څخه ترلاسه شوي عواید چې بیمه ئې د یوې ټاکلې مودې لپاره وي او بیمه کېدونکی ونه کړای شي د هغې د مودې له تېریدو وروسته پولي ادعا وکړي.

۴- له پانګه ایزو معاملو څخه ترلاسه شوي عواید .

د بیمه شوو مالیاتي معافیت

پنځوسمه ماده :

د بیمې هغه حق چې د لیکلي قرار داد د عقد په موجب اخستل شوی او بیمه شوو یا د هغو منتفعو اشخاصوته دمشخصې ګټې وروستۍ ورکړه ایجاب کړي ، پر عایداتو باندې له مالیاتو څخه معاف دی .

د بیمې د شرکتونو د نه مجرایي وړ ورکړې

یو پنځوسمه ماده :

په بیمې پورې اړوند لاندې لګښتونه او ورکړې چې د بیمې حق یې د دې قانون په پنځوسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق له مالیاتو څخه معاف دي ، د مجرایي وړ ندي:

۱- د بیمې د صادرېدو کمېشن او حادثات مریضی، خسارات یا زیانیکه بیمهٔ آن برای یک مدت معین بوده و بیمه شونده نتواند بعد از انقضای میعاد آن ادعای پولی نماید.

۴ - عواید حاصلهٔ معاملات سرمایوی.

معافیت مالیاتی بیمه شدگان

مادهٔ پنجاهم:

حق بیمه که به موجب عقد قرار داد تحریری اخذ شده و تأدیه نهائی مفاد مشخص را به بیمه شدگان یا اشخاص منتفع شان ایجاب نماید ، از مالیات بر عایدات معاف اند.

تأدیات غیر قابل مجرائی شرکت های بیمه

مادهٔ پنجاه و یکم:

مصارف و تأدیات ذیل مربوط به بیمه که حق بیمه آن مطابق حکم مندرج مادهٔ پنجاهم این قانون از مالیات معاف است، قابل مجرائی نمی باشد:

۱ - کمیشن و سائر مصارف

نور لګښتونه .
۲- مشترکینو یا نورو ذینفعو اشخاصو ته یې دبیمې دګټو ورکړه.

د بیمې د شرکتونو د مجرایي وړ ورکړې

دوه پنځوسمه ماده :

(۱) د بیمې د شرکتونو لاندې لګښتونه او ورکړې د هغو له عوایدو څخه د مجرایي وړ دي :
۱- له هغې بیمې څخه را پیدا شوی ورکړل شوی مبلغ چې د بیمې حق دهغۀ له درکه دمالیاتو تابع وي.
۲- کمېشن او د صادرېدو نور لګښتونه چې د بیمې حق د هغو له درکه د مالیاتو تابع وي .
۳- د بیا بیمې لګښتونه چې د بیمې حق د هغو له درکه دمالیې تابع وي.
۴- د ادعاګانو د زیان د جبران په غرض په زېرمو کې زیاتوالی ، پدې شرط چې هغه ډول زېرمې د حمل او نقل د بیمې د حق له سل په سلو کې او د هغو زیانونو او پېښنو د امکاناتو د بیمې د حق له پنځوس په سلو کې څخه چې د مالي کال په صدور بیمه.
۲ - تأدیه منافع بیمه به مشترکین یا اشخاص ذینفع آن.

تأدیات قابل مجرائی شرکت های بیمه

مادۀ پنجاه و دوم:

(۱) مصارف و تأدیات ذیل شرکتهای بیمه از عواید شان قابل مجرائی است:
۱ - مبلغ تأدیه شده ناشی از بیمه که حق بیمه از درك آن تابع مالیات باشد.
۲ - کمیشن و سائر مصارف صدور که حق بیمه از درك آن تابع مالیات باشد.
۳ - مصارف بیمه مجدد که حق بیمه از درك آن تابع مالیات باشد.
۴ - افزودی به ذخایر غرض جبران خساره ادعا ها ، مشروط براینکه چنان ذخایر از صد فیصد حق بیمه حمل ونقل و پنجاه فیصد حق بیمه سایر امکانات خساره و حادثات ایکه در ظرف

اوږدو کـــې لاســـته راغلـــي ، تجاوز ونکړي.

۵- د هغې بیمې د عملیاتو د زیان په زېرمو زیاتېدل چې په هغې پورې د بیمـې اړونـد حق د مـالیې تـابع وي، پـدې شـرط چـې دغـه زېرمـې دنومـوړې بیمـې پـه سـاحه کـې د پانګې اچول شوي مبلغ له دوه چنده څخه تجاوز ونکړي.

۶- د دې قانون په دوه یم فصل کې درج شـوي دکـار او عملیـاتو نـور اړین لګښتونه او د دې قانون په یو پنځوسـمه مـاده کـې درج شـوي لګښتونه لـدې امر څخه مستثني دي.

(۲) ددې مـادې د(۱) فقـرې پـه (۴ او **۵**) جـز کـې لـه درج شـویو زېرمو څخه لېږدو نه یـا ورکړه ، په اړونـد مـالي کـال کـې دمـالیې وړعوایـد جـوړوي. لـه ادعاګانو یـا حقیقي زیانونو یا په پیسو باندې د ونـډې لـه ګټې څخـه را پیـدا شـوې لېږدونـه او ورکـړه لـه دې امر څخـه مستثني ده .

سـال مـالی بدسـت آمـده اسـت، تجاوز نکند.

۵ - افـزودی بـه ذخـایر زیـان عملیـات بیمـه ایکـه حـق بیمـه مربـوط بـه آن تـابع مالیـه باشـد ، مـشروط براینکـه ایـن ذخـایر از دوچنـد مبلـغ سـرمایه گـذاری شده در ساحه بیمه متذکره تجاوز نکند.

۶ - سایرمـــصارف ضـــروری کـار و عملیـات منـدرج فـصل (۲) ایـــن قـــانون و مـــصارف منـدرج مـادۀ پنجـاه ویکـم ایـن قـانون از ایـن امـر مـستثنی است.

(۲) انتقـال یـا تأدیـه از ذخـایر مندرج اجزای (**۴و۵**) فقرۀ (۱) این ماده عواید قابل مالیه را در سال مـالی مربـوط تـشکیل مـی دهـد. انتقال یا تأدیه ناشی از ادعا ها یا خـــسارات حقیقـــی یـــا تادیـات مفـاد سـهم بـه پـول، از ایـــن امـــر مـــستثنی است.

د بیمې د بهرنیو شرکتونو د مالیې وړ عوایدو تثبیت

دري پنځوسمه ماده :

د بیمې له هغۀ حق څخه را پیدا شوي عواید چې د بیمې د بهرني شرکت یا د بیا بیمې شرکت په واسطه د افغانستان له دننه څخه لاس ته راځي ، په لاندې توګه پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع دي:

۱- د بیمې د هغۀ حق د مبلغ اندازه چې شرکت یې د مالي کال په ترڅ کې د هېواد له دننه څخه لاس ته راوړي ، معلومه شي.

۲- د بیمې دهغۀ حق د ټول مبلغ اندازه چې شرکت د مالي کال په ترڅ کې له مختلفو هېوادونو څخه لاس ته راوړي دي ، وټاکل شي.

۳- په نورو هېوادونوکې له خپلو فعالیتونوڅخه دشرکت دخالصو عوایدو اندازه پرعایداتو باندې دمالیاتو اود ونډې دګټې له ورکړې دمخه، تثبیت شي.

۴- په (۱) جز کې درج شوي ټاکلی مبلغ په (۲) جز کې پر درج شوي ټاکلي مبلغ باندې تقسیم ، په (۳) جز کې له درج شوي ټاکلي مبلغ

تثبیت عواید قابل مالیه شرکت های خارجی بیمه

مادۀ پنجاه و سوم:

عواید ناشی از حق بیمه که توسط شرکت خارجی بیمه یا شرکت بیمه مجدد از داخل افغانستان بدست می آید ، طور ذیل تابع پرداخت مالیات بر عایدات می باشد:

۱ - اندازۀ مبلغ حق بیمه ایکه شرکت در خلال سال مالی از داخل کشور بدست می آورد ، معلوم گردد.

۲ - اندازۀ مبلغ مجموعی حق بیمه ایکه شرکت در خلال سال مالی از ممالک مختلف بدست آورده است، تعیین گردد.

۳ - اندازه عواید خالص شرکت ناشی از فعالیتهایش در سایر کشور ها قبل از تأدیه مالیات بر عایدات ومفاد سهم تثبیت گردد.

۴ - مبلغ معینه مندرج جز (۱) تقسیم مبلغ معینه مندرج جز (۲) ضرب مبلغ معینه مندرج جز(۳) این

سره ضرب، د مالیې له وړ عوایدو څخه عبارت دي.

اتم فصل
د بانکونو، سهامي شرکتونو ، پور او پانګې اچونې مالیه

د مالیاتو د ورکړې تابع ګټه
څلور پنځوسمه ماده:
له پانګه ییزو معاملو څخه د ونډې د ګټې،ټکټ پولی ، تخفیف یا تنزیل ، کرایې،فیس،کمیشن اوګټې له درکه د بانکونو،سهامي شرکتونو د پور او پانګې اچونې عایدات ، پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

د اړینو لګښتونو مجرائي
پنځه پنځوسمه ماده :
د دې قانون په څلور پنځوسمه ماده کې له درج شویو عوایدو څخه د کار اړین لګښتونه د مجرایي وړ دي .
د پانګه ییزو معاملو له درکه زیانونه او د پورونو او په پیسو باندې د ونډې د ګټې د ورکړې له درکه د زیانونو په وړاندې پر زېرمې باندې زیاتوالی هم د

ماده عبارت از عواید قابل مالیه می باشد.

فصل هشتم
مالیهٔ بانك ها، شركت های سهامی، قرضه و سرمایه گذاری

مفاد تابع پرداخت مالیات
مادهٔ پنجاه و چهارم:
عایدات بانکها، شرکتهای سهامی، قرضه و سرمایه گذاری از درك مفاد سهم، تکت پولی، تخفیف یا تنزیل، کرایه، حق الزحمه، فیس، کمیشن و مفاد ازمعاملات سرمایوی تابع پرداخت مالیات بر عایدات می باشد.

مجرائی مصارف ضروری
مادهٔ پنجاه و پنجم:
مصارف ضروری کار از عواید مندرج حکم مادهٔ پنجاه و چهارم این قانون قابل مجرائی می باشد.
خسارات از درك معاملات سرمایوی و افزودی به ذخیره در مقابل خسارات از درك قروض و تأدیهٔ مفاد سهم به پول نیز قابل مجرائی

مجرایي وړ دی .

پر زېرمې باندې زیاتوالی
شپږ پنځوسمه ماده :
د پورونو له درکه د زیانونو په وړاندې پر زېرمې باندې زیاتوالی په هغۀ شرط د مجرایي وړ دی چې دمالي کال په پای کې د نه ورکړل شوو اصلو پورونو په سلو کې له پنځه ویشتو څخه تجاوز ونکړی. (له هغې پرته چې د زېرمې په موخه وي) له نومورې زېرمې څخه هره لېږدېدنه یا ورکړې د هغۀ مالي کال چې پکې لېږدېدنې یا ورکړو صورت مونډلی دی ، د مالیې د ورکړې وړ عایدات جوړوي.

په ارزښت کې زیاتوالی یا لړوالی
اووه پنځوسمه ماده :
د شتمنۍ په توګه د ونډې ، پور او هغو ته د ورته سندونو په ارزښت کې زیاتوالی یا لړوالی ددې قانون د حکمونو مطابق ، تر هغۀ وخته پورې چې د پلورنې یا تبادلې له لارې یې ځانته د واقعیت څېره نیولې نه وي ، د اعتبار وړ ندی . کله چې ګټه یا زیان د نومورې شتمنۍ د پلورنې یا تبادلې له لارې تحقق می باشد.

افزودی به ذخیره
مادۀ پنجاه وششم:
افزودی به ذخیره در مقابل خسارات از درك قروض به شرطی قابل مجرائی می باشد که از بیست و پنج فیصد اصل قروض تأدیه نشده در اخیر سال مالی تجاوز نکند. هر انتقا ل یا تأدیات از ذخیرۀ متذکره (باستثنای آنکه مطابق به هدف ذخیره باشد) عایدات قابل مالیه سالی را که درآن انتقال یا تأدیات صورت گرفته، تشکیل می دهد.

تزئید یا تنقیص درارزش
مادۀ پنجاه و هفتم:
تزئید یا تنقیص درارزش اسناد سهم، قرضه وامثال آن منحیث دارائی طبق احکام این قانون تا زمانیکه از طریق فروش یا تبادله صورت واقعیت را بخود نگرفته باشد ، مدار اعتبار نیست. زمانیکه مفاد یا زیان از طریق فروش و تبادله دارائی متذکره تحقق یابد این مفاد یا

ومومي، دغه ګټه يا زيان دهغهٔ کا ل عايدات يا زيان جوړ وي چې پکې پلورنې يا تبادلې صورت موندلی دی .

نهم فصل
د عايداتو له سرچينو څخه د مالياتو وضع کول

د مالیې وضع کول او لېږدول
اته پنځوسمه ماده :
هغه حقيقي او حکمي انتفاعي او غير انتفاعي اشخاص چې د کارکوونکو شمېرې د کال په يوې ميا شتې کې دوه تنه يا له هغو څخه زيات وي او ټول وزارتونه،تصدی ، ښاروالۍ او نورې دولتي اداري مکلف دي د دې قانون په څلورمه ماده کې د درج شويوحکمونو له په پام کې نيولو سره ، له ورکړې ورځولو معاشونو او مزدوريو څخه مالیه وضع او د دولت د عوايدو حساب ته يې ولېږدوي .

د کورونو او ودانيو مالیه
نهه پنځوسمه ماده :
(۱) هغه کورونه او ودانۍ چې د سوداګريزو يا کاري دفترونو د فعاليتونو د سرته

زيان عايدات و يا زيان سالی را تشکيل می دهد که درآن فروش ويا تبادله صورت گرفته است.

فصل نهم
وضع نمودن مالیات از منابع عايدات

وضع و انتقال مالیه
مادهٔ پنجاه و هشتم:
اشخاص حقيقی و حکمی انتفاعی و غير انتفاعی ايکه تعداد کارکنان شان در يکی از ماه های سال دو نفر يا بيشتر از آن باشد و کليه وزارت ها ، تصدی ها ، شاروالی ها و ساير ادارات دولتی مکلف اند از تمام معاشات و مزدهای قابل تأديه با نظر داشت احکام مندرج مادهٔ چهارم اين قانون مالیه وضع و به حساب عوايد دولت انتقال نمايند.

مالیه کرايهٔ منازل وساختمان ها
مادهٔ پنجاه و نهم:
(۱) منازل و ساختمان های که به منظور انجام فعاليت های تجارتی ويا دفاتر کاری

رسولو په منظور، حقیقي یا حکمي اشخاصو ته په کرایه ورکول کېږي، په لاندې ډول د هغو له کرایې څخه دموضوعي مالیو د ورکړې تابع دي :

۱- که چېرې میاشتنۍ کرایه له لسو زرو افغانیو څخه تر سلو زرو افغانیو پورې وي، په سلو کې لس.

۲- که چېرې میاشتنۍ کرایه له سلو زرو افغانیو څخه زیاته وي، په سلو کې پنځلس.

(۲)ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو کورونو او ودانیو مستأجرین مکلف دي د عوایدو مالیه د هغې کړنلارې مطابق چې دمالیې وزارت په واسطه وضع کېږي ، ورکړي.

(۳) پدې ماده کې درج شوې مالیه چې د مؤجر دمالیاتي مسئولیت په توګه دمستأجر په واسطه وضع کېږي، هغه کرایه ګڼل کېږي چې مؤجر ته ورکړل شوې ده . دغه مالیه د مؤجر د مالیاتي مسئولیت د دمخه ورکړه حسابېږي او د مالیې د ورکړې په وخت کې مجرایي ورکول کېږي .د کرایې د

به اشخاص حقیقی یا حکمی به کرایۀ داده می شود ، از کرایه آن تابع پرداخت مالیات موضوعی قرار ذیل می باشند:

(۱) د مالیې وزارت د شتمنۍ د موجودیت په صورت کې، د لګښتونو د تخصیصونو خبر لیک صادروي او په بودجوي واکونو کې د درج شوو مبالغو یا دهغو دیوې برخې د لګولو یا د لګولو د ژمنې اجازه دولتي ادارو ته صادروي.
(۲) د لګولو اجازه او د اعتبار موده یې د تخصیصونو په خبر لیک کې مشخصېږي.
(۳) د لګولو په منظور توحیدي وجوه له د افغانستان بانک څخه نشي ایستل کېدای،خو دا چې د

مصرف مبالغ مندرج در صلاحیت های بودجوی

مادهٔ چهل وهشتم:

(۱) وزارت مالیه درصورت موجودیت دارائی، اطلاعیه تخصیصات مصارف را صادر و اجازهٔ مصرف یا تعهد مصرف مبالغ مندرج در صلاحیت های بودجوی یا بخشی از آنرا به ادارات دولتی صادر می نماید.
(۲) اجازهٔ مصرف و مدت اعتبار در اطلاعیهٔ تخصیصات مشخص می‌گردد.
(۳) وجوه توحیدی به منظور مصرف از دافغانستان بانك خارج شده نمی‌تواند، مگر اینکه اجازهٔ

لګولو اجازه يې د تخصيصونو د خبر ليک په واسطه ابلاغ شوې وي.
(۴) د عامه پيسو د لګولو اجازه د بودجوي واک له موجوديت پرته نشي صادرېدای.
(۵) د لګښتونو تخصيص په فورم کې د درج شوو مبالغو د ورکړې طرزالعمل، د مالیې وزارت لخوا ترتيب او دولتي ادارو ته ابلاغېږي.

مصرف آن توسط اطلاعیهٔ تخصیصات ابلاغ شده باشد.
(۴) اجازهٔ مصرف پول عامه بدون موجودیت صلاحیت بودجوی صادر شده نمی تواند.
(۵) طرز العمل پرداخت مبالغ مندرج فورم تخصیصات از طرف وزارت مالیه ترتیب وبه ادارات دولتی ابلاغ می گردد.

د تخصيصونو او لګښتونو لغو يا تعديلول

نهه څلوېښتمه ماده:

د مالیې وزارت کولای شي د تخصيصونو فورم د لاندې حالاتو له په پام کې نيولو سره لغو يا تعديل کړي:
۱- په هغو احوالو کې چې ترسره شوو لګښتونو په نا سمه يا غير مؤجه توګه صورت موندلی وي.
۲- په هغه حالت کې چې د مالي کال په اوږدو کې د لګښتونو دوام د هغه غوښتنه وکړي.
په دې صورت کې د مالیې وزارت له موضوع څخه ډير ژر په ليکلي توګه حکومت ته خبر ورکوي.

لغو یا تعدیل تخصیصات و مصارف

مادهٔ چهل ونهم:

وزارت مالیه می تواند فورم تخصیصات را با نظر داشت حالات ذیل لغو یاتعدیل نماید:
۱- دراحوال که مصارف انجام شده طور نادرست یا غیر موجه صورت گرفته باشد.
۲- در حالتی که ادامهٔ مصارف درطول سال مالی ایجاب آن را نماید.
در این صورت وزارت مالیه از موضوع به اسرع وقت به حکومت کتباً اطلاع می دهد.

راتلونکي کال ته د تخصیصونو لېږدول

پنځوسمه ماده:

د مالیې وزارت کولای شي د اړوندې دولتي ادارې د وړاندیز پربنسټ، چې د مالي کال له پای ته رسېدو لږ تر لږه (دېرش)ورځې د مخه وړاندې شوی وي، په بودجوي واک کې د درج شوي نه مصرف شوې وجوه راتلونکي مالي کال ته ولېږدوي.

انتقال تخصیصات به سال مالی آینده

مادۀ پنجاهم:

وزارت مالیه می تواند به اساس پیشنهاد ادارۀ دولتی مربوط که اقلاً (سی) روز قبل از اختتام سال مالی ارائه گردیده باشد، وجوه مصرف ناشده مندرج در صلاحیت بودجوی را به سال مالی آینده انتقال دهد.

د لګښت مسترد ېدل

یو پنځوسمه ماده:

په هغه صورت کې چې د مالیې وزارت، د دولتي ادارې په تخصیص کې درج شوي وجوه، چې د مخه د یوه خاص هدف په منظور ورکړل شوي دي، بېرته ترلاسه کړي، مکلف دی د هغو معادل په هغه هدف چې د مخه ټاکلی شوی دی د نومورې دولتي ادارې د لګښتونو په حساب کړېدت کړي.

استرداد مصرف

مادۀ پنجاه ویکم:

در صورتیکه وزارت مالیه وجوه مندرج تخصیص ادارۀ دولتی را که قبلاً به منظور هدف خاصی پرداخت گردیده، دوباره دریافت نماید، مکلف است معادل آنرا به هدفی که قبلاً تعیین گردیده، به حساب مصارف ادارۀ دولتی متذکره کریدت نماید.

اتم فصل
دبودجې د محاسبې او کنترول ډول

د بودجې خپرېدل
دوه پنځوسمه ماده:
د مـالیې وزارت مکلف دی کلنۍ بودجه د هغې له تصویب وروسته له تخصیصونو او اړوندو توضیحي سندونو سره یوځای خپره کړي.

د بودجوي سندونو تصنیف
دري پنځوسمه ماده:
(۱) د مـالیې وزارت د بودجـوي او محاسـباتي سـندونو د تـصنیف سیـستم د لاندې مطالبولـه پـه پـام کې نیولو سره ترتیبوي:
۱- د دولتـــي ادارو لخـــوا د لګښتونو د کنتـرول پـه منظـور د آسانتیا برابرول.
۲- د پیـسو د نړیـــوال صـندوق د خپرو شوو څېړنو پربنسټ د دولت د مـالي احصائیو د نقدي تصنیف د شرایطو مطابق د تشکیل، دندې او مـالي تـصنیف لـه پـه پـام کـې نیولـو سـره د بودجـوي لګـښتونو توضیح کول او تحلیلول.
(۲) ددې مـادې پـه (۱) فقـره کـې د

فصل هشتم
طرز محاسبه و کنترول بودجه

نشر بودجه
مادۀ پنجاه ودوم:
وزارت مـالیه مکلف است بودجۀ سالانه را بعد از تصویب آن توأم با تخصیـصات و اسـناد توضـیحی مربوط نشر نماید.

تصنیف اسناد بودجوی
مادۀ پنجاه وسوم:
(۱) وزارت مالیه سیستم تصنیف اسناد بودجوی و محاسباتی را با رعـــایت مـــطالب ذیـل ترتیـب می‌نماید:
۱- ایجـاد سـهولت بـه منظـور کنتـرول مـصارف توسـط ادارات دولتی.
۲- تـــوضیح و تحلیـل مـصارف بـودجـــوی بـــا نـــظرداشـــت تشکیل، وظیـفه و تصنیف مـالی مطابق شـرایط تصـنیف نـــقدی احـصائیه هـای مـالی دولـت بـر اســاس بررســی هــای منتــشرۀ صندوق بین المللی پول.
(۲) بـــه منظـور تحقـق اهـداف

درج شوو هدفونو د پلي کولو په منظور د مالیې وزارت مکلف دی لاندې سندونه وساتي:
۱- د دولتي عوایدو رسیدونه.
۲- د دولتي ادارو بودجوي واکونه او په هغو پورې اړوند تعدیلونه.
۳- د حقیقي لګښتونو او نه تصفیه شوو ژمنو اجراء شوي سندونه.
۴- هغه بودجوي واک چې د تخصیصونو د فورم د صادرېدو پربنسټ، دولتي ادارو ته صادر شوی دی.
(۳) دولتي اداري مکلفې دي محاسباتي سندونه د مالیې وزارت د لارښودونو مطابق ثبت او وساتي، د غوښتنې په صورت کې نقل ئې د مالیې وزارت ته وړاندې کړي.خو دا چې په قانون کې د هغو په محرمیت حکم شوی وي.

مندرج فقرۀ (۱) این ماده وزارت مالیه مکلف است اسناد ذیل را محافظت نماید:
۱- رسید های عواید دولتی.
۲- صلاحیت بودجوی ادارات دولتی و تعدیلات مربوط به آن.
۳- اسناد اجراء شدۀ مصارف حقیقی و تعهدات تصفیه ناشده.
۴- صلاحیت بودجوی که براساس صدور فورم تخصیصات به ادارات دولتی صادر گردیده است.
(۳) ادارات دولتی مکلف اند اسناد محاسباتی را مطابق رهنمود های وزارت مالیه ثبت و نگهداری نموده، درصورت تقاضا نقل آنرا به وزارت مالیه ارائه نمایند. مگر اینکه درقانون به محرمیت آن حکم گردیده باشد.

د بودجې دپرمختګ رپوټ
څلورپنځوسمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت مکلف دی د بودجې له تصویب وروسته د خپلو اجراآتو رپوټ په ربعواره توګه حکومت او د جمهوري ریاست مقام ته وړاندې او په خپرولو یې

گزارش پیشرفت بودجه
مادۀ پنجاه وچهارم:
(۱) وزارت مالیه مکلف است بعد از تصویب بودجه، گزارش اجراآت خود را طور ربع وار به حکومت و مقام ریاست جمهوری ارائه نموده و به نشر آن اقدام

اقدام وکړي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی رپوټ په دې قانون کې ددرج شوو عوایدو، لګښتونو، شتمنیو او ژمنو دحسابونو لرونکی وي.
(۳) په هغه صورت کې چې رپوټ پدې قانون کې دټولو درج شوو معلوماتو لرونکی نه وي، دهغو د دلیلونو ذکرول اړین ګڼل کېږي.

نماید.
(۲) گزارش مندرج فقرهٔ (۱) این ماده حاوی حسابات عواید، مصارف دارائی ها و تعهدات مندرج این قانون می باشد.
(۳) در صورتیکه گزارش حاوی تمام معلومات مندرج این قانون نباشد، ذکر دلایل آن ضروری پنداشته می‌شود.

د بودجې وروستنی (نهایي) رپوټ
پنځه پنځوسمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت مکلف دی لاندې معلومات حکومت او جمهور رئیس ته له وړاندې کولو وروسته خپاره کړي:
۱- د تېرمالي کال د بودجې وروستنی مقایسوی رپوټ، زیات نه زیات د مالي روان کال د وړې د میاشتې تر پایه پورې.
۲- د مالي صورت حسابونو ټولیزه چې د نړیوالو محاسباتي معیارونو مطابق ترتیب او د دې قانون د نهه پنځوسمې مادې د حکم له پام کې نیولو سره پلټل شوې وي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج

گزارش نهائی بودجه
مادهٔ پنجاه وپنجم:
(۱) وزارت مالیه مکلف است معلومات ذیل را بعد از ارائه به رئیس جمهور و حکومت نشر نماید:
۱- گزارش نهائی مقایسوی بودجهٔ سال مالی گذشته حد اکثر الی ختم ماه سنبله سال مالی جاری.
۲- مجموعهٔ صورت حساب های مالی که مطابق معیارهای بین المللی محاسباتی ترتیب و با رعایت حکم مادهٔ پنجاه و نهم این قانون تفتیش گردیده باشد.
(۲) گزارش نهائی مقایسوی

د بودجې وروستنی مقایسوي رپوټ د لاندې مطالبولرونکی وي:
۱- د بودجې په هکله اجمالي معلومات.
۲- د عوایدو او لګښتونو رپوټ.
۳- د شتمنیو او ژمنو په هکله معلومات.

بودجه مندرج فقرهٔ (۱) این ماده حاوی مطالب ذیل می باشد:
۱- معلومات اجمالی درمورد بودجه.
۲- گزارش عواید و مصارف.
۳- معلومات در مورد دارائی ها و تعهدات.

د بودجې اجمالي معلومات
شپږپنځوسمه ماده:
د بودجې اجمالي معلومات د لاندې مطالبو لرونکی وي:
۱- سرته رسېدلې دندې او د نوي مالي کال لپاره بنسټیزپلان.
۲- د حقیقي او مهمو عوایدو او لګښتونو په هکله اجمالي نظر.
۳- د بودجې دکسر د تأمینولو یا تمویل او د هغې د مازاد پانګې اچونې د جزئیاتو څرګندول.
۴- نورهغه معلومات چې د مالیې وزارت یې اړین وګڼي.

معلومات اجمالی بودجه
مادهٔ پنجاه وششم:
معلومات اجمالی بودجه حاوی مطالب ذیل می باشد:
۱- وظایف انجام شده و پلان اساسی برای سال مالی جدید.
۲- نظر اجمالی درمورد عواید و مصارف حقیقی و مهم.
۳- توضیح جزئیات تأمین یا تمویل کسر بودجه و سرمایه گذاری مازاد آن.
۴- سایر معلوماتیکه وزارت مالیه آنرا ضروری می پندارد.

د عوایدو او لګښتونو رپوټ
اووه پنځوسمه ماده:
په عوایدو او لګښتونو پورې اړوند رپوټ د لاندې معلوماتو لرونکی وي:

گزارش عواید ومصارف
مادهٔ پنجاه وهفتم:
گزارش مربوط به عواید و مصارف حاوی معلومات ذیل می باشد:

۱- لـه متوقعـه عوايـدو سـره پـه مقايسه کې حقيقي عوايد.
۲- د مـالي کال په بهير کې ترلاسه شوي حقيقي خالص وجوه.
۳- پـه بودجـوي واک کـې درج لـه خاصـو وجوهـو څخـه حقيقـي لګښتونه.
۴- د دولـت د دايمـي او مؤقتـو کـارکوونکو حقيقـي شـمېر چـې د مـالي کال په بودجوي واکونو کې د درج شوو مبالغو له مدرک څخه يې معاش ترلاسه کړی دی.
۵- د ټکټانې يا پر دولتي پورونو بانـدې د ټکټـانې لـه ډول څخـه د مبـالغو ورکړې او د اصلي پورونـو ورکړه.
۶- د هـر بودجـوي واک د تـصنيف پـه هکلـه حقيقـي لګښتونه د هغـه تصنيف لپاره د بودجې له بودجوي واک سـره پـه مقايسه کـې پـه تېـر مـالي کـال کـې د نومـوړي تـصنيف لپـاره حقيقـي لګښت او د اضـافي تخصيصونو جزئيات د دې قانون د حکمونو مطابق.
۷- د عامه بلاعوضه وجوهو د ټولو ترلاسـه کوونکـو او هغـو پيـسو د اندازې تفصيل چې ترلاسه کړې يې

۱-عوايـدحقيقی درمقايـسه بـا عواید متوقعه.
۲- وجـوه خـاص حقيقـی حاصـله درجريان سال مـالی.
۳- مصارف حقيقی از وجوه خاص منـــدرج در صـــلاحيت هـــای بودجوی.
۴- تعداد حقيقی کارکنان دايمی و مـــؤقت دولـت کـه از مـدرك مبالغ مـــندرج در صلاحيت های بودجـوی ســـال مـالی مـــعاش دريـــافت نموده اند.
۵- پرداخـت هـای تکتانـه يـا مبالغی از نوع تکتانه بالای قرضه هـای دولتـی و پرداخـت اصـل قروض.
۶- مـصارف حقيقـی درمـورد هـر تـــصنيف صـــلاحيت بودجـــوی درمقايسه با صلاحيت بودجـــوی برای آن تـصنيف، مـصرف حقيقی برای تصنيف مذکور درسال مـالی گذشـته و جزئيـات تخصيـصات اضـــافی مطـابق احکـام ايـن قانون.
۷- تفـصيل تمـام دريافـت کننـده گـان وجـوه بلاعـوض عامـه و اندازۀ پولی را کـه دريافـت نمـوده

دي.
۸- دفوق العاده لګښتونوجزئیات.
۹- د هغو تعدیلونو جزئیات چې د مالي کال په بودجوي واکونو کې يې صورت موندلی دی.
۱۰- په مالي کال کې تر لاسه شوې حقیقي لګښتي حق الزحمې.
۱۱- نورهغه معلومات چې د مالیې وزارت يې اړین وګڼي.

د شتمنیو او ژمنو معلومات
اته پنځوسمه ماده:
د شتمنیو او ژمنو معلومات د لاندې مطالبو لرونکی دی:
۱- د مالي کال په اوږدوکې د عامه پیسو پانګه اچونه.
۲- هغه بدلونو نه چې په تېرمالي کال کې په دولتي پورونو کې را څرګند شوي وي.
۳- ډول ډول هغه پورونه چې دولت د مالي کال په موده کې ورکړي وي.
۴- د مالي کال په موده کې د دولت ډول ډول استقراض.
۵- د مالي کال په بهیر کې د تضمینونو او حقیقي پورونو له مبالغو سره د اټکل شوو تضمینونو

اند.
۸- جزئیات مصارف فوق العاده.
۹- جزئیات تعدیلاتی که در صلاحیت بودجوی سال مالی صورت گرفته است.
۱۰- حق الزحمه های مصرفی حقیقی دریافت شده درسال مالی.
۱۱- سایر معلوماتیکه وزارت مالیه آنرا ضروری تلقی نماید.

معلومات دارائی ها و تعهدات
مادۀ پنجاه وهشتم:
معلومات دارائی ها و تعهدات حاوی مطالب ذیل می باشد:
۱- سرمایه گذاری پول عامه در طول سال مالی.
۲- تغییراتیکه طی سال مالی گذشته در قروض دولتی رونما گردیده باشد.
۳- انواع قرضه های که دولت در ظرف سال مالی پرداخته باشد.
۴- انواع استقراض دولت درظرف سال مالی.
۵- تفاوت میان مبالغ پیشبینی شدۀ تضمین ها و قروض با مبالغ تضمین ها و قروض حقیقی

او پورونو د مبالغو ترمنځ توپیر.
۶- د دولت د متوقعه ژمنو د تخميني مبالغو چې د مالي کال په بهیر کې په حقیقي ژمنو او د احتمالي ژمنو د مبالغو چې په حقیقي ژمنو بدل شوي دي، ترمنځ توپیر.
۷- د مالي کال په پای کې د دولت د شتمنیو بشپړ محاسبات.
۸- نور هغه معلومات چې د مالیې وزارت یې اړین وګڼي.

درجریان سال مالی.
۶- تفاوت میان مبالغ تخمینی تعهدات متوقعۀ دولت که درجریان سال مالی به تعهدات حقیقی و مبالغ تعهدات احتمالی که به تعهدات حقیقی تبدیل گردیده اند.
۷- محاسبات کامل دارائی های دولت درختم سال مالی.
۸- سایر معلوماتیکه وزارت مالیه آنرا ضروری تلقی نماید.

خپلواکه پلټنه

نهه پنځوسمه ماده:

(۱) خپلواک پلټونکي هغو ټولو معلوماتو او څرګندونو ته د لاس رسۍ د حق لرونکي دي چې د پلټنې د چارو د سرته رسولو لپاره اړین ګڼل کېږي.
(۲) د کنترول او پلټنې اداره مکلفه ده دتېر کال د صورت حسابونو مستقل رپوټ د مالي کال له پای ته رسېدو وروسته د شپږو میاشتو په ترڅ کې برابر او حکومت ته وړاندې کړي.
رپوټ د لاندې مطالبو لرونکی وي:

تفتیش مستقل

مادۀ پنجاه ونهم:

(۱) مفتشین مستقل حق دسترسی به تمام معلومات و توضیحاتی را داراء می باشند که برای انجام امور تفتیش ضروری تلقی می‌گردد.
(۲) ادارۀ کنترول و تفتیش مکلف است گزارش مستقل صورت حساب های سال مالی گذشته را درظرف شش ماه بعد از ختم سال مالی تهیه و به حکومت ارایه نماید.
گزارش حاوی مطالب ذیل می‌باشد:

۱- په بودجوي واکونو کې د درج شوو مبالغو د محاسبوي اجراآتو تصدیق.
۲- د قانون دحکمونو مطابق د جریمې د وضع کولو وړاندیز.
(۳) حکومت مکلف دی ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوی رپوټ د ملي شوري لومړۍ غونډې ته وړاندې کړي.دغه رپوټ ملي شوري ته له وړاندې کېدو وروسته د عامه معلوماتو لپاره خپرېږي.

۱- تصدیق اجراآت محاسبوی مبالغ مندرج در صلاحیت های بودجوی.
۲- پیشنهاد وضع جریمه مطابق احکام قانون.
(۳) حکومت مکلف است گزارش مندرج فقرۀ (۲) این ماده را به نخستین اجلاس شورای ملی ارائه نماید. این گزارش بعد از ارایه به شورای ملی جهت معلومات عامه نشر می‌گردد.

ملي شوري ته رپوټ
شپېتمه ماده:
حکومت له هغو تصمیمونو څخه چې د کنترول او پلټنې د رپوټ پر بنسټ يې نیولي دي، ملي شوري ته رپوټ ورکوي.

گزارش به شورای ملی
مادۀ شصتم:
حکومت از تصامیمی‌که برمبنای گزارش تفتیش و کنترول اتخاذ نموده است، به شورای ملی گزارش می دهد.

د مالیې وزارت د څېړنې واک
یوشپېتمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت د داخلي پلټنې اداره جوړوي او اړونده پلټونکي د ټولو دولتي ادارو د مالي او حسابي چارو د پلټنې په غرض توظیفوي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج

صلاحیت بررسی وزارت مالیه
مادۀ شصت ویکم:
(۱) وزارت مالیه، ادارۀ تفتیش داخلی را ایجاد و مفتشین مربوط را غرض بررسی امورمالی و حسابی تمام ادارات دولتی توظیف می‌نماید.
(۲) مفتشین مندرج فقرۀ (۱) این

شوي پلټونکي کولای شي د مالي چارو د څېړنې په منظور د اړتیا وړ معلومات له اړوندو ادارو څخه وغواړي.

ماده می‌توانند معلومات مورد ضرورت را به منظور بررسی امور مالی از ادارات مربوط مطالبه نمایند.

نهم فصل
وروستني حکمونه

فصل نهم
احکام نهائی

د دولتي ادارو دمسئولینو او کارکوونکو مکلفیتونه

دوه شپېتمه ماده:

د دولتي ادارو مسئولین او نور کارکوونکي مکلف دي له تخصیص ورکړل شوو وجوهو څخه د دې قانون د حکمونو او کړنلارو مطابق کنترول او اغېزمنه ګټه اخستنه، تأمین کړي.

مکلفیت های مسئولین و کارکنان ادارات دولتی

مادۀ شصت ودوم:

مسئولین و سایر کارکنان ادارات دولتی مکلف اند کنترول و استفادۀ مؤثر از وجوه تخصیص داده شده را مطابق احکام این قانون و طرز العمل های آن در ادارات مربوط تأمین نمایند.

له بودجې او خزانو څخه څارنه

دري شپېتمه ماده:

د مالیې وزارت ددې قانون د حکمونو مطابق د بودجې د سازمان ورکولو، اداري او د تطبیقولود ډول او پر خزانو باندې د څارنې مسئولیت په غاړه لري.

نظارت از بودجه و خزاین

مادۀ شصت وسوم:

وزارت مالیه مسئولیت سازماندهی، اداره و طرز تطبیق بودجه و نظارت برخزاین را طبق احکام این قانون بعهده دارد.

استثناوې

څلور شپېتمه ماده:

دولتـي شـرکتونه او تـصدی د دې قانون د حکمونو تابع ندي، په هغـو پورې اړوندې چارې د خـاص قـانون په واسطه تنظیمېږي.

استثناآت

مادۀ شصت و چهارم:

شـرکت هـا و تـصدی هـای دولتـی تـابع احـــکام ایـن قـانون نبـوده، امـور مربـوط آن تـــــوسط قـانون خاص تنظیم می‌گردد.

د قانون انفاذ

پنځه شپېتمه ماده:

دغه قانون د توشېح لـه نېټې څخـه نافـذ او پـه رسـمي جریـده کـې دې خپور شي او په نافذ ېدو سره يې د ۱۳۶۲/۸/۳۰ نېټې په (۵۴۴) ګڼه رسـمي جریـده کـې خپـور شـوی د بودجې قانون او نور مغایر حکمونه يې لغو کېږي.

انفاذ قانون

مادۀ شصت وپنجم:

این قانون از تـاریخ توشیح نـــافــذ و در جــریدۀ رسمی نشر گردد وبا انفاذ آن قانون بـــودجــه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۵۴۴) مؤرخ ۳۰ /۸ / ۱۳۶۲ و ســـایر احـکام مغایر آن ملغی می‌گردد.

مقررهٔ تنظیم ادارهٔ امور
مالی و مصارف عامه

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د
وزيرانو شوري مصوبه

ګڼه: (۳)
نېټه: ۱۳۸۵/ ۳/ ۱

د مالی او عامه لګښتونو د چارو د تنظيم مقرره چې په (۱۳) فصلونو او (۱۲۰) مادو کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو د شوري لخوا تصويب شوې ده منظوروم.
دغه مصوبه دی له مقرري سره يوځای په رسمي جريده کې د خپرېدو په غرض د عدليې وزارت ته واستول شي.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوريت
رئيس

مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری
اسلامی افغانستان

شماره: (۳)
تاریخ: ۱۳۸۵/۳/۱

مقررهٔ تنظیم امور مالی و مصارف عامه را که بداخل (۱۳) فصل و (۱۲۰) ماده از طرف شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است منظور می‌نمایم.
این مصوبه همراه با مقرره غرض نشر در جریدهٔ رسمی به وزارت عدلیه ارسال گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی
افغانستان

د مالي او عامه لګښتونو د چارو د
اداري د تنظيم
مقرره
لومړی فصل
عمومي حکمونه

مبنی

لومړی ماده :

دغه مقرره د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د څلورمي مادې د (۳) جزء حکم ته په پام سره د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري او د بودجوي واحدونو او مسئولو مراجعو تر منځ د اړیکیو د لا ښه تنظیم په منظور وضع شوې ده .

د تطبیق ساحه

دوه یمه ماده :

(۱) ددې مقرري حکمونه پر ټولو دولتي ادارو (بودجوي واحدونو) باندې چې خپل لګښتونه د تخصیصونو د رسمي خبرتیا مطابق تنظیموي، تطبیقېږي.

(۲) دولتي انتفاعي مؤسسې (دولتي شرکتونه، هغه تصدیګانې او شرکتونه چې په هغو کې د دولت

مقرره
تنظیم ادارۀ امور
مالی و مصارف عامه
فصل اول
احکام عمومي

مبنی

مادۀ اول:

این مقرره بانظرداشت حکم جزء (۳) مادۀ چهارم قانون ادارۀ امور مالی ومصارف عامه، به منظور تنظیم بهترادارۀ امورمالی ومصارف عامه و روابط میان واحدهای بودجوی و مراجع مسئول وضع گردیده است.

ساحۀ تطبیق

مادۀ دوم:

(۱) احکام این مقرره بالای تمام ادارات دولتی(واحدهای بودجوی) که مصارف خویش را مطابق اطلاعیۀ رسمی تخصیصات تنظیم می‌نمایند ، تطبیق می‌شود .

(۲) مؤسسات انتفاعی دولتی (شرکت های دولتی، تصدی ها و شرکت های که سهم سرمایه دولت

د پانګې وندې، په سلو کې (۵۱) یا له هغه څخه زیاته وي) د خپلو ځانګړو تقنیني سندونو تابع دي.

د مالیې وزارت کولای شي د کاری ځانګړتیا له په پام کی نیولو سره ځینی غیر انتفاعي دولتي مؤسسی د دې مقررې د حکمونو له تطبیقولو څخه مستثنی کړي .

(۳) ټولې دولتي اداري او د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري مؤظفین مکلف دي، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د لاښې اداري په منظور، د مالیې او د عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون، د کلنۍ بودجې د کړنلارې حکمونه، د دې مقرري، کړنلارو، لایحو او د مالیې وزارت د خزاینو د اداري د لارښودونو حکمونه تطبیق کړي .

در آن (۵۱) فیصدیا بیشتراز آن باشد)، تابع اسناد تقنینی خاص خود اند.

وزارت مالیه می‌تواند با نظر داشت خصوصیت کاری برخی ازمؤسسات دولتی غیر انتفاعی را از تطبیق احکام این مقرره مستثنی نماید.

(۳) کلیه ادارات دولتی و مؤظفین ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه مکلف اند، احکام قانون ادارهٔ امور مالی ومصارف عامه، طرزالعمل بودجهٔ سالانه، احکام این مقرره، طرزالعمل ها، لوایح و رهنمودهای ادارهٔ خزاین وزارت مالیه را به منظور ادارهٔ بهتر امورمالی و مصارف عامه تطبیق نمایند.

اصطلاحګاني

دریمه ماده :

پدې مقرره‌کې لاندې اصطلاحګاني دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- بوجودي واحد : دولتي حکمي شخصیت دی چې د بودجوي واک مطابق، له دولت څخه په استازیتوب سره د ژمنو د سرته

اصطلاحات

مادهٔ سوم :

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می‌نمایند:

۱- واحد بودجوی: شخصیت حکمی دولتی است که صلاحیت ایفای تعهدات را به نمایندگی از دولت و اجرای مصارف از

رسولو اوله تخصیصونو څخه د لګښتونو د اجراء واک ولري .

۲- لومړی بودجوي واحد: دولتي حکمي شخصیت دی چې د ملي شوري د مصوبې له مخې د بودجوي واک لرونکی دی .

۳- ژمنه (تعهد): د امر صادرېدل، د قرار داد عقدول، د خدمتونو یا معاملو ترلاسه کول دي چې د تصفیې په غرض یې د ورکړو اجراء کول لازم وي.

۴- عواید: ټول هغه وجوه دي چې د دولت لخوا ترلاسه او په هغو کې د ګټې حق ولري. هغه ترلاسه کېدنې چې د پورونو د زیاتوالي، د ورکړل شوو پورونو د بېرته ورکړې یا په لګښتونو کې د ټیټوالي سبب شي، لدې امرڅخه مستثنی دي .

۵- لګښتونه: هغه ورکړې دي چې د دولت لخوا صورت مومي. د اصل پور ورکړې، د پور ورکړه یا د هغو مبالغو چې دولت پکې د ګټې حق نلري، بېرته ورکړه (استرداد)، لدې امر څخه مستثنی دي.

۶- د وجوهو ترلاسه کول: د هغو نغدي وجوهو یا ورته معاملو ترلاسه کول دي چې د پیسو په بېلانس یا تخصیصات را مطابق صلاحیت بودجوی داشته باشد .

۲- واحد اول بودجوی: شخصیت حکمی دولتی است که صلاحیت بودجوی را به تأسی از مصوبۀ شورای ملی حایز می‌باشد .

۳- تعهد: صدور امر، عقد قرار داد، دریافت خدمات یا معاملات است که غرض تصفیۀ آن اجرای پرداخت لازم باشد .

۴- عواید: تمام وجوهی است که ازطرف دولت دریافت گردیده و در آن حق انتفاع داشته باشد . دریافت های که سبب افزایش قروض، باز پرداخت قروض اعطاء شده یا کاهش درمصارف گردد ، از این امر مستثنی است.

۵- مصرف: پرداخت های است که ازطرف دولت صورت میگیرد . پرداخت های اصل قرضه، اعطای قرضه، یا بازپرداخت (استرداد) مبالغی که دولت در آن حق انتفاع را ندارد ، ازین امرمستثنی است.

۶- دریافت وجوه: ورود وجوۀ نقدی یا معاملات مشابه است که سبب افزایش در

عامه شتمنی کې د زیاتېدو باعث شي.

۷- ورکړه: د هغو وجوهو یا معاملو وتل (خروج) دی چې د ژمنو د تصفیې یا د بدیهیو د راتیتېدو په منظور ترسره کېږي.

۸- مالي پانګه اچونه: د پیسو ایداع د ګټې د تراسه کولو په منظور ده.

۹- شتمني: پیسې، پانګه اچونه، لګښتی قلمونه، املاک او نورې اقتصادي ګټې چې په راتلونکې کې تراسه کېږي.

۱۰- د خزاینو دفتر: په مرکز کې د مالیې د وزارت د خزاینو اداره او په ولایتونو کې مستوفیتونه دي چې د ورکړې د پراوونو د تېرولو مسئولیت او واک او د توحیدي وجوهو د معاملو د ورکړه ایزو (پرداختي) فعالیتونو سرته رسول په غاړه لري.

د توحیدي وجوهو لېږدول (انتقال) څلورمه ماده :

دولتي بودجوي واحدونه مکلف دي ټولې دولتي تراسه کونې، په دافغانستان بانک کې د خزاینو واحد حساب ته تحویل کړي.

بیلانس پول یا دارائی عامه می گردد.

۷- پرداخت: خروج وجوهٔ نقدی یا معاملات است که به منظور تصفیهٔ تعهدات یا کاهش بدیهی انجام می پذیرد.

۸- سرمایه گذاری مالی: ایداع پول به منظور حصول منفعت (مفاد) می باشد.

۹- دارایی: پول، سرمایه گذاری، اقلام مصرفی، املاک وسایر منافع اقتصادی که در آینده حصول می‌گردد.

۱۰- دفتر خزاین: ادارهٔ خزاین وزارت مالیه در مرکز و مستوفیت ها در ولایات می باشد که مسئولیت و صلاحیت طی مراحل پرداخت و انجام فعالیت های تأدیاتی معاملات وجوه توحیدی را بعهده دارند.

انتقال وجوه توحیدی

مادهٔ چهارم:

واحدهای بودجوی دولتی مکلف اند کلیه دریافت های دولتی را به حساب واحد خزاین در دافغانستان بانك تحویل نمایند.

که چېرې د خزاینو په واحد حساب کې د نړیوالو موافقه لیکونو مطابق دولت ته د وجوهو لیږدول منع وي، پدې صورت کې د مالیې وزارت مکلف دی نومورې وجوه له هېواد څخه په بهر کې ټاکلي بانکي حساب ته تحویل او د ورکړې رپوټ یې په مجزا توګه واکمنو مقامونو ته وړاندې کړي.

عمومي وجه

پنځمه ماده:

ټول هغه عواید او پیسې چې له خاص مقصد پرته د دولت لخوا ترلاسه شوي وي، د عامه پیسو په توګه معامله کېږي.

خاص وجوه

شپږمه ماده :

د خاصو وجوهو د لګونو اجراء د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۱۶) مادې د حکم له په پام کې نیولو سره ، د تخصیصونو په خبرتیا کې تر درج شوي مبلغ یا د خاصو وجوهو ترلاسه راغلي فوند پورې هر یو چې لږ وي، صورت مومي.

هرګاه انتقال وجوه قابل پرداخت به دولت طبق موافقتنامه های بین المللی به حساب واحد خزاین ممنوع باشد ، دراین صورت وزارت مالیه مکلف است وجوه متذکره را به حساب بانکی معین درخارج کشورتحویل و گزارش پرداخت آن را طور مجزا به مقامات ذیصلاح ارایه نمایند.

وجه عمومي

مادۀ پنجم:

تمام عواید و پولی که بدون مقصد خاص ازطرف دولت دریافت گردیده باشد ، بحیث پول عامه معامله می‌گردد.

وجوه خاص

مادۀ ششم:

اجرای مصارف وجوه خاص بانظرداشت حکم مادۀ (۱۶) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه الی مبلغ مندرج دراطلاعیۀ تخصیصات یافند دریافت شده به منظور وجوه خاص هرکدام که کمتر باشد صورت می گیرد.

د بودجوي واحدونو د تأسیسولو او انحـــلال د واک سپارل

اوومه ماده :

(۱) بودجوي لومړی واحد عنداللزوم کـــولای شـــي، د مـــالي او عامـــه لګښتونو د چارو د اداري د قانون، دغې مقرري او د مالیې د وزارت د کـړنلارو د حکمونـو مطابق، خپـل بودجـوي واکونـــه او مـــسئولیتونه بودجوي فرعي واحدونو ته وسپاري .

(۲) بودجـوي لـومړی واحـد د اړونـد بودجـوي واحـد د تأسیـسولو، نـوي سـازمانولو یـا انحـــلال وړانـدیز، د مالیې د وزارت لـه مـوافقې وروسـته د وزیرانـو شـوري تـه وړانـدې کـوي، بودجـوي واحـد د قـانون د حکمونـو مطابق تأسیس، نـوي سـازمانول یـا منحل کېږي .

(۳) بودجوي واحد د مالي او ورکړې د چارو په هکله د خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره په مرکز کې د مـالیې د وزارت د خزاینو دفتر او په ولایتونو کې اړوندو مستوفیتونو تـه مراجعـه کوي.

تفـــویض صـــلاحیت، تأســـیس و انحـــلال واحدهای بودجوی

مادۀ هفتم:

(۱) واحد اول بودجوی عنداللزوم می‌تواند، طبق احکام قانون ادارۀ امورمـالی ومـصارف عامـه، ایـن مقـرره و طرزالعمـل هـای وزارت مالیـه، صـلاحیت ها ومـسئولیت هـــای بودجـــوی خـــویش را بـــه واحدهای فرعـی بودجوی تفویض نماید.

(۲) واحد اول بودجوی، پیـشنهاد تأســـیس، تجدیـد ســازمان یـا انحـــــلال واحـــد بـــــودجوی مربـوط را بعـد از مـوافقۀ وزارت مالیـه بـه شـورای وزیـران ارایـــه می نماید، واحد بودجوی مطابق احکـــام قـــانون تأســـیس،تجدید سازمان یامنحل می‌گردد.

(۳) واحد بودجوی جهت دریافت خدمات در مورد ادارۀ امور مـالی و پـــــرداخت در مرکزبـــه دفتـــر خـزاین وزارت مالیـه و در ولایـات به مستوفیت های مربوط مراجعـه می نماید.

دوه یم فصل
د مالي چارو د اداره کولو په چاره کې د بودجوي واحدونو واکونه او مسئولیتونه

دندې او واکونه

اتمه ماده :

بودجوي واحد ، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري په اړه، د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی :

۱- د سپارل شوو چارو د اجراء لپاره د لازمو لګښتونو د ورکړې په منظور د تخصیصونو د خبرتیا ترلاسه کول .

۲-د قانون د حکمونو له په پام کی نیولو سره د تشکیل او د تخصیصونو په خبرتیا کی د درج شویو و جوهو مطابق دکار کوونکو (دایمی یا مؤقتی) استخدامول.

۳- د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره د سپارل شوو چارو د اجراء لپاره د تخصیصونو په خبرتیا کې د درج شوو مبالغو مطابق، د مالونو د برابرولو او د خدمتونو او ودانیزو چارو د تدارک په منظور د

فصل دوم
صلاحیت ها و مسئولیت های واحد های بودجوی در امر ادارۀ امور مالی

وظایف و صلاحیت ها

مادۀ هشتم:

واحد بودجوی در رابطه به ادارۀ امورمالی و مصارف عامه دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد :

۱- دریافت اطلاعیۀ تخصیصات به منظور پرداخت مصارف لازم جهت اجرای امور محوله.

۲- استخدام کارکنان (دایمی و مؤقتی) طبق تشکیل و وجوه مندرج در اطلاعیۀ تخصیصات با نظر داشت احکام قانون.

۳- عقد مقاولات به منظور تهیۀ امـوال و تدارک خدمات و امور ساختمانی مطابق مبالغ مندرج اطلاعیۀ تخصیصات غرض اجرای‌امور محوله

مقاولو عقدول.
۴- د سپارل شوو چارو د اجراء لپاره له تخصیص ورکړل شوو شتمنیو او نغدي وجوهو څخه د ساتنې او اغېزمنې ګټې اخیستنې په غرض، د لاړمو تدبیرونو نیول.
۵- د ورکړې د غوښتنلیک پربنسټ د منل شوو ژمنو تصفیه .
۶- له عقد شوو قراردادونو څخه د را پیدا شوو وجیبو تر سره کول.
۷- د حسابي معاملو د پراوونو له مناسب اوخپلواك تیرولو، دحسابي سندونو او سوابقو له ساتنې، د رپوټونو له واقعي ترتیبولو او د مالیی وزارت د کړنلارې مطابق پر وخت باندې د هغو د وړاندې کولو څخه ډډ ترلاسه کول.

بانظرداشت احکام قانون.
۴- اتخاذ تدابیر لازم غرض حفاظت واستفادۀ مؤثر از دارایی و وجوه نقدی تخصیص داده شده جهت اجرای وظایف محوله.
۵- تصفیۀ تعهدات متقبل شده به اساس درخواست پرداخت.
۶- ایفای و جایب ناشی از قرار داد های منعقده.
۷- حصول اطمینان از طی مراحل مناسب و مستقل معاملات حسابی، حفظ اسناد و سوابق حسابی و ترتیب واقعی گزارشات و ارایۀ به موقع آن طبق طرزالعمل وزارت مالیه.

د بودجوي واحد آمر

نهمه ماده:

د بودجوي واحد آمر، د اړوند بودجوي واحد دمالي چارو د اداري او هغو کارکوونکو چې د مالي چارو د اداري واک ورته سپارل شوی دی، د کنترول مسئول دی.
که چېرې د بودجوي واحد آمر له دندې څخه لرې (منفصل) شي، پدې

آمر واحد بودجوی

مادۀ نهم:

آمر واحد بودجوی مسئول کنترول ادارۀ امور مالی واحد بودجوی مربوط و کارکنانی می باشد که صلاحیت ادارۀ امورمالی به آنها تفویض گردیده است.
هرگاه آمر واحد بودجوی از وظیفه منفصل گردد، در این

صورت کې د هغه مسئولیتونه د بودجوي واحد وروستي آمر ته لېږدول کېږي.

د مسئولیت د لېږدولو ډول په هغه جلا کړنلاره کې چې د مالیې د وزارت لخواتر تیبېږي، مشخصېږي .

صورت مسئولیت های وی به آمر بعدی واحد بودجوی منتقل می گردد.

نحو انتقال مسئولیت در طرزالعمل جداگانه که ازطرف وزارت مالیه ترتیب می‌گردد، مشخص می‌شود.

د مالي او حسابي چارو د اداري مسئول کارکوونکی

لسمه ماده :

(۱) دمالي او حسابي چارو د اداري مسئول کارکوونکي، خپلې دندې د دغې مقرري د حکمونو مطابق سرته رسوي او دبوجوي واحد د آمر په وړاندې فردي مسئولیت لري.

(۲) مالي او حسابي کارکوونکي د محاسباتو، د معاملاتو د پړاوونو د تېرولو د کنترول او د هغو د تأییدي سندونو او سوابقو او مدارکو د ساتنې مسئول دي، د اړوند واحد د مالي وضعیت او د معاملاتو په هکله لازم معلومات وړاندې کوي.

کارکنان مسئول ادارۀ امور مالی و حسابی

مادۀ دهم:

(۱) کارکنان مسئول ادارۀ امور مالی وحسابی وظایف مربوط را مطابق احکام این مقرره انجام و در برابر آمر واحد بودجوی مسئولیت فردی دارند.

(۲) کارکنان مالی وحسابی مسئول کنترول محاسبات، طی مراحل معاملات، نگهداشت اسناد و سوابق و مدارك تأییدی آن بوده، در مورد وضعیت مالی و معاملات واحد مربوط معلومات لازم را ارائه می نمایند.

د دندو تفکیک

یوولسمه ماده :

هر بودجوي واحد د آمر، مالي او

تفکیك وظایف

مادۀ یازدهم:

هر واحد بودجوی دارای آمر،

حسابي مامورينو او نغدي او جنسي معتمد لرونکی وي چې خپلې دندې په جلاتوګه سرته رسوي او تر درېيمې درجې پورې په خپلو منځو کې خپلوي ونلري.

مامورین مالی وحسابی، معتمد نقدی و معتمدجنسی می‌باشد که وظایف خویش را طورجداگانه انجام وتا درجهٔ سوم بین هم قرابت نداشته باشند.

د واک سپارل او د لاسلیک نمونه دوولسمه ماده :

د لومړي بودجوي واحد آمر او د بودجوي واحدونو آمرين، د مالي کال له پيل د مخه د ډاډ ترلاسه کولو په منظور، د هغو مامورينو چې ورته واک سپارل شوی دی، نوم او د لاسليک نمونه ياد داشتوي او هغه د تاکلی فورم او د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق، ساتي او خوندي کوي يې.

تفویض صلاحیت و نمونهٔ امضاء مادهٔ دوازدهم:

آمر واحد اول بودجوی و آمرین واحد های بودجوی قبل از آغاز سال مالی به منظور حصول اطمینان اسم و نمونهٔ امضاء مامورینی را که به آنها تفویض صلاحیت گردیده، یادداشت نموده و آنرا طبق فورم معینه و طرزالعمل وزارت مالیه حفظ و نگهداری می نمایند.

محرم لګښتونه دیارلسمه ماده :

د ملي امنيت په موضوعګانو پورې اړوند لګښتونه محرم دي، په رپوټونو، صورت حسابونو او اظهارليکونو کې له تفصيل پرته ذکر کېږي، د محرمو لګښتونو د حساب ورکونې ډول د امنيتي خدمتونو له ادارو سره په سلا کې، د

مصارف محرم مادهٔ سیزدهم:

مصارف مربوط به موضوعات امنیت ملی محرم بوده، در گزارشات، صورت حسابات و اظهارنامه ها، بدون تفصیل ذکر می‌گردد. طرز حسابدهی مصارف محرم از طرف وزارت مالیه در مشوره با ادارات

مالیې د وزارت لخوا ټاکل کېږي او پرټولو دولتي ادارو باندې یو شان د تطبیق وړ دی .

درېیم فصل
د بودجې ترتیبول

دبودجې د ترتیبولو زماني جدول
څوارلسمه ماده:
د مالیې وزارت مکلف دی د زماني مودې (میعاد) د جدول له صادرېدو د مخه د بودجې له کمیټې سره سلا وکړي، د مالي کال د بودجې او د بودجوي واکونو د ترتیب او غوښتنلیک په ترڅ کې بودجوي لومړي واحدونه، د لاندې بودجوي پروسو لپاره د ټاکلې نېټې په تشخیص سره، خبر کړي:
۱- د مالي پروګرام رپوټ او د اقل حد بودجې تخمینول.
۲- د بودجې د طرحې د وړاندې کولو وړاندیز.
۳- د بودجې څېړل.
۴- د بودجې وروستني حدود .
۵- د بودجې د مسودې ترتیبول .
۶- د بودجې منظوري.

خدمات امنیتی تعیین و بر تمام واحد های دولتی طوریکسان قابل تطبیق می‌باشد.

فصل سوم
ترتیب بودجه

جدول زمانی ترتیب بودجه
مادۀ چهاردهم:
وزارت مالیه مکلف است قبل ازصدور جدول میعاد زمانی با کمیتۀ بودجه مشوره نموده، حین ترتیب و درخواست بودجه و صلاحیت های بودجوی سال مالی واحدهای اول بودجوی را با تشخیص تاریخ معینه برای پروسه های آتی بودجوی، مطلع سازد:
۱- گزارش پروگرام مالی و تخمین حد اقل بودجه.
۲- پیشنهاد ارائه طرح بودجه.
۳- بررسی بودجه.
۴- حدود نهایی بودجه.
۵- ترتیب مسودۀ بودجه.
۶- منظوری بودجه.

د بودجې د عوایدو او لګښتونو اټکلول

پنځلسمه ماده :

د مالیې وزارت د بودجې له کمیټې سره په سلا کې، د مالي پرمختیا پروګرام ترتیبوي او د وزیرانو شوري له منظورۍ وروسته هغه خپروي او د کتنې (مطالعې) لپاره یې ملي شوري ته وړاندې کوي.

دغه پروګرام د لاندې معلوماتو لرونکی وي:

۱- د اقتصادي او مالي وضع د منځنۍ مودې د لرلید تشخیص او د تېرو کلونو د بودجې د تطبیق څرنګوالي لنډه ارزونه.

۲- د مالي پلانونې او د کلي سرچینو د سطحې چې د دولت د راتلونکي کال په بودجه کې د ترلاسه کولو وړ وي، ټاکل .

۳- د موجودو پروګرامونو مطابق د اقتصادي بنسټیز اټکلونو او بنیادي عوایدو او لګښتونو تخمینول .

۴- د دولت د مالي وضعیت دټاکلو لپاره د عوایدو او لګښتونو تخمینول.

۵- د راتلونکي کال بودجوي

پیشبینی عواید و مصارف بودجه

مادۀ پانزدهم:

وزارت مالیه در مشوره با کمیتۀ بودجه، پروگرام انکشافی مالی را ترتیب و بعد از منظوری شورای وزیران آنرا نشر و جهت مطالعه به شورای ملی ارائه می نماید.

این پروگرام حاوی معلومات ذیل می‌باشد:

۱- تشخیص دورنمای متوسط المدت وضع اقتصادی و مالی و ارزیابی مختصر چگونگی تطبیق بودجۀ سالهای گذشته.

۲- تعیین چارچوب پلانگذاری مالی و سطح منابع کلی که در بودجۀ سال آیندۀ دولت قابل دریافت باشد.

۳- تشخیص پیشبینی های اساسی اقتصادی و تخمین عواید و مصارف بنیادی طبق پروگرام های موجوده.

۴- تخمین عواید و مصارف جهت تعیین وضعیت مالی دولت.

۵- اولویت های کلیدی بودجوی

کلیدی لومړیتوبونه.
۶- له مالیاتو، فیسونو، ګمرکي محصول، د مرستې کوونکو (دونرانو) لخوا له برابرو شوو وجوهو او نورو ترلاسه کونو څخه د لاسته راوړو وړ مبالغو د تخمین په شمول، د عوایدو بودجه.
۷- د افغانستان په پرمختیایي ملي ستراتیژۍ کې د درج شوو لومړیتوبونو له په پام کې نیولو سره، د هر بودجوي واحد، زېرمو او نورو وجوهو لپاره د کلي مجموعې تخصیصول او د مالي منځنۍ مودې د چوکاټ مطابق په مالي ثبات پورې اړوندې موضوعګانې.
۸- نور هغه تدبیرونه چې د مالیې وزارت یې تجویز وي.

سال آینده.
۶- بودجۀ عواید بشمول تخمین مبالغ قابل دریافت از مالیات، فیس ها، محصول گمرکی، وجوه تهیه شده ازطرف کمك کننده گان (دونرها) و سایر دریافت ها.
۷- تخصیص مجموعۀ کلی منابع برای هر واحد اول بودجوی، ذخایر و سایر وجوه با نظرداشت اولویت های مندرج در ستراتیژی ملی انکشافی افغانستان و موضوعات مربوط به ثبات مالی طبق چارچوب متوسط المدت مالی.
۸- سایر تدابیری که وزارت مالیه تجویز می‌نماید.

د بودجوي غوښتنلیکونو ترتیبول شپاړسمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت مکلف دی، د بودجې د ترتیب او غوښتنلیک او دمالي کال لپاره د بودجوي واک او د لګښتونو د اعظمي مبالغو کړنلاره، د وزیرانو د شوري له منظورۍ وروسته بودجوي لومړیو واحدونو ته صادره کړي.

ترتیب درخواست های بودجوی مادۀ شانزدهم:
(۱) وزارت مالیه مکلف است، طرزالعمل ترتیب و درخواست بودجه و صلاحیت های بودجوی سال مالی و مبالغ اعظمی مصارف را بعد از منظوری شورای وزیران به واحدهای اول بودجوی صادر نماید.

(۲) بودجوي لومړي واحدونه مکلف دي لاندې مطالب په اړوند بودجوي غوښتنليک کې درج کړي:
۱- دحکومت دستراتيژيکوعمومي موخو او لومړيتوبونو مطابق د برنامو په منځ کې د بودجوي سرچينو تخصيصول او دافغانستان د پرمختيايي ملي ستراتيژی د مندرجاتو له په پام کی نيولو سره د لګښتونو لومړيتوبونه.
۲- د لګښتونو په محدوده کې د زيات لومړيتوب لرونکو پروژوي برنامو او وړاندیزونو ترتيبول او له کمښت څخه د پس انداز پياوړ تيا او د لږ لومړيتوب لرونکو لګښتونو محوه کول .
۳- د اقتصادي کتګوری (عمده موضوعګانو د کود) په تفکيک سره په بودجوي غوښتنليک کې د درج شوو مبالغو د لګښتونو په هکله د بشپړو معلوماتو وړاندې کول او د مالیې وزارت د کړنلارې مطابق د ولايتونو په تفکيک سره د هغو تجزيه کول .
۴- د هېواد په ټولو ولايتونو کې د مشورې پر بنسټ او د حکومت د خدمتونو د منصفانه تأمين له په پام

(۲) واحدهای اول بودجوی مکلف اند مطالب ذیل را در درخواست بودجوی مربوط درج نمایند:
۱- تخصیص منابع بودجوی در بین برنامه ها طبق اولویت ها و اهداف عمومي ستراتيژيك حکومت و اولویت های مصارف بانظر داشت مندرجات ستراتیژی ملی انکشافی افغانستان.
۲- ترتیب برنامه ها و پیشنهادات پروژ وی حایز اولویت بیشتر در محدودهٔ مصارف و تقویه پس انداز ازکاهش و امحای مصارف دارای اولویت کمتر.
۳- ارائه معلومات کامل در مورد مصارف مبالغ مندرج درخواست بودجوی به تفکیك کتگوری اقتصادی (کود موضوعات عمده) و تجزیهٔ آن به تفکیك ولایات طبق طرزالعمل وزارت مالیه.
۴- ارزیابی کامل نیازمندی های تمام واحدهای فرعی بودجوی در مرکز و ولایات به

کې نیولو سره، په مرکز او ولایتونو کې د ټولو بودجوي فرعي واحدونو د اړتیاوو بشپړه ارزونه.

۵- د تخنیکي موضوعګانو د حل او فصل لپاره د بودجوي لومړي واحد د استازي په توګه، د مالیې وزارت ته د متجربو او تکړه مامورینو توظیف او معرفي کول.

(۳) د مالیې وزارت مکلف دی د هر بودجوي لومړي واحد په هکله د نظریو، مشورو او جلا سپارښتنو لپاره لاندې ډول، د بودجې کمیټې ته وړاندې کړي:

۱- د هغو لګښتونو چې د بودجوي لومړي واحد لپاره ټاکل شوي دي، د اعظمي لګښتونو د حدودو په پام کې نیول.

۲- پداسې ډول چې د افغانستان په پرمختیایي ملي ستراتیژۍ او د منځنۍ مودې په مالي چوکاټ کې درج شوي دي، د حکومت د لګښتونو د لومړیتوبونو په پام کې نیول.

۳- نورې هغه موضوعګانې چې د بودجې د کمیټې ازرونه وغواړي (ایجاب کړي).

اساس مشوره و با نظر داشت تأمین منصفانۀ خدمات حکومت در همه ولایات کشور.

۵- توظیف ومعرفی مامورین متجرب و ورزیده به وزارت مالیه منحیث نمایندۀ واحد اول بودجوی جهت حل و فصل موضوعات تخنیکی.

(۳) وزارت مالیه مکلف است خلص نظریات، مشوره ها وسفارشات جداگانه را طور ذیل در مورد هر واحد اول بودجوی به کمیتۀ بودجه ارائه نماید:

۱-رعایت حدود اعظمی مصارف که برای واحد اول بودجوی تعیین گردیده است.

۲-در نظر گرفتن اولویت های مصارف حکومت طوریکه در ستراتیژی ملی انکشافی افغانستان و چارچوب مالی متوسط المدت درج گردیده است.

۳- سایر موضوعات که ایجاب ارزیابی کمیتۀ بودجه را نماید.

د بودجې څېړنه
اووه لسمه ماده :
د بودجې کمیټه د بودجوي لومړیو واحدونو د بودجوي غوښتنلیکونو د څېړنې پر بنسټ په موجودو برنامو کې د تعدیلونو، د لګښتونو د نوو وړاندیزونو او د هغو د سپما د لارو چارو (شپوو) په شمول د سکتوری لومړیتوبونو په هکله خپلې وروستنۍ سپارښتنې حکومت ته وړاندې کوي.

بودجوي وروستني حدود
اتلسمه ماده :
(۱) د بودجې وروستني (اعظمي) حدود د لاندې مطالبو له په پام کې نیولو سره د وزیرانو د شوري لخوا منظورېږي:
۱- د منځنۍ مودې د اقتصادي فرضیاتو د نوي کولو لرونکي مالي پرمختیایي پروګرام رپوټ.
۲- په راتلونکي مالي کال کې د سکتوري تخصیصونو د حدودو او د هر بودجوي واحد د بودجې د حدودو په شمول د هغو د لګښتونو له تخمین سره، د بودجې د کمیټې سپارښتنې .

بررسی بودجه
مادۀ هفدهم:
کمیتۀ بودجه سفارشات نهایی خود را درمورد اولویت های سکتوری بشمول تعدیلات در برنامه های موجود، پیشنهادات جدید مصارف و شیوه های صرفه جوئی آنرا به اساس بررسی درخواست های بودجوی واحد های اول بودجوی به حکومت ارائه می‌نماید.

حدودنهایی بودجوی
مادۀ هجدهم:
(۱) حدود نهایی (اعظمی) بودجه بانظرداشت مطالب ذیل از طرف شورای وزیران منظور می گردد:
۱- گزارش پروگرام انکشافی مالی حاوی تجدید فرضیات اقتصادی متوسط المدت.
۲- سفارشات کمیتۀ بودجه بشمول حدود تخصیصات سکتوری و حدود بودجۀ هر واحد بودجوی با تخمین مصارف آنها در سال مالی آینده .

(۲) د مالیې وزارت هر بودجوي واحد، په جلاتوګه له لاندې مواردو څخه خبر وي:

۱- د نوو، پراختیا موندو یا نوو شوو برنامو او منظور و شوو سپماوو په شمول، د منظورو شوو نهایي حدودو تجزیه کول.

۲- د بودجې په حدودو کې د بودجوي مفصلو غوښتنلیکونو د ترتیب په هکله لارښوونې.

د مالیې وزارت نشي کولای د بودجوي لومړیو واحدونو غوښتنلیکونه چې د اړوندې کړنلارې مطابق ترتیب شوی نه وي یا یې مناسب مدارک وړاندې شوي نه وي، په هغه بودجوي وړاندیز کې چې د بودجې کمیټې، وزیرانو شوري او ملي شوري ته وړاندې کېږي، شامل کړي. د مالیې وزارت کولای شي د عامه لارمو خدمتونو د تأمینولو لپاره بدیل تخمینونه په بودجوی وړاندیز کې شامل کړی.

(۲) وزارت مالیه هر واحد بودجوی را بصورت جداگانه از موارد ذیل مطلع می‌سازد:

۱- تجزیهٔ حدود نهائی منظور شده بشمول برنامه های جدید، توسعه یافته یا تجدید شده و صرفه جوئی های منظور شده.

۲- هدایات در مورد ترتیب درخواست های مفصل بودجوی درحدود بودجه.

وزارت مالیه نمی تواند درخواست های واحد های اول بودجوی را که طبق طرزالعمل مربوط ترتیب نشده یا مدارک مناسب آن ارائه نگردیده باشد، در پیشنهاد بودجوی که به کمیتهٔ بودجه، شورای وزیران و شورای ملی ارائه می‌گردد، شامل سازد. وزارت مالیه می‌تواند تخمینات بدیل را جهت تأمین خدمات لازم عامه در پیشنهاد بودجوی شامل سازد.

د بودجې مسوده

نولسمه ماده:

د مالیې وزارت مکلف دی د بودجې مسوده د حکومت د مالي

مسودهٔ بودجه

مادهٔ نزدهم:

وزارت مالیه مکلف است مسودهٔ بودجه را به اساس اولویت

پروګرامونو د لومړیتوب، د منځنۍ مودې بودجوي سر چینو د تخصیص، د بودجوي لومړیو واحدونو د بودجوي غوښتنلیکونو پربنسټ او دمالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره چې پر لاندې مندرجاتو مشتمل دي، ترتیب کړي:

۱- د بودجې په هکله اجمالي معلومات.

۲- د عوایدو او لګښتونو پلان.

۳- د شتمنۍ او ژمنو (بدیهیو) صورت حساب.

۴- د کلنۍ بودجې کړنلاره.

د بودجې منظوري

شلمه ماده:

د وزیرانو شوري د بودجې مسوده له هر اړخیز غور او ارزونې وروسته منظور وي او د تصویب په غرض یې ملي شوري ته وړاندې کوي.

د بودجې د مسودې په هکله ملي شوري ته لازمي څرګندونې (توضیحات)، د وزیرانو یا یې د واکمنو استازو لخوا وړاندې کېږي. وزیران یا یې واکمن استازي نشي کولای نور موارد وړاندیز یا د بودجې په مسوده کې درج شوي پروګرام های مالی حکومت، تخصیص منابع بودجوی متوسط المدت، درخواست های بودجوی واحد های اول بودجوی و بانظر داشت احکام قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه که مشتمل برمندرجات ذیل می باشد، ترتیب نماید:

۱- معلومات اجمالی در مورد بودجه.

۲- پلان عواید و مصارف.

۳- صورت حساب دارایی و تعهدات (بدیهی).

۴- طرزالعمل بودجۀ سالانه.

منظوری بودجه

مادۀ بیستم:

شورای وزیران مسودۀ بودجه را بعد از غور وارزیابی همه جانبه منظور و غرض تصویب به شورای ملی ارائه مینماید.

توضیحات لازم در مورد مسودۀ بودجه به شورای ملی از طرف وزراء یا نمایندگان با صلاحیت آنها ارائه می گردد. وزراء یا نمایندگان باصلاحیت ایشان نمی توانند موارد دیگر را پیشنهاد و یا پیشنهادات مندرج

وړاندیزونه چې د وزیرانو شوري په واسطه منظور او ملي شوري ته وړاندې شوي دي، تعدیل کړي.د مالیې وزارت ملي شوري ته د بودجې د مسودې د وړاندې کولو او د هغې د نوې کتنې او تصویب په پروسه کې، له حکومت څخه استازیتوب کوي.

در مسودۀ بودجه را که توسط شورای وزیران منظور و به شورای ملی ارائه گردیده، تعدیل نمایند. وزارت مالیه در پروسۀ ارائۀ مسودۀ بودجه به شورای ملی و تجدید نظر و تصویب آن، از حکومت نمایندگی می‌نماید.

څلورم فصل
د بودجوي واکونو د چارو تنظیمول

په بودجوي واکونو پورې د اړوندو حسابونو ساتل

یوویشتمه ماده :

(۱) د خزانو اداره په موجودو بودجوي واکونو کې په درج شوو مبالغو پورې اړوند حسابونه، د لګښتونو د اجراء او پر اړوندو بودجوي واکونو مشتمل د عامه پیسو د وجوهو د لګښتونو رپوټ ساتي او خوندي کوي یې .

د مالیې وزارت کولای شي د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۴۱، ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۶،

فصل چهارم
تنظیم امورصلاحیت های بودجوی

حفظ حسابات مربوط به صلاحیت های بودجوی

مادۀ بیست ویکم:

(۱) ادارۀ خزاین، حسابات مربوط به مبالغ مندرج صلاحیت های بودجوی موجود را به منظور اجرای مصارف و گزارشدهی مصارف وجوه پول عامه شامل صلاحیت های بودجوی مربوط، حفظ ونگهداری می‌نماید. وزارت مالیه می‌تواند تصامیم مقتضی را در امور بودجوی بانظر داشت احکام

۴۷، ۴۸، ۵۰، او ۵۱) مادو د حکمونو له په پام کې نیولو سره په بودجوي چارو کې مقتضي تصمیمونه ونیسي.

(۲) په بودجوي واکونو پورې د اړوندو تصمیمونو په هکله د تخصیصونو رسمي خبرتیا، یوازې د خزینو د اداري لخوا صادریږي. د تخصیصونو رسمي خبرتیا د بودجوي نه واک په صورت کې صادرېدی نشي.

د اضطراري او پالیسۍ د حالاتو د زیرمو د تخصیصونو خبرتیا

دوه ویشتمه ماده :

(۱) د مالیې وزارت لخوا د اضطراري حالاتو د زېرمو د تخصیصونو د خبرتیا صادرول او د ورکړې اجراء یې، یوازې په لاندې حالاتو کې صورت مومي:

۱- په هغه صورت کې چې په ټول هېواد یا یوه ساحه کې یې اضطراري حالت رسماً اعلام شي.

۲- په هغه صورت کې چې اړوند بودجوي لومړی واحد ثابته کړي چې د اضطراري حالت له امله د اجناسو د برابرولو او د خدمتونو او ودانیزو چارو د تدارک ظرفیت مواد (۴۱، ۴۲، ۴۳، ۴۴، ۴۶، ۴۷، ۴۸، ۵۰ و ۵۱) قانون ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه اتخاذ نماید.

(۲) اطلاعیهٔ رسمی تخصیصات درمورد تصامیم مربوط به صلاحیت های بودجوی صرف ازطرف ادارهٔ خزاینصادرمی‌گردد. اطلاعیهٔ رسمی تخصیصات در صورت عدم صلاحیت بودجوی صادر شده نمی تواند.

اطلاعیهٔ تخصیصات ذخایر حالات اضطراری و پالیسی

مادهٔ بیست ودوم:

(۱) صدوراطلاعیهٔ تخصیصات ذخایر حالات اضطراری و اجرای پرداخت آن صرف در حالات ذیل ازطرف وزارت مالیه صورت می‌گیرد:

۱- در صورتیکه حالت اضطراری تمام یا ساحهٔ از کشور رسماً اعلام گردد.

۲- در صورتی‌که واحد اول بودجوی مربوط ثابت نماید که ظرفیت تهیهٔ اجناس وتدارك خدمات و امور ساختمانی بالا ثرحالت اضطراری مختل

ګډوډ شوی دی.

۳- په هغه صورت کې چې اړوند بودجوي لومړی واحد د وجوهو د ترلاسه کولو په اړه رسمي لیکلی غوښتنلیک د مالیې وزارت ته وړاندې کړی وي.

۴- په هغه صورت کې چې اړوند بودجوي لومړی واحد، د غوښتل شوو وجوهو پلان ترتیب کړی وي.

۵- په هغه صورت کې چې جمهور رئیس د مالیې د وزارت د سلا پر بنسټ، د اضطراري حالت لګښتونه منظور کړي وي.

(۲) دپالیسۍ دزېرمودتخصیصونو دخبرتیا صادرول او د ورکړې اجراء یې، یوازې په لاندې حالاتو کې د مالیې وزارت لخوا صورت مومي:

۱- په هغه صورت کې چې اړوند بودجوي لومړی واحد ثابته کړي چې د کوچنیو اصلاحاتو له تطبیق سره د وجوهو د تمویل لپاره غوښتنلیک یا په اړوندو بودجوي واکونو کې د درج شوو مبالغو بیا تخصیص اجراء نه شي،یا داچې لګښتونه بیړنی (عاجل) وی او د ملی شوري لخوا د بودجې له تصویب د مخه د

گردیده است.

۳- درصورتیکه واحد اول بودجوی مربوط در خواست کتبی رسمی مبنی بر دریافت وجوه را به وزارت مالیه ارائه نموده باشد.

۴- درصورتیکه واحداول بودجوی مربوط، پلان وجوه درخواست شده را ترتیب نموده باشد.

۵- درصورتیکه رئیس جمهور مصارف حالت اضطراری را به اساس مشورۀ وزارت مالیه منظور نموده باشد.

(۲) صدور اطلاعیۀ تخصیصات ذخایر پالیسی و اجرای پرداخت آن صرف درحالات ذیل ازطرف وزارت مالیه صورت می‌گیرد:

۱- در صورتی‌که واحد اول بودجوی مربوط ثابت نماید که درخواست جهت تمویل وجوه با تطبیق اصلاحات کوچك یا تخصیص مجدد مبالغ مندرج صلاحیت های بودجوی مربوط اجرا شده نه تواند، یا اینکه مصارف عاجل بوده و قبل از تصویب بودجه ازطرف شورای

اټکل وړ نه وی .
۲- په هغه صورت کې چې اړوند بودجوي لومړی واحد ، د وجوهو د ترلاسه کولو په اړه رسمي لیکلی غوښتنلیک د بودجې د نه کافیتوب په نسبت د مالیې وزارت ته وړاندې کړی وي.
۳- په هغه صورت کې چې بودجوي لومړي واحد له غوښتل شوو وجوهو څخه د کټې اخیستنې پلان، په لیکلې توګه د اړوند واحد د بودجې د جوړښت پر بنسټ ترتیب او د مالیې وزارت ته وړاندې کړی وي.
۳- په هغه صورت کی چی جمهور رئیس د پالیسی له زیرمو څخه د غوښتل شوو لګښتونو اجراء د مالیی وزارت د سلا پربنسټ منظور کړی وی.

په منظورو شوو بودجوي واکونو کې بدلون

در ویشتمه ماده:

(۱) د منظورو شوو بودجوي واکونو په درج شوو وجوهو کې د بدلون په اړه د بودجوي لومړیو واحدونو غوښتنلیک، پرلاړې معلوماتو مشتمل دی:

ملی قابل پیش بینی نبوده است.
۲- درصورتیکه واحد اول بودجوی مربوط درخواست کتبی رسمی مبنی بر دریافت وجوه را نسبت عدم کافی بودن بودجه به وزارت مالیه ارائه نموده باشد.
۳- درصورتیکه واحد اول بودجوی پلان استفاده از وجوه درخواست شده را طور کتبی به اساس ساختار بودجه واحد مربوطه ترتیب و به وزارت مالیه ارائه نموده باشد.
۴- درصورتیکه رئیس جمهور اجرای مصارف درخواست شده از ذخایر پالیسی را به اساس مشورۀ وزارت مالیه منظور نموده باشد.

تغییر در صلاحیت های بودجوی منظور شده

مادۀ بیست وسوم:

(۱) درخواست واحد های اول بودجوی مبنی بر تغییرات در وجوۀ مندرج صلاحیت های منظور شده بودجوی شامل معلومات آتی می‌باشد:

۱- د اقتصادي او پلان شوو کتګوریو چې لګښتونه یې زیاتی یاکمی مومي، څرګندول (توضیح).
۲- د بدلونونو توجیه کوونکي دلایل.
۳- د اړوندو بودجوي واحدونو د چارو پر اجراء باندې، له بدلونونو څخه په راپیدا شوو لګښتونو کې د کمښت له ناوړو اغېزو څخه ډاډ او د افغانستان د پرمختیایي لومړیتوبونو له مخې د حکومت د پالیسۍ په پام کې نیول.
(۲) د خزانو اداره له اړوندو حسابونو څخه د بدلون موندو بودجوي واکونو د تخصیصونو خبرتیا، د مالیې وزارت لخوا د غوښتنلیک له منظورۍ وروسته، صادروي.

۱- توضیح کتګوری های اقتصادی و پلان شده که مصارف آن افزایش یاکاهش می یابد.
۲- دلایل توجیه کنندۀ تغییرات.
۳- اطمینان ازعدم تأثیرات سوء کاهش در مصارف ناشی از تغییرات بر اجرای امور واحدهای بودجوی مربوط و رعایت پالیسی حکومت به تأسی از اولویت های انکشافی افغانستان.
(۲) ادارۀ خزاین اطلاعیه تخصیصات صلاحیت های بودجوی تغییریافته را از حسابات مربوط بعد از منظوری درخواست از طرف وزارت مالیه، صادر می نماید.

راتلونکي کال ته په بودجوي واکونو کې د درج شوو مبالغو لېږدول

څلېویشتمه ماده :

را وروسته مالي کال ته له اوسني (فعلي) مالي کال څخه په بودجوي واکونو کې د درج شوو مبالغو د لېږدېدو په اړه د بودجوي لومړیو

انتقال مبالغ مندرج در صلاحیت های بودجوی به سال آینده

مادۀ بیست وچهارم:

درخواست واحدهای اول بودجوی مبنی بر انتقال مبالغ مندرج صلاحیت های بودجوی از سال مالی

واحدونو غوښتنليک، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۵۰) مادې د حکم مطابق د لاندې مطالبو له په پام کې نيولو سره ترتيبېږي:

۱- دمالیې وزارت ته،دمالي کال له پايته رسېدو د مخه تر دېر شو ورځو پوري، دمبالغو د لېږدېدو په هکله د بررسۍ او تصميم نيولو په منظور د غوښتنليک وړاندې کول.

۲- د مالیې وزارت د اړونده بودجوي واک د تخصيصونو خبرتيا چې په روان کال کې صادره شوې ده، له څېړنې وروسته له اعتباره غورځوي.

۳- د بودجوي واکونو په لېږدېدو کې، د هغو لګښتونو چې پرمختيايي ماهيت ولري پرهغو اقلامو باندې چې د عادي لګښتونو د ماهيت لرونکي وي بدلونونه مجاز ندي .

۴- د هغو بودجوي واکونو د لېږد په اړه تصميمونه چې ملي شوري ته د بودجې د مسودې له وړاندې کولو وروسته، صورت مومي. يوازې په هغه صورت کې مجاز دي چې د بودجې د ترتيبولو په ترڅ کې د هغو فعلی به سال مالی بعدی طبق حکم مادۀ (۵۰) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه با نظرداشت مطالب ذیل ترتیب می‌گردد:

۱- ارائۀ درخواست به منظور بررسی و اتخاذ تصمیم لازم در مورد انتقال مبالغ الی سی روز قبل از اختتام سال مالی به وزارت مالیه.

۲- وزارت مالیه اطلاعیۀ تخصیصات صلاحیت بودجوی مربوط را که در سال جاری صادر گردیده، بعد ازبررسی از اعتبارساقط می‌سازد.

۳- در انتقال صلاحیت های بودجوی، تغییرات مصارفی که ماهیت انکشافی را داشته، به اقلامی که ماهیت مصارف عادی را حایز بوده، مجاز نمی باشد.

۴- تصامیم مبنی بر انتقال صلاحیت های بودجوی که بعد از ارائۀ مسودۀ بودجه به شورای ملی صورت می‌گیرد، صرف در حالا تی مجاز است که در مورد آن حین ترتیب مسودۀ بودجه،

په هکله معلومات موجود نه وي. وړاندیزي تعدیلونه د بودجوي واکونو د متمم په توګه، د ملي شوري لخوا تصویبېږي.

معلومات موجود نباشد. تعدیلات پیشنهادی بحیث متمم صلاحیت های بودجوی ازطرف شورای ملی تصویب می گردد.

په بودجوي واکونوکې تعدیلونه

(۱) بودجوي لومړی واحد په بودجوي واک کې د تعدیلونو د اړتیا په صورت کې، کولای شي د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۴۲ او ۴۳) مادو د حکمونو مطابق خپل مستدل غوښتنلیکونه د مالیې وزارت ته وړاندې کړي.

په بودجوي واکونو کې تعدیلونه د راوروسته مالي کال یا د بودجې له لارې په نیمایي کې د څېړنې په ترڅ کې صورت مومي، خو دا چې تعدیلونه د اړوند بودجوی لومړی واحد د بودجوی واکونو په موخه کې د کوچنیو اصلاحاتو یا د بدلون پر بنسټ ممکن نه وي.

(۲) د مالیې وزارت کولای شي د بودجوي لومړي واحد بودجوي واکونه د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۴۷) مادې

تعدیلات درصلاحیت‌های‌بودجوی مادۀ بیست وپنجم:

(۱) واحد اول بودجوی درصورت ضرورت تعدیلات در صلاحیت بودجوی، می‌تواند بانظرداشت احکام مواد (۴۲ و۴۳) قانون ادارۀ امورمالی ومصارف عامه درخواست های مستدل خویش را به وزارت مالیه ارایه نماید. تعدیلات در صلاحیت های بودجوی از طریق بودجۀ سال مالی بعدی یا حین بررسی در نیمۀ سال مالی صورت می‌گیرد، مگر اینکه تعدیلات به اساس اصلاحات کوچك یا تغییرات در هدف صلاحیت های بودجوی واحد اول بودجوی مربوط ممکن نباشد.

(۲) وزارت مالیه می‌تواند صلاحیت های بودجوی واحد اول بودجوی را طبق حکم مادۀ (۴۷) قانون اداره امور

دحکم مطابق په بودجوي واک کې د درج شوو مبالغو په سلو کې تر پنځو پورې، د لاندې مراتبو له په پام کې نیولو سره تعدیل کړي:

۱- د بودجوي لومړي واحد دغوښتنلیک پربنسټ .

۲- د بودجوي واکونو د لېږد، د بودجوي واحدونو ترمنځ د شتمنۍ د تبادلې په هکله یا په عامه وجوهو کې د شاملو مبالغو چې دولت په هغو کې د ګټې (انتفاع) حق ونه لري، په بیرته ورکړې په هکله د خزانو د اداري د حسابي رسمي سندونو پربنسټ.

مالی و مصارف عامه الی پنج فیصد مبالغ مندرج صلاحیت بودجوی بارعایت مراتب ذیل تعدیل نماید:

۱- به اساس درخواست واحد اول بودجوی.

۲- به اساس اسناد رسمی حسابی ادارۀ خزاین در مورد انتقال صلاحیت های بودجوی، تبادلۀ دارایی میان واحدهای بودجوی یا در مورد باز پرداخت مبالغ شامل در وجوه عامه که دولت در آن حق انتفاع نداشته باشد.

د لګښتونو له استرداد څخه راپیدا شوي بودجوي واکونه

شپږ ویشتمه ماده :

د مالیې وزارت کولای شي د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۵۱) مادې د حکم مطابق، بودجوي واحدونو ته د زیاتو بودجوي واکونو د ورکولو په منظور، د هغو د استرداد لپاره د لګښتونو د حسابونو د دبت کولو کړنلاره وضع کړي .

صلاحیت های بودجوی ناشی از استرداد مصارف

مادۀ بیست وششم:

وزارت مالیه می‌تواند بانظرداشت حکم مادۀ (۵۱) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه به منظور اعطای صلاحیت های بودجوی بیشتربه واحدهای بودجوی، طرزالعمل دبت نمودن حسابات مصارف را جهت استرداد آن وضع نماید.

مؤقت بودجوي واکونه
اووه ویشتمه ماده:
که چېرې بودجه د مالي کال له پیل څخه دمخه تصویب نشي، د مالیې وزارت مکلف دی، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۴۱) مادې د حکم مطابق بودجوي واکونه په مؤقته توګه صادر کړي.
هغه لګښتونه چې د تېر مالي کال په بودجه کې درج نه وي، په مؤقتو بودجوي واکونو کې اجراء کېدی نشي. د ثابتې شتمنۍ تملک او په نوي مالي کال کې نور پرمختیایي لګښتونه، په هغه صورت کې اجراء کېدی شي چې د وزیرانو شوري، ملي شوري ته د وړاندې شوې بودجې په مسوده کې، بودجوي واک منظورکړی وي.

صلاحیت های بودجوی مؤقت
مادۀ بیست وهفتم:
هرگاه بودجه قبل از آغاز سال مالی جدید تصویب نگردد، وزارت مالیه مکلف است مطابق حکم مادۀ (۴۱) قانون ادارۀ امورمالی و مصارف عامه صلاحیت های بودجوی راطور مؤقت صادر نماید.
مصارفی که در بودجۀ سال مالی قبلی درج نباشد، درصلاحیت بودجوی مؤقت اجراء شده نمی‌تواند. تملك دارایی ثابت و سایر مصارف انکشافی در سال مالی جدید درصورتی اجراء شده می‌تواند که شورای وزیران صلاحیت بودجوی را در مسودۀ بودجۀ ارائه شده به شورای ملی منظور نموده باشد.

پنځم فصل
د بودجې اجراء

فصل پنجم
اجرای بودجه

د بودجې تنظیم او تطبیق
اته ویشتمه ماده :
(۱) د مالیې وزارت دمالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون

تنظیم وتطبیق بودجه
مادۀ بیست وهشتم:
(۱) وزارت مالیه از تنظیم امور صلاحیت های بودجوی

دحکمونو او دولسي جرګې مصوب د کلنۍ بودجې د کړنلارې له په پام کې نیولو سره د دولت د بودجوي واکونو د چارو له تنظیم او د هغو له تطبیقولو څخه مسئول دی.

(۲) بودجوي لومړي واحدونه د بودجې له اجراء او د اړوندو بودجوي واحدونو له هغو عامه پیسو څخه چې لګښتونه د بودجوي لومړي واحد په ټاکلو بودجوي واکونو کې له درج شوو مبالغو څخه اجراء کوي د اغیزمنې ګټې اخیستنې مسئول دی.

دولت و تطبیق آن با رعایت احکام قانون ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه و طرز العمل بودجهٔ سالانهٔ مصوب ولسی جرگه مسئول می‌باشد.

(۲) واحدهای اول بودجوی از اجرای بودجه و استفاده مؤثر پول عامهٔ واحدهای بودجوی مربوط مسئول می‌باشند که ازمبالغ مندرج صلاحیت های بودجوی معینهٔ واحد اول بودجوی، مصارف را اجراء می‌نمایند.

مالي پلانونه

نهه ویشتمه ماده:

د خزاینو اداره مکلفه ده د مالي چارو او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۷) مادې د حکم له په پام کې نیولو سره په کال کې د لګښتونو د سالمې ادامې د تأمینولو او د ورکړو له اړتیا سره د دولت د مالي سرچینو د هم غږې کولو لپاره مالي پلان برابر او ترتیب کړي.

د خزاینو اداره مکلفه ده، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د

پلانگذاری مالی

مادهٔ بیست ونهم:

ادارهٔ خزاین مکلف است با رعایت حکم مادهٔ (۷) قانون ادارهٔ امور مالی ومصارف عامه پلان مالی را جهت تأمین ادامهٔ سالم مصارف در سال و هماهنگ نمودن منابع مالی دولت با نیازمندی پرداخت ها تهیه و ترتیب نماید.

ادارهٔ خزاین مکلف است به منظور تحقق اهداف حکومت جهت

قانون په (۳۶) ماده کې د درج شوو لګښتونو د راتیټولو لپاره، د حکومت د موخو د پلي کولو په منظور، د ورکړو اجراء پرته له ځنډه تأمین کړي.

بودجوي لومړي واحدونه مکلف دي، د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق د راتلونکي مالي کال په (۱۲) میاشتو کې د بودجې د تطبیق په هکله د سلواغې د میاشتې تر پایه پورې تفصیلي پلانونه ترتیب او د خزاینو اداري ته واستوي. که چېرې د راتلونکي مالي کال بودجه تصویب شوې نه وي، د تدارکاتو هغه پلانونه چې د بودجې د همدې مسودې پربنسټ ولاړ دي، د حکومت لخوا ملي شوري ته وړاندې کېږي.

بودجوي لومړي واحدونه مکلف دي، مالي پلانونه پر وخت نوي (تجدید) او د خزاینو اداره، د بودجوي واکونو دبدلون یا د بودجې د شرایطو د تطبیق د بدلون په صورت کې پرته له ځنډه خبره کړي.

د مالي منظورو شوو پلانونو د نه موجودیت یا د مالي پلانونو مطابق د ورکړې د غوښتنلیکونو د نه

کاهش مصارف تمویلی مندرج مادۀ (۳۶) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه، اجرای پرداخت ها را بدون تأخیر تأمین نماید.

واحد های اول بودجوی مکلف اند پلان های تفصیلی را الی اخیر برج دلو در مورد تطبیق بودجه در(۱۲) ماه سال مالی آینده طبق طرزالعمل وزارت مالیه، ترتیب و به ادارۀ خزاین ارسال نماید. هرگاه بودجۀ سال مالی آینده تصویب نگردیده باشد، پلان های تدارکات که به تأسی ازهمین مسودۀ بودجه استوارمی‌باشد، ازطرف حکومت به شورای ملی تقدیم می گردد.

واحدهای اول بودجوی مکلف اند پلان های مالی را بموقع تجدید و ادارۀ خزاین را در صورت تغییر صلاحیت های بودجوی یا تغییر شرایط تطبیق بودجه بدون تأخیر مطلع نماید.

در صورت عدم موجودیت پلان های منظور شدۀ مالی یا عدم ترتیب وارائۀ درخواست های

ترتیب او وړاندې کولو په صورت کې، د مالیې وزارت کولای شي د بودجوي واحدونو ورکړې وځنډوي.

پرداخت طبق پلان های مالی، وزارت مالیه می‌تواند پرداخت های واحدهای بودجوی را معطل نماید.

د ترلاسه شوو عوایدو او وجوهو ساتل

دېرشمه ماده:

(۱) د خزاینو اداره مکلفه ده د دولت عواید او ترلاسه کونې په مصؤنه توګه وساتې او خوندي یې کړي.

(۲) ټول بودجوي واحدونه او نور هغه اشخاص چې له دولت څخه په استازیتوب سره فعالیت کوي مکلف دي، د دولت عواید او ترلاسه کونکې د خزانې داراې د لازښوونې مطابق و ساتي او خوندي یې کړي.

تحفظ عواید و وجوه دریافت شده

مادۀ سی ام :

(۱) ادارۀ خزاین مکلف است عواید و دریافت های دولت را بصورت مصئون حفظ ونگهداری نمایند.

(۲) کلیه واحدهای بودجوی وسایر اشخاصی که به نمایندگی از دولت فعالیت می‌نمایند، مکلف اند، عواید و دریافت های دولت را طبق رهنمود ادارۀ خزاین حفظ و نگهداری نمایند.

د عوایدو د تحصیل او ایداع دواک سپارل

یو دېرشمه ماده :

د مالیې وزارت کولای شي، د عوایدو د تحصیل او ایداع واک دولتي واحدونو ته وسپاري او په بودجه کې د عوایدو د اټکل مطابق

تفویض صلاحیت تحصیل و ایداع عواید

مادۀ سی ویکم :

وزارت مالیه می‌تواند، صلاحیت تحصیل وایداع عواید را به واحدهای دولتی تفویض و وظایف آنها را در مورد تحصیل

د خزاینو په واحد حساب د عامه پیسو د تحصیل او ایداع په هکله، د هغو دندې مشخصې کړي .

و ایداع پول عامه به حساب واحد خزاین طبق پیشبینی عواید در بودجه، مشخص نماید.

د فیس د اندازې د ټاکلو د واک سپارل

دوه دېرشمه ماده :

په هغو حالاتو کې چې د فیسونو اندازه او د خدمتونو له وړاندې کولو څخه را پیدا شوي مطالبات په قانون کې تصریح شوي نه وي، بودجوي واحد کولای شي د هغو اندازه د مالیې د وزارت د موافقې پربنسټ، د وړاندې شوو خدمتونو د تمامې شوې بیې پر بنسټ وټاکي.

تفویض صلاحیت تعیین اندازۀ فیس

مادۀ سی ودوم :

در حالاتی‌که اندازۀ فیس ها و مطالبات ناشی از عرضۀ خدمات در قانون تصریح نگردیده باشد، واحد بودجوی می‌تواند بر اساس موافقۀ وزارت مالیه، اندازۀ آنرا به اساس قیمت تمام شد عرضۀ خدمات تعیین نماید.

د فوق العاده لګښتونو لپاره د تخصیصونو خبرتیا

دري دېرشمه ماده:

د مالیې وزارت مکلف دی د فوق العاده لګښتونو د بودجوي واکونو په هکله د تخصیصونو خبرتیا د قانوني نیول شوو تصمیمونو د تطبیق لپاره، یوازې بودجوي لومړیو واحدونو ته صادره کړي بودجوي لومړی واحد د مالي او عامه لګښتونو د چارو د ادارې د

اطلاعیه تخصیصات برای مصارف فوق العاده

مادۀ سی وسوم:

وزارت مالیه مکلف است اطلاعیۀ تخصیصات را جهت تطبیق تصامیم اتخاذ شدۀ قانونی در مورد صلاحیت های بودجوی مصارف فوق العاده، صرف به واحدهای اول بودجوی صادر نماید. واحداول بودجوی مطابق احکام قانون ادارۀ

قـانون د حکمونـو مطـابق، د فـوق العاده لګښتونو د اجراء په وړاندې حســاب ورکوونکی او مسئول دی.

امــورمالی و مــصارف عامــه در برابر اجرای مصارف فوق العاده حسابده و مسئول می‌باشد.

د تخصیصونو د خبرتیا صادرېدل څلور دېرشمه ماده:

(۱) د مـالیې وزارت د تخصیـصونو فورم د بودجوي واک د ټاکلو موخو د تأمینولو په منظور، په هغو کې تر درج شوو مبالغو پورې، صادر ولی شي.

د مالیې وزارت کولای شي، د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قـانون د (۴۸، ۴۹ او ۵۱) مـادې د حکمونو له په پام کې نیولو سره، د حکومت د ستونزو او لګښتونو لـه ورکړې څخه خــلاصو مقتضیاتو ته په پام سره، د تخصیصونو دخبرتیا دصادرېدو په هکله، لازم تصمیمونه و نیسي.

(۲) په هغه صورت کې چې د ورکړې اجراء وغوښتل شي او د هغـه مبلغ د ببرتـه ورکـړې لپـاره چـې لـه عامـه پیسو څخه ترلاسه شوی دی او دولت پـه هغـه کـې د انتفـاع حـق نلـري، منظور شوی وي، د خزاینو دفتـر د تخصیـصونو خبرتیـا ترتیبـوی ببرتـه

صدور اطلاعیه تخصیصات

مادۀ سی وچهارم:

(۱) وزارت مــــالیه فـــورم تخصیصات را به مــنظور تأمین اهــداف معینـــۀ صـــلاحیت بـــودجوی الـی مبـالغ منـــدرج آن، صـــادر نموده می‌تواند.

وزارت مالیــه مــی‌تـــواند بـا رعایـت احکـام مـواد (۴۸، ۴۹ و ۵۱) قانون ادارۀ امور مـــالی و مصارف عـــامه تصامـــیم لازم را در مــورد صدور اطــلاعــیۀ تخصیــصات بـا نظـر داشـت مقتـضیات عـاری از مـشکلات و پـــرداخـــت مـصارف حکـومت اتخـاذ نماید.

(۲) در صورتی‌که اجرای پرداخت، درخواســت گــردد و بــرای بــاز پرداخت مبلغـی کـه از پـول عامـه دریافت گردیده و دولت در آن حق انتفــاع نداشــته، منظـور شــده باشـد، دفتــر خــزاین اطلاعیــۀ تخصیـصات را ترتیـب مـی‌نمایـد.

ورکړه هغه مبالغ دي چې د دولت لخوا موقتاً د امانت په ډول ساتل شوي یا هغه اضافه ورکړه ده چې د دولت لخوا تحصیل شوې او یا هغه مبالغ دي چې د قانون په حکم د هغو ورکوونکي تر خاصو شرایطو لاندې د بېرته ورکړې د ترلاسه کولو مستحق دي.

(۳) د مالیې وزارت د تخصیصونو خبرتیا، د لګښتونو د ژمنې د اجازې د ورکولو او بودجوي دوه یمو واحدونو ته د لګښتونو د اجراء لپاره د هغو د اعتبار د نېټې په ذکرولو سره، د خزاینو د تأدیاتو د دفترونو لخواصادروي. د تخصیصونو په خبرتیا کې درج شوي وجوه د کال تر پایه پورې د ترلاسه کولو وړدې خو دا چې د مالیې وزارت دتخصیصونو خبرتیا له اعتباره و غورځوي یا یې مبلغ را کم کړي.

بازپرداخت مبالغی است که ازطرف دولت موقتاً بشکل امانت حفظ گردیده یا مبالغ اضافه پرداخت است که ازطرف دولت تحصیل گردیده و یا مبالغی است که به حکم قانون پرداخت کننده گان آن مستحق دریافت باز پرداخت تحت شرایط خاص می باشد.

(۳) وزارت مالیه اطلاعیۀ تخصیصات را جهت اعطای اجازۀ تعهد مصارف و اجرای مصارف به واحدهای دومی بودجوی با ذکر تاریخ اعتبار آن از طریق دفاتر تأدیات خزاین صادر می‌نماید. وجوه مندرج اطلاعیۀ تخصیصات الی اخیر سال قابل دریافت می‌باشد، مگر اینکه وزارت مالیه اطلاعیۀ تخصیصات را از اعتبار ساقط یا مبلغ آنرا کاهش دهد.

د تخصیصونو د خبرتیا تعدیل

پنځه دېرشمه ماده:

(۱) بودجوي واحدونه کولای شي د تخصیصونو د خبرتیا د تعدیل

تعدیل اطلاعیۀ تخصیصات

مادۀ سی و پنجم

(۱) واحدهای بودجوی می‌توانند درخواست تعدیل اطلاعیۀ

غوښتنليک د هغو دلايلو په ذکرولو سره د مالیې وزارت ته وړاندې کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې د تخصیصونو د خبرتیا د تعدیل غوښتنليک له لاندې شرايطو سره مطابقت ولري، دمالیې وزارت د هغه په منظورۍ اقدام کوي:

۱- په هغه صورت کې چې غوښتنليک د حکومت د لګښتونو د پروګرام مطابق وي.

۲- په هغه صورت کې چې تعدیل په بودجوي واک کې له درج شوي مبلغ څخه تجاوز و نکړي.

۳- په هغه صورت کې چې تعدیل د دولت د ورکړو د عادي پراوونو د تېرولو لپاره د نغدي وجوهو د موجودیت له په پام کې نیولو سره، صورت و مومي.

تخصیصات را با ذکر دلایل آن به وزارت مالیه ارائه نمایند.

(۲) در صورتی‌که درخواست تعدیل اطلاعیهٔ تخصیصات با شرایط ذیل مطابقت داشته باشد، وزارت مالیه به منظوری آن اقدام می نماید:

۱- در صورتی‌که درخواست طبق پروگرام مصارف حکومت باشد.

۲- در صورتی‌که تعدیل از مبلغ مندرج صلاحیت بودجوی تجاوز نه نماید.

۳- در صورتی‌که تعدیل با نظرداشت موجودیت وجوه نقدی جهت طی مراحل عادی پرداخت های دولت صورت گیرد.

د تخصیصونو د خبرتیا لغو

شپږدېرشمه ماده:

د مالیې وزارت کولای شي د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري دقانون د (۴۹) مادې د حکم له په پام کې نیولو سره، د تخصیصونو خبرتیا په لاندې حالاتو کې لغو او

لغو اطلاعیهٔ تخصیصات

مادهٔ سی وششم:

وزارت مالیه می‌تواند با نظرداشت حکم مادهٔ (۴۹) قانون ادارهٔ امور مالی ومصارف عامه، اطلاعیهٔ تخصیصات را درحالات ذیل لغو و گزارش

رپوټ يې په ممکن لنډ وخت کې د وزیرانو شوري ته وړاندې کړي:

۱- په هغه صورت کې چې لګښتونه د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون او د دغې مقرري د حکمونو مطابق صورت نه وي موندلي.

۲- په هغه صورت کې چې د مالي کال په اوږدو کې د حکومت فعالیتونه په بودجه کې د کافی وجوهو د نشتوالي له امله ګډوډ شي.

آنرا به شورای وزیران به اسرع وقت ممکن ارائه نماید:

۱- درصورتی‌که مصارف، مطابق احکام قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه و این مقرره، صورت نگرفته باشد.

۲- درصورتی‌که تمویل فعالیت های حکومت در طول سال مالی بالاثر نبودن وجوه کافی در بودجه اخلال گردد.

ناکافي عواید

اووه دېرشمه ماده:

که چېرې په بودجه کې راټول شوي عواید او منظور شوي پورونه، په بودجوي واکونو کې د ټولو درج شوو مبالغو د تمویل لپاره کافي نه وي، د مالیې وزارت مکلف دی د بودجې د تعدیل وړاندیز ترتیب او د وزیرانو د شوري له منظورۍ وروسته يې د تصویب په غرض ملي شوري ته وړاندې کړي.

عواید ناکافی

مادۀ سی وهفتم :

هرگاه عواید جمع آوری شده و قروض منظور شده در بودجه، جهت تمویل تمام مبالغ مندرج صلاحیت های بودجوی کافی نباشد ، وزارت مالیه مکلف است پیشنهاد تعدیل بودجه را ترتیب و بعد از منظوری شورای وزیران غرض تصویب به شورای ملی ارائه نماید.

د نغـــدي وجوهـــو د اداره کولـــو مقتضيات

اته دېرشمه ماده:

(۱) د مـــالیې وزارت مکلـــف دی د عامه وجوهو د موجودیت له په پام کې نیولو سره د ورکړو د پراوونو د تېرولو ساده کړنلاره وضع او تطبیق کړي.

(۲) د تخصیصونو هغه خبرتیا چې لـه خاصـو وجوهـو څخـه د ورکـړو د اجراء په غـرض صادرېږي، د خاصـو وجوهو لپاره د موجودو عامـه پیسو له مبالغو څخه زیاتیدی نشي.

د نغدو وجوهو د ورکړو ډول

نهه دېرشمه ماده:

د خزاینو د واحد حساب په سیستم کې د شاملېدو په منظور، د نغدي وجوهـو ورکـړه، د تخصیـصونو د خبرتیا صادرېدل نه ایجابوي.

دژمنو اجراء کول،دهغوثبت اوساتل څلوېښتمه ماده:

(۱) بودجـوي واحدونـه مکلـف دي د لګښتونو ژمنې د مـالیې د وزارت د تخصیصونو د خبرتیا مطابق اجراء، ثبت او وساتي، رپوټ یې د مـالیې د

مقتـــضـــیات ادارۀ وجـــوه نقدی

مادۀ سی وهشتم :

(۱) وزارت مالیـه مکلـف اسـت طرزالعمـل سـادۀ طـی مراحـل پرداختهـــا را بانظرداشـــت موجودیـت وجـوه عامـه وضـع و تطبیق نماید.

(۲) اطلاعیـۀ تخصیـصات کـه جهت اجرای پرداخت ها از وجوه خـاص صـادر مـی‌گردد، از مبـالغ پول عامۀ موجود برای وجوه خاص بیشتر بوده نمی تواند.

طرز پرداخت های وجوه نقد

مادۀ سی ونهم :

پرداخت های وجوه نقدی بمنظور شـمول در سیـستم حـساب واحـد خـزاین ایجـاب صـدور اطلاعیـۀ تخصیصات رانمی نماید.

اجراء تعهدات ثبت وحفظ آن

مادۀ چهلم :

(۱) واحدهای بودجوی مکلف اند تعهـــدات مـــصارف را مطـــابق اطلاعیـــۀ تخصیـــصات وزارت مالیـه اجـرأ، ثبـت وحفـظ نمـوده،

وزارت له کړنلارې سره سم وړاندې کړي.

(۲) بودجوي واحدونه مکلف دي په لاندې حالاتو کې د خزاینو د اداري لیکلي موافقه د اجناسو د برابرولو، د خدمتونو او ودانیزو چارو د تدارک د قراردادونو له عقدولو دمخه لاسته راوړي:

۱- په هغه صورت کې چې په قرارداد کې درج شوی مبلغ، بودجوي واحد ته د تخصیصونو په صادره شوې خبرتیا کې له درج شوي مبلغ څخه زیات وي.

۲- په هغه صورت کې چې قرارداد د مالي کال د سلواغې له ۱۵ نېټې وروسته عقد شي.

(۳) د لګښتونو منل او د ورکړو اجراء له قانوني منظورې شوې ژمنې د مخه صورت نشي موندی. هغه نغدي کوچنۍ ورکړې چې بودجوي واحد ته د خزاینو د دفتر لخوا د ورکړل شوې (امپرست) نغدي دمخه ورکړې مبلغ په حدودو کې یې صورت موندلی وي، له دې امر څخه مستثنی دي.

(۴) د بلا عوضو مرستو، پورونو او د پورونو د ترلاسه کولو قانوني

گزارش آنرا طبق طرزالعمل وزارت مالیه ارائه نمایند.

(۲) واحدهای بودجوی مکلف اند موافقۀ کتبی ادارۀ خزاین را قبل از عقد قرارداد های تهیۀ اجناس، تدارک و خدمات امور ساختمانی در حالات ذیل حاصل نمایند:

۱- در صورتی‌که مبلغ مندرج قرارداد از مبلغ مندرج اطلاعیۀ تخصیصات صادر شده برای واحد بودجوی بیشتر باشد.

۲- در صورتی‌که قرار داد بعد از تاریخ ۱۵ دلو سال مالی عقد گردد.

(۳) قبول مصارف و اجرای پرداخت ها قبل از تعهد منظور شدۀ قانونی صورت گرفته نمی تواند. پرداخت های کوچك نقدی که در حدود مبلغ پیش پرداخت نقدی اعطاء شده (امپرست) ازطرف دفتر خزاین به واحد بودجوی صورت گرفته باشد، از این امر مستثنی است.

(۴) مقاوله های قانونی کمك های بلاعوض، قرضه ها و دریافت

مـــقاولې، د اړونـــدو ورکـــړو د ژمنې د بنسټ په توګه ګڼل کېږي. د تـدارک کوونکـو د رسیـد سـند د پېرودنـو د ژمنـې حیثیـت لـري او د قـــراردادعقـــدول نـــــه ایجابـــــوي. نغـدي کوچـــنۍ ورکړې د مستندو ژمنو مستلزمـې ندي.

قـــروض بحیـــث اســـاس تعهـــد پرداخـت هـــای مـــربوط پنداشـــته می‌شود. سند رسید تدارک کننده گان حیثیت تعهد خریداری ها را داشته و ایجاب عقد قرار داد را نمی نماید. پرداخت های کـوچك نقـدی مـستلزم تعهـدات مـستند نمی باشد.

د اوږدې مودې ژمنې یوځلوېښتمه ماده:

بودجوي واحدونه کولای شي د مـالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۱۹) مادې د حکم مطابق، د ورکـړې د اجـراء پـه اړه ژمنیـزې (تعهـدي) مقـاولې د مـالي کـال لـه پایتـه رسېدو وروسـته عقـد کـړي، پـدې شـرط چـې د مـالیې وزارت موافقه دمخه ترلاسه شوې وي.

بودجوي لومړی واحد د پرمختیـایي منظورو شوو پروژو د تطبیـق لپـاره د اوږدې مـودې د ژمنـو د لرلـو پـه صـورت کـې د هغـو پـه تعقیبولـو مکلـف دی او د تـصفیه کولـو لپـاره یـې، د را وروسـته مـالي کلونـو پـه بودجه کې وجوه غواړي.

تعهدات طویل المدت

مادۀ چهل ویکم :

واحـدهای بودجـوی مـی‌تواننـد مطـابق حکـم مـادۀ (۱۹) قـانون ادارۀ امور مـالی و مـصارف عامـه مقاولـه هـای تعهـدی مبنـی بـر اجرای پرداخت را بعد از ختم سال مـالی عقـد نماینـد، مـشروط بـــر اینکـــه موافقـــۀ وزارت مالیه قبلاً حاصل گردیده باشد.

واحـد اول بودجـوی درصـورت داشـتن تعهـدات طویـل المـدت جهـت تطبیـق پـروژه هـای منظـور شده انکشافی، مکلف به پیگیری آن بـوده وجهـت تـصـفیۀ آن در بـودجۀ سـال های مـالی بعـدی، وجـــوه را درخواست می نماید.

پر وخت تصفیه

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) بودجوي واحدونه ژمنې د هغو غوښتنليکونو په وړاندې کولو سره چې په مناسب ډول ترتيب او د خزاينو د دفتر لخوا منظور شوي وي، په دقيق صورت عندالموقع تصفيه کوي.

(۲) بودجوي واحدونه، د دائنينو د ورکولو وړ ورکړې د هغو د اعلان له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې او د حقوقي شخړې د راپيدا کېدو په صورت کې، د محکمې د حکم د صادرېدو له نېټې څخه، تصفيه کوي، استثنايي حالات چې په قراردادونو يا مقاولو کې اټکل شوي دي، ددې حکم تابع ندي.

تصفیۀ بموقع

مادۀ چهل ودوم :

(۱) واحد های بودجوی، تعهدات را با ارائۀ درخواست های که بطور مناسب ترتیب و از طرف دفاتر تأدیات خزاین منظور گردیده، بصورت دقیق عندالموقع تصفیه می‌نمایند.

(۲) واحد های بودجوی پرداخت های قابل تادیۀ داینین را در خلال مدت (۳۰) روز از تاریخ اعلام آن و در صورت بروز منازعۀ حقوقی از تاریخ صدور حکم محکمه، تصفیه می نمایند. حالات استثنائی که در قراردادها یا مقاوله ها پیشبینی گردیده است، تابع این حکم نمی باشد.

د عامه پیسو استرداد

دري څلوېښتمه ماده:

هغه مبلغ چې د عامه پيسو په حساب ترلاسه شوی دی خو دولت په هغو کې د انتفاع حق و نه لري، د خزاينو دفتر مکلف دی د بودجوي واحد يا د دولت د تحصيلی ادارو د غوښتنې په صورت کې، د مالیې وزارت د مرتبه کړنلارې مطابق،

استرداد پول عامه

مادۀ چهل وسوم :

مبلغی که بحساب پول عامه دریافت گردیده، ولی دولت حق انتفاع در آنرا نداشته باشد، دفتر خزاین مکلف است درصورت درخواست واحد بودجوی یا درخواست ادارات تحصیلی دولت، طبق طرزالعمل

لدې څخه د ډاډ د ترلاسه کولو له په پام کې نیولو سره چې ببرته ورکړه د هغې مستحقو اشخاصو ته صورت مومي. له پراوونو څخه تېر کړي.

مرتبهٔ وزارت مالیه با نظر داشت حصول اطمینان از اینکه باز پرداخت به اشخاص مستحق آن صورت می‌گیرد، طی مراحل نماید.

د ورکړې د پروسې کنترول او تصدیق

څلور څلوېښتمه ماده:

د خزانو د ورکړو (تأدیاتو) د دفترونو مامورین مکلف دي، لاندې موارد د ورکړو په پروسه کې کنترول او تصدیق کړي:

۱- د قانون د حکمونو مطابق د پیلوونکې مرجع په واسطه د ورکړې منظوري.

۲- د لګښتونو له ورکړې یا د دولت لخوا د پورونو له ورکړې دمخه، د تخصیصونو د خبرتیا کافي موجودیت.

۳- د ورکړې د پروسې د پراوونو له تېرولو دمخه د ژمنو موجودیت.

کنترول و تصدیق پروسهٔ پرداخت

مادهٔ چهل وچهارم:

مامورین دفاتر تأدیات خزاین مکلف اند، موارد آتی را در پروسهٔ پرداخت ها کنترول وتصدیق نمایند:

۱- منظوری پرداخت توسط مرجع آغاز کننده طبق احکام قانون.

۲- موجودیت کافی اطلاعیهٔ تخصیصات قبل از پرداخت مصارف یا پرداخت قروض از طرف دولت.

۳-موجودیت تعهدات پرداخت قبل از طی مراحل پروسهٔ پرداخت.

د ورکړې د پراوونو تېرېدل
پنځه څلوېښتمه ماده:
(۱) د خزاینو د تأدیاتو د دفترونو مامورین، د ورکړې سندونه ترتیبوي او هغو بانکونو ته یې چې له توحیدي وجوهو څخه برداشت کوي، د دولت د ورکړو د اجراء لپاره، استوي.
(۲) د خزاینو اداره هر اړخیزه هڅه کوي، څو په الکترونیک ډول د خزاینو له واحد حساب څخه ترلاسه کوونکي بانکي حساب ته د مستقیمې ورکړې د اجراء په منظور، د ورکړې د سیستم پرمختیا تأمین کړي.

طی مراحل پرداخت
مادۀ چهل وپنجم :
(۱) مامورین دفاتر تأدیات خزاین اسناد پرداخت را ترتیب وجهت اجرای پرداخت دولت به بانك های که از وجوه توحیدی برداشت می‌کنند، ارسال می نمایند.
(۲) ادارۀ خزاین کوشش همه جانبه می‌نماید تا انکشاف سیستم پرداخت را به‌منظور اجرای پرداخت مستقیم از حساب واحد خزاین به حساب بانکی دریافت کننده طور الکترونیك تأمین کند.

د خاصو وجوهو دحساب پرانیستل
شپږ څلوېښتمه ماده:
د خاصو وجوهو حساب د مالې چارو او عامه لګښتونو د اداري د قانون د (۱۶) مادې د حکم، د بودجوې واك د موجودیت یا دولت ته د بلاعوضه مرستې له په پام کې نیولو سره، د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق پرانیستل کېږي.
د خزاینو اداره پدې منظور دفتري حسابونه پرانیزي او پدې برخه کې د

افتتاح حساب وجوه خاص
مادۀ چهل وششم :
حساب وجوه خاص بانظرداشت حکم مادۀ (۱۶) قانون ادارۀ امورمالی و مصارف عامه، موجودیت صلاحیت بودجوی یا کمك بلاعوض به دولت طبق طرزالعمل وزارت مالیه، افتتاح می‌گردد.
ادارۀ خزاین بدین منظورحسابات دفتری را افتتاح و تدابیر

مـالې چـارو د اداري لاړم تدبيرونـه نيسي.

لازمهٔ ادارهٔ امور مـالی را درزمینـه اتخاذ می‌نماید.

د خاصو وجوهو ورکړې
اووه څلوېښتمه ماده:
د خزاینـو دفتـر مکلـف دی هغـې ورکړې چې لـه خاصـو وجوهـو څخـه يـې د تخصيـصونو خبرتياصـادره شوې ده، د پراوونود تېرولو لپاره پـه خاصو وجوهو کې د نغدي مبالغو د بـيلانس لـه کـافيتوب څخـه تـصديق وکړي.

پرداخت های وجوه خاص
مادهٔ چهل وهفتم :
دفتـــر خـزاین مکلـف اسـت از کـافی بـودن بـیلانس مبالـــغ نقـدی در وجـوه خـاص بـرای طـی مراحـل پرداختیکـه اطـــلاعیهٔ تخـــصیـــصات آن از وجـــوهٔ خـــاص صـادر گردیـده، تـصدیق نماید.

ددولت لپاره دتحفو، هدیو او اعانو منل
اته څلوېښتمه ماده:
(۱) بودجوي واحد کولای شي تحفـه، هدیـه (هبـه) یـا اعانـه پـه نغـدي یـا جنسي ډول، د دولت په نـوم و منـي او هغه د دولت د عوایدو په حساب په بانک کې تحویل کړي.
(۲) بودجـوي واحـد مکلـف دی هغـه تُحفې، هدیې اواعـانې چې د مـالي کـــال پـــه بهيـــر کـــې يـــې ترلاســه کوي، په اړوندو کلنيو مالي صورت حـــــــسابونو کـــــــې درج کړي.

پذیرش تحایف، هدایا و اعانه ها برای دولت
مادهٔ چهل وهشتم:
(۱) واحد بودجوی میتواند تحفه، هدیه (هبه) یا اعانه را به اشکال نقـدی یـا جنـسی بـه نـام دولـت پذیرفتـه وآنرا بـه حساب عـــواید دولـت تحویل بانك نماید.
(۲) واحـد بودجـوی مکلـف اسـت تحایف، هدایا و اعانه های را کـه در جریـان سـال مـــالی دریافـت مـی‌نمایـد، طـور یادداشـت در صـورت حـسابات مـالی سـالانهٔ مربوط، درج نماید.

که چېرې واهب یا اعانه ورکوونکی د خپل هویت په افشاء کېدو موافقه و نکړي، بودجوي واحد مکلف دی، د هغه د هویت د تثبیت په اړه د عدلیې وزارت تصدیق، د خزاینو دفتر ته وړاندې کړي.

د کال د پای د ورکړو تنظیم

نهه څلوېنبتمه ماده:

د مالیې وزارت د کال د پای د صادرو شوو چکونو د ورکړې د تنظیم په منظور، د بودجوي واکونو، د تخصیصونو د خبرتیاوو او د مالي کال د عوایدو اولګښتونو د حسابونو د بندولو په غرض د جلا کړنلارې په ترڅ کې لازم تدبیرونه نیسي.

شپږم فصل

معاشونه

د دندو تفکیک

پنځوسمه ماده:

د عین شخص په واسطه د ورکړې په منظوری او ثبت پورې اړوندې چارې جواز نلري.

هرگاه واهب یا اعانه دهنده به افشای هویت خویش موافقه نه نماید، واحد بودجوی مکلف است تصدیق وزارت عدلیه رامبنی بر تثبیت هویت وی به دفتر خزاین ارائه نماید.

تنظیم پرداخت های اخیرسال

مادۀ چهل ونهم :

وزارت مالیه به منظورتنظیم پرداخت چك های صادر شدۀ اخیرسال، تدابیرلازم راغرض مسدود شدن حسابات صلاحیت های بودجوی، اطلاعیه های تخصیصات و عواید و مصارف سال مالی، ضمن طرزالعمل جداگانه اتخاذ می نماید.

فصل ششم

معاشات

تفکیك وظایف

مادۀ پنجاهم :

امور مربوط به منظوری پرداخت و ثبت آن توسط عین شخص جواز ندارد.

د معاشونو ژمنې

یو پنځوسمه ماده:

د بودجوي واحد آمر عادي معاشونه، د ترفیعاتو او دمعاشونو د زیاتېدو له امله په معاشونو کې زیاتوالی، د لاندې مراتبو له په پام کې نیولو سره اجراء کوي:

۱- د دولتي بودجې د عوایدو او لګښتونو په پلان کې د شاملو (دایمي یا مؤقتي)، کارکوونکو شمېر.

۲- منظور شوی تشکیل.

۳- د معاشونو د تخصیص په خبرتیا کې درج شوي وجوه.

تعهدات معاشات

مادۀ پنجاه ویکم :

آمر واحد بودجوی معاشات عادی، تزئید درمعاشات بالاثر ترفیعات و افزودی معاشات را با نظرداشت مراتب ذیل اجراء می نماید :

۱- تعداد کارکنان (دایمی یا مؤقتی) شامل پلان عواید و مصارف بودجۀ دولتی.

۲- تشکیل منظور شده.

۳- وجوه مندرج اطلاعیۀ تخصیص معاشات.

د معاشونو محاسبه

دوه پنځوسمه ماده:

(۱) بودجوي واحد مکلف دی د معاشونو، مکافاتو او نورو مرستو ورکړه د حاضرۍ د دفتر او د هغه د استحقاق د اړوند جدول له مخې سنجوي او محاسبه یې کړي. هغه مبالغ چې د قانون په حکم له معاش څخه کسر کېږي، په محاسبه کې په پام کې نیول کېږي.

(۲) بودجوي واحد مکلف دی د معاشونو محاسبه او ورکړه په هغو

محاسبۀ معاشات

مادۀ پنجاه ودوم :

(۱) واحد بودجوی مکلف است پرداخت معاشات ،مکافات و سایر مساعدت ها را برویت دفترحاضری و جدول استحقاق مربوط آن سنجش و محاسبه نماید. مبالغیکه بحکم قانون ازمعاش کسر می‌گردد ، در محاسبه مدنظر گرفته می‌شود.

(۲) واحدبودجوی مکلف است محاسبۀ معاشات و پرداخت آنرا

حالاتو کې چې محاسبه یې مختلفو مراجعو ته پرېښودل شوې وي، یو له بل سره مقایسه او تطبیق کړي.

در حالاتیکه محاسبۀ آن به مراجع مختلف واگذار شده باشد، باهم مقایسه و تطبیق نمایند.

کمپیوټري سیستمونه
دري پنځوسمه ماده:
بودجوي واحدونه د هغو مقتضیاتو په پام کې نیولو باندې مکلف دی کوم چې د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق، د معاشونو او نورو ورکړو د کمپیوټري محاسبې لپاره اړین ګڼل کېږي.

سیستم های کمپیوتری
مادۀ پنجاه وسوم :
واحدهای بودجوی مکلف به رعایت مقتضیاتی است که غرض ارائه معلومات به دفاتر تأدیات خزاین جهت محاسبۀ کمپیوتری معاشات و سایر پرداخت ها طبق طرزالعمل وزارت مالیه ضروری پنداشته می‌شود.

د معاشونو د ورکړې موقع
څلور پنځوسمه ماده:
د مالیې وزارت مکلف دی د کارکوونکو د معاشونو پروخت ورکړه، له اړوندو بودجوي واحدونو سره په سلا کې تأمین کړي.

موقع پرداخت معاشات
مادۀ پنجاه وچهارم :
وزارت مالیه مکلف است پرداخت به موقع معاشات کارکنان را در مشوره با واحد های بودجوی مربوط تأمین نماید.

اووم فصل
بانکي تدبيرونه او د نغدي وجوهو اداره

د اشخاصو تر تصرف لاندې عامه پيسې او شتمني
پنځه پنځوسمه ماده:
د مالیې وزارت مکلف دی، د اشخاصو تر تصرف لاندې د عامه پیسو او شتمنۍ د اداري او ساتنې په منظور، خاصه کړنلاره وضع کړي.

ددولتي بانکي حسابونو پرانیستل
شپږ پنځوسمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت د دولت د ټولو بانکي حسابونو د منظورۍ، پرانستنې او بندولو واحده او واکمنه مرجع ده. د خزاینو اداره مکلفه ده د ټولو دولتي ادارو د بانکي حسابونو چې په مختلفو سطحو کې پرانستل شوي وي د ثبت سندونه و ساتي او خوندي یې کړي.
(۲) هغه بانکي حسابونه چې د مالیې وزارت له دمخه لیکلي

فصل هفتم
تدابیر بانکی و ادارۀ وجوه نقدی

پول یا دارایی عامه تحت تصرف اشخاص
مادۀ پنجاه وپنجم :
وزارت مالیه مکلف است به منظور اداره وتحفظ پول یا دارایی عامه تحت تصرف اشخاص، طرزالعمل خاص را وضع نماید.

افتتاح حسابات بانکی دولتی
مادۀ پنجاه وششم :
(۱) وزارت مالیه مرجع واحد و ذیصلاح منظوری، افتتاح ومسدود ساختن تمام حسابات بانکی دولت می‌باشد. ادارۀ خزاین مکلف است اسناد ثبت حسابات بانکی تمام ادارات دولتی را که در سطوح مختلف افتتاح شده باشد، حفظ ونگهداری نماید.
(۲) حسابات بانکی که توسط واحد های بودجوی بدون اجازۀ

اجازې پرته د بودجوي واحدونو په واسطه، د بودجوي واحدونو لخوا پرانستل شوي وي، بند او بېلانس يې د دولت د بودجې عوايدو ته لېږدول کېږي.

(۳) په افغانستان کې فعاليت کوونکې بانکي مؤسسې، نشي کولای د دافغانستان بانک له دمخه ليکلې اجازې پرته بانکي حسابونه پرانيزي. د بودجوي واحدونو واکمن مسئولين مکلف دي، د اعطاء آمرانو (د بانکي چکونو لاسليک کوونکو) د لاسليک له تبديلېدو څخه د مالیې وزارت ته ليکلی خبر ورکړي.

(۴) دولتي تصدی او ښاروالۍ ګانې کولای شي اړوند بانکي حسابونه، دافغانستان په مېشتو بانکونو کې پرانيزي.

(۵) د مالیې وزارت فيسونه او د بانکي حسابونو له لګښتونو يا پانګو اچونو څخه را پيدا شوي غوښتنې (مطالبات) په اړوندو بودجوي واکونو کې له درج شوو مبالغو څخه ورکوي.

کتبی قبلی وزارت مالیه ازطرف واحدهای بودجوی افتتاح شده باشد، مسدود و بیلانس آن به عواید بودجۀ دولت منتقل می‌گردد.

(۳) مؤسسات بانکی فعالیت کننده در افغانستان نمی توانند بدون اجازۀ کتبی قبلی د افغانستان بانك حسابات بانکی را افتتاح نمایند. مسئولین ذیصلاح واحدهای بودجوی مکلف اند ازتبدیلی امضاء آمرین اعطاء (امضاء کننده گان چك های بانکی) به وزارت مالیه کتباً اطلاع دهند.

(۴) تصدی های دولتی و شاروالی ها می‌توانند، حسابات بانکی مربوط را در بانك های مقیم افغانستان افتتاح نمایند.

(۵) وزرات مالیه فیس ها وسایر مطالبات ناشی از مصارف حسابات بانکی یا سرمایه گذاری ها را ازمبالغ مندرج در صلاحیت های بودجوی مربوط پرداخت می‌نماید.

د عامه پیسو تحصیلول او ایداع
اووه پنځوسمه ماده:
(۱) د عامه پیسو د تحصیل یا ترلاسه کولو دولتي مسئول کارکوونکي مکلف دي، لاندې معلومات د ثبت په اړوند دفتر کې درج کړي:
۱- د ترلاسه کونې (رسید) او ایداع د هر مورد نېټه.
۲- د ترلاسه شوو، ایداع یا ساتل شوو مبالغو مقدار.
۳- د عامه پیسو سرچینه یا ډول.
۴- د تشخیص او پلټنې لپاره نور لازم معلومات.
(۲) ترلاسه کوونکی کارکوونکی مکلف دی د تحصیل شوو یا ترلاسه شوو عامه پیسو له تسلیمۍ څخه تصدیق وکړي، رسید یې صادر کړي. دغه وجوه له هېڅ ډول بدلونونو څخه پرته د خزینو د اداري دلارښوونې مطابق، د خزینو په واحد حساب کې تحویلېږي.

دپیسو او امانت ملکیت مسئولیت
اته پنځوسمه ماده:
امانتي پیسې یا ملکیت ددې مقرري په مفهوم هغه پیسې یا

تحصیل و ایداع پول عامه
مادۀ پنجاه وهفتم :
(۱) کارکنان دولتی مسئول تحصیل یا دریافت پول عامه مکلف اند معلومات آتی را در دفتر ثبت مربوط درج نمایند:
۱- تاریخ هر مورد دریافت (رسید) وایداع.
۲- مقدار مبالغ دریافت شده، ایداع یا حفظ شده.
۳- منبع یا نوع پول عامه.
۴- سایر معلومات لازم برای تشخیص و تفتیش.
(۲) کارکن دریافت کننده مکلف است از تسلیمی پول عامۀ تحصیل شده یا دریافت شده تصدیق نموده رسید آنرا صادر نماید. این وجوه بدون هیچ گونه تغییرات طبق رهنمود ادارۀ خزاین به حساب واحد خزاین تحویل می‌گردد.

مسئولیت پول و ملکیت امانت
مادۀ پنجاه وهشتم :
(۱) پول یا ملکیت امانت به مفهوم این مقرره پول یا ملکیتی

ملکیت دی چې له نورو حقیقي یا حکمي اشخاصو څخه په استازیتوب سره د بودجوي واحد لخوا د هغه د تضمین خط یا معادل سند پر بنسټ ساتل او خوندي کېږي او د ګټې اخیستنې مشخصې موخې هم پکې درجېږي.

(۲) د بودجوي واحد آمر او مؤظف کارکوونکي، د تضمین خط یا معادل سند د مندرجاتو مطابق د امانتو پیسو یا ملکیت په ساتنې او خوندي کولو مکلف دي.

است که ازطرف واحد بودجوی به نمایندگی از سایر اشخاص حقیقی یاحکمی به اساس تضمین خط یا سند معادل آن حفظ ونگهداری واهداف مشخص استفاده نیز درج آن می‌گردد.

(۲) آمر واحد بودجوی و کارکنان مؤظف مکلف به حفظ ونگهداری پول یا ملکیت امانت مطابق مندرجات تضمین خط یا سند معادل آن می‌باشند.

په امانتوحسابونو کې دپیسو ساتل

نهه پنځوسمه ماده:

(۱) بودجوي واحد مکلف دی د امانت پیسو د ساتنې او خوندي کولو په منظور لاندې تدبیرونه و نیسي:

۱- د خزاینو په دفتر کې د امانت د جلاحساب پرانیستل.

۲- د امانت حساب لپاره د مشخص کود یا نوم ټاکل.

۳- په امانت حساب کې د ایداع او له هغه څخه د برداشت د پول په غرض، ذیربطومراجعو ته لارښوونه.

۴- په پانګې اچونې پورې د اړوندو

نگهداری پول درحساب امانت

مادۀ پنجاه ونهم:

(۱) واحد بودجوی مکلف است به منظورحفظ و نگهداری پول امانت تدابیرذیل را اتخاذ نماید:

۱- افتتاح حساب جداگانه امانت در دفتر خزاین.

۲- تعیین کود یا اسم مشخص برای حساب امانت.

۳- رهنمایی به مراجع ذیربط غرض ایداع در حساب امانت وطرز برداشت از آن.

۴- حفظ جداگانۀ اسناد حساب

معاملو په شمول د معاملو په هکله د امانت حساب د سندونو جلا ساتل.

۵- د مالي صورت حسابونو جلا ترتیبول او د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق، د خزاینو اداري ته پدې برخه کې د رپوټ ورکول.

(۲) د مالیې وزارت مکلف دی، د امانتو پیسو د مالي چارو د محاسبې او اداري په منظور، جلا کړنلاره وضع کړي.

امانت در مورد معاملات به شمول معاملات مربوط سرمایه گذاری.

۵- ترتیب جداگانه صورت حسابات مالی و ارائه گزارش در زمینه به ادارهٔ خزاین طبق طرزالعمل وزارت مالیه.

(۲) وزارت مالیه مکلف است به منظور محاسبه و ادارهٔ امور مالی پول امانت، طرزالعمل جداگانهٔ را وضع نماید.

د نغدي وجوهو اداره کول

شپېتمه ماده:

د مالیې وزارت مکلف دی د نغدي وجوهو د ساتنې او مصؤن خوندي توب او د ورکړې د بهیر د ښه تنظیم، اقل حد ته د بانکي لګښتونو د راټیټولو او د ټکټانې د لګښتونو د جبران په منظور، لاندې تدبیرونه و نیسي:

۱- د واجب الاداء والي په وخت کې د عوایدو تحصیلول او بانک ته د هغو سملاسي تحویلول.

۲- د مقرراتو مطابق، نورو دولتي او غیر دولتي ادارو ته د لېږدولو په شمول د ورکړو اجراء.

ادارهٔ وجوه نقدی

مادهٔ شصتم :

وزارت مالیه مکلف است به منظور حفظ ونگهداری مصئون و تنظیم بهتر جریان پرداخت وجوه نقدی و کاهش مصارف بانکی به حداقل و جبران مصارف تکتانه، تدابیر ذیل را اتخاذ نماید:

۱- تحصیل عواید در زمان واجب الاداء بودن و تحویل فوری آن به بانك.

۲- اجرای پرداخت ها بشمول انتقا ل به سایر ادارات دولتی وغیردولتی طبق مقررات.

۳- د جنسونو یا خدمتونو د ترلاسه کولو دمخه له ورکړو څخه ډډه کول، خو دا چې په عقد شوي قرارداد کې بل ډول اټکل شوي وي.

۳- اجتناب از پرداخت های قبل از دریافت اجناس یا خدمات، مگر اینکه در قرار داد منعقده طور دیگری پیشبینی گردیده باشد.

د دمخه ورکړې په وړاندې تخفیف، په هغه صورت کې اجراء کېدی شي چې د نغدو پیسو، چې د خزاینو اړوندې اداري ته استول کېږي، د میاشتنۍ ورکړې په اټکل کې شامل وي.

تخفیف در مقابل پرداخت قبلی درصورتی اجراء شده می‌تواند که در پیشبینی پرداخت ماهانۀ پول نقد که به ادارۀ مربوط خزاین ارسال می گردد، شامل باشد.

۴- د ترلاسه کولو وړ مبالغو د سملاسي تحصیل او بانک ته یې د تحویلولو په منظور د مدیونینو کلک (جدي) تعقیبول.

۴- تعقیب جدی مدیونین به منظور تحصیل فوری مبالغ قابل دریافت و تحویل آن به بانك.

۵- په مالي پلانونو کې د بودجوي واحد د نغدو پیسو د بهیر د مقتضیاتو دقیق اټکلول.

۵- پیشبینی دقیق مقتضیات جریان پول نقد واحد بودجوی در پلان های مالی.

۶- په اقتصادي، اغېزمن او ثمر بښونکي صورت سره د نغدو پیسو د اداري د زماني ارزښت تشخیصول.

۶- تشخیص ارزش زمانی ادارۀ پول نقد بصورت اقتصادی، مؤثر و مثمر.

۷- د پیسو له غیر ضروري او نا اغېزمن (غیر اغېزمن) توقیف (بلاک) څخه د مخنیوي په منظور د نورو لازمو تدبیرونو نیول.

۷- اتخاذ سایر تدابیر لازم به منظور جلوگیری از توقیف (بلاك) غیر ضروری و غیر مؤثر پول.

مالي پانګه اچونه
یوشپېتمه ماده:
د مـالیې وزارت کـولای شـي، لـه مازادو نغدي وجوهو څخه د عوایدو د ترلاسـه کولـو پـه غـرض، د دافغانستان بانک یـا د مـوافقې پـه صورت کې د نورو مالي مؤسسو لـه لارې لـه بـانکي خـدمتونو یـا مـالي پـانګو اچونـو څخـه د راپیـدا شـوو لګښتونو د جبران په منظور، پانګه اچونه وکړي.
ونـډه ایـزه (سـهامي) پانګونـه یـا د دولتـي تـصدیو یـا د پـانګونې د شـرایطو لرونکـو سـوداګریزو پـروژو پانګه اچونه لدې امر څخه مستثنی ده.

سرمایه گذاری مالی
مادۀ شصت و یکم :
وزارت مالیه می تواند به منظور جبران مصارف ناشی از خدمات بـانکی یـا سرمـایه گـذاری های مالی از طریق د افغانستان بانـک یـا درصـورت موافقـه از طریـق سـایر مؤسـسات مـالی، غـرض حصول عـواید از وجوۀ نقـدی مازاد، سـرمایه گذاری نماید.
سرمایه گذاری سهامی یا اعطای قرضه بـه تـصدی هـای دولتـی یـا سـایر پـروژه هـای تجـارتی واجـد شـرایط سرمایـه گـذاری ازایـن حـکم مستثنی است.

اتم فصل
د دولت په واسطه د پور اخیستل او ورکول

فصل هشتم
اخـذ و اعـطای قرضـه توسط دولت

د استقراض واک
دوه شپېتمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د اووه لسمې مادې د حکم له مخې، واک لـري لـه دولـت څخـه پـه

صلاحیت استقراض
مادۀ شصت ودوم :
(۱) وزیر مالیه بـه تأسی از حکم مـادۀ هفـدهم قـانون ادارۀ امـور مالی و مصارف عامه، صلاحیت دارد بـه نماینـدگی از دولـت،

استازیتوب سره، پور یا بلاعوضه مرستې واخلي او په اړوندو سندونو کې لاسلیک وکړي.

د مالیې وزیر کولای شي، واک نورو مسئولینو ته و سپاري.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي وجوه د لګښتونو د تأمینولو یا نورو بنسټونو (نهادونو) ته د ورکولو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېدی نشي، خو دا چې په بودجوي واک کې بل ډول اټکل شوي وي.

قرضه یاکمك های بلاعوض را اخذ و در اسناد مربوط امضاء نماید.

وزیر مالیه می تواند این صلاحیت را به مسئولین دیگری تفویض نماید.

(۲) وجوۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده به منظور تأمین مصارف یا اعطای قرضه به نهاد های دیگر مورد استفاده قرار گرفته نمی تواند، مگراینکه در صلاحیت بودجوی طور دیگری پیشبینی گردیده باشد.

د پورونو اداره

دري شپېتمه ماده:

د خزاینو اداره د پورونو د اداري د چارو د تنظیم په منظور لاندې دندې په غاړه لري:

۱- د ټولو دیونو او دهغو د معاملو او له دائینونو سره د حکومت د بدیهیو د منظمې مقایسې په هکله، د نوو سندونو د موجودیت تأمینول.

۲- د بودجوي اټکلونو او د نغدي وجوهو د بهیر په منظور د دیونو (اصل دین، له خدمتونو او د

ادارۀ قروض

مادۀ شصت وسوم :

ادارۀ خزاین به منظور تنظیم امور ادارۀ قروض، وظایف ذیل را بعهده دارد:

۱- تأمین موجودیت اسناد جدید در مورد تمام دیون و معاملات آن و مقایسۀ منظم بدیهی های حکومت با دائینین و سایر اسناد مالی.

۲- ترتیب جداول ادای دیون (اصل دین، مطالبات ناشی از خدمات و پرداخت

ټکټانې لـه ورکړې څخـه د راپیـدا شـــوو مطالبـــاتو) د اداء کولـــو د جدولونو ترتیبول.

۳- د اصل پور، ټکټـــانې او په پور پورې د نـورو ورکړو د بېرتـه ورکړې پـه منظـور لـه ځنډ پرتـه د ورکـړو د اجراء تأمینول.

۴- پـه مناسـبو حـدودو او شـرایطو سره د پـور د ترلاسـه کولـو لپـاره، د مذاکرو د اجراء په ترڅ کې د مـالیې وزیر ته د سلا ورکول.

۵- د مالیې د وزارت لـه نـورو ادارو او حکومـت سره پـه هـم غـړې کې د دولت د پـور د سـتراتیژۍ برابرول او ترتیبول.

۶- د مـــالي او عامـــه لګښتونو د چـارو د اداري د قـانون د حکمونـو مطابق د پورونو د وضعیت په هکله د لازمو رپوټونو برابرول او ترتیبول.

د پورونو ستراتیژي

څلورشپېتمه ماده:

د مـــــالیې وزارت مکلـــــف دی د بودجوي لازمو تصمیمونو د نیولو او استقراضـي مقـاولو پـه منظـور، د پورونـو ملـي سـتراتیژي ترتیـب او د تصویب لپـاره یې د وزیرانـو شـوري تکتانه) به منظور پیشبینی های بـــودجـــوی و جریـــان وجـــوه نقدی.

۳- تـأمین اجـرای پرداخـت هـای بدون تأخیر به منظور بـاز پرداخت اصـــل قـــرض، تکتانـــه و ســـایر پرداخت های مربوط به دین.

۴- ارائـــۀ مشوره به وزیر مالیه حـــین اجـــرای مذاکرات جهت حصول قرضـه بـا حدود و شرایط مناسب.

۵- تهیـــه و ترتیـــب ســـتراتیژی قـــروض دولـــت در همـــآهنگی بـــا ســـایر ادارات وزارت مالیـــه و حکومت.

۶- تهیـه وترتـــیب گزارش های لازم در مـــورد وضـــعیت قروض طبـــــق احکـــــام قـــــانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه.

ستراتیژی قروض

مادۀ شصت و چهارم :

وزارت مالیـه مکلـف اسـت بـه منظوراتخاذ تصامیم لازم بودجوی ومـــقاوله هـــای استقراضـــی، ستراتیژی ملـــی قروض را ترتیب وجهت تصویب به شـورای وزیران

ته وړاندې کړي.

سیال پورونه

پنځه شپېتمه ماده:

د مالیې وزارت د کلنۍ بودجې په کړنلاره کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نیولو سره، د دولت د ورکړو د اجراء داسانولو په منظور، د پور(قرضې) او د هغې د بېرته پېرودنې د سندونو په صادرولو مکلف دی.

ټکټانه په بودجوي واک کې له درج شوو مبالغو څخه چې د مالیې د وزارت لخوا پدې منظور ټاکل کېږي، وضع کېږي.

له مقاولو څخه راپیداکېدونکې احتمالي ژمنې

شپږ شپېتمه ماده :

د مالیې وزیر یا یې رسمي واکمن استازی کولای شي د دولت د احتمالي ژمنو مقاولې (بدېهي) چې د ولسي جرګې د مصوبې له مخې تثبیتېږي، عقد کړي.

د خزاینو اداره مکلفه ده دغه ژمنې په اړوند دفتر کې ثبت او قید کړي، رپوټ یې د مالي او عامه لګښتونو ارائه نماید.

قروض سیال

مادۀ شصت و پنجم :

وزارت مالیه بانظر داشت احکام مندرج طرز العمل بودجۀ سالانه، به منظور تسهیل اجرای پرداخت های دولت مکلف به صدور اسناد قرضه و باز خرید آن می‌باشد.

تکتانه از مبالغ مندرج در صلاحیت بودجوی که ازطرف وزارت مالیه بدین منظور تعیین می‌شود، وضع می‌گردد.

تعهدات احتمالی ناشی از مقاوله ها

مادۀ شصت وششم :

وزیر مالیه یا نمایندۀ ذیصلاح رسمی وی می‌تواند مقاوله های تعهدات (بدیهی) احتمالی دولت راکه به تأسی از مصوبۀ ولسی جرگه تثبیت می‌شود، عقد نماید.

ادارۀ خزاین مکلف است این تعهدات را در دفتر مربوط ثبت و قید نموده، گزارش آنرامطابق

د چارو د اداري د قانون د (۵۸) مادې د حکم مطابق وړاندې کړي.

حکم مادۀ (۵۸) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه ارائه نماید.

د پور تضمین
اووه شپېتمه ماده:
د حقوقي مقاولو د عقد او د پور د تضمین د سندونو د رپوټ ورکونې په هکله ددې مقرري په (۶۹) ماده کې درج شوي شرایط، د تطبیق وړ دي.
د صادر شوي پور د تضمین د سندونو په حقوقي مقاولو کې، د مدیون د ژمنه شوو ورکړې وړ مبالغو چې د دولت د تضمین له امله هغه زغمي (متحمل کیږي)، د بشپړې ورکړې مکلفیت تصریح کیږي.
د مالیې وزارت مکلف دی، دولت ته د ورکړې وړ (واجب التأدیه) مبالغ تحصیل کړي.

تضمین قرضه
مادۀ شصت وهفتم :
شرایط مندرج مادۀ (۶۹) این مقرره درمورد عقد مقاولات حقوقی و ثبت و گزارشدهی اسناد تضمین قرضه، قابل تطبیق می‌باشد.
در مقاوله های حقوقی اسناد تضمین قرضۀ صادر شده، مکلفیت تأدیۀ کامل مبالغ قابل پرداخت تعهد شدۀ مدیون که بالاثرتضمین قرضه دولت آنرا متحمل می گردد، تصریح می‌شود.
وزارت مالیه مکلف است مبالغ واجب التأدیه به دولت را حصول نماید.

له احتمالي ژمنو څخه را پیدا شوې ژمنې (بدیهی)
اته شپېتمه ماده:
احتمالي ژمنې او د پور (قرضې) د تضمین سندونه چې د دولت په

تعهدات (بدهی) ناشی از تعهدات احتمالی
مادۀ شصت وهشتم :
تعهدات احتمالی و اسناد تضمین قرضه که مستلزم پرداخت های

واسطه د زیاتو ورکړو مستلزم دي، د دولت د وروستیو (بعدي) پورونو په توګه معامله کېږي.

د دولت په واسطه د پور ورکول
نهه شپېتمه ماده:
د مالیې وزارت کولای شي د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د (۲۱) مادې د حکم مطابق، پور ورکړي.
د خزاینو اداره مکلفه ده د ټولو ورکړل شوو پورونو، بېرته ورکړو او د مدیونینو په واسطه د ټکټانې د ورکړې رسمي سندونه، وساتي او خوندي يې کړي.

نهم فصل
د شتمنۍ اداره کول

د دولت شتمني
اویایمه ماده:
د دولت شتمني له نغدي وجوهو او منقولې او غیر منقولې شتمنۍ څخه جوړه ده چې د اداره، تصدیو او دولتي شرکتونو په تصرف کې قرار لري.
د مالیې وزارت مکلف دی د دولت

بیشتر توسط دولت می‌باشد، بحیث قروض بعدی دولت معامله می‌گردد.

اعطای قرضه توسط دولت
مادۀ شصت ونهم:
وزارت مالیه می‌تواند مطابق حکم مادۀ (۲۱) قانون ادارۀ امور مالی و مصارف عامه قرضه اعطا نماید.
ادارۀ خزاین مکلف است اسناد رسمی تمام قرضه های اعطا شده، بازپرداخت ها و پرداخت تکتانه توسط مدیونین راحفظ ونگهداری نماید.

فصل نهم
ادارۀ دارایی

دارایی دولت
مادۀ هفتادم:
دارایی دولت متشکل از وجوۀ نقدی و دارایی منقول وغیرمنقول می‌باشد که در تصرف ادارات، تصدی ها و شرکت های دولتی قراردارد.
وزارت مالیه مکلف است جهت

د ټولو شتمنیو د مناسبې ساتنې او اداري د تأمینولو لپاره د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون، د دولت د تصدیو د قانون او د هېواد د نورو نافذو قوانینو د حکمونو مطابق جلا کړنلاره او لازمي لارښوونې وضع او صادرې کړي.

تأمین حفاظت و ادارهٔ مناسب کلیه دارایی های دولت، طرزالعمل جداگانه و رهنمودهای لازم را طبق احکام قانون ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه، قانون تصدیهای دولت و سایر قوانین نافذ کشور وضع و صادر نماید.

د عامه شتمنۍ ساتنه

یو اویایمه ماده:

د بودجوي واحدونو آمران او اړوند کارکوونکي، د عامه شتمنۍ د ساتنې او خوندي کولو په منظور، د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- له عامه شتمنۍ څخه د ګټې اخیستنې له ډول سره بشپړه آشنایي او د هغې د ساتنې او خوندیتوب په کار کې د مسئولیت درک.

۲- هغه کارکوونکي ته د عامه شتمنۍ سپارل چې له هغې څخه په مستقیمه توګه ګټه واخلي او په دفتر کې د ده په نوم د هغې ثبتول.

۳- په تحویلخانه کې له هغه شمیر عامه شتمنیو څخه ساتنه او خوندي کول چې عملاً تر ګټې اخیستنې لاندې قرار نلري.

حفاظت دارایی عامه

مادهٔ هفتاد ویکم:

آمرین واحد های بودجوی وکارکنان مربوط به منظور حفظ ونگهداری دارائی عامه دارای مکلفیت های ذیل می باشند:

۱- آشنائی کامل به طرز استفاده از دارائی عامه و درك مسئولیت در امر حفظ و نگهداری آن.

۲- سپردن دارائی عامه به کارکنی که از آن طورمستقیم استفاده نموده وثبت آن در دفتر به نام وی.

۳- حفظ ونگهداری آنعده از دارائی عامه در تحویلخانه که عملاً تحت استفاده قرار ندارد.

۴- دخزاینو واحد حساب ته د هغو مبالغو سم له لاسه (فوري) لېږدول چې د عامه شتمنۍ له پرېښودو (واګذاری) څخه لاسته راځي.

۴- انتقال فوری مبالغی که از واگذاری دارایی عامه بدست می آید، به حساب واحد خزاین.

د عامه شتمنۍ ثبت او رپوټ ورکونه

دوه اویایمه ماده:

د بودجوي واحد آمران او اړوند کارکوونکي، د عامه شتمنۍ د ثبت او رپوټ ورکونې په کار کې د لاندې مکلفیتونو لرونکي دي:

۱- د مالیې د وزارت د کړنلارو مطابق، د ټولې عامه شتمنۍ ساتنه او خوندي کول.

۲- د تملک د نېټې، کمیت، موقعیت، د حصول له وخت څخه د ګټې اخیستنې د دورې تر آخره پورې د لګښتونو پربنسټ د عامه شتمنۍ د ټولو اقلامو تفصیلي ثبتول. له ثابتې شتمنۍ څخه د ګټې اخیستنې د دورې آخر معمولاً، د پرېښودو (واګذاری) وخت او د اجناسو او لوازمو، د هغو د لګولو وخت دی.

۳- لږ تر لږه په کال کې یوځل له سندونو سره، په مادي صورت د

ثبت و گزارشدهی دارایی عامه

مادۀ هفتاد ودوم :

آمرین واحدهای بودجوی وکارکنان مربوط در امر ثبت وگزارش دهی دارائی عامه دارای مکلفیت های ذیل می باشند :

۱- حفظ و نگهداری تمام دارایی عامه طبق طرز العمل های وزارت مالیه.

۲- ثبت تفصیلی تمام اقلام دارائی عامه به اساس تاریخ تملك، کمیته، موقعیت و مصارف مربوط از زمان حصول الی اخیر دورۀ استفاده از آنها. اخیر دورۀ استفاده از دارایی ثابت معمولاً، زمان واگذاری و از اجناس ولوازم، زمان مصرف آن می‌باشد.

۳- تطبیق وتصدیق تمام ذخایر موجودی دارایی عامه

عامه شتمنې د ټولو د زیرمو د موجودي تطبیق او تصدیقول.

۴- د پلورنې یا لګولو په ترڅ کې په زېرمه کې د درج شوو اقلامو د بیې ټاکلو لپاره د لومړۍ محاسبې له میتود څخه ګټه اخیستنه (د لومړۍ ثبت میتود، لومړۍ بیه اېښودنه).

۵- د مالیې د وزارت د وضع شوې کړنلارې مطابق، د ارزښت تخمینول، پدې شرط چې د عامه شتمنۍ واقعي ارزښت د ټاکلو وړ نه وي.

۶- د اجناسو د زیرمه شوو اقلامو د ارزښت ټاکل د لګښت یا د پلورنې د نګه (خالص) ارزښت پر بنسټ، کوم یو چې لږ وي.

د عامه شتمنۍ د اداري پلان دري اویایمه ماده:

بودجوي واحدونه مکلف دي د عامه شتمنۍ د حصول، ګټې اخیستنې، څارنې، ساتنې او پرېښودو (واګذارۍ) په منظور پلانونه ترتیب او د هغو تخمیني لګښتونه او د پلان په تطبیق پورې اړوند عواید، دخلې کلنۍ بودجې په غوښتنلیک کې شامل کړي.

بصورت مادی با اسناد آن حداقل سال یکبار.

۴- استفاده از میتود محاسبه اولی اقلام قبلی برای تعیین قیمت اقلام مندرج در ذخیره حین فروش و یا مصرف آن. (میتود ثبت اولی، قیمت گذاری اولی).

۵- تخمین ارزش طبق طرزالعمل وضع شدهٔ وزارت مالیه مشروط بر اینکه ارزش واقعی دارائی عامه قابل تعیین نباشد.

۶- تعیین ارزش اقلام ذخیره شده اجناس به اساس مصرف یا ارزش خالص فروش، هر کدام که کمتر باشد.

پلان ادارهٔ دارایی عامه

مادهٔ هفتاد وسوم :

واحدهای بودجوی مکلف اند به منظور حصول، استفاده، مراقبت، نگهداشت و واگذاری دارایی عامه پلان های را ترتیب و مصارف تخمینی و عواید مربوط به تطبیق پلان آنرا در درخواست بودجه سالانهٔ خود شامل سازند.

دولت ته د غیر منقول ملکیت اهداء کول

څلور اویایمه ماده:

ټول بودجوي واحدونه مکلف دي، د قانون د حکمونو مطابق، د غیر منقول ملکیت له منلو یا هدیې کولو د مخه، د موجهو دلیلونو په وړاندې کولو سره د مالیې د وزارت لیکلې منظوري ترلاسه کړي.

اهدای ملکیت غیر منقول به دولت

مادۀ هفتاد وچهارم :

کلیه واحدهای بودجوی مکلف اند طبق احکام قانون قبل ازپذیرفتن یا هدیه کردن ملکیت غیر منقول با ارائۀ دلایل موجه، منظوری کتبی وزارت مالیه راحصول نماید.

له دفتر څخه د ثابتې شتمنۍ حذفول

پنځه اویایمه ماده:

(۱) د بودجوي واحد آمر کولای شي ثابته شتمني د هغې د طبیعي استهلاک له امله، د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق له اړوند دفتر څخه حذف کړي.

(۲) د بودجوي واحد آمر کولای شي ثابته شتمني یا مالونه او اجناس د ویجاړېدو، ورکېدو، غلاکېدو یا هغو ته د ورته په صورت کې له اړوندو حسابونو او دفترونو څخه حذف کړي.

(۳) د بودجوي واحد آمر مکلف دي، د دې مادې په (۱ او۲) فقره

حذف دارایی ثابت از دفتر

مادۀ هفتاد وپنجم :

(۱) آمر واحد بودجوی می‌تواند دارایی ثابت را بالاثراستهلاک طبیعی آن طبق طرزالعمل وزارت مالیه، ازدفتر مربوط حذف نماید.

(۲) آمر واحد اول بودجوی می تواند، دارایی ثابت یا اموال و اجناس را درصورت تخریب، مفقودیت، سرقت یا امثال آن ازحسابات و دفاتر مربوط حذف نماید.

(۳) آمر واحد بودجوی مکلف است گزارش اجراآت مندرج

کې د درج شوو اجراآتو رپوټ د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون او د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق وړاندې کړي.

فقره های (۱ و۲) این ماده را، طبق احکام قانون ادارهٔ امور مالی و مصارف عامه و طرزالعمل وزارت مالیه، ارائه نماید.

د عامه پیسو او شتمنۍ اتلاف شپږاویایمه ماده:

د بودجوي واحد ټول کارکوونکي او نور اشخاص مکلف دي، د عامه پیسو یا شتمنۍ د اتلاف په هکله په خبرتیا او شک سره، سم له لاسه (فوراً) د اړوند بودجوي واحد آمر ته رپوټ ورکړي. آمر مکلف دی د موضوع رپوټ، د بودجوي لومړي واحد آمر ته وړاندې او نقل یې د کورنۍ (داخلي) پلټنې او عدلي مراجعو ته واستوي.

اتلاف پول و دارایی عامه
مادهٔ هفتاد وششم :

کلیه کارکنان واحدهای بودجوی و سایراشخاص مکلف اند به مجرد آگاهی یا شك درمورد اتلاف پول یا دارایی عامه، فوراً به آمر واحد بودجوی مربوط گزارش بدهد. آمر مکلف است گزارش موضوع را به آمر واحد اول بودجودی ارائه و نقل آنرا به مراجع تفتیش داخلی و عدلی ارسال نماید.

د مدیونینو مدیریت
اووه اویایمه ماده:

بودجوي واحدونه مکلف دي د اړوند دیونو د راټولولو په منظور، لاندې تدبیرونه و نیسي:

۱- له قسمي ورکړو څخه د ترلاسه شوو مبالغو په شمول، د ټولو مدیونینو په هکله د حسابونو او

مدیریت مدیونین
مادهٔ هفتاد وهفتم :

واحد های بودجوی مکلف اند به منظور جمع آوری دیون مربوط تدابیر ذیل را اتخاذ نمایند:

۱- داشتن حسابات و اسناد مناسب در مورد تمام مدیونین، بشمول مبالغ دریافت شده از

مناسبو سندونو لرل.
۲- څارنوالی ته د قضیې ارجاع، پدې شرط چې له اقتصادي نظره اغېزمنه وي.

دولت ته د واجب الاداء دیونو حذفول
اته اویایمه ماده:
(۱) د بودجوي واحد آمر، دیون په لاندې حالاتو کې له اړوندو حسابونو څخه حذفوي:
۱- په هغه صورت کې چې د دین تحصیل له اقتصادي نظره اغېزمن نه وي.
۲- په هغه صورت کې چې د دین تحصیل مدیون یا یې خپلوانو ته د اغیر مؤجهو ستونزو د پیدا کېدو سبب شي.
۳- په هغه صورت کې چې د غوښتنې (مطالبې) تصفیه کېدل یا حذف، د دولت په ګټه وي.
حذف شوي پورونه په کلنیو مالي صورت حسابونو کې درجېږي.
که چېرې د بودجوي واحد آمر یا نور کارکوونکي په دین پورې د اړوندو شرایطو له بدلونونو څخه خبر شي،

پرداخت های قسمی.
۲-ارجاع قضیه به څارنوالی، مشروط بر این که از نظر اقتصادی مؤثر باشد.

حذف دیون واجب الاداء به دولت
مادهٔ هفتاد وهشتم :
(۱) آمر واحد بودجوی دیون را از حسابات مربوط در حالات ذیل حذف می نماید :
۱- در صورتیکه تحصیل دین از نظر اقتصادی مؤثر نباشد.
۲- درصورتیکه تحصیل دین سبب بروز مشکلات غیر مؤجه برای مدیون یا اقارب وی گردد.
۳- درصورتیکه تصفیهٔ مطالبه یا حذف آن بنفع دولت باشد.
قروض حذف شده در صورت حسابات مالی سالانه درج می گردد.
هرگاه آمر یا سایر کارکنان واحد بودجوی از تغییرات در شرایط مربوط به دین مطلع

اجراآت پدې برخه کې بیا پیل کېږي. له صورت حساب څخه د دین حذفېدل، د هغه د حصول په غرض د هڅې د پایته رسېدو موجب نه کېږي.

(۲) د بودجوي واحد آمر مکلف دی د دولت د پور د حذف لپاره، د مالیې د وزارت لیکلي موافقه ترلاسه کړي.

گردند، اجراآت در زمینه مجدداً آغاز می‌گردد. حذف دین از صورت حساب موجب اختتام مساعی غرض حصول آن نمی‌گردد.

(۲) آمر واحد بودجوی مکلف است جهت حذف قرضهٔ دولت موافقهٔ کتبی وزارت مالیه را حاصل نماید.

لسم فصل
محاسبه او رپوټ ورکونه

فصل دهم
محاسبه و گزارش دهی

د محاسبې بنسټ (اساس)
نهه اویایمه ماده:

(۱) په بودجوي واکونو او د تخصیصونو په خبرتیا کې درج شوي عواید، لګښتونه، مبالغ، دحکومت د مالي احصائیې په هکله د پیسود نړیوال صندوق د لارښوونې د تصنیف دشرایطو له په پام کې نیولو سره په غدي توګه سنجول ېږي.

د معاملو نقدي محاسبه یوازې د نقدي وجوهو د ترلاسه کولو یا ورکړې په صورت کې سنجول کیږي.

اساس محاسبه
مادهٔ هفتاد ونهم :

(۱) عواید، مصارف، مبالغ مندرج صلاحیت های بودجوی و اطلاعیهٔ تخصیصات با نظرداشت شرایط تصنیف رهنمود صندوق بین المللی پول در مورد احصائیهٔ مالی حکومت بطور نقدی سنجش می‌گردد.

محاسبهٔ نقدی معاملات و حوادث صرف در صورت دریافت یا پرداخت وجوه نقدی، سنجش می شود.

(۲) د مالیې وزارت مکلف دی د مالي او عامه لګښتونو د چارو د اداري د قانون د حکمونو مطابق، درپوټ ورکونې او مالي مدیریت په اړه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت په عامه سکتورکې د ژمنیز(تعهدي) سیستم له ایجاباتو سره سم، د اضافي اظهاراتو په هکله کړنلاره وضع کړي.

دعامه سکتور د حسابداری د نړیوالو معیارونو په هکله د حساب لرونکو د نړیوال فدراسیون لاربنوونې پراضافي اظهاراتو باندې هم د تطبیق وړ دي.

(۲) وزارت مالیه مکلف است در رابطه به گزارشدهی و مدیریت مالی طبق احکام قانون ادارۀ امورمالی و مصارف عامه، طرزالعمل را در مورد اظهارات اضافی، مطابق ایجابات سیستم محاسبۀ تعهدی در سکتور عامه جمهوری اسلامی افغانستان، وضع نماید.

رهنمود فدراسیون بین المللی حسابداران د رمورد معیارهای بین المللی حسابداری سکتور عامه بر اظهارات اضافی نیز قابل تطبیق می‌باشد.

په نانګه (ناخالص) ډول دحسابونو وړاندې کول

اتیایمه ماده:

بودجوي واحدونه نشي کولای اړوند لګښتونه او عواید په نانګه توګه وړاندې کړي د عایدو او لګښتونو په هکله حسابونه او رپوټونه، د مالیې د وزارت د کړنلارې مطابق، وړاندې کېږي.

ارائۀ حسابات بشکل ناخالص

مادۀ هشتادم:

واحدهای بودجوی نمی‌توانند مصارف و عواید مربوط را بطور خالص ارائه نمایند. حسابات و گزارشات درمورد عواید ومصارف طبق طرزالعمل وزارت مالیه ارائه می‌گردد.

دحسابونو چارټ
یواتیایمه ماده:
د مـــالیې وزارت د بودجـــوي او محاســباتي ســندونو د تــصنیف سیستم، د مالي او عامه لګښتونو د چــارو د اداري د قــانون د (**۵۳**) مـادې د حکـم مطـابق، د حـسابي کنتـــرول او د بودجـــوې او مـــالي معلومـــاتو د رپـــوټ ورکـــونې د مقتضیاتو له په پام کې نیولو سره، ترتیب او صادروي.

چارت حسابات
مادۀ هشتاد ویکم
وزارت مالیــه سیــستم تــصنیف اسناد بـــودجوی و محاسباتی را طبـق حکـم مـادۀ (**۵۳**) قـانون ادارۀ امـور مـالی و مـــصارف عـــامه بانظـــر داشـــت مقتـضـــیات کنتـرول حـسابی و گـــزارش دهـــی معـــلومات بودجـوی و مـــالی ترتیـــب و صادر می‌نماید.

د خزاینو حسابونه
دوه اتیایمه ماده:
د خزاینـو اداره مکلفـه ده د خزاینـو عمـومي دفتـر او د توحیـدي وجوهـو ســندونه، د مــالیې د وزارت لــه نـــورو د فترونـو او سندونو څخه، په مجزاء توګه وساتي او خوندي یې کړي.

حسابات خزاین
مادۀ هشتاد ودوم :
ادارۀ خـــزاین مکلـــف اســت دفتـر عمـومي خـزاین و اســناد وجـــوه توحیـــدی را از ســایر دفــاتر و اســناد وزارت مالیــه، بطـــور مجـزا حفـظ و نگهـداری نماید.

د مـالي چـارو د اداري دمعلومـاتو سیستم
دري اتیایمه ماده:
د خزاینـو اداره د دولـت د مرکـزي حـسابونو د ســاتنې او کنتــرول، د معـاملو د پراوونـو د تېرولـو او پـدې

سیستم معـــلومـات ادارۀ امور مالی
مادۀ هشتاد وسوم :
ادارۀ خـــزاین بـه منظـورحفظ و کنتـرول حسابات مرکزی دولـت، ذخیـره و فـراهم آوری معلومـات

برخه کې د لاړم تصمیم د نیولو لپاره د هېواد د مالي چارو د اداري په هکله د زېرمې او دمعلوماتو د برابرولو په منظور، له کمپیوتري سیستم څخه ګټه اخلي.

رسمي حسابونه

څلوراتیایمه ماده:

(۲) ګمرکي تقنیني سندونه د نورو هېوادونو په ګمرکي قلمرو کې د نړیوالو میثاقونو یا د ګمرکونو پر اختصاصي فعالیتونو باندې د نورو نافذو حکمونو مطابق، تطبیق کېدی شي، پدې شرط چې د هغه

تطبیق یکسان قانون

مادۀ چهارم:

(۱) اسناد تقنینی گمرکی در سراسر قلمرو گمرکی کشور طور یکسان تطبیق می‌گردد.

(۲) اسناد تقنینی گمرکی در قلمرو گمرکی سایر کشورها مطابق میثاق های بین المللی یا سایر احکام نافذ بر فعالیت های اختصاصی گمرکات تطبیق شده می تواند، مشروط براینکه با

هېواد لـه نافـذو قوانینـو سـره مغایرت ونلري.

(۳) د افغانستان په قلمرو کې د ننه یا بهر په ګډو (مشترکو) ځایونو کې د نورو هېوادونو له ګمرکي ادارو سره په همکارۍ کې تقنیني سندونه، د نړیوالو موافقت لیکونو او میثاقونو مطابق تطبیق کېدی شي.

قوانین نافذهٔ آن کشور مغایرت نداشته باشد.

(۳) اسناد تقنینی گمرکی در همکاری با ادارات گمرکی سایر کشورها در محلات مشترك داخل یا خارج از قلمرو افغانستان مطابق موافقتنامه ها و میثاقهای بین المللی تطبیق شده می تواند.

د هېواد ګمرکي قلمرو
پنځمه ماده:

د هېواد ګمرکي قلمرو د افغانستان ارضي، آبي او فضایي قلمرو دی.

قلمرو گمرکی کشور
مادهٔ پنجم:

قلمرو گمرکی کشور مشتمل بر قلمرو ارضی، آبی و فضایی افغانستان می باشد.

ګمرکي ساحې
شپږمه ماده:

(۱) ګمرکي ساحې، د پولو (سرحدونو) په عبوري ځایونو، نړیوالو هوایي ډګرونو، له محصول څخه په خلاصو (آزادو) حوزو، د ګمرک په ګدامونو یا د هېواد په ګمرکي قلمرو کې شامل بل هر ځای کې، د دې قانون د حکمونو مطابق جوړېدای شي.

(۲) ګمرکي ساحې د ګمرکونو د

ساحات گمرکی
مادهٔ ششم:

(۱) ساحات گمرکی در نقاط عبوری سرحدات، میدانهای هوائی بین المللی، حوزه های آزاد از محصول، گدام های گمرك، یا هر محل دیگر شامل قلمرو گمرکی کشور مطابق احکام این قانون تأسیس شده می تواند.

(۲) ساحات گمرکی به اساس

اداري پـــه وړانـــديز او د مـــاليې وزارت په منظوري جوړې، تغييـر، پراخـې، تحديـد يـا لغـو کېـدی شي.

پیشنهاد ادارۀ گمرکات و منظوری وزارت مالیـــه ایجـــاد، تغییـــر، توسعه، تحدید یـا لغـو شده مـی تواند.

د ګمرکي مامورينو د واک حدود
اوومه ماده:
ګمرکـي مـامورين د دې قـانون او نـورو ګمرکـي تقنينـي سـندونو د حکمونـو مطابق، د دولـت د ګټو د تأمينولو لپـاره د هېـواد په ګمرکي قلمرو کې د نړيوالـو انتقالاتـو او د وارداتـې او صـادراتي مـالونو پـه برخـه کـي لازمـې څېړنـې سـرته رسوي.

حدود صلاحیت مامورین گمرکی
مادۀ هفتم:
مـامـوريـــن گمـــرکی جـــهت تـأمین منـافع دولـت بازرسـی هـای لازم را در خـصوص انتقـالات بـین المللـی و امـــوال وارداتـــی و صـــادراتـــی در قلمـرو گمرکـی کشور مطابق احـکام این قـانون و سایر اسناد تقنینی گـمرکی انجام می دهند.

دوه يم فصل
د ګمرکونو اداره

فصل دوم
ادارۀ گمرکات

تشکيل
اتمه ماده:
(۱) د ګمرکونـو اداره لـه عمـومي رياسـت، سـيمه ايـزو رياسـتونو او اړونـدو څانګو څخـه جـوړه ده.ټول ګمرکونـــه د مـــاليې وزارت د ګمرکونو د عمومي رياست تر لاس لاندې فعاليت کوي.

تشکیل
مادۀ هشتم:
(۱) ادارۀ گمرکـــات متـــشکل از ریاسـت عمـومي، ریاسـت هـای منطقـوی و شـعبات مربـوط مـی باشـد. تمـام گمرکـات تحـت اثـر ریاسـت عمـومي گمرکـات وزارت مالیه فعالیت می نماید.

(۲) د ګمرکونو عمومي رئیس د مالیې وزارت په وړاندیز، د قانون د حکمونو مطابق مقرروي.
(۳) د ګمرکونو د عمومي ریاست مرستیالان د رئیس په وړاندیز او د مالیې وزارت په تأیید، د قانون د حکمونو مطابق مقرروي.
(۴) دګمرکونو اداري نورمامورین او اجیران، د قانون د حکمونو مطابق مقرر او استخدامیږي.

(۲) رئیس عمومي گمرکات به اساس پیشنهاد وزارت مالیه طبق احکام قانون مقرر می گردد.
(۳) معاونین ریاست عمومي گمرکات به پیشنهاد رئیس و تأیید وزارت مالیه طبق احکام قانون مقرر می گردند.
(۴) سایر مامورین و اجیران ادارهٔ گمرکات مطابق احکام قانون مقرر و استخدام می گردند.

د خدمت یونیفورم او شرایط

نهمه ماده:

(۱) د ګمرکونو کار کوونکي د خدمت په یونیفورم ملبس کیږي. په هغه صورت کې چې کار کوونکي، د دندې غوښتنې ته په پام سره په یونیفورم ملبس نشوی شي، مکلف دي خپل د پیژندنې (هویت) کارتونه وښیي.
(۲) ګمرکي کار کوونکي نشي کولای، د ګمرکي خدمتونو د اجراء کولو په مقابل کې نقدي یا جنسي تحفې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه تر لاسه کړي.
(۳) د ګمرک کار کوونکي نشي کولای په سوداګرۍ یا هغو

یونیفورم و شرایط خدمت

مادهٔ نهم:

(۱) کارکنان گمرکات با یونیفورم خدمت ملبس می گردند. در صورتیکه کارکنان نظر به ایجابات وظیفوی با یونیفورم ملبس گردیده نتوانند، مکلف اند کارتهای هویت خویش را ارائه نمایند.
(۲) کارکنان گمرکی نمی توانند در برابر اجرای خدمات گمرکی، تحایف نقدی یا جنسی را بصورت مستقیم یا غیر مستقیم اخذ نمایند.
(۳) کارکنان گمرکی نمی توانند به تجارت یا فعالیت های

مشورتي فعاليتونو باندې چې د ګمرکي صادقانه فعاليتونو له اجراء سره مغايرت ولري، بوخت شي.

مشورتی که با اجرای صادقانه فعالیتهای گمرکی مغایرت داشته باشد، اشتغال ورزند.

د مالونو تېرېدل (عبور)

لسمه ماده:

مالونه د هېواد له سرحدونو او د ګمرک د سرحدونو له ټاکلو ګمرکي ګدامونو، له محصول څخه د آزادو حوزو، هوايي ډګرونو او د ګمرک له تر څېړنې لاندې ځايونو څخه يوازې په هغو ساحو کې چې هلته د ګمرک کارکوونکي موجود وي، تېرېدای شي.

عبور اموال

مادۀ دهم:

اموال از سرحدات کشور و سرحدات گمرکی معینه گدامهای گمرك، حوزه های آزاد از محصول، میدان های هوایی و سایر محلات تحت بازرسی گمرك صرف در ساحاتی که در آن کارکنان گمرکی موجود باشند، عبور نموده می تواند.

مکلفیتونه

یوولسمه ماده:

(۱) د مالونو حمل او نقل، بار اخیستنه، تخلیه او له یوې نقلیه وسیلې څخه بلې ته تبدیلي، د ټاکلو ګمرکي سرحدونو له لارې او له ګمرکي پروسې څخه د هغو ترخیص د ګمرکي تقنیني سندونو مطابق، د ګمرک د کار کوونکو په اجازه صورت مومي.

(۲) ګمرکي مامورین د لاندې

مکلفیت ها

مادۀ یازدهم:

(۱) حمل و نقل، بارگیری، تخلیه و تبدیلی اموال از یك واسطۀ نقلیه به دیگری از طریق سرحدات گمرکی معینه و ترخیص آن از پروسۀ گمرکی مطابق اسناد تقنینی گمرکی به اجازۀ کارکنان گمرك صورت می گیرد.

(۲) مامورین گمرکی دارای

مکلفیتونو لرونکي دي:
۱- د مالونو د بیې ټاکل او د اړوند ګمرکي دین تحصیلول.
۲- د مالونو څارنه، کشف، رپوټ ورکونه او د قاچاقو مخنیوی.
۳- پدې قانون کې له درج شوو حکمونو څخه د سر غړونو کشفول او څېړل.
۴- د ګمرکي تقنیني سندونو مطابق، د ګمرکي مسئلو په برخه کې د نړیوالو موافقه لیکونو او میثاقونو په ترتیب او عقدولو کې ګډون کول.
۵- د مالیې وزارت په موافقه، د بهرنۍ سوداګرۍ د احصائیوي معلوماتو برابرول او راټولول او د سوداګرۍ وزارت او نورو دولتي ادارو ته یې وړاندې کول.
۶- د هېواد په ګمرکي قلمرو کې پر ګمرکي مالونو باندې څارنه.
۷- په ګمرکي ساحو کې ګمرکي څېړنه.
۸- د ګمرکي سندونو او سوابقو ساتل.
۹- د نورو هغو مکلفیتونو سرته رسول چې په ګمرکي سندونو کې اټکل شویدي.

مکلفیت های آتی می باشند:
۱- تعیین قیمت اموال و تحصیل دین گمرکی مربوط.
۲- نظارت، کشف، راپوردهی و جلوگیری از قاچاق اموال.
۳- کشف و بررسی تخلفات از احکام مندرج این قانون.
۴- اشتراك در ترتیب و عقد موافقتنامه ها و میثاقهای بین المللی در خصوص مسایل گمرکی، مطابق اسناد تقنینی گمرکی.
۵- تهیه و جمع آوری معلومات احصائیوی تجارت خارجی و ارائه آن به وزارت تجارت و سایر ادارات دولتی به موافقۀ وزارت مالیه.
۶ - نظارت بر اموال گمرکی در قلمرو گمرکی کشور.
۷ - بازرسی گمرکی در ساحات گمرکی.
۸ - حفظ اسناد و سوابق گمرکی.
۹ - انجام سایر مکلفیت هاییکه در اسناد تقنینی گمرکی پیشبینی گردیده است.

(۳) د ګمرک اداري کولای شي، د دې قانون د دیارلسمې مادې د حکم او د مالیې وزارت د مقام موافقې په پام کې نیولو سره، له دولتي او غیر دولتی کورنیو او بهرنیو سازمانونو سره د ګمرکي تقنیني سندونو د ښه تطبیق په غرض، د معلوماتو د تبادلې په اړه مقاولې عقد کړي.

(۴) ګمرکي اداري، له سرحدي عبوري ځایونو، هوایي ډګرونو او ګمرکې داخلي دفترونو او د واردوونکو په اړوندو ودانیو کې د وتلو په وخت کې، د منضمه سندونو له مندرجاتو سره د لېږدونې وړ مالونو د کمیت او کیفیت د تطبیق په منظور، د ګمرکي څېړنو ټیمونه ټاکي.په هغه صورت کې چې مالونه او د هغو لېږدونه له ګمرکي سندونو سره مطابقت ولري، د ګمرکي څېړنې ټیم سندونه تأیید او مهر کوي، که چېرې مالونه او لېږدونه یې له ګمرکي سندونو سره مطابقت ونلري، د موضوع لیکلی رپوټ ترتیب او د څېړنې لپاره یې اړوندې ګمرکي اداري ته

(۳) ادارات گمرکی می توانند با در نظر داشت حکم مادهٔ سیزدهم این قانون و موافقه مقام وزارت مالیه، مقاولات مبنی بر تبادلهٔ معلومات را جهت تطبیق بهتر اسناد تقنینی گمرکی، با سازمان های دولتی و غیر دولتی داخلی و خارجی عقد نمایند.

(۴) ادارات گمرکی تیمهای بررسی گمرکی را به منظور تصدیق از مطابقت کمیت و کیفیت اموال مورد انتقال با مندرجات اسناد گمرکی منضمهٔ آن حین خروج از نقاط عبوری سرحدی، میدان های هوایی و دفاتر گمرکی داخلی و در ساختمان های مربوط تورید کننده گان تعیین می نماید. در صورتیکه اموال و انتقال آن با اسناد گمرکی مطابقت داشته باشد، تیم بررسی گمرکی اسناد را تأیید و مهر می نمایند. هر گاه اموال و انتقال آن با اسناد گمرکی مطابقت نداشته باشد راپور کتبی موضوع را ترتیب و جهت رسیدگی به ادارهٔ گمرکی

استوي.

(۵) ګمرکي اداري د ګمرکي قلمرو په دننه کې د سړکونو په اوږدو کې د مالونو د ناقلینو د څېړنې په غرض ګرځنده ټیمونه ټاکي.د ګرځندو ټیمونو غړي د هویت د کارتونو په ښودلو سره، ګمرکي سندونه او مالونه معاینه او د موضوع لیکلی رپوټ له اړوندې لایحې سره په مطابقت کې مربوطې ګمرکي اداري ته استوي.

(۶) ګمرکي مامورین کولای شي ګمرک ته احضار شوي مالونه، د صحي او محیطي ګواښ د احساس په صورت کې اظهاروونکي ته له خبر ورکولو وروسته د اړوندې کړنلارې مطابق تخریب او یا یې له ساحې څخه وباسي.

(۷) که چېرې د ګمرکي ادارو کار کوونکي د تقنیني سندونو له حکمونو څخه د سر غړونو په اړه د نورو دولتي ادارو د مسئولینو معلومات چې د هېواد په ګمرکي قلمرو کې فعالیت کوي، لاسته راوړي، موضوع په لیکلې توګه د څېړلو لپاره د اړوند ګمرک اداري ته وړاندې کوي.

مربوط ارسال می نماید.

(۵) ادارات گمرکی تیم های سیار را غرض بررسی ناقلین اموال در امتداد سرکهای داخل قلمرو گمرکی تعیین می نماید. اعضای تیم های سیار با ارائۀ کارت هویت، اسناد گمرکی و اموال را معاینه و راپور کتبی موضوع را به ادارۀ گمرك مربوط در مطابقت با لایحۀ مربوط ارائه می نمایند.

(۶) مامورین گمرکی می توانند در صورت احساس خطر صحی و محیطی اموال احضار شده به گمرك را بعد از اطلاع به اظهار کننده طبق طرزالعمل مربوط تخریب یا از ساحه خارج نمایند.

(۷) هر گاه کارکنان ادارات گمرکی معلومات مسئولین سایر ادارات دولتی را که در قلمرو گمرکی کشور فعالیت می نمایند، مبنی بر تخلفات از احکام اسناد تقنینی گمرکی بدست آورند، موضوع را طور کتبی جهت رسیدگی به ادارۀ گمرکی ذیربط ارائه می نمایند.

(۸) کـه چېرې پـولیس هغـه نقلیـه وسیله چې د ګمرک د مـامورینو په واسـطه مهـر او لاک شـوې ده، تـر څېړنې لاندې ونیسي، پدې حالت کـې نقلیـه وسـیله ډېـرې نېـږدې ګمرکي اداري ته لېږدول کېږي او د مهر د لیرې کولو او څېړنو په هکله د ګمرک د مامورینو موافقه اخلي، پدې صورت کې پولیس او ګمرکي کـار کـوونکي د موضـوع لیکلـی رپوټ د څېړنې په غـرض، د ګمرک اداري ته استوي.

د معلوماتو برابرول

دوولسمه ماده:

(۱) ګمرکـي مـامورین کـولای شـي غوښـتونکو تـه د ګمرکـي تقنینـي سندونو د حکمونـو د تطبیـق د ډول په هکله، د مالیې وزارت په ترتیب شـوو فورمـو کې لازم معلومـات پـه وړیـا توګـه برابـر کړي، پـدې شـرط چې په روانـو وارداتـي یـا صـادراتي فعـالیتونو پـورې اړه و نـه لـري او د دې قانون په دیارلسمه ماده کې لـه درج شـوو حکمونـو سـره مغـایرت ونلري.

(۲) پـه هغـه صـورت کـې چـې د

(۸) هـــر گـاه پـولیـــس وسیـلهٔ نـقـلیـه را کـه تـوسـط مـامـورین گـمـرکـی مـهر و لاك شـده، مـورد بازرسی قـرار دهـد، در ایـن حالـت وسیلهٔ نقلیـه بـه نزدیـك تـرین ادارهٔ گمرکـــی انـتـقـــال و موافقـــه مـــامورین گمـــرك را مبنـــی بـــر برداشـتن مهـر و بازرسـی هـا اخـذ می نمایند. در این صورت پـولیس و کارکنـان گمرکـی راپـور کتبـی موضـوع را غـرض رسـیدگی بـه ادارهٔ گمرك ارسال می نمایند.

فراهم آوری معلومات

مادهٔ دوازدهم:

(۱) مـامورین گمرکـی مـی تواننـد در مورد طرز تطبیق احکام اسناد تقنینـی گمرکـی بـرای متقاضـیان معلومـات لازم را در فورمـه هـای مرتبـه وزارت مالیـه طـور رایگـان فـــراهم نماینـــد، مـــشروط بـــر اینکـه بـه فعالیتهـای وارداتـی یـا صادراتی جاری مربوط نبوده و با احکـام منـدرج مـادهٔ سیزدهم ایـن قـــانون مغـــایرت نداشـــته باشد.

(۲) در صـورتیکه ارائـهٔ معلومـات

معلوماتو وړاندې کول د لګښتونو غوښتنه وکړي، ګمرکي مامورين کولای شي تر سره شوي لګښتونه له غوښتونکي څخه تحصيل کړي.

(۳) د مالیې وزارت کولای شي عندالضرورت لازم معلومات په برابرو شوو فورمو کې له اړوندو اشخاصو څخه وغواړي.

(۴) د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو اشخاصو معلومات، له لاسلیک وروسته د اعتبار وړ دي.

ایجاب مصارف را نماید، مامورین گمرکی می توانند مصارف انجام شده را از متقاضی تحصیل نماید.

(۳) وزارت مالیه می تواند عندالضرورت در فورمه های مرتبه معلومات لازم را از اشخاص ذیربط مطالبه نماید.

(۴) معلومات اشخاص مندرج فقرهٔ (۳) این ماده بعد از امضاء مدار اعتبار می باشد.

د محرمیت ساتل

دیارلسمه ماده:

لاندې معلومات د مسلکي اسرارولە جملې څخه دي او ګمرکي مامورين د اړوند شخص له اجازې او قانوني مجوز پرته هغه نشي افشاء کولای:

۱- دټاکل شوومالونو د بیې ټاکل.

۲- د مالونو د برابروونکو بشپړ شهرت.

۳- د کتنو (ازمېښتونو) پایلې.

۴- نور هغه معلومات چې د محرمیت پر بنسټ د ګمرکونو اداري ته برابر شوي وي.

حفظ محرمیت

مادهٔ سیزدهم:

معلومات ذیل از جملهٔ اسرار مسلکی بوده و مامورین گمرکی بدون اجازهٔ شخص ذیربط و مجوز قانونی آنرا افشاء کرده نمی توانند:

۱ - تعیین قیمت اموال معینه.

۲ - شهرت مکملهٔ فراهم کننده گان اموال.

۳ - نتایج معاینات (آزمایشات).

۴ - سایر معلوماتی که به اساس محرمیت به ادارهٔ گمرکات تهیه گردیده باشد.

د ګمرک له دفترونو څخه بهر ګمرکي څېړنه

څوارلسمه ماده:

ګمرکي مامورین کولای شي د سوداګریزو اړتیاوو او اړوندو اشخاصو د غوښتنې په اساس، په واردوونکي پوري په اړوندو ځایونو او ودانیو کې، یو شمېر څېړنې تر سره کړي، پدې صورت کې د سیمې د ګمرک رئیس د حالاتو په پام کې نیولو سره د تر سره شوو خدمتونو لګښتونه تثبیت او له واردوونکي څخه یې تحصیلوي.

بازرسی گمرکی خارج از دفاتر گمرك

مادۀ چهاردهم:

مامورین گمرکی می توانند به اساس نیازمندی های تجارتی و تقاضای اشخاص ذیربط در محلات وساختمان های مربوط به تولید کننده، عده ای از بازرسی ها را انجام دهد. در این صورت رئیس گمرك محل با در نظر داشت حالات مصارف خدمات انجام شده را تثبیت و از تولید کننده تحصیل می نماید.

د واردوونکي او صادروونکي مکلفیتونه

پنځلسمه ماده:

د وارداتي او صادراتي مالونو ګمرکي تصفیه، د مالیې وزارت څخه د جوازلیک لرونکي ګمرکي کمېشنکار په واسطه صورت مومي. د دې قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې درج پستي مالونه او هغه مالونه چې د دې قانون په پنځه څلوېښتمه ماده کې د درج شوو مسافرینو لخوا

مکلفیت های وارد کننده و صادر کننده

مادۀ پانزدهم:

تصفیۀ گمرکی اموال وارداتی و صادراتی توسط کمیشن کار گمرکی دارندۀ جواز از وزارت مالیه، صورت می گیرد. اموال پستی مندرج مادۀ چهل و دوم این قانون و اموالی که توسط مسافرین مندرج مادۀ چهل و پنجم این قانون وارد می

واردیږي، لدې امر څخه مستثنی دي.

گردد، از این امر مستثنی می باشد.

کمېشن کاري

شپاړسمه ماده:

(۱) ګمرکي کمېشنکاري غیر دولتي شغل دی چې د مالیې له وزارت څخه د جواز له اخیستلو وروسته یې شخص، سرته رسولی شي.

(۲) د فعالیت د جواز د تر لاسه کولو شرایط، د کمېشنکار حقوق او وجایب د هغې جلا لایحې په واسطه چې د مالیې وزارت لخوا منظورېږي، تنظیمېږي.

کمیشن کاری

مادۀ شانزدهم:

(۱) کمیشن کاری گمرکی شغل غیر دولتی است که بعد از کسب جواز از وزارت مالیه، شخص آن را انجام داده می تواند.

(۲) شرایط کسب جواز فعالیت و حقوق و وجایب کمیشن کار گمرکی توسط لایحۀ جداگانه ایکه از طرف وزارت مالیه منظور می‌گردد، تنظیم می شود.

د تصمیمونو نیول

اووه لسمه ماده:

(۱) ګمرکي مامورین کولای شي، د شخص د غوښتنلیک په اثر د خاصې معاملې په هکله، د ګمرکي تقنیني سندونو مطابق تصمیم ونیسي.

غوښتنلیک ورکوونکی مکلف دی هغه معلومات او سندونه چې د ګمرکي مامورینو لخوا غوښتل کېږي، برابر او د تصمیم نیولو په

اتخاذ تصامیم

مادۀ هفدهم:

(۱) مامورین گمرکی می توانند بالاثر درخواست شخص در مورد معامله خاص مطابق اسناد تقنینی گمرکی تصمیم اتخاذ نمایند.

درخواست دهنده مکلف است معلومات و اسناد را که از طرف مامورین گمرکی مطالبه می گردد، تهیه و غرض اتخاذ

غـرض يـې د هغـو پـه واک کـې ورکړې.
(۲) ګمرکـي مـامورين مکلـف دي زيـات نـه زيـات تـر دېرشـو ورځـو مـودې پـورې، د دې مـادې پـه (۱) فقره کې درج شوی تصميم ونيسي او غوښـتنليک ورکـوونکي تـه يـې ابلاغ کړي.
(۳) د دې مـادې پـه (۲) فقـره کـې درج شـوی ګمرکي تصميم په هغـه صـورت کـې چـې د غوښـتنليک ورکـوونکي او يـا نـورو اشخاصـو د ګټـو پـه خـلاف نيـول شـوی وي، د ګمرک مامورين مکلف دي تصميم لـه دلايلـو او د اعتـراض د حـق د لرلـو لـه پوهولـو سـره يـو ځـای غوښتنليک ورکوونکي ته په ليکلې توګه ابلاغ کړي.

تـصـميم بـه دسـترس شـان قـرار دهد.
(۲) مـامـورين گمرکی مکلف انـد تـصـميم منـدرج فقـرۀ (۱) ايـن مـاده را حـداکـثر الـی مـدت سـی روز اتخـاذ و بـه درخـواسـت دهنـده ابـلاغ نمـايند.
(۳) در صـورتيکه تـصـميم گمرکـی منـدرج فقـرۀ (۲) ايـن مـاده مغـاير منـافع درخواسـت کننـده و يـا سـاير اشـخاص اتخـاذ شـده باشـد، مامورين گمرك مكلف اند تصميم را تـوأم بـا دلايـل و تفهيم مبنی بر داشـتن حـق اعتـراض بـه درخـواسـت دهـنـده طور کتبی ابلاغ نمايند.

پر ګمرکي تصميمونو باندې نوې کتنه

اتلسمه ماده:

(۱) ګمرکـي تـصـميمونه، د غوښـتنليک ورکـوونکي د اعتـراض په صورت کې تر نوې کتنې لاندې نيول کېدای شي.که چېرې تصميم د غوښـتنليک ورکـوونکي د ناسـمو

تجديـد نظـر بـر تـصاميم گمرکی

مادۀ هجدهم:

(۱) تـصاميم گمرکـی در صـورت اعتـراض درخواسـت کننـده مـورد تجديد نظر قرار گرفتـه می توانـد. هرگـاه تـصـميم بنـابر ارائـۀ معلومـات نادرسـت درخواسـت

معلوماتو د وړاندې کولو له امله نیول شوی وي، په هغه کې نوې کتنه صورت نشي موندلی.

د دې قانون په یوسلو شپږو اتیایمه ماده کې درج شوې نوې کتنه، لدې حکم څخه مستثنی ده.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي ګمرکي تصمیمونه د تطبیق وړ دي، ګمرکي دین د دې قانون په یو سلو شپږو اتیایمه ماده کې د درج شوې جریمې په استثنی تحصیل او تر وروستۍ پرېکړې پورې د امانت په توګه ساتل کېږي.

(۳) پر ګمرکي شخړه ایزو (متنازع فیها) تصمیمونو باندې د نوې کتنې غوښتنه، د سیمه ایز ګمرک دواکمنو دفترونوله لارې دګمرکونو د عمومي ریاست په نوم د ګمرکي مامورینو په واسطه د تصمیم له ابلاغ وروسته د (۱۰) ورځو په ترڅ کې وړاندې کېږي.د ګمرکونو عمومي ریاست مکلف دی د (۲۰) ورځو په موده کې د نوې کتنې د پایلو په هکله تصمیم ونیسي او صادریې کړي.که چېرې د ګمرکونو عمومي ریاست پدې موده کې تصمیم و نه نیسي،داسې ګڼل دهنده اتخاذ گردیده باشد، تجدید نظر در آن صورت گرفته نمی تواند.

تجدید نظر مندرج مادۀ یکصد و هشتاد و ششم این قانون از این حکم مستثنی است.

(۲) تصامیم گمرکی مندرج فقرۀ (۱) این ماده قابل تطبیق بوده، دین گمرکی به استثنای جریمه مندرج مادۀ یکصد و هشتاد و ششم این قانون تحصیل و الی فیصلۀ نهایی طور امانت نگهداری می شود.

(۳) درخواست تجدید نظر بر تصامیم متنازع فیها گمرکی از طریق دفاتر ذیصلاح منطقوی گمرك عنوانی ریاست عمومي گمرکات در ظرف (۱۰) روز بعد از ابلاغ تصمیم توسط مامورین گمرکی، تقدیم می گردد. ریاست عمومي گمرکات مکلف است در مدت (۲۰) روز تصمیم را در مورد نتایج تجدید نظر اتخاذ و صادر نماید. هر گاه ریاست عمومي گمرکات در این مدت تصمیم اتخاذ ننماید، چنین پنداشته می شود

کېږي چې غوښتنليک د غوښتنليک ورکـوونکي پـه ګټـه فيـصله شـوی دی.

(۴) کـــه چېـــرې غوښـــتنليک ورکـوونکی د ګمرکونـو د عمـومي رياست پر تصميم قناعت ونکړي او يـا د نـوې کتنـې غوښـتنليک د ګمرکونـو د عمـومي رياست لخـوا رد شـي، غوښـتنليک ور کـوونکی کولای شي خپل اعتراض د ګمرکي حکميت اداري ته وړاندې کړي.

(۵) د دې مـادې پـه (۴) فقـره کـې درج شوی اعتـراض ليک د تـصميم د تـر لاسـه کولـو لـه نېټـې څخـه د (۱۵) ورځـو په مـوده کې د ګمرکي حکميـت د اداري دفتـر تـه وړانـدې او د شـخړه ايـز مبلـغ پـه سلو کـې د دوه (۲٪)مبلغ په اندازه د لګښتونو د تضمين په نوم اخيستل کېږي.

که درخـواست بـه نفع درخواست دهنـــده فيـــصله ګردیـــده است.

(۴) هـر ګـاه درخواست دهنـده بـه تـصميم رياست عمـومي ګمرکـات قناعـت ننمايـد و يـا درخواسـت تجديـد نظـر از طـرف رياسـت عمـــومي ګمرکـــات رد ګـــردد، درخواســت دهنــده مــی توانــد اعتـــراض خـــود را بـــه ادارۀ حکميت ګمـرکی تقديم نمايد.

(۵) اعـتـراض نـامۀ مـندرج فقـرۀ (۴) ايـــن مـــاده از تـاريـــخ دريـــافت تـصميم در مـدت (۱۵) روز بـــه دفتـــر ادارۀ حـــکميت ګـمـــرکی ارائـــه و بـه انـدازۀ دو فيـصد (۲٪) مبلـغ مـورد تنـازع به عـنوان تضـمين مـصارف اخذ می گردد.

درېيم فصل
د اعتراض څېړل

فصل سوم
رسيدګی به اعتراض

حکميت
نولسمه ماده:

(۱) د ګمرکـي ادارو پـر تـصميمونو باندې د واردو شويو اعتراضـونو د

حکميت
مادۀ نزدهم:

(۱) بـــه منظـــور رســـيدګی بـــه اعتراضـــات وارده بـــر تـــصاميم

څېړنې په منظور، د ګمرکي حکمیت اداره د مالیې وزارت په چوکاټ کې جوړېږي.
(۲) د ګمرکي حکمیت اداره له دریو غړو څخه جوړه ده چې د مالیې وزیر په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظوری ټاکل کېږي.

ادارات گمرك ادارۀ حکمیت گمرکی در چوکات وزارت مالیه ایجاد می گردد.
(۲) ادارۀ حکمیت گمرکی متشکل از سه عضو بوده که به پیشنهاد وزیر مالیه و منظوری رئیس جمهور تعیین می گردند.

ګمرکي قرار
شلمه ماده:
(۱) ګمرکي قرار په هغو شخړو کې چې ګمرکي دین تر پنځوسو زرو (۵۰۰۰۰) افغانیو پورې وي، وروستی او د تطبیق وړ دی.
(۲) که چېرې د شخړې وړ دین له پنځوسو زرو (۵۰۰۰۰) افغانیو څخه زیات وي، د نه قناعت په صورت کې، دواړه خواوې کولای شی اړوندې تجارتي محکمې ته مراجعه وکړي. د محکمې حکم پدې هکله وروستی او واجب التنفیذ دی.

قرار گمرکی
مادۀ بیستم:
(۱) قرار گمرکی در منازعاتی که دین گمرکی الی پنجاه هزار (۵۰۰۰۰) افغانی باشد، نهایی و قابل تطبیق می باشد.
(۲) هر گاه دین گمرکی مورد منازعه متجاوز از پنجاه هزار (۵۰۰۰۰) افغانی باشد در صورت عدم قناعت، طرفین می توانند به محکمۀ تجارتی مربوط مراجعه نمایند. حکم محکمه در این مورد نهایی و واجب التنفیذ می باشد.

د قاچاقو پر اداري جریمو باندې نوې کتنه
یوویشتمه ماده:
د دې قانون په یوسلو اویایمه ماده

تجدید نظر بر جریمه های اداری قاچاق
مادۀ بیست و یکم:
جریمه های اداری جرم قاچاق

کـې درج شـوې د قاچـاقو د جـرم اداري جريمـې، د دواړو خـواوو پـه رضـايت وضـع کېږي، پرتـه لـه دې موضـوع د ګمرکـي حکميـت اداري ته وړاندې کېږي.

مـندرج مادۀ یکصد و هفتادم ایـن قـانون بـه اسـاس تراضـی طـرفین وضـع مـی گـردد، در غیـر آن موضـوع غـرض رسـیدگی بـه ادارۀ حکمیت گمرکی محول می شود.

د اجراآتو ډول

دوه ویشتمه ماده:

د ګمرکي حکميت اداري ته پر وارد شـوو اعتراضـونو د څېړنـې ډول، د جلا مقرري په واسطه تنظيمېږي.

طرز اجراآت

مادۀ بیست و دوم:

طرز رسیدگی بر اعتراضات وارده بـه ادارۀ حکمیـت گمرکـی طبـق مقررۀ جداگانه تنظیم می گردد.

څلورم فصل
ګمرکي تعرفه او د مالونو د بيې ټاکل

فصل چهارم
تعرفۀ گمرکی و تعیین قیمت امـوال

ګمرکي تعرفه

درويشتمه ماده:

(۱) ګـمرکي تعـرفـه هـغه سـند دی چـې د دې قـانون د حکمونـو مطابق وضع او د مـالونو صـادراتي او وارداتـي مـحـصـول، د هـغه د طبقه بندی پر بنسټ مشخصېږي.

(۲) ګمرکـي تعرفـه د ګمرکونـو د عمومي رئيس د وړانديز په اساس د مالیې وزیر لخوا منظورېږي.

(۳) پـه دې قـانون کـې درج شـوې

تعرفۀ گمرکی

مادۀ بیست و سوم:

(۱) تعرفۀ گمرکی سندی است کـه مطـابق احکـام ایـن قـانون وضـع و مـحـصـول صـادراتی و وارداتـی امـوال بـه اسـاس طـبـقـه بـنـدی آن مشخص می گردد.

(۲) تعرفـۀ گمرکـی بـه اسـاس پیشنهاد رئیس عمومي گمرکات توسط وزیر مالیه منظور می‌گردد.

(۳) تـعرفۀ مندرج ایـن قـانون تـابع

تعرفه د نړیوالو میثاقونو، مقاولو او نورو تقنیني سندونو تابع نشي کېدی، مګر دا چې له دغو نړیوالو میثاقونو، مقاولو، او نورو تقنیني سندونو څخه را پیدا شوي ګمرکي حکمونه، د تعدیل یا ضمیمې په توګه په ګمرکي تعرفه کې ځای کړی شي.

(۴) د ګمرکونو عمومي ریاست مکلف دی د امتعې د تشریح او نښې اېښودنې (کودګذاری) په هکله، د مالونو تعرفوي طبقه بندي د ګمرکاتو د نړیوال سازمان د هم آهنګ شوي سیستم مطابق عیار کړي او د ګمرکي تعرفې اړوند محصول وټاکي.

میثاقها، مقاولات بین المللی و سایر اسناد تقنینی بوده نمی تواند، مگر اینکه احکام گمرکی ناشی از این میثاقها، مقاولات بین المللی و سایر اسناد تقنینی منحیث تعدیل یا ضمیمه در تعرفه گمرکی گنجانیده شود.

(۴) ریاست عمومي گمرکات مکلف است طبقه بندی تعرفوی اموال را در مورد تشریح و کود گذاری امتعه مطابق سیستم هماهنگ شدۀ سازمان جهانی گمرکات عیار نموده، محصول مربوطۀ تعرفۀ گمرکی را وضع نماید.

د مالونو د بیې ټاکل

څلېرېشتمه ماده:

(۱) د ګمرکي دین د اخیستلو په منظور، د مالونو د ګمرکي نرخ ټاکل، د جلا مقررې مطابق، د اړوند ګمرک د مامورینو لخوا صورت مومي.

(۲) د هغه شمېر مالونو لپاره چې بیه یې له شک او تردید سره مخامخ وي، د کاذبې بیې له ټاکلو څخه د

تعیین قیمت اموال

مادۀ بیست و چهارم:

(۱) تعیین نرخ گمرکی اموال به منظور اخذ دین گمرکی، مطابق مقررۀ جداگانه از طرف مامورین گمرکی مربوط صورت می گیرد.

(۲) به منظور جلوگیری از تعیین قیمت کاذب برای عده ای از اموال که قیمت آن مواجه به شك

مخنيوي په منظور، حد اقل بيه، د اړونـدې کـړنلارې مطـابق، د ګمرکونـو د عمـومي رياست لخـوا ټاکل کېږي.
د نومـوړو مـالونو لست، د هغـو لـه ټاکلې بيې سره خپرېږي.

د تبادلې نرخ
پنځه ويشتمه ماده:
(۱) د مالونو بيه د تقنيني سندونو مـطابـق، په افغـاني رايجو پيسو محاسبه کېږي.
(۲) کـه چېـرې د مـالونو بيـه پـه بهرنيو اسعارو باندې تثبيت شوې وي، د ګمرکي نرخ د ټاکنې د اړتيا پـه صـورت کـې د تبـادلې نـرخ د د افغانـستان بانـک د تبـادلې د نـرخ مطابق ټاکل کېږي.
(۳) د د افغانستان بانک په واسطه د تبادلې نرخ، د هرې مياشتې په وروستۍ رسمي ورځ اعلانېږي او د هرې مياشتې د شپږمې ورځې له پيل څخه د را وروسته مياشتې تر شپږمې ورځې پورې د اعتبار وړ دی.
(۴) پـه هغـه صـورت کـې چـې د د افغانـستان بانـک اعـلان شـوی د

نرخ تبادله
مادۀ بيست و پنجم:
(۱) قـيمت امـوال مـطابـق اسناد تـقنيـنی بـه پـول رايـج افغـانی محاسبه می گردد.
(۲) هر گاه قيمت امـوال به اسعار خـارجی تثبيـت شـده باشـد، در صـورت ضـرورت تعيـين نـرخ گمرکـی، نـرخ تبادلـه مطـابق نـرخ تبادلـۀ د افغانـستان بانـک تعيـين می گردد.
(۳) نـرخ تـبـادلـه تـوسـط د افغانستان بـانـک در آخريـن روز رسـمـی هـر مـاه اعـلان مـی گـردد و از آغـاز روز شـشـم هـر مـاه الـی روز شـشـم مـاه بـعـدی مـدار اعـتـبـار اسـت.
(۴) در صـورتـيـکه نـرخ تـبـادلـۀ اعـلان شـدۀ د افـغـانـسـتـان

تبادلې نرخ، د دې مادې په دویمې فقره کې درج له اعلان شوي نرخ سره په سلو کې پنځه (۵٪) یا زیات توپیر ولري، نوی نرخ ټاکل کېږي او له دوه یمې رسمي ورځې څخه د تطبیق وړ نرخ په توګه ګمرکونو ته د هغه له اعلان او ابلاغ وروسته، په هماغې پاتې موده کې، ترګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

بانک پنج فیصد (۵٪) یا بیشتر از نرخ اعلان شدهٔ مندرج فقرهٔ (۲) این ماده تفاوت داشته باشد، نرخ جدید تعیین و از روز دوم رسمی بعد از اعلان و ابلاغ آن به گمرکات به حیث نرخ قابل تطبیق در متباقی همان میعاد مورد استفاده قرار می گیرد.

سریع الفساد مالونه

شپږویشتمه ماده:

د سریع الفساد مالونو ګمرکي نرخ، پر نورو مالونو باندې د تطبیق وړ ارزونې د معیارونو له په پام کې نیولو پرته، د اظهاروونکي د غوښتنلیک پر اساس، د سیمې د ګمرک د رئیس لخوا د ګمرکي تقنیني سندونو مطابق ټاکل کېږي.

اموال سریع الفساد

مادهٔ بیست و ششم:

نرخ گمرکی اموال سریع الفساد به اساس درخواست اظهار کننده بدون نظرداشت معیارهای ارزیابی قابل تطبیق بر سایر اموال از طرف رئیس گمرک محل مطابق اسناد تقنینی گمرکی تعیین می گردد.

پنځم فصل
ترجیحي تعرفې

فصل پنجم
تعرفه های ترجیحی

د ترجیحي تعرفې د ورکولو موارد

اووه ویشتمه ماده:

(۱) ترجیحي تعرفه، د دې قانون د درویشتمې مادې د (۳) فقرې له په

مواد اعطای تعرفهٔ ترجیحی

مادهٔ بیست و هفتم:

(۱) تعرفهٔ ترجیحی با در نظرداشت فقرهٔ (۳) مادهٔ بیست -

پام کې نیولو او د دې مادې د (۲) فقرې په درج شوو مواردو کې ورکول کېږي.

(۲) وارداتي مالونه په لاندې مواردو کې، د ګمرکي محصول له ورکولو څخه معافېږي:

۱- د ګمرکي تعرفې د مندرجاتو مطابق، د رسمي سفرونو په ترڅ کې د دولت د کار کوونکو په واسطه وارد شوي مالونه، په دې شرط چې بیه یې له سلو زرو افغانیو څخه زیاته نه شي.

۲- د واکمنو مقامونو له تأیید وروسته د سیاسي نمایندګیو او نړیوالو ادارو د دفترونو وسایل او لوازم او په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو مملکتونو د استازو د کور لوازم.

۳- د قرارداد د شرایطو مطابق، د هغو بهرنیو اتباعو شخصي سامان او لوازم چې په افغانستان کې دنده تر سره کوي.

۴- مجاز کتابونه، جریدې، مجلې او اخبار.

۵- هغه مالونه چې د دولتي پروژو د تمویل لپاره د پورونو د ورکړې او هغو مساعدتي مالونو له لارې وسوم این قانون و در موارد مندرج فقرۀ (۲) این ماده اعطاء می گردد.

(۲) اموال وارداتی در موارد ذیل از پرداخت محصول گمرکی معاف می گردد:

۱- اموال وارد شده توسط کارکنان دولت حین سفرهای رسمی طبق مندرجات تعرفۀ گمرکی، مشروط براینکه قیمت آن از یکصد هزار افغانی تجاوز ننماید.

۲- وسایل و لوازم دفاتر نمایندگی های سیاسی و ادارات بین المللی و لوازم خانۀ نمایندگان ممالک خارجی مقیم افغانستان بعد از تأیید مقامات ذیصلاح.

۳- سامان و لوازم شخصی اتباع خارجی که در افغانستان ایفای وظیفه می نمایند، مطابق شرایط قرارداد.

۴- کتب، جراید، مجلات و اخبار مجاز.

۵- اموالیکه جهت تمویل پروژه های دولتی از طریق اعطای قروض و اموال

چې د دولتي او غير دولتي خيريه او پرمختيايي کورنيو، بهرنيو او نړيوالو مؤسسو په واسطه يا د هغو لپاره هبواد ته وارد ېږي.

۶- هغه شخصي مالونه چې د افغاني هيئت يا افغان نړيوالو کارمندانو او په بهر کې د هغو د کورنيو د غړو په واسطه تر ګټې اخيستنې لاندې نيول شوي وي.

۷- د ګمرکي تعرفې د مندرجاتو مطابق، د مسافرينو شخصي مالونه.

۸- سوداګريزې نمونې (سمپلونه) او اشتهاري تحفې.

۹- هغه پست پارسل چې بيه يې له پنځو زرو (۵۰۰۰) افغانيو څخه زياته نه وي.

۱۰- افتخاري مډالونه يا جايزې.

۱۱- هغه نمونې (سمپلونه) چې د چاپ او خپرولو د حق (کاپي رايټ) يا د صنعتي او يا سوداګريزې حق الاختراع (پتنټ) د حق ساتونکو مؤسسو ته استول کېږي.

۱۲- د ګمرکي تعرفې د مندرجاتو مطابق، په هغه شخص پورې مربوط مستعمل منقول مالونه چې

مساعدتی ایکه توسط یا برای مؤسسات دولتی یا غیر دولتی خیریه و انکشافی داخلی، خارجی و بین المللی به کشور وارد می گردد.

۶ - اموال شخصی که توسط هیئت افغانی یا کارمندان بین المللی افغان و اعضای فامیل آنها در خارج مورد استفاده قرار گرفته باشد.

۷- اموال شخصی مسافرین مطابق مندرجات تعرفهٔ گمرکی.

۸- نمونه (سمپل) های تجارتی و تحایف اشتهاری.

۹- پست پارسل که قیمت آن بیش از پنج هزار (۵۰۰۰) افغانی نباشد.

۱۰- مدال ها یا جوایز افتخاری.

۱۱- نمونه (سمپل) هائیکه به مؤسسات حافظ حق طبع و نشر (کاپی رایت) یا حق الاختراع (پتنت) صنعتی و یا تجارتی فرستاده می شود.

۱۲- اموال منقول مستعمل مربوط به شخصی که محل اقامت خود را از سایر کشورها

د خپلې استوګنې ځای له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته لېږدوي.

۱۳- هغه محمولې چې ارزښت یې له یوزر (۱۰۰۰) افغانیو څخه لږوي.

۱۴- د نسل ګیرې لپاره د خالص نسل لرونکي ژوي (حیوانات) او حشرات او د علمي څېړنو د اړتیا وړ لابراتواري حیوانات بیولوژیکي او کیمیاوي مواد.

۱۵- هغه مواد چې انساني منشأ ولري او د درملنې لپاره ور څخه ګټه اخیستل کېږي او معرف مواد چې د وینې د ګروپ د ټاکلو او د انساجو د ډول د ټاکلو په منظور پکاروړل کېږي.

۱۶- هغه مواد چې د درملیزو تولیداتو د کیفیت د کنترولولو لپاره ترګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

۱۷- د اړوندې کړنلارې مطابق، د سون مواد، روغنیات او په نقلیه وسایطو پورې اړوند مواد چې د هغو د عادي فعالیت لپاره اړین وي.

به افغانستان انتقال می دهد، مطابق مندرجات تعرفهٔ گمرکی.

۱۳- محموله هایی که ارزش آن از یك هزار (۱۰۰۰) افغانی کمتر باشد.

۱۴- حیوانات و حشرات دارای نسل خالص غرض نسل گیری و حیوانات لابراتواری، مواد بیولوژیکی و کیمیاوی مورد ضرورت تحقیقات علمی.

۱۵- موادی که دارای منشاء انسانی بوده و غرض تداوی از آن استفاده می‌گردد و مواد معرف که به منظور تعیین گروپ خون و تعیین نوع انساج بکار می روند.

۱۶- موادی که جهت کنترول کیفیت تولیدات دوایی مورد استفاده قرار می گیرند.

۱۷- مواد سوخت، روغنیات و وسایل مربوط وسایط نقلیهٔ اموال که برای فعالیت های عادی آن ضروری باشد، طبق طرزالعمل مربوط.

۱۸- نور مالونه، عندالضرورت د مالیې وزارت په وړاندیز او د وزیرانو شوري په منظوري د دې مادې د ګمرکي معافیت په درج شوي لست کې شاملېدای شي.

د ترجیحي تعرفې غوښتنلیک

اته ویشتمه ماده:

(۱) اظهاروونکی کولای شي د ګمرکي پروسې له بشپړېدو د مخه یا وروسته، د ترجیحي تعرفې د تر لاسه کولو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي.

(۲) که چېرې ترجیحي تعرفه د وارداتي مالونو له حجم څخه په ټاکلي حد محدوده وي، په لاندې مواردو کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي:

۱- تعرفوي مجاز کمیت، همدا چې د وارداتي مالونو حجم ټاکلي حد ته ورسېږي.

۲- تعرفوي اعظمي حد، د مشخصو حکمونو مطابق چې په اړوندو قوانینو کې درج دي.

۳- د ترجیحي تعرفې د ورکولو شرایط او ډول، کمیتي محدودیتونه او د وارداتي مالونو

۱۸- سایر اموال عندالضرورت به پیشنهاد وزارت مالیه و منظوری شورای وزیران شامل لست معافیت گمرکی مندرج این ماده شده می تواند.

درخواست تعرفه ترجیحی

مادۀ بیست و هشتم:

(۱) اظهار کننده می تواند قبل یا بعد از اکمال پروسۀ گمرکی غرض دریافت تعرفۀ ترجیحی درخواست ارائه نماید.

(۲) هر گاه تعرفۀ ترجیحی به حد معین از حجم اموال وارداتی محدود باشد، در موارد آتی اعتبار خود را از دست می دهد:

۱- کمیت مجاز تعرفوی، همینکه حجم اموال توریدی به حد معینه برسد.

۲- حد اعظمی تعرفوی، مطابق با احکام مشخص که در قوانین مربوطه درج است.

(۳) شرایط و طرز اعطای تعرفۀ ترجیحی، محدودیت های کمیتی و محدودیت های متعلق به

په بيې پورې اړوند محدوديتونه او يا د ماهيت په منشاء پورې اړوندې ګټې او لـه مـالونو څخـه ګټـه اخيستنه، په جلا کړنلاره کې ټاکل کېږي.

قيمـت امـوال وارداتـی و يـا مـنفعت هـای مربوط بـه منشاء ماهيـت و اسـتفاده از امـوال در طرزالعمـل جـداگانه تعيـين مـی گردد.

شپږم فصل
د مالونو منشاء

فصل ششم
منشاء امـوال

په يوه هېواد کې د مالونو توليد نهه ويشتمه ماده:

(۱) هغـه مالونـه چې په يـوه هېـواد کې په بشپړ ډول تر لاسـه يـا توليـد شوي وي، نومورې هيـواد د مـالونو د منـشاء پـه توګـه پېژنـدل کېـږي او عبارت دي له:

۱- معـدني (منرالـي) محـصولات چـې پـه هماغـه هېـواد کـې استخراجېږي.

۲- نبـاتي محـصولات چـې حاصـل يې په هماغـه هېـواد کې اخيـستل کېږي.

۳- ژونـدي څـاروي (حيوانـات) چې په هماغه هېـواد کې زيږي او روزل کېږي.

۴- لـه څـارويو څخـه تـر لاسـه شـوي محصولات چې په هماغه هېواد کې

توليدات امـوال در يك كشور مادۀ بيست و نهم:

(۱) امـواليكه در يـك كـشور بـه صورت كامل استحصال يا توليد گرديـده باشـد، كـشور مـذكور بـه حيث منشاء امـوال شناخته شده و عبارت اند از:

۱- محـصولات معـدنی (منرالـی) كـه در همـان كـشور استخراج مـی گردد.

۲- محصولات نباتی كه حاصـل آن در همـان كـشور برداشـته مـی شود.

۳- حيوانـات زنـده كـه در همـان كـشور متولـد و پـرورش مـی يابند.

۴- محـصولات حـاصله از حـيوانـات كـه در هـمان

روزل کېږي.

۵- له ښکار او ماهي ګېرۍ څخه تر لاسه شوي تولیدات چې په هماغه هېواد کې صورت مومي.

۶- د ماهي ګیرۍ محصولات او نور بحري تولیدات چې د هغه د اوبو له (آبي) قلمرو څخه بهر د داسې بېړیو پواسطه لاسته راوړل شي چې د هماغه هېواد بیرغ لېږدوي او هم هلته ثبت او راجستر شوې وي.

۷- هغه تولیدات چې، د دې مادې په (۶) جزء کې له درج شوو محصولاتو څخه د هغو بېړیو په د ننه فابریکو کې چې د هغه هېواد بیرغ لېږدوي او هم هلته ثبت او راجستر شوې وي، تر لاسه یا تولید شي.

۸- هغه تولیدات چې د سیند له تل یا د سیند د تل له تحت الارض څخه د هماغه هېواد له آبي قلمروه بهر تر لاسه شي، پدې شرط چې نومورې هېواد د سیند له تل یا له تحت الارض څخه د استخراج اختصاصي حقوق ولري.

۹- فاضله او قراضه مواد چې له صنعتي فعالیتونو او د نه

کشور پرورش می یابند.

۵- تولیدات حاصله از شکار و ماهی گیری که در همان کشور صورت می گیرد.

۶ - محصولات ماهی گیری و سایر تولیدات بحری که خارج از قلمرو آبی آن توسط کشتی هایی بدست آیند که بیرق همان کشور را حمل نموده و در همانجا ثبت و راجستر گردیده باشد.

۷ - تولیداتی که از محصولات مندرج جزء (۶) این ماده در فابریکات داخل کشتی هاییکه حامل بیرق همان کشور بوده و در آنجا ثبت و راجستر شده باشد، استحصال یا تولید گردد.

۸ - تولیدات که از کف دریا یا تحت الارض کف دریا خارج از قلمرو آبی همان کشور استحصال گردد، مشروط براینکه کشور متذکره حقوق اختصاصی استخراج از کف دریا و یا تحت الارض را داشته باشد.

۹ - مواد فاضله و قراضه ایکه از فعالیت های صنعتی و مواد غیر

استفادې وړ موادو څخه منشاء اخلي، پدې شرط چې نوموړي مواد په هماغه هېواد کې راټول شوي وي او یوازې د خامو موادو د بیا موندلو لپاره مناسب وي.
(۲) هغه محصولات چې په بشپړه توګه د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو مالونو څخه استحصال او یا یې مشتقات د تولید په هره مرحله کې قرار ولري.

قابل استفاده منشاء می گیرد، مشروط براینکه مواد متذکره در همان کشور جمع آوری گردیده و صرف برای بازیابی مواد خام مناسب باشد.
(۲) محصولاتیکه کاملاً از اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده استحصال یا تولید گردیده و یا مشتقات آن در هر مرحلهٔ از تولید قرار داشته باشد.

له یوه څخه په زیاتو هېوادونو کې د مالونو تولید
د پرشمه ماده:
هغه مالونه چې په تولید کې یې له یوه څخه زیات هېوادونه برخمن وي، منشاء یې هغه هېواد پېژندل کېږي چې د نومورو مالونو د اساسي پروسس وروستنۍ مرحلې، هلته صورت موندلی وي.

تولید اموال در بیشتر از یک کشور
مادهٔ سی ام:
اموالیکه در تولید آن اضافه تر از یک کشور سهیم باشد، منشاء آن کشوری شناخته می‌شود که آخرین مرحله پروسس اساسی اموال مذکور در آنجا صورت گرفته باشد.

د منشاء تصدیق
یو د پرشمه ماده:
(۱) د مالونو د منشاء د اثباتوونکو سندونو د تصدیق ډول (طرز)، د جلا کړنلارې مطابق تنظیمېږي.
(۲) د مالونو د منشاء د

تصدیق منشاء
مادهٔ سی و یکم:
(۱) طرز تصدیق اسناد اثبات کنندهٔ منشاء اموال مطابق طرزالعمل جداگانه تنظیم میگردد.
(۲) تصدیق اسناد تثبیت

تثبیتوونکـو سـندونو تـصدیق د مالونو د تولید د سیمې د مسئولو مراجعو لخوا صادرېدی شي.

(۳) کـه چېرې د مـالونو د منـشاء د تـصدیق پـانې پـه هکلـه، ګمرکـي مـامورینو تـه شـک او تردیـد پیـدا شـي، کـولای شـي، لـه ګمرکـي تقنینـي سـندونو سـره د مـالونو د منـشاء د سـند لـه مطابقـت څخـه د ډاډ د تـر لاسـه کولـو پـه منظـور، اضافی مدارک وغواړي.

(۴) د دې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوې کـرښلاره، د مـالونو د منشاء په توګه د یوه ټاکلي هېواد د پېژندنې شرایط اټکل کـوي چې په لاندې مواردو کې تطبیقېږي.

۱- د ګمرکي تعرفې په تطبیق کې، د دې قانون د درویشتمې مادې په (۲) فقره کې له درج شوو حکمونو پرته.

۲- د ټاکلو مـالونو د سـوداګرۍ د محـدودولو پـه اړه، د دولـت د تدبیرونو په نیولو کې.

کننـدۀ منـشاء امـوال از طـرف مراجـع مـسئول منطقـۀ تـولید امـوال صـادر شـده می تواند.

(۳) هر گاه در مورد تصدیق نامۀ منـشاء امـوال نـزد مـامـورین گمرکی شك و تردید ایجاد گـردد، می تـوانـند مـدارك اضـافـی را بـه منظـور اطـمینـان از مطابقت سند منشاء امـوال بـا اسناد تقنینی گمرکی مطالبه نمایند.

(۴) طـرزالـعمـل منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن ماده شرایط شناخت یك کـشور معـین بـحیـث منـشاء امـوال را پـیش بیـنی مـی نماید که در موارد آتی تطبیق می گردد:

۱ - در تطبیـق تعرفـۀ گمرکـی بـه استثنای احکـام منـدرج فقـرۀ (۲) مـادۀ بیـست و سـوم ایـن قانون.

۲ - در اتـخاذ تـدابیـر دولـت مبنـی بـر محـدود ساختـن تجارت امـوال معـین.

ترجیحي منشاء

دوه دېرشمه ماده:

په نړیوالو ژمنلیکونو (مقاولو) کې

منشاء ترجیحی

مادۀ سی و دوم:

شـرایط ترجیـحـی تعیـین منـشاء

لـه درج شـوو ترجيحـي آسـانتياوو څخـه د ګټـې اخيـستنې لپـاره د مـالونو د منـشاء د ټاکلو ترجيحـي شـرايط او د ترجيحـي تـصديق ليکونـو د صـادرېدو ډول پـه جـلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

د مالونو راګرځېدل

دري دېرشمه ماده:

(۱) هغـه افغـاني يـا غيـر افغـاني مالونه چې په هېواد کې آزاد دوران تـه تـرخيص شـوي او لـه صـادرېدو وروسته بيا د هېواد ګمرکي قلمرو تـه وارد شـي، د راګرځـول شـوو مالونو په نوم يادېږي.که چېرې دغه مالونـه لـه افغانـستان څخـه بهـر پروسـس شـوي وي، د بهرنـي پروسس د شرايطو تابع دي.

(۲) پـر افغـاني مـالونو بانـدې د وارداتـي محـصول معافيـت چـې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صادر شوي وي او تر دريـو کلونـو مـودې پـورې بيـا ګمرکـي قلمـرو تـه راوګرځي او آزاد دوران تـه تـرخيص شـي، د غوښـتنليک ورکـوونکي پـه غوښـتنه ورکـول کېږي.د ګمرکونـو عمـومي رياسـت کـولای شـي د امـــوال جهـــت اســـتفاده از تـسهيلات ترجيحـی منـــدرج در مقاولات بـين المللی و طرز صدور تـصديق نامـه هـــای تـرجـيحی در طرزالعـمل جداگانـه تنـظيم مـی گـردد.

بازګشت امـوال

مادۀ سی و سوم:

(۱) امـوال افغانی يـا غيـر افغـانی کـــه در کـــشور بـــه دوران آزاد ترخيص گـرديـده و بعد از صـدور دوبـاره بـه قلمـرو گمرکـی کـشور وارد شـود، بنـام امـوال بازگشت شده يـاد مـی‌گـردد. هـر گـاه ايـن امـــوال در خـارج از افـغانـــستان پروسس شده باشد، تـابع شـرايط پروسس خارجی می باشد.

(۲) معافيت محصول وارداتی بـر امـوال افغانی که از قلمرو گمرکی کشور صـادر گرديده و الی مدت سه سال دوبـاره بـه قلمـرو گمرکـی بازگـشت نمـوده و بـه دوران آزاد تـرخيص گـردد، بنـابر درخواسـت تقاضـا کننـده اعطـاء مـی گـردد. رياست عمومي گمرکات می تواند بـا در نـــظرداشت حـالات ايـن

حالاتو په پام کې نیولو سره دغه موده اوږده کړي.

(۳) که چېرې راګرځېدلي مالونه، د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه له صادرېدو د مخه، د امتیازي تعرفې پر بنسټ، آزاد دوران ته مرخص شوي وي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي معافیت تابع ګڼل کېږي، پدې شرط چې بیا توریدیې په عین مقصد صورت موندلی وي.

(۴) په هغه صورت کې چې وارداتي محصول، آزاد دوران ته د مالونو د لومړي ترخیص په وخت کې ورکړل شوی وي، له هغه محصول څخه چې د دغه ډول مالونو د بیا راګرځېدو په وخت کې اخیستل کېږي، وضع کېږي.

میعاد را تمدید نماید.

(۳) هر گاه اموال بازگشت شده قبل از صدور آن از قلمرو گمرکی کشور، به اساس تعرفهٔ امتیازی بدوران آزاد مرخص گردیده باشد، تابع معافیت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده پنداشته می شود، مشروط براینکه توریدِ مجدد آن به عین مقصد صورت گرفته باشد.

(۴) در صورتیکه محصول وارداتی در زمان ترخیص اولی اموال بدوران آزاد تأدیه شده باشد، از محصولی که حین بازگشت مجدد چنین اموال اخذ می گردد، وضع می شود.

اووم فصل
ګمرک ته د مالونو احضارول

فصل هفتم
احضار اموال به گمرک

د مالونو ننوتل او وتل څلور دېرشمه ماده:

(۱) د مالونو د ننوتلو او وتلو وخت له هغه وخت څخه عبارت دی چې مالونه د هېواد له سرحدونو څخه

دخول و خروج اموال
مادهٔ سی و چهارم:

(۱) زمان دخول و خروج اموال عبارت از زمانی است که اموال به منظور دخول یا

ننوتلو یا وتلو په منظور د هېواد له پولو (سرحدونو) څخه تېرشي.

(۲) د سوداګریزې نقلیه واسطې چلوونکی چې د هېواد ګمرکي قلمرو ته د ننه یا له هغه څخه وځي، مکلف دی په اړونده واسطه کې د موجودو مالونو بارلیک له لاسدې مودې د مخه ګمرکي مامورینو ته وسپاري:

۱- د مالونو وړونکې الوتکې یا بیړۍ کپتان، هغه وخت چې مالونو له هغو څخه تخلیه کړل شي.

۲- نور نقلیه وسایط، هغه وخت چې د افغانستان ګمرکي قلمرو ته ننوځي.

(۳) د هغو مسافرینو د مالونو د جزئیاتو درجول چې د دې قانون د پنځه څلوېښتمې مادې د حکم مطابق، د خپلو اړوندو مالونو په اظهار مکلف وي، د مالونو په بارلیک کې اړین نه ګڼل کېږي.

(۴) د مالونو بارلیک د نقلیه واسطې د تابعیت، بیرغ او عملې او د مالونو د محمولې د پېژندنې په غرض د نورو لازمو معلوماتو لرونکی وي چې د جلا کړنلارې مطابق تنظیمېږي.

خروج از قلمرو گمرکی از سرحدات کشور عبور نماید.

(۲) رانندۀ واسطۀ نقلیۀ تجارتی که به قلمرو گمرکی کشور داخل یا از آن خارج می‌گردد، مکلف است بارنامۀ اموال موجود در واسطۀ مربوط را قبل از مدت زمان ذیل به مامورین گمرکی تسلیم نماید:

۱ - کپتان طیاره یا کشتی حامل اموال، زمانی که اموال از آنها تخلیه شده بتواند.

۲ - سایر وسایط نقلیه، زمانی که به قلمرو گمرکی افغانستان داخل گردد.

(۳) درج جزئیات اموال مسافرینی که مطابق حکم مادۀ چهل و پنجم این قانون مکلف به اظهار اموال مربوطۀ شان باشند، در بارنامۀ اموال ضروری پنداشته نمی شود.

(۴) بارنامۀ اموال حاوی معلومات در مورد تابعیت، بیرق و عملۀ واسطۀ نقلیه و سایر معلومات لازم غرض شناسایی محمولۀ اموال می باشد که طبق طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

(۵) هغه مالونه چې د هېواد ګمرکي قلمرو ته راننویستل کېږي له ننویستل کېدو سره سم، د ګمرک د مامورینو د څارنې او څېړنې تابع دي او له اصلي ځای څخه د ګمرکي مامورینو له اجازې پرته نشي بېځایه کېدی.

(۶) مالونه د وروستي ګمرکي موقف تر ټاکنې او تطبیق پورې، تر ګمرکي څارنې او څېړنې لاندې پاتې کېږي.

(۵) امواليكه به قلمرو گمركی كشور داخل می‌گردد، به مجرد دخول، تابع نظارت و بازرسی گمركی مامورين گمرك بوده و از محل اصلی بدون اجازهٔ مامورين گمركی بيجا شده نمی تواند.

(۶) اموال الی تعيين و تطبيق موقف گمركی نهايی تحت نظارت و بازرسی گمركی باقی می ماند.

د مالونو د احضار ځای

پنځه دېرشمه ماده:

د ګمرکونو عمومي ریاست واک لري، ګمرک ته د مالونو د احضارولو او لېږدولو لپاره ځای وټاکي، له سرحدي ګمرک څخه تر ټاکلي ځای پورې د وارداتي مالونو د بشپړ لېږدونې دول او موده یې په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

محل احضار اموال

مادهٔ سی و پنجم:

ریاست عمومي گمركات صلاحيت دارد محلی را جهت احضار و انتقال اموال به گمرك تعيين نمايد. طرز انتقال كامل اموال وارداتی از گمرك سرحدی الی محل تعيين شده و ميعاد آن در طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

د مالونو په احضارولو کې انتقالاتي خنډونه

شپږ دېرشمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې مالک

موانع انتقالاتی در احضار اموال

مادهٔ سی و ششم:

(۱) در صورتيكه مالك بنابر

د ناڅاپي (فورس ماژور) حالاتو له امله مالونه د دې قانون په پنځه دېرشمه ماده کې درج ټاکل شوي ځای ته و نه لېږدولی شي، مکلف دی موضوع د ګمرکي مامورینو خبرتیا ته ورسوي.

(۲) که چېرې مالونه د ناڅاپي پېښېوله امله بشپړنه وي ضایع شوي، پدې صورت کې هم مالک مکلف دی د مالونو له دقیق ځای څخه ګمرکي مامورینو ته خبر ورکړي.

(۳) که چېرې الوتکې د ناڅاپي (فورس ماژور) پېښېوله امله د هېواد ګمرکي قلمرو ته په راننوتلو یا مؤقته ناسته مجبورې شي، کپتان یا یې استازی مکلف دی بې له ځنډه موضوع ګمرکي مامورینو ته خبر ورکړي.

(۴) د ګمرک مامورین مکلف دي، پدې ماده کې پر درج شوو مالونو د ګمرکي ځارنې او یایې د ګمرکونو دفتر یا نورو ټاکلو ځایونو ته د وروستي لېږدونې په منظور، لازم تدبیرونه ونیسي.

حالات غیر مترقبه (فورس ماژور)، اموال را به محل تعیین شده مندرج مادهٔ سی و پنجم این قانون انتقال داده نتواند مکلف است موضوع را به اطلاع مامورین گمرکی برساند.

(۲) هر گاه اموال بنابر حوادث غیر مترقبه کاملاً ضایع نگردیده باشد در این صورت نیز مالك مکلف است از محل دقیق اموال به مامورین گمرکی اطلاع دهد.

(۳) هر گاه طیارات به نسبت حوادث غیر مترقبه (فورس ماژور)، مجبور به دخول یا نشست مؤقت در قلمرو گمرکی کشور گردد، کپتان یا نمایندهٔ وی مکلف است بلا فاصله موضوع را به مامورین گمرکی اطلاع دهد.

(۴) مامورین گمرکی مکلف اند به منظور نظارت گمرکی بر اموال مندرج این ماده و انتقال بعدی آن به دفتر گمرکات یا سایر محلات تعیین شده تدابیر لازم اتخاذ نمایند.

د وروستۍ مرجع هوايي ډګر ته د هوا له لارې د انتقال شوو محمولو احضارول

اووه دېرشمه ماده:

(۱) هغه وخت چې مالونه له بهر څخه د هېواد ګمرکي قلمرو ته د هوا له لارې رانویستل شي او نومورې مالونه د لېږدونې په واحد سند کې شامل وي، د لېږدونې په عین طریقه د هېواد بل هوايي ډګر ته ولېږدول شي، نومورې مالونه بې له ځنډه، په هغه هوايي ډګر کې چې مالونه هلته تخلیه شوي دي ګمرک ته احضارېږي.

(۲) د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د مالونو د ننویستلو او ویستلو په وخت کې د څېړنې، څارنې او نورو ګمرکي اجراآتو ډول، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

احضار محموله های انتقال شده از طریق هوا به میدان هوایی مرجع نهایی

مادۀ سی و هفتم:

(۱) حینی‌که اموال از خارج به قلمرو گمرکی کشور از طریق هوا داخل و اموال متذکره شامل سند واحد انتقالاتی بوده، توسط عین شیوۀ انتقال به میدان هوایی دیگری کشور نقل گردد، اموال مذکور بدون تأخیر، در میدان هوایی که اموال در آن تخلیه گردیده به گمرك احضار می گردد.

(۲) طرز بازرسی، نظارت وسایر اجراآت گمرکی حین دخول و خروج اموال به قلمرو گمرکی کشور در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

ګمرکي مامورینو ته د بارلیک وړاندې کول (ښودل)

اته دېرشمه ماده:

(۱) د وارداتي او صادراتي مالونو وړونکې الوتکې، د ملکي هوايي چلند د قانون د حکمونو مطابق، له

ارائۀ بارنامه به مامورین گمرکی

مادۀ سی و هشتم:

(۱) طیارات حامل اموال وارداتی و صادراتی مطابق احکام قانون هوانوردی ملکی از دهلیزهای

ټاکلو هوايي دهلېزونو څخه تېرېږي راتېرېږي او يوازې له هغو نړيوالو هوايي ډګرونو څخه چې د بهرنيو الوتنو لپاره منظور شوي دي، ګټمه اخيستنه کوي.

(۲) د مالونو وړونکې الوتکې کپتان مکلف دې چې له الوتنې د مخه، د مالونو ګمرکي اظهار ليک يا بار ليک چې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صادرېږي ګمرکي مامورينو ته وړاندې کړي.

ګمرکي مامورين مکلف دي بار شوي مالونه له اظهار ليک او بار ليک سره د مطابقت په منظور تثبيت کړي.

هوایی معینه عبور و مرور نموده و صرف از میدان های هوایی بین المللی که برای پرواز های خارجی منظور گردیده، استفاده می نماید.

(۲) کپتان طیارهٔ حامل اموال مکلف است که قبل از پرواز اظهار نامه یا بارنامهٔ گمرکی اموال را که از قلمرو گمرکی کشور صادر می گردد، به مامورین گمرکی ارائه نماید.

مامورین گمرکی مکلف اند اموال بار شده را به منظور مطابقت آن با اظهار نامه یا بارنامه تثبیت نمایند.

د الوتکې ګمرکي څارنه

نهه دېرشمه ماده:

(۱) د دې قانون د اووه دېرشمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مالونو پرته، الوتکه، کابين، د الوتنې کار کوونکي او مسافرين او انتقالېدونکي مالونه، د افغانستان په لومړي وصولي هوايي ډګر کې د ګمرکي څارنې تابع دي.

(۲) هغه هوايي ډګرونه چې د

نظارت گمرکی طیاره

مادهٔ سی و نهم:

(۱) طیاره، کابین، کارکنان پرواز، مسافرین، اثاثیهٔ کارکنان پرواز و مسافرین و اموال انتقال شونده در اولین میدان هوایی وصولی افغانستان، به استثنای اموال مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ سی و هفتم این قانون تابع نظارت گمرکی می باشند.

(۲) میدانهای هوایی که مطابق

ملکـي هـوايي چلنـد د قـانون حکمونـو مطـابق د نړيوالـو الوتنـو لپـاره مجـاز دي، د ګمرکـي څـارنې تابع دي.

(۳) کپتـان دې پـه مجـوزه هـوايي ډګر کې د الـوتکې لـه ناسـتې سره سـم، پـه الوتکـه کـې د ټولـو لېږدېدونکو مـالونو بارليک، د دې قانون د څلور دېرشمې مادې په (۳) فقره کې لـه درج شوو مـالونو پرتـه، د ګمرکونو دفتر ته تسليم کړي.

(۴) د دې مـادې پـه (۱)، (۲) او (۳) فقـرو کـې درج شـوي حکمونـه، لـه هېـواد څخـه بهـر تـه د الـوتکې د روانېدو په وخت کې هم، د تطبيق وړ دي.

احکـام قـانون هوانـوردی ملکـی برای پرواز های بین المللی مجاز انـد، تـابع نظـارت گمرکـی مـی باشد.

(۳) کپتان به مجرد نشست طیـاره در میـــدان هـــوایی مجـــوزه، بارنامـۀ تمـام امـــوال انـتقـــال شـونده در طیـاره را بـه اسـتثنای امـــوال منـــدرج فقـــرۀ (۳) مـادۀ سی و چهـارم ایـن قـانون بـه دفتر گمرکات تسلیم نماید.

(۴) احکام مندرج فقـره های (۱)، (۲) و (۳) ایـــن مـــاده حـــین عـــزیمت طیـاره بـــه خـــارج از کـشور نیـز قابـل تطبیـق مـی باشد.

د بارليک لـه وړانـدې کولـو څخـه معافيت

څلوېښتمه ماده:

د بارليک وړانـدې کـول پـه لاتـدې مواردو کې صورت نه مومي:

۱- هغه الوتکې چې په هېواد کې کورنۍ الوتنې تر سره کوي، خو دا چې په بهرنيو هوايي ډګرونو کې تم کېدنه ولري يا د څېړنې تابع او د ګمرکـــي څـــارنې وړ مالونـــه

معافیـــــت از ارائـــــۀ بارنامه

مادۀ چهلم:

ارائـــه بارنامـــه در مـــوارد آتـــی صورت نمی گیرد:

۱- طیاراتیکه در کشور به پرواز های داخلی میپردازند مگر اینکه تـــوقفی در میـــدان هـــای هـــوایی خـارجی داشـته یـا امـوال تـابع بازرسی و قابل نظارت گمرکی را

ولېږدوي.
۲- هغه شخصي الوتکې چې د شخصي هدفونو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي او د ګمرکي څارنې او څېړنې وړ مالونه و نه لېږدوي.

انتقال دهد.
۲- طیارات شخصی که به منظور اهداف شخصی مورد استفاده قرار گرفته و اموال قابل نظارت و بازرسی گمرکی را انتقال ندهد.

د الوتکې جبري ناسته
یو څلوېښتمه ماده:
کـه چېرې الوتکه په اضطراري او ناڅاپي حالاتو کې په داسې هوایي ډګر کې چې د نړیوالو الوتنو منلو ته مجاز نه وي، ناسته ته اړ ویستل شي، د الوتکې کپتان مکلف دی له ناستې او تم کېدو سره سم د الوتکې، کابین، دالوتنې د کار کوونکو، مسافرینو اومالونو د ګمرکي څارنې په منظور، ډېر نېږدې ګمرکي دفتر ته خبر ورکړي.

نشست اجباری طیاره
مادۀ چهل و یکم:
هر گاه طیاره در حالات اضطراری و غیر مترقبه، مجبور به نشست در میدان هوایی ای گردد که برای پذیرش پرواز های بین المللی مجاز نباشد، کپتان طیاره مکلف است به مجرد نشست و توقف به منظور نظارت گمرکی طیاره، کابین، کارکنان پرواز، مسافرین و اموال به نزدیک ترین دفتر گمرکی اطلاع دهد.

د پستې مالونو ګمرکي اظهار لیک
دوه څلوېښتمه ماده:
(۱) پر سوداګریزو محمولو مشتمل پستونه او نور هغه مالونه چې د هغو د فې واحد ټوله بیه له پنځو زرو (۵۰۰۰) افغانیو یا په اړوندو مقرراتو کې له درج نورو ارقامو

اظهار نامۀ گمرکی اموال پستی
مادۀ چهل و دوم:
(۱) پست های مشتمل بر محموله های تجارتی و سایر اموالی که قیمت مجموعی فی واحد آن بیشتر از مبلغ پنج هزار (۵۰۰۰) افغانی یا سایر ارقام مندرج در

څخه زیاته وي، د ګمرکي اظهار لیک تابع ګرځي.

(۲) د کورنیو او بهرنیو پسته خانو تر منځ لېږل او رالېږل د ګمرک د مامورینو تر څارنې لاندې صورت مومي، د ګمرکونو عمومي ریاست کولای شي د کوچنیو بستو د استوونکو د محمولې د بیړنۍ ترخیص مجوز، د پولي تضمین او اړوند اظهار لیک د ښودلو په وړاندې چې په ټاکلې موده کې د ټولو تولید شوو مالونو احتوا کوونکی وي، د کړنلارې مطابق صادر کړي.

(۳) په پسته خانو کې پستي محمولې د ګمرکي اجراآتو د پرلپسې د تېرولو په وخت کې، د ګمرکي مامورینو تر څارنې لاندې وي د پست پارسل ګمرک اداره، هغه پسته خانې غوره کوي چې ګمرکي اجراآت په هغو کې صورت ومومي.

د اظهار لیک له وړاندې کولو څخه معافیت

دري څلوېښتمه ماده:

لاندې پستي محمولې د اظهار لیک

مقررات مربوط باشد، تابع اظهار نامهٔ گمرکی قرار می گیرد.

(۲) ارسال و مرسل پستی میان پسته خانه های خارجی و داخلی تحت نظارت مامورین گمرکی صورت می گیرد. ریاست عمومي گمرکات می تواند مجوز ترخیص عاجل محموله ارسال کنندگان بسته های کوچك را در برابر تضمین پولی و ارائهٔ اظهار نامهٔ مربوط که در برگیرندهٔ تمام اموال توریدشده در مدت زمان معین باشد، مطابق طرزالعمل صادر نماید.

(۳) محموله های پستی در پسته خانه ها هنگام طی مراحل اجراآت گمرکی، تحت نظارت مامورین گمرك می باشد ادارهٔ گمرك پست پارسل پسته خانه هایی را انتخاب می نماید که اجراآت گمرکی در آن صورت گرفته بتواند.

معافیت از ارائهٔ اظهار نامه

مادهٔ چهل و سوم:

محموله های پستی ذیل تابع

د ترتیب او وړاندې کولو تابع ندي:
۱- هغه پستکارتونه او مکتوبونه چې یوازې د شخصي پیغامونو لرونکي وي.
۲- هغه مطبوعې پانې چې په وارداتي محصول کې شاملې نه وي.
۳- نورې هغه محمولې چې د سوداګریز ارزښت لرونکې نه وي او د لیک په واسطه یا د پست پارسل له لارې استول کېږي.

ترتیب و ارائۀ اظهارنامه نمی باشد:
۱- پستکارتها و مکاتیب که تنها حاوی پیامهای شخصی باشد.
۲- اوراق مطبوعی که مشمول محصول وارداتی نگردد.
۳- سایر محموله های که دارای ارزش تجارتی نباشد و توسط نامه یا از طریق پست پارسل ارسال می گردند.

صادراتي لېږدونې
څلور څلوېښتمه ماده:
د ګمرکونو عمومي ریاست د دې قانون او نړیوالو مقرراتو د حکمونو مطابق، بهرته د استوونکو پستي محمولو په هکله، محدودیتونه او ځانګړي شرایط وضع کوي.

انتقالات صادراتی
مادۀ چهل و چهارم:
ریاست عمومي گمرکات مطابق احکام این قانون و مقررات بین المللی در مورد محموله های پستی ارسال شونده به خارج محدودیت ها و شرایط خاصی را وضع می نماید.

د مسافرینو دمالونو ګمرکي څېړنه
پنځه څلوېښتمه ماده:
(۱) مسافرین مکلف دي افغانستان ته د ننوتلو یا وتلو په وخت کې، اړوندې محمولې

بازرسی گمرکی اموال مسافرین
مادۀ چهل و پنجم:
(۱) مسافرین مکلف اند حین دخول و یا خروج از افغانستان محموله های مربوط را به

ګمرکي مامورینو ته اظهار او د غوښتنې په صورت کې هغه وښیي.

(۲) ګمرکي مامورین کولای شي له محمولې سره د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اظهاراتو د مطابقت په منظور، هغه معاینه کړي.

(۳) د سیاسي استازو محمولې چې په لیکلې توګه د اړوندو ادارو لخوا تصدیق شوې وي، پدې قانون کې له دوه څلوېښتمې څخه تر څلور څلوېښتمې مادې پورې د د درج شوو حکمونو تابع نه ګرځي.

مامورین گمرکی اظهار و در صورت مطالبه آن را ارائه نمایند.

(۲) مامورین گمرکی می توانند به منظور مطابقت اظهارات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده با محموله، آن را معاینه نمایند.

(۳) محموله های نمایندگان سیاسی که کتباً از طرف ادارات مربوط تصدیق گردیده باشد، تابع احکام مندرج مواد چهل و دوم الی چهل و چهارم این قانون قرار نمی گیرد.

ګمرک ته له تاکلي ځای څخه د مالونو احضارول

شپږ څلوېښتمه ماده:

د ګمرک د احضار تاکلي ځای ته رسېدلي مالونه بې له ځنډه ګمرک ته احضارېږي، خو دا چې د هغو په احضار کې ځنډ د مالونو د احضاروونکي شخص د تقصیر په موجب نه وي، احضار وونکی شخص مکلف دی، اظهار لیک، سندونه، اطلاعات او د ګمرکي مامورینو د غوښتنې وړ نورې

احضار اموال از محل معینه به گمرک

مادهٔ چهل و ششم:

اموال واصله به محل معینهٔ احضار گمرک، بدون تأخیر به گمرک احضار میگردد، مگر اینکه تأخیر در احضار آن بموجب تقصیر شخص احضار کنندهٔ اموال نباشد، شخص احضار کننده مکلف است اظهار نامه، اسناد، اطلاعات و سایر همکاریهای مورد تقاضای مامورین گمرکی را

همکاری په ټاکلي وخت د هغوی په واک کې ورکړي.

د مالونو تثبیتول او د نمونې (سمپل) اخیستل

اووه څلوېښتمه ماده:

(۱) د ګمرک مامورین کولای شي ګمرک ته د مالونو د احضار په وخت کې، د تعرفوي طبقه بندۍ یا د ګمرکي موقف د ټاکلو په منظور، د مالونو سمپل واخلي.سمپل د مالونو د مالک یا یې د استازي د غوښتنلیک په اثر هم اخیستل کېدای شي.

(۲) توریدوونکی، صادروونکی یا یې استازي، د سمپل د اخیستلو په وخت کې د حضور حق لري او د لزوم په صورت کې، ګمرکي مامورین کولای شي هغوی په حضور مکلف کړي.

(۳) د سمپل د کتنې ټاکلی ځای او وخت، د ګمرکونو د عمومي ریاست لخوا ټاکل کېږي.په هغه صورت کې چې سمپلونه د کتنې په وخت کې ضایع نشي، ېبرته د مالونو مالک یا یې استازي ته مسترد ېږي، پرته لدې د ګمرک

در زمان معینه به دسترس ایشان قرار دهد.

تثبیت اموال و اخذ نمونه (سمپل)

مادۀ چهل و هفتم:

(۱) مامورین گمرك می توانند حین احضار اموال به گمرك سمپل اموال را به منظور تعیین طبقه بندی تعرفوی یا موقف گمرکی اخذ نمایند، سمپل بالاثر درخواست مالك اموال یا نمایندۀ وی نیز اخذ شده می تواند.

(۲) توريد كننده، صادر كننده یا نمایندۀ آنها حین اخذ سمپل حق حضور را دارا بوده و در صورت لزوم مامورین گمرکی می توانند آنها را مكلف به حضور نمایند.

(۳) محل و زمان معاینۀ سمپل از طرف ریاست عمومي گمرکات تعیین می گردد. در صورتیکه سمپل ها حین معاینه ضایع نگردد، دوباره به مالك اموال یا نمایندۀ وی مسترد می گردد، در غیر آن مامورین

مامورین د زیان د جبران په ورکولو مکلف ندي.
(۴) د مالونو مالک یایې استازی مکلف دی، د کتنې ځایونو ته د لېږدونې، د بستو د پرانیستلو (خلاصولو)، توزین، د بیا ترلو او د سمپل اخیستنې او کتنې د نورو عملیو لګښتونه ورکړي.

گمرك مكلف به تأدیهٔ جبران خساره نمی باشند.
(۴) مالك اموال یا نمایندهٔ وی مكلف است مصارف ناشی از انتقال به محلات معاینهٔ باز نمودن بسته ها، توزین، بسته بندی مجدد و سایر عملیه های مشتمل بر اخذ سمپل و معاینه را بپردازد.

د اظهار لیک د لنډیز وړاندې کول
اته څلوېښتمه ماده:
(۱) د مالونو مسئول شخص مکلف دی د اړوندې کړنلارې مطابق، د اظهار لیک لنډیز، ګمرک ته د مالونو له احضار وروسته په یوه ساعت کې وړاندې کړي، ګمرکي مامورین کولای شي، د اظهار لیک د لنډیز د وړاندې کولو موده، ګمرک ته د مالونو د احضار د ورځې په تعقیب تر یوې رسمي ورځې پورې وغځوي.
(۲) ګمرکي مامورین مکلف دي د اظهار لیک لنډیز وساتي.د اظهار لیک په لنډیز کې درج مالونه د بشپړ اظهار لیک تر وړاندې کولو پورې، په مؤقت زېرمه تون کې

ارائه خلص اظهارنامه
مادهٔ چهل و هشتم:
(۱) شخص مسئول اموال مكلف است خلص اظهارنامه را طبق طرزالعمل مربوط در ظرف یك ساعت بعد از احضار اموال به گمرك ارائه نماید، مامورین گمرکی می توانند میعاد ارائهٔ خلص اظهارنامه را الی یك روز رسمی متعاقب یوم احضار اموال به گمرك، تمدید نمایند.
(۲) مامورین گمرکی مكلف اند خلص اظهارنامه را حفظ نمایند، اموال مندرج در خلص اظهارنامه الی ارائهٔ اظهارنامهٔ مكمل در ذخیرهٔ مؤقت نگهداری

ساتل کېږي.
(۳) په هغه صورت کې چې ګمرکي بشپړ اظهار لیک، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې له تېرېدو د مخه، د اړوندې کړنلارې مطابق وړاندې شوی وي، د مالونو مسئول شخص یا یې استازی، اظهار لیک د لنډیز په وړاندې کولو مکلف ندی.
(۴) مسافرین او د مالونو مسئول اشخاص د دې قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې د درج شوو مالونو په برخه کې د اظهار لیک د لنډیز په وړاندې کولو مکلف ندي، خو دا چې ګمرکي څارنه مالونه په خطر کې واچوي.

په ټاکلو ناحیو کې له یوې نقلیه وسیلې څخه بلې وسیلې ته د مالونو تشول (تخلیه) یا لېږدول
نهه څلوېښتمه ماده:
(۱) په ټاکلو ناحیو کې له یوې نقلیه وسیلې څخه بلې ته د مالونو تشول یا لېږدول د ګمرکي مامورینو په اجازه صورت مومي، خو دا چې د قریب الوقوع خطر په اثر د مالونو کلي یا قسمي تشول می شود.
(۳) در صورتیکه اظهارنامهٔ مکمل گمرکی قبل از انقضای میعاد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مطابق طرزالعمل مربوط ارائه گردیده باشد، شخص مسئول اموال مکلف به ارائهٔ خلص اظهارنامه نمی باشد.
(۴) مسافرین و اشخاص مسئول اموال در خصوص اموال وارد شده مندرج مادهٔ چهل و دوم این قانون مکلف به ارائهٔ خلص اظهارنامه نمی باشند، مگر اینکه نظارت گمرکی اموال را در معرض مخاطره قرار دهد.

تخلیه و یا انتقال اموال از یك وسیله به وسیله دیگر نقلیه در نواحی معینه
مادهٔ چهل و نهم:
(۱) تخلیه و یا انتقال اموال از یك وسیلهٔ نقلیه به دیگری در نواحی معینه به اجازهٔ مامورین گمرکی صورت می گیرد، مگر اینکه بالاثر خطر قریب الوقوع، تخلیه کلی یا قسمی اموال حتمی

حتمي وګڼل شي.پدې صورت کې د مالونو مسئول شخص مکلف دی، په لنډ وخت کې له موضوع څخه ګمرکي مامورینو ته خبر ورکړي.

(۲) ګمرکي مامورین کولای شي د مالونو یا نقلیه وسیلې د کتنې په منظور هر وخت د مالونو تشول او یا د بستو پرانیستل وغواړي، د مالونو ننویستونکي شخص یا یې استازی حق لري د مالونو د کتنې په وخت کې حاضر وي.

(۳) ګمرکي مامورین مکلف دي، د مالونو ننویستونکي شخص یا یې استازي ته د مالونو د کتنې د هدف خبر ورکړي.په هغه صورت کې چې په دوو ساعتونو کې ځواب تر لاسه نکړي، کولای شي د هغوی په غیاب کې د مالونو په کتنې لاس پورې کړي.

پنداشته شود. در این صورت شخص مسئول اموال مکلف است به اسرع وقت از موضوع به مامورین گمرکی اطلاع دهد.

(۲) مامورین گمرکی می توانند هر زمان تخلیه اموال و یا باز نمودن بسته ها را به منظور معاینهٔ اموال و وسیلهٔ نقلیه تقاضا نمایند. شخص داخل کنندهٔ اموال یا نمایندهٔ وی حق دارد حین معاینهٔ اموال حاضر باشد.

(۳) مامورین گمرکی مکلف اند هدف معاینه اموال را به شخص داخل کنندهٔ اموال یا نمایندهٔ وی اطلاع دهند. در صورتی که در ظرف دو ساعت جواب دریافت ننماید، می توانند در غیاب آنها به معاینهٔ اموال اقدام نمایند.

اتم فصل
د مالونو مؤقته زېرمه

د مؤقتي زېرمې ځايونه
پنځوسمه ماده:
(۱) مالونه د اظهار ليک د لنډيز د منلو له وخت څخه د دې قانون د درېمې مادې په (۲۳) جزء کې د درج شوي ګمرکي اظهار ليک د منلو تر وخته، د (مؤقتي زېرمې د مالونو) په توګه پېژندل کېږي او په ګمرکي ساحو يا نورو هغو ځايونو کې چې د ګمرکي مامورينو لخوا ټاکل شويدي، ساتل کېږي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د هېڅ ډول عمليو تابع ندي.
د دې قانون په اووه څلوېښتمه ماده کې درج شوی حکم او د مالونو د اصلي والي (د هغو د ظاهري شکل او تخنيکي مشخصاتو له بدلون پرته) له حالت څخه د ډاډ د حاصلولو لپاره عملیې، لدې حکم څخه مستثنی دی.
(۳) ګمرکي مامورين کولای شي، د ګمرکي دين د ورکړې او پدې قانون

فصل هشتم
ذخیرهٔ مؤقت اموال

محلات ذخیرهٔ مؤقت
مادهٔ پنجاهم:
(۱) اموال از وقت پذیرش خلص اظهارنامه الی زمان پذیرش اظهارنامهٔ گمرکی مندرج جزء (۲۳) مادهٔ سوم این قانون بحیث (اموال ذخیرهٔ مؤقت) شناخته شده و در ساحات گمرکی یا محل دیگری که توسط مامورین گمرکی تعیین شده، نگهداری می‌گردند.
(۲) اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تابع هیچ گونه عملیه ها نمی باشد.
حکم مندرج مادهٔ چهل و هفتم این قانون و عملیه ها جهت حصول اطمینان از حالت اصلی بودن اموال (بدون تغییر شکل ظاهری یا مشخصات تخنیکی آن) از این حکم مستثنی است.
(۳) مامورین گمرکی می توانند به منظور پرداخت دین گمرکی و

کې د درج شوو وجایبو د تر سره کولو په منظور، د مالونو مالک یا یې استازی د تضمین په وړاندې کولو مکلف کړي.

ایفای وجایب مندرج این قانون، مالك اموال یا نماینده وی را مکلف به ارائه تضمین نماید.

له مؤقتو زېرمو څخه د مالونو ایستل

یو پنځوسمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې د اظهار لیک لنډیز د دې قانون په اته څلوېښتمه ماده کې د درج شوې ټاکلې مودې په ترڅ کې وړاندې نشي، د ګمرکونو عمومي رئیس د دې قانون د څلور پنځو سمې مادې د (۳) فقرې د حکم په پام کې نیولو سره د مالونو مسئول شخص ته د خبر له ورکولو وروسته کړنلارې مطابق، د پاتې مالونو د خرڅلاو یا ګمرکي موقف د ټاکلو په غرض، لازم تدبیرونه نیسي.

(۲) د ګمرک مامورین کولای شي د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه د هغو د خاوند په لګښت د ګمرکونو تر څارنې لاندې ځایونو ته ولېږدوي او د خرڅلاو یا ګمرکي موقف د ټاکلو په هکله د وروستي تصمیم د نیولو تر وخته

خروج اموال از ذخایر مؤقت

مادۀ پنجاه و یکم:

(۱) در صورتیکه خلص اظهارنامه در خلال مدت معینۀ مندرج مادۀ چهل و هشتم این قانون ارائه نگردد، رئیس عمومي گمرکات با نظرداشت حکم فقرۀ (۳) مادۀ پنجاه و چهارم این قانون تدابیر لازم را غرض فروش و یا تعیین موقف گمرکی اموال باقیمانده بعد از اطلاع به شخص مسئول اموال مطابق طرزالعمل مربوط اتخاذ می نماید.

(۲) مامورین گمرك می توانند اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده را به مصرف مالك آن، به محل تحت نظارت گمرکات انتقال و الی زمان اتخاذ تصمیم نهایی در مورد فروش یا تعیین موقف گمرکی، نگهداری

يې وساتي.

غير مجاز مالونه

دوه پنځوسمه ماده:

(۱) که چېرې ثابته شي چې مالونه د دې قانون د حکمونو مطابق قاچاق دي، ګمرکي مامورين کولای شي، د واکمنو مراجعو د وروستي تصميم له نيولو وروسته د هغو د خرڅلاو يا د مالونو په برخه کې د نورو مجاز اقدامونو لپاره لازم تدبيرونه ونيسي.

(۲) د دې قانون د دري پنځوسمې مادې په (۲) فقره کې درج شوي ممنوعه مالونه، د ګمرکي مامورينو په واسطه ضبط او د دې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق پدې برخه کې اجراآت کېږي.

(۳) ګمرکي مامورين کولای شي، د سوداګريز مارک د امتياز، توليدي حق الامتياز يا د تملک د نورو حقوقو لرونکو اشخاصو د غوښتنليک له مخې، د اړوندې کړنلارې مطابق، آزاد دوران ته د مالونو ترخيص او د هغو صادرول منع کړي، پدې شرط چې نومورې مالونه د نافذو قوانينو مطابق، جعلي يا د توليد د حق نه نمايند.

اموال غير مجاز

مادۀ پنجاه و دوم:

(۱) هر گاه تثبیت گردد که اموال مطابق احکام این قانون قاچاق می باشد، مامورین گمرکی می توانند بعد از اتخاذ تصمیم نهایی مراجع ذیصلاح، تدابیر لازم را غرض فروش یا سایر اقدامات مجاز در خصوص اموال اتخاذ نمایند.

(۲) اموال ممنوعۀ مندرج فقرۀ (۲) مادۀ پنجاه و سوم این قانون توسط مامورین گمرکی ضبط و در مورد طبق حکم فقرۀ (۱) این ماده اجراآت صورت می گیرد.

(۳) مامورین گمرکی می توانند بالاثر درخواست اشخاص دارنده امتیاز مارك تجارتی، حق الامتیاز تولیدی یا سایر حقوق تملك طبق طرزالعمل مربوط، ترخیص اموال به دوران آزاد و صدور آنرا منع نمایند، مشروط براینکه اموال متذکره مطابق احکام قوانین نافذه جعلی یا فاقد حق تولید شناخته

لرونکي وپېژندل شي.

نهم فصل
ګمرکي اظهار لیک

د غیر افغاني مالونو د ګمرکي موقف ټاکل

دري پنځوسمه ماده:

(۱) ګمرکي مامورین مکلف دي، د ګمرکي تقنیني سندونو د حکمونو مطابق د غیر افغاني مالونو ګمرکي موقف چې ګمرک ته احضارېږي، وټاکي.

(۲) ګمرکي مامورین کولای شي د ټولنیزو اخلاقو او عامه امنیت له پېه پام کې نیولو، د ژوندانه د چاپېریال، د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د روغتیا او ژوندانه د ساتنې، د هنري، تاریخي او لرغونو هنري ارزښت لرونکو ملي شتمنیو د ساتنې او یا د صنعتي او سوداګریزو شتمنیو او د دولت د نورو پالیسیو د ساتنې په منظور، د اړوندو تقنیني سندونو مطابق، مناسب تحریمونه او محدودیتونه وضع کړي.

شود.

فصل نهم
اظهارنامۀ گمرکی

تعیین موقف گمرکی اموال غیر افغانی

مادۀ پنجاه و سوم:

(۱) مامورین گمرک مکلف اند طبق احکام اسناد تقنینی گمرکی، موقف گمرکی اموال غیر افغانی را که به گمرک احضار می‌گردد، تعیین نمایند.

(۲) مامورین گمرکی می توانند به منظور رعایت اخلاق اجتماعی و امنیت عامه، حفظ محیط زیست، صحت و حیات انسانها، حیوانات و نباتات، حفاظت از ثروت های ملی حایز ارزش هنری، تاریخی و باستانی و یا محافظۀ دارایی های صنعتی و تجارتی وسایر پالیسی های دولت مطابق اسناد تقنینی مربوط تحریمات و محدودیت های مناسب را وضع نمایند.

د ګمرکي اظهار ليک د بشپړولو موده

څلور پنځوسمه ماده:

(۱) اظهاروونکی مکلف دی، ګمرکي اظهار ليک د اظهار ليک د لنډيز د وړاندې کولو له نېټې څخه تر پنځو ورځو پورې د اړوندې کړنلارې مطابق، برابر او بشپړ کړي.

(۲) ګمرکي مامورين کولای شي د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې موده، د شرايطو په پام کې نيولو سره کمه يا زياته کړي.

(۳) د مؤقتې زېرمې موده تر دېرشو ورځو پورې ده او هغه وخت پای ته رسېږي چې د مالونو بيه د ګمرکي محصول، ارضيه رسم او پدې قانون کې د نورو ورکړو معادل شي، په هغه صورت کې چې د ګمرکي مسئولينو له خوا د ځنډ مؤجه دلايل د ګمرکونو عمومي رياست ته وړاندې نشي، نومورې موده نشي زياتېدای.

ميعاد تکميل اظهارنامه گمرکی

مادۀ پنجاه و چهارم:

(۱) اظهار کننده مکلف است، اظهارنامۀ گمرکی را در مدت پنج روز از تاریخ ارائۀ خلص اظهارنامه طبق طرزالعمل مربوط ترتیب و تکمیل نماید.

(۲) مامورین گمرکی می توانند میعاد مندرج فقرۀ (۱) این ماده را با نظرداشت شرایط، تقلیل یا تزئید نمایند.

(۳) میعاد ذخیرۀ مؤقت الی سی روز بوده و زمانی خاتمه می یابد که قیمت اموال معادل محصول گمرکی، رسم ارضیه و سایر پرداخت های مندرج این قانون گردد، در صورتیکه دلایل مؤجۀ تأخیر از جانب مسئولین گمرکی به ریاست عمومي گمرکات ارائه نگردد، میعاد متذکره بیشتر شده نمی تواند.

د مالونو د ګمرکي پروسې اظهار لیک

پنځه پنځوسمه ماده:

(۱) تر لومړنۍ ګمرکي پروسې لاندې د مالونو راوستل یا د مالونو د ترخیص غوښتنلیک، په ګمرکي اظهار لیک کې صورت مومي.

(۲) هغه اظهار لیک چې د ګمرکي مسئولینو د غوښتنې مطابق، له لاندې شکلونو څخه په یوه یې ترتیب شي، منل کېږي:

۱- لیکلی اظهار لیک.

۲- شفاهي اظهار لیک.

۳- د اطلاعاتو د پروسس له لارو څخه په ګټې اخیستنې سره اظهار لیک.

۴- نور هغه اقدامات چې د مالونو مسئول شخص د هغو په واسطه تر ګمرکي موقف یا پروسې لاندې د مالونو د اړښودلو لپاره خپله غوښتنه، اظهاروي.

(۳) اظهار لیک له ګمرکي سندونو سره چې د ګمرکي موقف یا پروسې په ټاکلو پورې د اړوندې کړنلارې مطابق لازم دي، ضمیمه کېږي.

اظهارنامۀ پروسۀ ګمرکی اموال

مادۀ پنجاه و پنجم:

(۱) درخواست مبنی برقرار دادن اموال تحت پروسۀ گمرکی ابتدایی یا ترخیص اموال در اظهارنامۀ گمرکی صورت می گیرد.

(۲) اظهارنامۀ گمرکی ایکه مطابق تقاضای مسئولین گمرکی به یکی از اشکال ذیل ترتیب گردد، پذیرفته می شود:

۱ - اظهارنامۀ تحریری.

۲ - اظهارنامۀ شفاهی.

۳ - اظهارنامه با استفاده از روش های پروسس اطلاعات.

۴ - سایر اقداماتی که شخص مسئول اموال توسط آن مطالبه خود را جهت قرار دادن اموال تحت موقف یا پروسه گمرکی اظهار می دارد.

(۳) اظهارنامه با اسناد گمرکی ضمیمه می گردد که مطابق طرزالعمل مربوط به تعیین موقف یا پروسۀ گمرکی لازم می باشد.

د اظهار لیک منل

شپږ پنځوسمه ماده:

(۱) هغه اظهار لیکونه چې د دې قانون په پنځه پنځوسمه ماده کې د درج شوو شرایطو مطابق، د مالونو د مسئول شخص په واسطه برابر یا وړاندې شوي وي، بې له ځنډه د ګمرک د مامورینو لخوا منل کېږي، پدې شرط چې په اظهار لیک کې درج شوي مالونه، د ګمرکي کتنې د اجراء لپاره په واک کې وي.

(۲) په هغه صورت کې چې د اظهار لیک منل، د شخص په واسطه د اضافي مکلفیتونو دسرته رسولو مستلزم وي، دی مکلف دی چې د ګمرکي مامورینو د غوښتنې له مخې هغه لاسلیک کړي.

د اظهار لیک داوطلبانه تصحیح او ابطال

اووه پنځوسمه ماده:

(۱) اظهاروونکی کولای شي د منل شوي اظهار لیک د مندرجاتو یوه یا زیاتې تېروتنې تصحیح یا د مالونو ګمرکي موقف او پروسې ته بدلون

پذیرش اظهار نامه

مادۀ پنجاه و ششم:

(۱) اظهارنامه هائیکه مطابق شرایط مندرج مادۀ پنجاه و پنجم این قانون توسط شخص مسئول اموال ترتیب یا ارائه گردیده باشد، بدون تأخیر از طرف مامورین گمرکی پذیرفته می شود، مشروط براینکه اموال مندرج در اظهارنامه به منظور اجراء معاینۀ گمرکی قابل دسترس باشد.

(۲) در صورتیکه پذیرش اظهار نامه مستلزم انجام مکلفیت های اضافی توسط شخص باشد، وی مکلف است بالاثر تقاضای مامورین گمرکی آن را امضاء نماید.

تصحیح و ابطال داوطلبانه اظهارنامه

مادۀ پنجاه و هفتم:

(۱) اظهار کننده می تواند در صورت اشتباه یك یا بیشتر از مندرجات اظهارنامۀ پذیرفته شده را تصحیح یا موقف و پروسۀ

ورکړي او یا اظهار لیک له اعتباره وغورځوي، پدې شرط چې په تصحیح یا ابطال کې هغه مالونه شامل نه وي چې د مخه په اظهار لیک کې ندي درج شوي.

(۲) په لاندې حالاتو کې د اظهار لیک تصحیح یا ابطال مجازندی:

۱- هغه وخت چې د ګمرک مامورین د مالونو د کتنې په اړه له خپل تصمیم څخه اظهاروونکي ته خبر ورکړي.

۲- په هغه صورت کې چې د ګمرک مامورین تصدیق کړي، اظهار لیک د دې قانون په څوارلسم فصل کې د درج شوو حکمونو مغایر ترتیب شوی دی.

گمرکی اموال را تغییر دهد و یا اظهارنامه را از اعتبار ساقط سازد، مشروط براینکه تصحیح یا ابطال شامل اموالی نباشد که قبلاً در اظهارنامه درج نگردیده است.

(۲) تصحیح یا ابطال اظهارنامه در حالات ذیل مجاز نمی باشد:

۱ - حینیکه مامورین گمرك از تصمیم خویش مبنی بر معاینهٔ اموال به اظهار کننده اطلاع دهند.

۲ - در صورتیکه مامورین گمرك تصدیق نمایند اظهارنامه مغایر احکام مندرج فصل چهاردهم این قانون ترتیب گردیده است.

د اظهار لیک د صحت تصدیقول اته پنځوسمه ماده:

ګمرکي مامورین کولای شي اظهار لیک او منضمه سندونه یې د صحت د تصدیق لپاره وڅېړي او له اظهاروونکي څخه نور سندونه وغواړي یا مالونه معاینه او د تجزیې یا پراخې کتنې لپاره د هغو سمپلونه واخلي.

تصدیق صحت اظهارنامه مادهٔ پنجاه و هشتم:

مامورین گمرکی می توانند اظهارنامه و اسناد منضمهٔ آنرا جهت تصدیق صحت آن بررسی و از اظهار کننده اسناد دیگری را تقاضا یا اموال را معاینه و سمپل های آن را غرض تجزیه یا معاینهٔ مفصل اخذ نمایند.

مرکب اظهار لیک

نهه پنځوسمه ماده:

اظهاروونکی کولای شي د خپلو دوو یا زیاتو مالونو لپاره واحد اظهار لیک ډک (خانه پري) کړي.پدې صورت کې داسې انګېرل کېږي چې په هر قلم پورې اړوند جزئیات په جلا اظهار لیکونو کې درج شویدي.

اظهار نامۀ مرکب

مادۀ پنجاه و نهم:

اظهار کننده می تواند برای دو یا بیشتر نوع مال خود فورمۀ اظهارنامۀ واحد را خانه پری نماید. در این صورت چنان پنداشته می شود که جزئیات مربوط به هر قلم در اظهارنامه های جداگانه درج گردیده است.

قسمي څېړنه

شپېتمه ماده:

په هغه صورت کې چې په اظهار لیک کې د درج شوو مالونو یوه برخه معاینه یایې سمپل اخیستل شوی وي، پایلې یې په اظهار لیک کې د شاملو ټولو مالونو په هکله د اعتبار وړ دي.

که چېرې تر لاسه شوې پایلې د اظهار لیک د ترتیبوونکي د قناعت وړ و نه ګرځي، کولای شي د مالونو زیاته کتنه وغواړي.

بازرسی قسمی

مادۀ شصتم:

در صورتی‌که قسمتی از اموال مندرج اظهارنامه معاینه یا سمپل آن اخذ گردیده باشد، نتایج آن در مورد تمام اموال شامل اظهارنامه مدار اعتبار می باشد.

هر گاه نتایج حاصله مورد قناعت ترتیب کنندۀ اظهارنامه قرار نگیرد، می تواند معاینۀ مزید اموال را تقاضا نماید.

د مالونو د هویت تشخیص

یو شپېتمه ماده:

(۱) ګمرکي مامورین په اظهار لیک

تشخیص هویت اموال

مادۀ شصت و یکم:

(۱) مامورین گمرکی به منظور

کې د درج شوو مالونو د ګمرکي موقف یا پروسي د ټاکنې د کړنلارې د رعایت په منظور، عنداللزوم د مالونو هویت تشخیصوي او ډاډ حاصلوي.

(۲) د تشخیص په غرض د ګمرکي څارنې تابع مالونو د لېبل او سرغچ لیرې کول یا ړنګول د ګمرکي مامورینو په واسطه یا د هغو په اجازه صورت مونډلی شي، د ناڅاپي پېښو د واقع کېدو په صورت کې د مالونو مسئول شخص کولای شي د مال لېبل یا سرغچ ړنګ یا لیرې کړي، پدې شرط چې د ناڅاپي پېښو پېښېدل ثابت کړي.

رعایت طرزالعمل تعیین موقف یا پروسهٔ گمرکی اموال مندرج در اظهارنامه، عنداللزوم هویت اموال را تشخیص و اطمینان حاصل می نمایند.

(۲) برداشتن یا تخریب لیبل و سرغچ اموال تابع نظارت گمرکی غرض تشخیص آن توسط مامورین گمرك یا به اجازه آنها صورت گرفته می تواند. در صورت وقوع حوادث غیر مترقبه، شخص مسئول اموال می تواند، لیبل یا سرغچ مال را تخریب و یا بردارد، مشروط براینکه وقوع حوادث غیر مترقبه را اثبات نماید.

د مالونو ترخیص

دوه شپېتمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې مالونه د دې قانون د حکمونو مطابق تر ګمرکي موقف یا پروسې لاندې راغلي وي، د ګمرک مامورین مکلف دي په اظهار لیک کې د درج شوو تفصیلاتو د صحت له قناعت وروسته، مالونه بې له ځنډه ترخیص کړي.

ترخیص اموال

مادهٔ شصت و دوم:

(۱) در صورتی که اموال مطابق احکام این قانون تحت موقف یا پروسهٔ گمرکی قرار گرفته باشد، مامورین گمرك مکلف اند بعد از قناعت صحت تفصیلات مندرج در اظهارنامه، اموال را بلا تأخیر ترخیص نمایند.

(۲) د ترانزیت له پروسې څخه په واحد اظهار لیک کې د ټولو شاملو مالونو د لومړني ګمرکي موقف ټاکل یا ترخیص، په یوه وخت صورت مومي.
(۳) د مالونو ترخیص د ګمرکي دین، واجب التأدیه جریمو او پدې قانون کې د نورو درج شوو ورکړو له ورکولو وروسته یا د تضمین په وړاندې کولو سره، صورت مومي.
(۴) د هغو مالونو د مؤقتو وارداتو د پروسې په هکله چې د دین د ورکړې موده یې بشپړه شوې نده، د دې مادې په (۳) فقره کې درج شوی حکم د تطبیق وړندی.

د نه ترخیص وړ مالونه

دري شپېتمه ماده:

(۱) د نه ترخیص وړ مالونه عبارت دي له:
۱- هغه مالونه چې د کتنې اجراء یا تداوم یې په اظهاروونکي پورې د اړوندو عواملو له امله، په ټاکلې موده کې نا ممکن وي.
۲- هغه مالونه چې ګمرکي سندونه یې تر ګمرکي پروسې لاندې له راتللو د مخه، ګمرکي

(۲) تعیین موقف گمرکی ابتدایی یا ترخیص تمام اموال شامل در اظهارنامۀ واحد از پروسۀ ترانزیت، همزمان صورت می گیرد.
(۳) ترخیص اموال بعد از تأدیه دین گمرکی، جریمه های واجب التأدیه و ادای سایر پرداخت های مندرج این قانون یا با ارائه تضمین صورت می گیرد.
(۴) حکم مندرج فقرۀ (۳) این ماده در مورد پروسۀ واردات مؤقت اموال که میعاد تأدیۀ دین آن تکمیل نگردیده، قابل تطبیق نمی باشد.

امـوال غیر قابل ترخیص

مادۀ شصت و سوم:

(۱) اموال غیر قابل ترخیص عبارت است از:
۱ - اموالیکه اجراء یا تداوم معاینۀ آن در میعاد معینه نسبت عوامل متعلق به اظهار کننده ناممکن باشد.
۲ - اموالیکه اسناد گمرکی آن قبل از قرار دادن تحت پروسۀ گمرکی، به

مامورینو ته ونه ښودل شي.

۳- هغه مالونه چې د ګمرکي محصول ورکړه یا د تضمین وړاندې کول یې، له حال سره سم تر ګمرکي موقف لاندې تر راوستلو دري ورځې وروسته صورت نه وي موندلی.

۴- هغه مالونه چې له ترخیص وروسته تر لسو ورځو پورې د ګمرک د تأسیساتو له انګړ څخه و نه ایستل شي.

۵- هغه مالونه چې د مؤقتې زېرمې موده یې، د دې قانون د څلور پنځوسمې مادې د (۳) فقرې د حکم مطابق تېره (منقضي) شي.

۶- هغه مالونه چې د دې قانون د دري پنځوسمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو تحریماتو د وضع کولو تابع یا په قاچاقو پورې د اړوندو مالونو د حکمونو تابع او یا پدې قانون کې د درج شوو واکمنو مراجعو لخوا د مصادرې د پرېکړې تابع وي.

(۲) ګمرکي مامورین د اړوندې کړنلارې مطابق کولای شي، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو مالونو په هکله د اضافي ارضیې مامورین ګمرك ارائه نګردد.

۳ - اموالیکه تأدیه محصول ګمرکی یا ارائه تضمین آن، حسب احوال در مدت سه روز بعد از قراردهی تحت موقف ګمرکی، صورت نګرفته باشد.

۴ - اموالیکه از محوطهٔ تأسیسات ګمرك الی ده روز بعد از ترخیص خارج نشود.

۵- اموالیکه میعاد ذخیرهٔ مؤقت آن مطابق حکم فقرهٔ (۳) مادهٔ پنجاه و چهارم این قانون منقضی شود.

۶- اموالیکه تابع وضع تحریمات مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ پنجاه و سوم این قانون یا تابع احکام مربوط به اموال قاچاق و یا تابع فیصله مصادرهٔ از طرف مراجع ذیصلاح مندرج این قانون باشد.

(۲) مامورین ګمرکی مطابق طرزالعمل مربوطه می توانند در مورد اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده رسم ارضیه اضافی را وضع

رسم وضع یا یې ضبط او یا لیلام کړي، پدې شرط چې مخکې له مخکې له موضوع څخه د مالونو مسئول شخص ته خبر ورکړي.

یا آن را ضبط و یا لیلام نمایند، مشروط براینکه قبلاً از موضوع به شخص مسئول اموال اطلاع بدهند.

د ګمرکي مامورینو په واسطه د اظهار لیک تصحیح او ابطال څلورشپېتمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې د مالونو د ګمرکي موقف ټاکل د غلطو یا نا بشپړو معلوماتو پر بنسټ صورت موندلی وي، ګمرکي مامورین کولای شي اظهار لیک د مالونو له ترخیص وروسته تصحیح یا باطل کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې اظهارروونکی، د دې مادې په (۱) فقره کې درج معلومات، د دې قانون د یوسلو شپږ شپېتمې مادې د (۲) فقرې مطابق، غلط یا نا بشپړ ورکړي وي، د ګمرک مامورین د دې قانون له یوسلو دري اویایمې څخه تر یو سلو نویمې مادې پورې درج شوی مجازات تطبیقوي او د صحیحو او بشپړو معلوماتو په پام کې نیولو سره، نوی ګمرکي موقف ټاکي.

تصحیح و ابطال اظهارنامه توسط مامورین گمرکی

مادۀ شصت و چهارم:

(۱) در صورتیکه تعیین موقف گمرکی اموال برمبنای معلومات غلط یا نامکمل صورت گرفته باشد، مامورین گمرکی می توانند اظهارنامه را بعد از ترخیص اموال تصحیح یا باطل نمایند.

(۲) در صورتیکه اظهار کننده، معلومات مندرج فقرۀ (۱) این ماده را مطابق فقرۀ (۲) مادۀ یکصد و شصت و ششم این قانون غلط ارائه نموده باشد، مامورین گمرک مجازات مندرج مواد یکصد و هفتاد و سوم الی یکصد و نودم این قانون را تطبیق و موقف جدید گمرکی را با در نظرداشت معلومات صحیح و کامل، تعیین می نمایند.

لسم فصل
ګمرکي پروسې

آزاد دوران ته د مالونو ترخیصول پنځه شپېتمه ماده:

(۱) غیر افغاني مالونه چې آزاد دوران ته ترخیص کېږي، د افغاني مالونو په توګه تصنیف کېږي.

(۲) مالونه په هغه صورت کې آزاد دوران ته ترخیص کېدای شي چې د سوداګریز سیاست تدبیرونه تطبیق او د مالونو د واردولو مکلفیتونه تر سره او ګمرکي دین تحصیل شوی وي.

په شرط پورې دترلو مالونوترخیص شپږ شپېتمه ماده:

هغه مالونه چې په ترجیحي تعرفه مرخص شي، د ګمرک تر څارنې لاندې پاتې کېږي، دغه څارنه هغه وخت پای ته رسېږي چې مالونه آزاد دوران ته مرخص، صادر، دولت ته پرېښودل یا ویجاړ شي.د ترجیحي تعرفې له مجوزه مقصدونو پرته د نورو مقصدونو لپاره د مالونو استعمال، یوازې

فصل دهم
پروسه های گمرکی

ترخیص اموال به دوران آزاد مادۀ شصت و پنجم:

(۱) اموال غیر افغانی که بدوران آزاد ترخیص می گردد، بحیث اموال افغانی تصنیف می شود.

(۲) اموال بدوران آزاد در صورتی ترخیص شده می تواند که تدابیر سیاست تجارتی، تطبیق و مکلفیت های تورید اموال انجام و دین گمرکی تحصیل شده باشد.

ترخیص اموال منوط به شرط مادۀ شصت و ششم:

اموالیکه با تعرفۀ ترجیحی مرخص گردد، تحت نظارت گمرك باقی می ماند. این نظارت زمانی خاتمه می یابد که اموال بدوران آزاد مرخص، صادر، به دولت واگذار یا تخریب گردد، استعمال اموال به سایر مقاصد، بغیر از مقاصد مجوزۀ تعرفۀ ترجیحی صرف

د پاتې لازمي محصول د ورکړې په صوت کې، مجاز دی.

در صورت تأدیه بقیهٔ محصول لازمی مجاز می باشد.

د ګډو (مختلطو) مالونو تصنیف

اووه شپېتمه ماده:

که چېرې محموله په مختلفو تعرفوي طبقو باندې مشتمله وي او له تعرفوي طبقاتو څخه د هرې یوې لپاره د جلا اظهار لیک برابرول دوخت د ضایع کېدو یا اضافي لګښتونو چې د ورکړې وړ له وارداتي محصول سره تناسب و نه لري، سبب شي، ګمرکي مامورین کولای شي د اظهاروونکي د موافقې په صورت کې، د تعرفوي طبقه بندی پر بنسټ له ټولې محمولې څخه د لوړ حد وارداتي محصول واخلي.

پدې صورت کې اظهاروونکی یوازې د محمولې له مشتملو مالونو څخه د هر یوه د نسبتي اندازې د تخمین مسئول دی.

تصنیف اموال مختلط

مادهٔ شصت و هفتم:

هرگاه محموله مشتمل بر اموالی متعلق به طبقات مختلفه تعرفوی باشد و ترتیب اظهارنامهٔ جداگانه برای هر یك از طبقات تعرفوی مستلزم ضیاع وقت یا مصارف اضافی گردد که با محصول وارداتی قابل تأدیه تناسب نداشته باشد، مامورین گمرك می توانند در صورت موافقه اظهار کننده، بلند ترین حد محصول وارداتی را به اساس طبقه بندی تعرفوی از تمام محموله اخذ نمایند، در این صورت اظهار کننده صرف مسئول تخمین اندازهٔ نسبتی هر یك از اموال مشتمل در محموله می باشد.

د مالونو د افغاني وصف له لاسه ورکول

اته شپېتمه ماده:

په هغه صورت کې چې آزاد د وران

از دست دادن وصف افغانی اموال

مادهٔ شصت و هشتم:

در صورتیکه اظهار نامهٔ اموال

ته د ترخیص شوو مالونو اظهار لیک، د دې قانون د څلورشپېتمې مادې د حکم مطابق باطل شي، نومورې مالونه خپل افغاني وصف له لاسه ورکوي.

ترخیص شده به دوران آزاد مطابق حکم مادۀ شصت و چهارم این قانون باطل گردد، اموال مذکور وصف افغانی خود را از دست می دهد.

د اقتصادي اغېزو لرونکې پروسې نهه شپېتمه ماده:

(۱) د اقتصادي اغېزو لرونکې ګمرکي پروسې عبارت دي له:

۱- د ګمرک په ګدامونو کې د مالونو ځای پر ځای کول.

۲- داخلي پروسس.

۳- د ګمرکونو تر څېرنې لاندې پروسس.

۴- مؤقت تورید.

۵- بهرنی پروسس.

(۲) بې بدلونه مالونه، له هغو مالونو څخه عبارت دي چې تر داخلي پروسس لاندې نه وي راغلي.

پروسه های دارندۀ اثراتاقتصادی مادۀ شصت و نهم:

(۱) پروسه های گمرکات دارندۀ اثرات اقتصادی عبارت است از:

۱- جابجا نمودن اموال در گدام های گمرك.

۲- پروسس داخلی.

۳- پروسس تحت بازرسی گمرکات.

۴- تورید مؤقت.

۵- پروسس خارجی.

(۲) اموال بدون تغییر، عبارت از اموالی است که تحت پروسس داخلی قرار نگرفته باشد.

د اجازه لیک د ورکولو شرایط اویایمه ماده:

(۱) د اقتصادي اغېزو له لرونکو پروسو څخه ګټه اخیستنه، د مالیې وزارت د اجازې له تر لاسه کولو وروسته صورت مومي.

شرایط اعطای اجازه نامه مادۀ هفتادم:

(۱) استفاده از پروسه های ګمرکی دارای اثرات اقتصادی بعد از کسب اجازۀ وزارت مالیه صورت می گیرد.

(۲) د اقتصادي اغېزو له لرونکو پروسو څخه د ګټې اخیستنې اجازه او پدې قانون کې د درج شوي جواز ورکړه هغو اشخاصو ته ورکول کېږي چې لازم تضمین وړاندې او د ګمرک مامورین د ګمرکي پروسې پر څارنې قادروي.

(۳) د اقتصادي اغېزو لرونکو پروسو څخه د ګټې اخیستنې شرایط په اجازه لیک کې درج دي.

(۴) د اجازه لیک لرونکی مکلف دی، ګمرکي مامورین د هغو ټولو مسئلو په هکله چې د هغو پر تداوم یا محتوي باندې وروستۍ اغېزي واردوي، خبر کړي.

تضمین

یو اویایمه ماده:

د ګمرک مامورین واک لري، د دیونو د ورکړې د تأمینولو په منظور، تر تعلیقي پروسې لاندې د مالونو، اېښودل د تضمین په وړاندې کولو سره چې شرایط یې په اړونده کړنلاره کې ټاکل کېږي، مشروط کړي.

(۲) اجازه استفاده از پروسهٔ گمرکی دارای اثرات اقتصادی و اعطای جواز مندرج این قانون به اشخاصی داده می شود که تضمین لازم را ارائه و مامورین گمرکی به نظارت پروسهٔ گمرکی قادر باشند.

(۳) شرایط استفاده از پروسه های دارنده اثرات اقتصادی در اجازه نامه درج می باشد.

(۴) دارندهٔ اجازه نامه مکلف است مامورین گمرکی را در مورد همه مسایلی که اثرات بعدی بر تداوم یا محتوی آن وارد می نماید، مطلع سازد.

تضمین

مادهٔ هفتاد و یکم:

مامورین گمرك صلاحیت دارند به منظور تأمین تأدیهٔ دیون، قرار دادن امـوال تحت پروسهٔ تعلیقی را با ارائه تضمینی که شرایط آن در طرزالعمل مربوط تعیین می گردد، مشروط سازند.

د اقتصادي اغېزو له لرونکو پروسو څخه ترخیص

دوه اویایمه ماده:

(۱) د اقتصادي اغېزو لرونکې ګمرکي پروسې هغه وخت پای ته رسېږي چې د تر پروسې لاندې مالونو یا د دغه ډول مالونو د جبیروي یا پروسس شوو تولیداتو لپاره نوي ګمرکي موقفونه وټاکل شي.

(۲) ګمرکي مامورین د هغو مالونو لپاره چې ګمرکي تعلیقي پروسې یې د دې قانون د حکمونو مطابق ندي تر سره شوې، د نوي ګمرکي موقف د ټاکلو لپاره، لازم تدبیرونه نیسي.

ترخیص از پروسه های دارندۀ اثرات اقتصادی

مادۀ هفتاد و دوم:

(۱) پروسه های گمرکی دارندۀ اثرات اقتصادی زمانی خاتمه می یابد که موقف های گمرکی جدید برای اموال تحت پروسه یا برای تولیدات جبیروی و یا پروسس شده چنین اموال، تعیین گردد.

(۲) مامورین گمرکی جهت تعیین موقف گمرکی جدید برای اموالی که پروسه تعلیقی گمرکی آن طبق احکام این قانون انجام نیافته، تدابیر لازم را اتخاذ می نمایند.

د حقوقو او وجایبو لېږدېدل

دریم اویایمه ماده:

د اقتصادي اغېزو لرونکو ګمرکي پروسو د اجازه لیک لرونکو اشخاصو حقوق او مکلفیتونه، نورو اشخاصو ته لېږدېدای شي، پدې شرط چې د اړوندې کړنلارې مطابق، د ټولو شرایطو او مکلفیتونو تر سره کول ومني.

انتقال حقوق و وجایب

مادۀ هفتاد و سوم:

حقوق و مکلفیت های اشخاص دارندۀ اجازه نامۀ پروسه های گمرکی دارای اثرات اقتصادی به سایر اشخاص انتقال گردیده می تواند، مشروط براینکه انجام تمام شرایط و مکلفیت ها را مطابق طرزالعمل مربوط متعهد گردند.

د ګمرکي دين د ټاکلو وخت
څلور اويايمه ماده:
(۱) تر تعليقي پروسې لاندې د موجودو مالونو د دين اندازه، د اړوند اظهار ليک د منلو په وخت کې ټاکل کېږي.
(۲) د اړوندې کړنلارې مطابق، آزاد دوران ته د ترخيص په وخت کې د تعليقي مالونو بيه، بيا (مجدداً) ټاکل کېدای شي.
(۳) هغه وخت چې تعليقي مالونه، آزاد دوران ته د ترخيص د پروسې لپاره يا په شرط پورې تړلي ترخيص ته منل کېږي، له هر ډول ترجيحي تعرفې څخه چې تر تعليقي پروسې لاندې د مالونو د راوستلو په وخت کې تطبيقېده، برخمن کېږي.

زمان تعيين دين گمرکی
مادۀ هفتاد و چهارم:
(۱) اندازۀ دين اموال موجود تحت پروسۀ تعليقی حين پذيرش اظهارنامۀ مربوط تعيين می گردد.
(۲) قيمت اموال تعليقی حين ترخيص به دوران آزاد مطابق طرزالعمل مربوط مجدداً تعيين شده می تواند.
(۳) حينيکه اموال تعليقی برای پروسۀ ترخيص بدوران آزاد يا ترخيص منوط به شرط پذيرفته می شوند، از هر نوع تعرفۀ ترجيحی که در زمان قرار دادن اموال تحت پروسۀ تعليقی تطبيق می گردید، مستفيد می شود.

د ترانزيت پروسه
پنځه اويايمه ماده
(۱) د ترانزيت پروسه پر هغو مالونو باندې تطبيقېږي چې افغانستان ته رانويستل شي او له هغې لارې بل هېواد ته ولېږدول شي.
(۲) د ترانزيت پروسه پر هغو مالونو باندې چې تر ګمرکي پروسې يا د

پروسۀ ترانزيت
مادۀ هفتاد و پنجم:
(۱) پروسۀ ترانزيت بر اموالی تطبيق می گردد که به افغانستان داخل و از آن طريق به کشور ديگری انتقال می يابد.
(۲) پروسۀ ترانزيت بر اموالیکه تحت پروسۀ گمرکی و

ګمرکي څارنې یا څېړنې تر نورو شکلونو لاندې راغلي او د هېواد د ګمرکي قلمرو له یوې نقطې څخه بلې نقطې ته لېږدول کېږي، تطبیقېږي.

(۳) د ترانزیت په پروسه کې د سوداګریز سیاست د تدبیرونو نیول او د محصول وضع کول جواز نه لري.

(۴) د ترانزیت پروسه له ګمرکي موقف یا نورو ګمرکي پروسو سره په یوه وخت تطبیقیدای شي.

(۵) هغه بدیل دلایل چې د نړیوالو میثاقونو او توافقاتو له مخې په اړونده کړنلاره کې درج شوي دي، د ترانزیت په پروسه کې شاملېدای شي.

(۶) که چېرې ګمرکي مامورین یې تشخیص کړې چې تر ترانزیت لاندې د غیر افغاني مالونو مرجع په افغانستان کې ده او د ترانزیت له ګمرکي ایجاباتو سره په مطابقت کې نده د اړوند ګمرک مسئول مامورین کولای شي، د تضمین د لارمو پیسو له تر لاسه کولو برسېره، مالونه ضبط او په دې هکله د قانون د حکمونو مطابق

یا سایر اشکال نظارت یا بازرسی گمرکی قرار گرفته و از یك نقطه به نقطهٔ دیگر قلمرو گمرکی کشور انتقال می یابد، تطبیق می گردد.

(۳) در پروسهٔ ترانزیت، اتخاذ تدابیر سیاست تجارتی و وضع محصول جواز ندارد.

(۴) پروسهٔ ترانزیت با موقف گمرکی یاسایر پروسه های گمرکی همزمان تطبیق شده می تواند.

(۵) تدابیر بدیلی که به تأسی از میثاقها و توافقات بین المللی در طرزالعمل مربوط درج گردیده، شامل پروسهٔ ترانزیت شده می تواند.

(۶) هر گاه مامورین گمرکی تشخیص نمایند که مرجع اموال غیر افغانی تحت ترانزیت در افغانستان بوده و با ایجابات گمرکی ترانزیت در مطابقت قرار ندارد، مسئولین ذیربط گمرك مربوطه می توانند بر علاوه حصول مبلغ لازمه از تضمین اموال را ضبط و در مورد مطابق احکام قانون اجراآت

اجراآت وکړي.

نمایند.

د ترانزیت له پروسې څخه ترخیص شپږاویایمه ماده:

د ترانزیت پروسه، د دې قانون د دوه اویایمې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي حالت کې او یا هغه وخت چې مالونه او سندونه، د اړوندې کړنلارې مطابق د ټاکلې مرجع د ګمرک دفتر ته ورسېږي، پای ته رسېږي.

ترخیص از پروسه ترانزیت مادۀ هفتاد و ششم:

پروسۀ ترانزیت در حالت مندرج فقرۀ (۲) مادۀ هفتاد و دوم این قانون و یا زمانیکه اموال و اسناد به دفتر گمرک مرجع معینه مطابق طرزالعمل مربوط، مواصلت نماید، خاتمه می یابد.

د ثالثو هېوادونو له لارې ترانزیت اووه اویایمه ماده:

هغه مالونه چې د ثالث هېواد له قلمرو څخه تېر شي او د نوي ګمرکي موقف له ټاکلو پرته ببرته افغانستان ته راننوزي، د نړیوالو توافقاتو په صورت کې ترانزیتي پروسه د هغو په هکله د تطبیق وړ ده.

ترانزیت از طریق کشور های ثالث مادۀ هفتاد و هفتم:

اموالیکه از قلمرو کشور ثالث عبور نموده و بدون تعیین موقف گمرکی جدید دوباره به افغانستان داخل می گردد، در صورت توافقات بین المللی پروسۀ ترانزیتی در مورد آن قابل تطبیق می باشد.

ترانزیتي تضمین اته اویایمه ماده:

(۱) ترانزیتي تضمین، د دې قانون د یوسلو اووه دېرشمې مادې د حکم مطابق، له ترانزیتي مالونو

تضمین ترانزیتی مادۀ هفتاد و هشتم:

(۱) تضمین ترانزیتی مطابق حکم مادۀ یکصد و سی و هفتم این قانون به منظور تأمین

څخه د را پیدا تعلیق شوو پورونو د ورکړې د تأمینولو په منظور اخیستل کېږي، لاندې موارد لدې امر څخه مستثنی دي:

۱- د هوا له لارې لېږدونې.

۲- د پایپ لاین (نل لیکې) له لارې لېږدونې.

۳- د ریل د دولتي شرکت په واسطه لېږدونې.

۴- نور هغه موارد چې د مالیې وزارت په واسطه ټاکل کېږي.

(۲) هغه مالونه چې د دې قانون د پنځه دېرشمې مادې د حکم مطابق، په افغانستان کې یوې ګمرکي مرجع ته د ترانزیت په حالت کې وي، د مالونو مسئول شخص مکلف دی، د نومورو مالونو د ګمرکي دین په سلو کې یوسلو لس (۱۱۰٪) پیسې د تضمین په توګه ورکړي.

تأدیه دیون تعلیق شده ناشی از اموال ترانزیتی اخذ می گردد، موارد آتی از این امر مستثنی است:

۱- انتقالات از طریق هوا.

۲- انتقالات از طریق پایپ لاین.

۳- انتقالات توسط شرکت دولتی ریل.

۴- سایر مواردیکه توسط وزارت مالیه تعیین می گردد.

(۲) اموالیکه مطابق حکم مادۀ سی و پنجم این قانون، در حالت ترانزیت به یکی از مراجع گمرکی در افغانستان باشد، شخص مسئول اموال مکلف است مبلغ یکصد و ده فیصد (۱۱۰٪) دین گمرکی اموال مذکور را طور تضمین تأدیه نماید.

د تضمین له وړاندې کولو څخه معافیت

نهه اویایمه ماده:

(۱) د لاندې شرایطو لرونکی شخص کولای شي د خپلو ترانزیتي فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره، د

معافیت از ارائۀ تضمین

مادۀ هفتاد و نهم:

(۱) شخص واجد شرایط ذیل می تواند جهت پیشبرد فعالیت های ترانزیتی

دې قانون په اته اویایمه ماده کې درج له تضمین څخه د معافیت سند، د دې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو محدودیتونو په پام کې نیولو سره، له ګمرکي مامورینو څخه لاس ته راوړي:

۱- هغه شخص چې په افغانستان کې مېشت وي.

۲- هغه شخص چې په دوامداره توګه له ترانزیتي پروسې څخه ګټه واخلي.

۳- هغه شخص چې مالي وضعیت یې، د ده د ژمنو د تر سره کولو متضمن وي.

۴- هغه شخص چې د ګمرکي یا مالي هېڅ ډول سر غړونو مرتکب شوی نه وي.

۵- هغه شخص چې د ګمرک د مسئولینو لخوا د لومړي کتبي غوښتنلیک په تر لاسه کولو سره ژمنه وکړي، د ټاکلې کړنلارې مطابق د خپلو ترانزیتي فعالیتونو په اړه، واجب التأدیه پیسې ورکوي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي تضمین څخه د معافیت سند، د لاندې مالونو د ترانزیتي خویش سند معافیت از تضمین مندرج مادۀ هفتاد و هشتم این قانون را با در نظرداشت محدودیت های مندرج فقرۀ (۲) این ماده، از مامورین گمرکی بدست آورد:

۱- شخصی که در افغانستان مقیم باشد.

۲- شخصی که طور دوامدار از پروسۀ ترانزیتی استفاده کند.

۳- شخصی که وضعیت مالی اش متضمن ایفای تعهدات وی باشد.

۴- شخصی که مرتکب هیچگونه تخلفات از قوانین گمرکی یا مالی نگردیده باشد.

۵- شخصی که با حصول اولین درخواست کتبی از جانب مسئولین گمرک، تعهد نماید مبالغ واجب التأدیه را در رابطه با فعالیت های ترانزیتی خود مطابق طرزالعمل معینه می پردازد.

(۲) سند معافیت از تضمین مندرج فقرۀ (۱) این ماده در مورد فعالیت های ترانزیتی

فعـالیتونو پـه هکلـه، د تطبیـق وړندی:
۱- هغـه مالونـه چې د دیـن ټولـه مجمـوعي انـدازه یـې لـه دووسـوو زرو (۲۰۰۰۰۰) افغـانیو څخـه زیاتـه وي، د دې پیـسو انـدازه د ګمرکونـو د عمـومی ریاسـت پـه وړانـدیز او د مـالیې وزارت پـه منظوری تغییر کولای شي.
۲- هغـه مالونـه چې پـه افغانسـتان کې د تطبیق وړ، وارداتي محصول د میـزان پـه دلیـل، د خطرونـو د زیاتېدو باعث کېږي.
(۳) د ګمرکونو عمومي ریاست، لـه تـضمین څخـه د معافیـت د سـند د ورکولو واکمنه مرجع ده.
د معافیـت د سـند د اعتبـار مـوده شپږ میاشـتې ده او تـصدیق شـوی نقـل یـې، اړونـدو اشخاصـو تـه صادرېږي.دغـه مـوده د غځېدو وړ ده.

امـوال ذیـل قابـل تطبیـق نمـی باشد:
۱ - امـوالیکه انـدازۀ مجمـوعی دیـن آن بـیش از دو صـد هـزار (۲۰۰۰۰۰) افغـانی باشـد، اندازۀ این مبلغ به اساس پیشنهاد وزارت مالیـه و منظـوری مجلـس عـالی وزراء تغییـر کـرده می تواند.
۲ - امـوالیکه بـه دلیـل میـزان محصول وارداتی قابـل تطبیـق در افغانـستان، باعـث ازدیـاد مخاطرات می گردد.
(۳) ریاسـت عمـومي گمرکـات مرجـع ذیـصلاح اعطـاء سـند معافیت از تضمین می باشد.
مـدت اعتبـار سند معافیت شش ماه بوده و نقل تصدیق شدۀ آن بـه اشخاص ذیربط صادر می گردد.
ایـن مـدت قابـل تمدیـد می باشد.

د ترانزیتـي مـالونو د مـسئولو اشخاصو مکلفیتونه

اتیایمه ماده:
د ترانزیتـي مـالونو مالـک یـا یـې اسـتازی مکلـف دی، مالونـه او

مکلفیـت هـای اشـخاص مـسئول امـوال ترانزیتی

مادۀ هشتادم:
مالك امـوال ترانزیتـی یـا نمایـدۀ وی مکلـف است امـوال و اسناد

اړوند ګمرکي سندونه، د کړنلارې مطابق، په سالم صورت سره د هغو د هویت د تشخیص د تأمینولو لپاره، د اړوند ګمرک اداري ته وړاندې کړي.

گمرکی مربوطه را مطابق طرز العمل به صورت سالم در مدت معینه جهت تأمین تشخیص هویت آن به ادارهٔ گمرك مربوطه ارائه نماید.

د ګمرک په ګدامونو کې د مالونو ځای پر ځای کول

یو اتیایمه ماده:

(۱) مالونه په هغو ګدامونو کې ځای پر ځای کېږي چې د زېرمې لپاره یې، د ګمرکونو د اداري لخوا د مجوزه شرایطو مطابق، منظور شوي او د دوی تر څارنې لاندې وي.

هغه ګدامونه چې مستقیماً د ګمرکي مسئولینو له لوري یا د ګدامدار په واسطه د ګمرک په ساحه کې اداره کېږي، هم پدې حکم کې شامل دي.

(۲) لاندې مالونه د ګمرکونو په ګدامونو کې ځای پر ځای کېږي:

۱- هغه غیر افغاني مالونه چې د وارداتي محصول یا د سوداګریز سیاست د تدبیرونو د نیولو تابع نه وي.

۲- افغاني صادراتي مالونه چې د

جابجا نمودن اموال در گدامهای گمرك

مادهٔ هشتاد و یکم:

(۱) اموال در گدامهایی جابجا می گردد که جهت ذخیرهٔ آن مطابق شرایط مجوزه، توسط ادارهٔ گمرکات منظور گردیده و مورد نظارت ایشان قرار داشته باشد.

گدام هاییکه مستقیماً از طرف مسئولین گمرکی یا توسط گدام دار در ساحهٔ گمرکی اداره می گردد نیز شامل این حکم است.

(۲) اموال آتی در گدام های گمرکات جابجا می گردد:

۱- اموال غیر افغانی که تابع محصول وارداتی یا اتخاذ تدابیر سیاست تجارتی نباشد.

۲- اموال صادراتی افغانی

ګمرکي تقنيني سندونو مطابق، په ګمرکي ګدامونو کې ځای پر ځای کېدل ایجاب کړي.

(۳) د مالیې وزارت کولای شي د مالونو داظهاروونکي د غوښتنلیک له مخې، داسې حالات وټاکي چې د هغو مطابق د دې مادې په (۲) فقره کې درج مالونه، د ګمرک په ګدام کې د هغو له اېښودلو پرته (د ګمرکاتو په ګدام کې دځای پر ځای کېدلو) تر پروسې لاندې راشي.

که مطابق اسناد تقنینی گمرکی ایجاب جابجا شدن را در گدامهای گمرکی نماید.

(۳) وزارت مالیه می تواند بالاثر درخواست اظهار کنندۀ اموال، حالاتی را تعیین نماید که مطابق آن اموال مندرج فقرۀ (۲) این ماده بدون گذاشتن آن در گدام گمرك، تحت پروسۀ (جابجا نمودن در گدام گمرکات) قرار گرفته بتواند.

د ګدامونو ډولونه

دوه اتیایمه ماده:

ګمرکي ګدامونه په لاندې شکلونو جوړېږي:

۱- ګمرکي رسمي ګدامونه چې یوازې د مالیې وزارت لخوا جوړېږي.

۲- ګمرکي عمومي ګدامونه چې د ټولو مالونو د صادروونکو او واردوونکو د ګټې اخیستنې په منظور، د اشخاصو لخوا جوړېږي.

۳- ګمرکي خصوصي ګدامونه چې یوازې د مالونو د مالک د ګټې اخیستنې په منظور د هغه له لوري

انواع گدام ها

مادۀ هشتاد و دوم:

گدام های گمرکی به اشکال ذیل تأسیس می گردد:

۱- گدام های رسمی گمرکی که صرف از طرف وزارت مالیه تأسیس می گردد.

۲- گدام های عمومي گمرکی که به منظور استفاده تمام صادر کننده گان و وارد کننده گان اموال از طرف اشخاص تأسیس می گردد.

۳- گدام های خصوصی گمرکی که صرف به منظور استفادۀ اموال مالك آن از طرف وی

جوړېدای شي.

تأسیس شده می تواند.

ګدامدار او د هغه مسئولیتونه

دري اتیایمه ماده:

د ګمرک ګدامدار د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- د هغو مالونو له ایستلو څخه مخنیوی چې د ګمرکي څارنې تابع وي د دې قانون د نهه اتیایمې مادې حکم، لدې امر څخه مستثنی دی.

۲- د اړوندې کړنلارې مطابق، په ګدام کې د مالونو د ځای پر ځای کولو د پروسې د شرایطو تطبیقول.

۳- د سوابقو ساتل او په اړونده کړنلاره کې د نورو مکلفیتونو رعایتول.

گدام دار و مسئولیتهای وی

مادۀ هشتاد و سوم:

گدام دار گمرك دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- جلوگیری از خروج اموالیکه تابع نظارت گمرکی باشد. حکم مادۀ هشتاد و نهم این قانون از این امر مستثنی است.

۲- تطبیق شرایط پروسۀ جابجا نمودن اموال در گدام مطابق طرزالعمل مربوط.

۳- حفظ سوابق و رعایت سایر مکلفیت های مندرج در طرزالعمل مربوط.

د ګمرک د ګدامونو د فعالیت جواز

څلور اتیایمه ماده:

(۱) د خصوصي او عمومي ګمرکي ګدامونو د جوړولو جواز د مالیې وزارت لخوا صادرېږي. د ګمرکونو رسمي ګدامونه چې چارې یې د ګمرک د مامورینو په واسطه اداره کېږي، لدې امر څخه مستثنی دي.

جواز فعالیت گدامهای گمرك

مادۀ هشتاد و چهارم:

(۱) جواز تأسیس گدامهای گمرکی خصوصی و عمومي از طرف وزارت مالیه صادر میگردد. گدامهای رسمی گمرکات که امور آن توسط مامورین گمرك اداره می گردد از این امر مستثنی است.

(۲) د جواز د ورکولو شرایط او د ګمرکي ګدامونو د فعالیت ډول، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.
(۳) د هغې ځمکې په مقابل کې چې د عمومي او خصوصي فعالیت کوونکو ګدامونو لپاره په ګمرکي ساحه کې اجاره کېږي، هېڅ ډول دیمرچ نشي غوښتل کېدی او اجاره شوې ځمکه د ګدامدار تر کنترول لاندې پاتې کېږي.په ګدام کې د زېرمه شوو مالونو محصول تر ګمرکي پروسې لاندې د راوستلو تر وخته پورې ځنډېږي.نومورې محصول به د هغه اظهاروونکي په واسطه چې مالونه له ګمرکي ساحې څخه د ترخیص پروسې ته اظهاروي، ورکول شي.

(۲) شرایط اعطای جواز و طرز فعالیت گدام های گمرکی در طرزالعمل جداگانه تنظیم میگردد.
(۳) در مقابل زمینی که برای گدام های عمومي و خصوصی فعالیت کننده در ساحۀ گمرکی اجاره می گردد، هیچ نوع دیمرچ مطالبه گردیده نمی تواند و زمین اجاره شده تحت کنترول گدام دار باقی می ماند. محصول اموال ذخیره شده در گدام الی زمان قرار دادن اموال تحت پروسۀ گمرکی به تعویق می افتد. محصول متذکره توسط اظهار کننده ای که اموال را به پروسۀ ترخیص از ساحۀ گمرکی اظهار می نماید، پرداخته خواهد شد.

د حقوقو او مکلفیتونو لېږدول

پنځه اتیایمه ماده:

نورو اشخاصو ته د ګدامدار حقوق او مکلفیتونه چې په اړونده کړنلاره کې د درج شوو شرایطو لرونکي وي، د ګمرکي واکمنو مامورینو په موافقه لېږدېدی شي.

انتقال حقوق و مکلفیتها

مادۀ هشتاد و پنجم:

حقوق و مکلفیت های گدام دار به سایر اشخاص که واجد شرایط مندرج طرزالعمل مربوط باشند، با موافقۀ مامورین ذیصلاح گمرکی انتقال گردیده می تواند.

ممیزه حالات

شپږاتیایمه ماده:

(۱) د ګمرک مسئولین کولای شي د اقتصادي اړتیا د موجودیت او د ګمرکي څارنې د نه ګډو ډېدو په صورت کې، په ګمرکي ګدامونو کې د لاټدې مالونو د زېرمې اجازه ورکړي:

۱- افغاني مالونه، د دې قانون د یو اتیایمې مادې د (۲) فقرې په (۲) جزء کې د درج شوو مالونو پرته.

پدې حالت کې د ګمرک په ګدام کې د مالونو د ځای پر ځای کولو د پروسې شرایط پر نومورو مالونو نه تطبیقېږي.

۲- غیر افغاني مالونه چې د ګمرک د ګدام په انګړ کې تر (داخلي پروسس) یا (د ګمرکونو تر څارنې لاټدې پروسس) لاټدې راشي او پر نومورو پروسو باندې نافذ حکمونه پدې برخه کې رعایت شي.

پدې برخه کې اړوند استثناآت، د جلا کړنلارې مطابق توضیح کېږي.

(۲) ګدامدار مکلف دی د ګمرک د مسئولینو د غوښتنې له مخې، د

حالات ممیزه

مادۀ هشتاد و ششم:

(۱) مسئولین گمرك می توانند در صورت موجودیت نیازمندی اقتصادی و عدم اخلال بر نظارت گمرکی اجازۀ ذخیرۀ اموال ذیل را در گدام های گمرکی بدهند:

۱- اموال افغانی به استثنای اموال مندرج جزء (۲) فقرۀ (۲) مادۀ هشتاد و یکم این قانون.

در این حالت شرایط پروسۀ جابجا کردن اموال در گدام گمرك بالای اموال متذکره تطبیق نمی گردد.

۲- اموال غیر افغانی که در محوطۀ گدام گمرك تحت (پروسس داخلی) یا (پروسس تحت نظارت گمرکات) قرار گیرد و احکام نافذ بر پروسه های متذکره در زمینه رعایت گردد.

استثناآت مربوط در زمینه طبق طرزالعمل جداگانه توضیح می گردد.

(۲) گدام دار مکلف است بالاثر تقاضای مسئولین گمرك

دې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوي مالونـه، د دې مـادې د دري اتيـايمې مـادې د (۳) جزء د حکـم مطابق، په اړوندو دفترونو کې ثبت او سجل کړي.

په ګدام کې د مالونو د توديع موده اووه اتيايمه ماده:

(۱) مالونه تر دولسو مياشتو پورې (د ګمرکونو په ګدام کې د ځای پر ځای کېدلو) تر پروسې لاندې ساتل کېدای شـي. ګمرکـي مـسئولين کـولای شـي، د اظهـاروونکي د غوښتنليک له مخې، د هغو ساتنه تر دوولسو مياشتو پورې وغځوي.

(۲) ګمرکي مسئولين کولای شي د خاصو حالاتو په پام کې نيولو سره، د دې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوې مـوده رالنـډه کـړي، پـدې صـورت کـې اظهـاروونکی مکلـف دی د نومـورې مـودې تـر پـای تـه رسېدو پورې، د خپلو مالونو لپاره بل ګمرکي موقف وټاکي.

امـوال مندرج فـقـرۀ (۱) اين مـاده را مـطابـق حـکم جـزء (۳) مـادۀ هـشـتـاد و سـوم ايـن قـانـون در دفـاتـر مـربـوط ثبـت و سـجـل نـمـايـد.

ميعاد توديع امـوال در گدام مادۀ هشتاد و هفتم:

(۱) امـوال الـی مـدت دوازده مـاه تـحت پـروسـه (جـابـجـا شدن در گدام گمرکات) نگهداری شده می‌تواند، مسئولين گمرکی می تـوانـند بـالاثـر درخـواست اظـهـار کـننـده، نـگهداری آن را الـی دوازده مـاه تـمديد نـمايند.

(۲) مـسئولين گمرکی می توانند بـا نظرداشت حـالات خـاص مـدت منـدرج فقـرۀ (۱) ايـن مـاده را کـاهش دهنـد، در ايـن صـورت اظهـار کننـده مکلـف است الـی ختـم ميعـاد متـذکره، موقـف گمرکـی ديگـری را بـرای امـوال خويش تعيين کند.

په ګمرکي ګدام کې د ځای پر ځای کېدو تر پروسې لاندې مالونو باندې د عملیو تطبیقول

اته اتیایمه ماده:

(۱) په ګدام کې د مالونو د ځای پر ځای کېدو تر پروسې لاندې مالونه، د ساتنې، ظاهري وضع د ښه والي، د خرڅلاو د کیفیت، وېشلو یا بیا خرڅلاو لپاره د مالونو د چمتو کولو په منظور، تر هغو عملیو لاندې راتلای شي چې د مالیې وزارت لخوا په جلا کړنلاره کې ټاکل کېږي.

(۲) اظهاروونکی مکلف دی، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو شکلونو څخه د ګټې اخیستنې اجازه، د مخه د ګمرک له مسئولینو څخه واخلي.

ګمرکي مسئولین له عملیو څخه د ګټې اخیستنې شرایط ټاکي.

تطبیق عملیه ها بر اموال تحت پروسهٔ جابجا نمودن در گدام گمرکی

مادهٔ هشتاد و هشتم:

(۱) اموال تحت پروسهٔ جابجا نمودن در گدام، به منظور حفاظت، بهبود وضع ظاهری، کیفیت فروش، آماده نمودن اموال برای توزیع یا فروش مجدد تحت عملیه هایی قرار گرفته می تواند که از طرف وزارت مالیه در طرزالعمل جداگانه تعیین می گردد.

(۲) اظهار کننده مکلف است اجازهٔ مبنی بر استفاده از اشکال عملیه های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را به صورت قبلی از مسئولین گمرك اخذ نماید.

مسئولین گمرکی شرایط استفاده از عملیه ها تعیین می نمایند.

له ګدامونو څخه مؤقت ویستل (خروج)

نهه اتیایمه ماده:

(۱) هغه مالونه چې (د ګمرک په ګدامونو کې د ځای پر ځای کېدو) تر پروسې لاندې دي، د شرایطو په

خروج مؤقت از گدامها

مادهٔ هشتاد و نهم:

(۱) اموالیکه تحت پروسهٔ (جابجا شدن در گدامهای گمرك) قرار دارند، با نظر

پام کې نیولو سره مؤقتاً له ګدامونو څخه ایستل کېدی شي، پدې شرط چې د ګمرک له مسئولینو څخه د ایستلو اجازه د مخه اخیستل شوې وي.
د ایستلو شرایط په اجازه لیک کې تصریح کېږي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج مالونه، د دې قانون په اته اتیایمه ماده کې د درج شوو عملیو تابع کېدی شي.

داشت شرایط مؤقتاً از گدامها خارج گردیده می تواند مشروط بر اینکه قبلاً اجازۀ خروج از مسئولین گمرك اخذ گردیده باشد.
شرایط خروج در اجازه نامه تصریح می گردد.
(۲) اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده تابع عملیه های مندرج مادۀ هشتاد و هشتم این قانون قرار گرفته می تواند.

د مالونو لېږدونه
نوې یمه ماده:
ګمرکي مسئولینو واک لري له یوه ګدام څخه بل ته د ګمرک په ګدامونو کې د ځای پر ځای کېدو تر پروسې لاندې د مالونو د لېږدونې اجازه ور کړي.

انتقال اموال
مادۀ نودم:
مسئولین گمرکی صلاحیت دارند اجازۀ انتقال اموال تحت پروسۀ جابجا کردن در گدامهای گمرك را از یك گدام به گدام دیگر گمرکی اعطاء نمایند.

په ګدام کې د ځای پر ځای شوو مالونو ګمرکي نرخ
یو نوې یمه ماده:
(۱) که چېرې په ګدام کې د مالونو د ځای پر ځای کولو او ساتنې لګښتونه، د مالونو له اصلي ورکړې شوې یاد ورکړې وړ بیې

نرخ گمرکی اموال جابجا شده در گدام
مادۀ نود و یکم:
(۱) هر گاه مصارف جابجا نمودن و نگهداری اموال در گدام از قیمت اصلی تأدیه شده یا قابل تأدیه اموال به

څخه په مجزاء صورت سره ښودل شوي وي، دغه لګښتونه د مالونو د اظهاروونکي په واسطه د وړاندې شوي ګمرکي نرخ په محاسبه کې نه شاملېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د دې قانون په اته اتیایمه ماده کې تر درج شوو عملیو لاندې راغلي وي، د اظهار لیک د برابروونکي شخص د غوښتنلیک په صورت کې د مالونو ډول، ګمرکي نرخ او کمیت، دواړاتي محصول دمبالغو د ټاکلو لپاره، د دې قانون په څلور او یایمه ماده کې د درج شوې نېټې په اعتبار داسې محاسبه کېږي چې نومورې مالونه د دې قانون په اته اتیایمه ماده کې د درج شوو عملیو د بدلونونو تابع نه وي ګرځېدلي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې په درج شوو بدلونونو پورې اړوند استثناآت، په جلا کړنلاره کې تنظیمېږي.

صورت مجزا نشان داده شده باشد، این مصارف در محاسبهٔ نرخ گمرکی ارائه شده توسط اظهار کننده اموال، شامل نمی گردد.

(۲) هرگاه اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تحت عملیه های مندرج مادهٔ هشتاد و هشتم این قانون قرار گرفته باشد در صورت درخواست شخص ترتیب دهندهٔ اظهارنامه، نوعیت، نرخ گمرکی و کمیت اموال جهت تعیین مبالغ محصول وارداتی، با اعتبار تاریخ مندرج مادهٔ هفتاد و چهارم این قانون، طوری محاسبه می گردد که اموال مذکور تابع تغییرات عملیه های مندرج مادهٔ هشتاد و هشتم این قانون قرار نگرفته باشد.

(۳) استثناآت مربوط به تغییرات مندرج فقرهٔ (۲) این ماده در طرزالعمل جداگانه تنظیم می گردد.

داخلي پروسس

دوه نوي يمه ماده:

د داخلي پروسس عمليه په لاندې وارداتي مالونو باندې د تطبيق وړ ده:

۱- هغه تعليقي مالونه چې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د هغو صادرول د جبيروي توليداتو په شکل وي.

۲- هغه مالونه چې د ګمرکي محصول د استرداد تر سيستم لاندې راغلي او د جبيروي توليداتو په شکل د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صادر شي.

پروسس داخلی

مادۀ نود و دوم:

عملیۀ پروسس داخلی بالای اموال وارداتی ذیل قابل تطبیق است:

۱- اموال تعلیقی که صدور آن از قلمرو گمرکی کشور به شکل تولیدات جبیروی باشد.

۲- اموالی که تحت سیستم استرداد محصول گمرکی قرار داشته و به شکل تولیدات جبیروی از قلمرو گمرکی کشور صادر گردد.

د داخلي پروسس د عمليو ډولونه

دري نوي يمه ماده:

(۱) د مالونو د داخلي پروسس په اړه (د پروسس عملیې) عبارت دي له:

- د نصب، ترلو (بسته کاری) یا په نورو مالونو کې د هغو د ځای پر ځای کولو په شمول پر مالونو باندې کار کول.
- د مالونو پروسس.
- ترمیم یا د مالونو د حالت اعاده کول.

انواع عملیه های پروسس داخلی

مادۀ نود و سوم:

(۱) (عملیه های پروسس) در ارتباط با پروسس داخلی اموال عبارت است از:

- کار نمودن بالای اموال به شمول نصب، بسته کاری یا جابجا کردن آن در اموال دیگر.
- پروسس اموال.
- ترمیم یا اعادۀ حالت اموال.

- په اړونده کړنلاره کې له درج شوو ټاکلو مالونو څخه ګټه اخیستنه چې په جبیروې تولیداتو کې یې نه تشخیصېږي خو د نومورو تولیداتو تولیدول یې مجاز ګرځولي او یایې تولید ته زمینه برابروي.

(۲) د مالونو جبیروي تولیدات له هغو ټولو تولیداتو څخه عبارت دي چې د پروسس د عملیو په نتیجه کې له مالونو څخه لاس ته راځي. فاضله او قراضه مواد لدې امر څخه مستثنی دي.

(۳) د ثمرې میزان د جبیروي تولیداتو له مقدار یا فیصدی څخه عبارت دی چې د پروسس د عملیې په پایله کې د مالونو له یوې ټاکلې اندازې څخه لاس ته راځي.

- استفاده از اموال معین مندرج در طرزالعمل مربوط که در تولیدات جبیروی آن تشخیص نمی شوند، ولی تولید نمودن تولیدات متذکره را مجاز ساخته و یا زمینه را برای تولید آن مساعد می سازد.

(۲) تولیدات جبیروی اموال عبارت از تمام تولیداتی می باشد که در نتیجهٔ عملیه های پروسس از اموال بدست می آیند، مواد فاضله و قراضه از این امر مستثنی می‌باشد.

(۳) میزان ثمره عبارت از مقدار یا فیصدی تولیدات جبیروی می باشد که در نتیجهٔ عملیهٔ پروسس از یك اندازهٔ معین اموال بدست می آید.

د داخلي پروسس د جواز غوښتنليک

څلور نوي يمه ماده:

د داخلي پروسس جواز د ليکلي غوښتنليک له مخې په لاندې شرطونو سره د اړوندې کړنلارې مطابق، د مالیې وزارت لخوا ورکول کېږي:

درخواست جواز پروسس داخلی

مادهٔ نود و چهارم:

جواز پروسس داخلی بالاثر درخواست کتبی تحت شرایط ذیل از طرف وزارت مالیه طبق طرزالعمل مربوط اعطاء می گردد:

۱- په هغه صورت کې چې غوښتنلیک ورکوونکی په افغانستان کې مېشت وي.
۲- په هغه صورت کې چې تعلیقي مالونه په جبیروي تولیداتو کې وپېژندل او تشخیص شوی وی، د دې قانون د دري نوي یمې مادې د (۱) فقرې د (۴) جزء حکم لدې امر څخه مستثنی دی.
۳- په هغه صورت کې چې د داخلي پروسس عملیه، د هېواد اقتصادي ګټې په نښه توګه تأمین کړي.

۱- در صورتی که درخواست کننده مقیم افغانستان باشد.
۲- در صورتی که اموال تعلیقی در تولیدات جبیروی شناسایی و تشخیص شده بتواند، حکم جزء (۴) فقرهٔ (۱) مادهٔ نود و سوم این قانون از این امر مستثنی است.
۳- در صورتیکه عملیهٔ پروسس داخلی منافع اقتصادی کشور را به وجه احسن تأمین نماید.

د داخلي پروسس د صادرولو موده پنځه نوي یمه ماده:
ګمرکي مامورین د وخت هغه موده ټاکي چې پکې جبیروي تولیدات صادر یا ګمرکي نوی موقف لاس ته راوړلی شي، پدې شرط چې دغه موده د پروسس د عملیو یا نوي ګمرکي موقف ته د جبیروي تولیداتو د چمتو کولو لپاره کافي وي.
ګمرکي مامورین کولای شي نومورې موده، د جواز لرونکي د

میعاد صدور پروسس داخلی مادهٔ نود و پنجم:
مامورین گمرکی مدت زمانی را تعیین می نمایند که در آن تولیدات جبیروی صادر یا موقف جدید گمرکی را بدست آورده بتواند. مشروط بر این که این مدت برای عملیه های پروسس یا آماده نمودن تولیدات جبیروی برای موقف جدید گمرکی کافی باشد.
مامورین گمرکی می توانند میعاد متذکره را بالاثر درخواست دارندهٔ

غوښتنليک له مخې وغځوي.

جواز، تمدید نمایند.

د داخلي پروسس د انتفاع ضريب شپږ نوي يمه ماده:

(۱) د ګمرک مامورين د داخلي پروسس د عملیې د ثمرې میزان، یایې د ټاکلو ډول د واقعي شرایطو پر بنسټ چې د پروسس عملیه په هغو کې پر مخ بیول کېږي، ټاکي.

(۲) د ثمرې ستندرد میزان، په غوښتنليک کې د درج شوو معلوماتو په اساس، په جواز کې ټاکل کېږي.

ضریب انتفاع پروسس داخلی مادۀ نود و ششم:

(۱) مامورین گمرك میزان ثمرۀ عملیۀ پروسس داخلی یا طرز تعیین آنرا به اساس شرایط واقعی که عملیۀ پروسس در آن پیش برده می شود، معین می نمایند.

(۲) میزان ستندرد ثمره به اساس معلومات مندرج درخواست در جواز تعیین می گردد.

د داخلي پروسس آزاد دوران ته ترخيص اووه نوي يمه ماده:

که چېرې په داخلي پروسس کې شامل مالونه، پرته له تغییره یا د جبیروي تولیداتو په شکل، د دې قانون په پنځه نوي يمه ماده کې په درج شوې موده کې ورک شي، دغه مالونه آزاد دوران ته ترخیص ګڼل کېږي او د داخلي پروسس د جواز لرونکی د نومورو مالونو د ګمرکي اظهارلیک په وړاندې کولو او د ګمرکي دین په ورکولو مکلف دی.

ترخیص به دوران آزاد پروسس داخلی مادۀ نود و هفتم:

هرگاه اموال شامل پروسس داخلی بدون تغییر یا به شکل تولیدات جبیروی در مدت مندرج مادۀ نود و پنجم این قانون مفقود الاثر گردد، این اموال به دوران آزاد ترخیص پنداشته شده و دارندۀ جواز پروسس داخلی مکلف به ارائۀ اظهار نامۀ گمرکی اموال مذکور و تأدیه دین گمرکی می باشد.

د داخلي پروسس جبيروي توليدات اته نوي يمه ماده:

(۱) جبيروي توليدات چې له صادرېدو وروسته بيا وارد شي، د ګمرکي محصول تابع دي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج مالونو ګمرکي دين، د واردوونکي د غوښتنې په اساس، د ورک شويو مالونو په شان د دې قانون د اووه نوی يمې مادې د حکم مطابق ټاکل کېږي.

د داخلي پروسس د جبيروي توليداتو ګمرکي محصول نهه نوی يمه ماده:

(۱) جبيروي توليدات د يو شان وارداتي مالونو د عين محصول تابع دي.

(۲) په هغو حالاتو کې چې ترجيحي تعرفه پر يو شان وارداتي مالونو باندې له هغو څخه د نظر وړ ګټې اخيستنې په پام کې لرلو سره تطبيق شي، جبيروي توليدات هم د عين ترجيحي تعرفې تابع دي.

(۳) په هغه صورت کې چې وارداتي مالونه، د دې قانون د

تولیدات جبیروی پروسس داخلی مادهٔ نود و هشتم:

(۱) تولیدات جبیروی که بعد از صدور مجدداً وارد گردد، تابع محصول گمرکی می باشد.

(۲) دین گمرکی اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس درخواست وارد کننده، همانند اموال مفقودالاثر مطابق حکم مادهٔ نود و هفتم این قانون تعیین می گردد.

محصول گمرکی تولیدات جبیروی پروسس داخلی مادهٔ نود و نهم:

(۱) تولیدات جبیروی تابع عین محصول اموال یکسان وارداتی می باشد.

(۲) در حالاتیکه تعرفه ترجیحی بر اموال یکسان وارداتی با در نظرداشت استفاده مورد نظر از آن تطبیق گردد، تولیدات جبیروی نیز تابع عین تعرفهٔ ترجیحی می باشد.

(۳) در صورتی‌که اموال وارداتی مطابق حکم مادهٔ بیست و هفتم

اووهويشتمې مادې د حکم مطابق، لـه محـصول څخـه معـاف شـي، جبيـروي توليـدات هـم لـه محـصول څخه معاف دي.

(۴) د مـاليې وزارت کـولای شـي د جبيـــروي توليـــداتو د محـــصول انـدازه، پـه هغـو حـالاتو کـې چـې د جبيـــروي توليـــداتو محـــصول پـــه اړونـدو تعليقـي مـالونو بانـدې د محـصول لـه انـدازې څخـه لـږ شـي، وټاکي.

ايـــن قـــانون از محـــصول معـــاف گـــــردد ، تـــوليدات جبيـروی نيـز از محـصول معـــــاف مـــی باشد .

(۴) وزارت مـــالـيـــه مـــی تـــوانـد انـــدازۀ مـحـــصول تـوليـــدات جبيـــــروی را در حـالاتـيـــــکه مـحـــصول تـوليـــدات جبيـــروی کمتـــر از انـــدازه محـــصول بـــالای امـــوال تعليقـــی مربـــوط گـــردد ، تعيين نمايد .

له بهرنې پروسس وروسته د داخلي پروسس جبيروي توليدات

سلمه ماده:

د جبيروي توليداتو يا له تغيير پرته مـالونو ټولـه يـا يـوه برخـه، د دې قانون له يو سلو شپاړسمې څخه تر يـو سـلو يوويـشتمې مـادې کـې د درج شـــوو حکمونـــو او اړونـــدې کـــړنلارې مطـــابق، د ګمرکـــي مـامورينو د اجـازې لـه اخيـستلو وروسته د زيات پروسس لپـاره، پـه مؤقتـه توګـه، بهرنيـو هېوادونـو تـه صادرېدای شي.

تولیدات جبیروی پروسس داخلی بعد از پروسس خارجی

مادۀ صدم:

تـمام يـا قـسمتی از تـوليـدات جبـيـروی يا امـوال بدون تغيير، مـطابـق احـکام منـدرج مـواد يـکصد و شانزدهم الی يـکصد و بيـست و يـکـم ايـن قانـون و طرزالعمل مـربـوط بـعد از اخـذ اجـازه از مامورين گـمرکی جـهت پـروسس مـزيد طـور مـؤقت بـه کـشورهای خـارجی صـادر شـده می تـواند .

دګمرکي محصول د استرداد موارد

یو سلو یوه یمه ماده:

(۱) د ګمرکي محصول د استرداد له سیستم څخه ګټه اخیستنه، د دې قانون په څلور نوي یمه ماده کې د درج شوي جواز په اساس، د هغو مالونو پرته چې واردول یې د کمپټې محدودیتونو تابع دي، مجاز ده.

(۲) د ګمرکي محصول استرداد، د هغو مالونو له محصول څخه چې د ګمرکي محصول د استرداد د سیستم مطابق، عملاً ورکړل شوی دی، زیاتېدی نشي.

موارد استرداد محصول گمرکی

مادۀ یکصد و یکم:

(۱) استفاده از سیستم استرداد محصول گمرکی به اساس جواز مندرج مادۀ نود و چهارم این قانون به استثنای اموالیکه تورید آن تابع محدودیت های کمیتی بوده، مجاز می باشد.

(۲) استرداد محصول گمرکی از محصول اموالیکه مطابق سیستم استرداد محصول گمرکی عملاً تأدیه گردیده، بیشتر بوده نمی تواند.

د ګمرکي محصول د استرداد اظهارلیک

یوسلو دوه یمه ماده:

د ګمرکي محصول د استرداد له سیستم څخه ګټه اخیستنه، په ګمرکي اظهار لیک کې مشخصه شوېده او د جواز کاپي یې چې د دې قانون د څلور نوي یمې مادې د حکم مطابق ورکړ شوېده، له هغه سره ضمیمه کېږي.

اظهارنامه استرداد محصول گمرکی

مادۀ یکصد و دوم:

استفاده از سیستم استرداد محصول گمرکی در اظهارنامۀ گمرکی مشخص گردیده و کاپی جواز آن که مطابق حکم مادۀ نود و چهارم این قانون اعطاء شده، با آن ضمیمه می گردد.

د ګمرکي محصول د استرداد وروسته مؤقت صادرات

یوسلو درې یمه ماده:

که چېرې جبیروي تولیدات چې د دې قانون د سلمې مادې د حکم مطابق، مؤقتاً صادراو په ټاکلې موده کې بیا وارد نشي، دغه صادرات د دې قانون د یو سلو څلورمې مادې د حکم تابع کېږي.

صادرات مؤقت بعد از استرداد محصول گمرکی

مادۀ یکصد و سوم:

هر گاه تولیدات جبیروی که مطابق حکم مادۀ صدم این قانون مؤقتاً صادر گردیده و در مدت معینه مجدداً وارد نگردد، این صادرات تابع حکم مادۀ یکصد و چهارم این قانون قرار می گیرد.

د ګمرکي محصول د استرداد تر سیستم لاندې بېرته ورکړه

یوسلو څلورمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې له پروسس څخه د ګټې اخیستنې ټول شرایط رعایت شي، د جبیروي تولیداتو ورکړل شوی وارداتي محصول، د دې قانون په یو سلو دوه یمه ماده کې درج شوي جواز لرونکي ته د هغو د صادرېدو په وخت کې بېرته ورکول کېږي.

(۲) د ګمرکي محصول د بېرته ورکړې غوښتنه، تر یوه کاله پورې صورت مومي، خو دا چې په جواز کې لږه موده درج شوې وي، که چېرې مالونه د ګمرکي محصول د

باز پرداخت تحت سیستم استرداد محصول گمرکی

مادۀ یکصد و چهارم:

(۱) در صورتیکه تمام شرایط استفاده از پروسس رعایت گردد محصول وارداتی تأدیه شدۀ تولیدات جبیروی حین صدور آن به دارندۀ جواز مندرج مادۀ یکصد و دوم این قانون بازپرداخت می گردد.

(۲) مطالبۀ بازپرداخت محصول گمرکی الی مدت یکسال صورت می گیرد، مگر اینکه در جواز میعاد کمتری درج گردیده باشد. هر گاه اموال

استرداد تر سیستم لاندې د بېرته ورکړې د مودې تر پای ته رسېدو پورې صادر نشي، مالونه آزاد دوران ته د ترخیص شوو مالونو په توګه ګڼل کېږي.

الی ختم میعاد بازپرداخت تحت سیستم استرداد محصول گمرکی صادر نگردد، اموال بحیث اموال ترخیص شده به دوران آزاد پنداشته می شود.

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې پروسس یوسلو پنځمه ماده:

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې پروسس، ددې قانون د درې نوې یمې مادې د (۱) فقرې د حکم په اساس د تعلیقي مالونو پروسس، پرته لدې چې د ګمرکي محصول یا سوداګریز سیاست د تدبیرونو تابع شي، مجاز ګرځوي.پدې شرط چې پر جبیروي تولیداتو باندې د تطبیق وړ محصول، آزاد دوران ته د هغو د ترخیص په وخت کې د وارداتي یو شان مالونو په څېر متناسباً ورکړ شي.

پروسس تحت بازرسی گمرکات مادۀ یکصد و پنجم:

پروسس تحت بازرسی گمرکات به اساس حکم فقره (۱) مادۀ نود و سوم این قانون پروسس اموال تعلیقی را بدون اینکه تابع محصول گمرکی یا تدابیر سیاست تجارتی شود، مجاز می گرداند. مشروط براینکه محصول قابل تطبیق بر تولیدات جبیروی حین ترخیص آن به دوران آزاد مانند اموال یکسان وارداتی متناسباً تأدیه شود.

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې د پروسس جواز

یو سلو شپږمه ماده:

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې د پروسس جواز د غوښتونکي د لیکلي غوښتنلیک له مخې د

جواز پروسس تحت بازرسی گمرکات

مادۀ یکصد و ششم:

جواز پروسس تحت بازرسی گمرکات بالاثر درخواست کتبی متقاضی از طرف وزارت

اړوندې کړنلارې مطابق، د مالیې وزارت لخوا، تر دغو شرایطو لاندې ورکول کېږي:

۱- غوښتنلیک ورکوونکی دې د افغانستان استوګن وي.

۲- تعلیقي مالونه دې په جبیروي تولیداتو کې د تشخیص وړوي.

۳- له اقتصادي نظره تر پروسس لاندې د راتلو د وخت او صاف او حالت، د هغو له پروسس وروسته اعاده نشوی شي.

۴- له پروسس څخه استفاده، د هېواد اقتصادی ګټې په ښه توګه تأمین کړی شي.

مالیه طبق طرزالعمل مربوط تحت شرایط ذیل اعطاء می گردد:

۱- درخواست کننده مقیم افغانستان باشد.

۲- اموال تعلیقی در تولیدات جبیروی قابل تشخیص باشد.

۳- اوصاف و حالت زمان قرار گرفتن تحت پروسس از نظر اقتصادی بعد از پروسس آن اعاده گردیده نتواند.

۴- استفاده از پروسس، منافع اقتصادی کشور را به وجه احسن تأمین نموده بتواند.

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې د پروسس د جواز محتوي

یوسلو اوومه ماده:

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې د پروسس جواز، د لاندې محتویاتو لرونکی دی:

۱- د دې قانون په یو سلو شپږمه ماده کې د درج شوو شرایطو پر ځای کول.

۲- د دې قانون په شپږنوي یمه ماده کې درج، د ثمرې د ستندرد د میزان تاکل.

محتوای جواز پروسس تحت بازرسی گمرکات

مادۀ یکصد و هفتم:

جواز پروسس تحت بازرسی گمرکات دارای محتویات ذیل می باشد:

۱- بجا آوردن شرایط مندرج مادۀ یکصد و ششم این قانون.

۲- تعیین میزان ستندرد ثمرۀ مندرج مادۀ نود و ششم این قانون.

۳- د هغې نېټې درجول چې د هغې مطابق جبیروي تولیدات نوي ګمرکي موقف ته پرېښودل کېږي.

۳- درج تاریخی که مطابق آن تولیدات جبیروی به موقف جدید گمرکی واگذار می گردد.

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې پروسس د قطع کېدو په صورت کې د دین اندازه

یوسلو اتمه ماده:

هغه مالونه چې په بې تغییره حالت یا د پروسس په منځنیو پراوونو کې واقع وي، د ګمرکي دین مقداریې، د هغو مالونو په څېر چې آزاد دوران ته د ګمرک تر څارنې لاندې د پروسس د اظهارلیک د منلو په وخت کې ترخیص شي، ټاکل کېږي.

مقدار دین در صورت قطع پروسس تحت بازرسی گمرکات

مادۀ یکصد و هشتم:

اموالیکه در حالت بدون تغییر یا در مراحل وسطی پروسس واقع باشد، مقدار دین گمرکی آن مانند اموالیکه در زمان پذیرش اظهارنامۀ پروسس تحت نظارت گمرک به دوران آزاد ترخیص گردد، تعیین می شود.

د ګمرکونو تر څېړنې لاندې پروسس د جبیروي تولیداتو واردات

یوسلو نهمه ماده:

(۱) جبیروي تولیدات پر وارداتي یو شان مالونو باندې د تطبیق وړ محصول یا ترجیحي تعرفې د عین اندازې تابع دي.

(۲) د سوداګریز سیاست تدبیرونه چې پر وارداتي یو شان مالونو باندې تطبیقېږي، د جبیروي

واردات تولیدات جبیروی پروسس تحت بازرسی گمرکات

مادۀ یکصد و نهم:

(۱) تولیدات جبیروی تابع عین اندازۀ محصول یا تعرفۀ ترجیحی قابل تطبیق برامول یکسان وارداتی می باشد.

(۲) تدابیر سیاست تجارتی که برامول یکسان وارداتی تطبیق می گردد، در مورد تولیدات

تولیداتو په هکله د تطبیق وړندي.

د مؤقت تورید پروسه

یو سلو لسمه ماده:

هغه د صادرېدو وړ تعلیقي مالونه چې د مؤقت تورید تر پروسې لاندې راځي، د ګمرکي محصول او سوداګریز سیاست د تدبیرونو له کلي یا قسمي معافیت څخه برخمن کېږي، پدې شرط چې له نورمال استهلاک پرته د هېواد په ګمرکي قلمرو کې د هغو د موجودیت په وخت کې، تغییرات پکې رانشي.

د مؤقت تورید جواز

یو سلو یوولسمه ماده:

(۱) د مؤقت تورید جواز، د اړوندې کړنلارې مطابق، د مالیې وزارت لخوا ورکول کېږي.

(۲) د مؤقت تورید له پروسې څخه ګټه اخیستنه، په ګمرکي اظهارلیک کې مشخصېږي او د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جواز کاپي ورسره ضمیمه کېږي.

جبیروی قابل تطبیق نمی باشد.

پروسهٔ تورید مؤقت

مادهٔ یکصد و دهم:

اموال تعلیقی قابل صدوریکه تحت پروسهٔ تورید مؤقت قرار می گیرد، از معافیت کلی یا قسمی محصول گمرکی و تدابیر سیاست تجارتی مستفید می گردد، مشروط براینکه حین موجودیت آن در قلمرو گمرکی کشور بدون استهلاك نورمال تغییراتی در آن وارد نگردد.

جواز تورید مؤقت

مادهٔ یکصد و یازدهم:

(۱) جواز تورید مؤقت مطابق طرزالعمل مربوط از طرف وزارت مالیه اعطاء می گردد.

(۲) استفاده از پروسه تورید مؤقت در اظهارنامهٔ گمرکی مشخص گردیده و کاپی جواز مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، با آن ضمیمه می گردد.

د مؤقت تورید د جواز شرایط
یوسلو دوولسمه ماده:
(۱) تعلیقي مالونه تر دغو شرایطو لاندې، د مؤقت تورید د پروسې په منظور، ترګټې اخستنې لاندې نیول کېدی شي:
۱- هغه مالونه چې په آسانۍ سره تشخیص شي.
هغه حالتونه چې د تشخیصیه تدبیرونو نه موجودیت د مالونو د ماهیت یا د پروسس دعملیې په پام کی نیولو سره له پروسې څخه په ناوړې ګټې اخستنې سره منځ ته رانشي،لدې امرڅخه مستثنی دي.
۲- د مؤقت تورید تر پروسې لاندې له دوولسو میاشتو څخه زیات د مالونو نه پاتې کېدل، خو دا چې موده یې د مؤجهو دلایلو پر بناء تر نورو دوولسو میاشتو پورې تمدید شي.
(۲) د مالونو د صادرېدو د مودې ټاکل د ګمرکي مامورینو واک دی، په داسې ډول چې د مؤقت تورید د پروسې د مجوزه ګټې اخیستنې په منظور، کافي وي.
اظهاروونکی مکلف دی، د پروسې اظهارلیک یا نوی ګمرکي موقف،

شرایط جواز تورید مؤقت
مادۀ یکصد و دوازدهم:
(۱) اموال تعلیقی تحت شرایط ذیل به منظور پروسۀ تورید مؤقت مورد استفاده قرار گرفته می تواند:
۱ - اموالیکه به آسانی تشخیص گردیده بتواند.
حالاتیکه عدم موجودیت تدابیر تشخیصیه با در نظر داشت ماهیت اموال یا عملیۀ پروسس به سوء استفاده از پروسه ناشی نگردد، از این امر مستثنی است.
۲ - باقی نماندن اموال تحت پروسۀ تورید مؤقت برای بیشتر از دوازده ماه، مگر اینکه میعاد آن بنابر دلایل مؤجه برای الی دوازده ماه دیگر تمدید گردد.
(۲) تعیین میعاد صدور اموال از صلاحیت مامورین گمرکی بوده، به نحوی که به منظور استفادۀ مجوزۀ پروسۀ تورید مؤقت کافی باشد.
اظهار کننده مکلف است اظهار نامۀ پروسه یا موقف

د ټاکلي مودې له پای ته رسېدو د مخه او یا په جواز کې د نورو درج شوو شرایطو د نه په پام کې نیولو په صورت کې، وړاندې کړي.

(۳) د وزیرانو شوري کولای شي په هغو خاصو شرایطو کې چې د هېواد اقتصادي ګټې یې غوښتنه وکړي، د مؤقت تورید تر پروسې لاندې د مالونو پاتې کېدل، د مالیې وزارت په وړاندیز تر شپږو کلونو مودې پورې تجویز کړي.

(۴) مؤقت التورید مالونه، تر نورو ګمرکي پروسو لاندې تر راتلو پورې د غېر افغاني مالونو حیثیت لري.

جدید گمرکی را قبل از ختم موعد معینه یا در صورت عدم رعایت سایر شرایط مندرج جواز، ارائه نماید.

(۳) شورای وزیران می تواند در موارد خاصی که منافع اقتصادی کشور ایجاب نماید، باقی ماندن اموال تحت پروسهٔ تورید مؤقت را بالاثر پیشنهاد وزارت مالیه برای مدت الی شش سال تجویز نماید.

(۴) اموال مؤقت التورید الی قرار گرفتن آن تحت سایر پروسه های گمرکی حیثیت اموال غیر افغانی را دارا می باشد.

د مؤقت تورید د پروسې خاص شرایط

یو سلو دیارلسمه ماده:

(۱) لاندینې مالونه د مؤقت تورید تر پروسې لاندې، د محصول له بشپړ معافیت څخه برخمن کېږي:

۱- هغه مالونه چې د مؤقت تورید د پروسې د مودې په پای کې په افغانستان کې د خرڅلاو اړتکل شوی مناسب بازار ونلري.

۲- هغه وسایل چې مؤقتاً د ترمیم

شرایط خاص پروسه تورید مؤقت

مادهٔ یکصد و سیزدهم:

(۱) اموال ذیل از معافیت کامل محصول وارداتی تحت پروسه تورید مؤقت مستفید می گردد:

۱- اموالیکه در ختم میعاد پروسهٔ تورید مؤقت در افغانستان بازار فروش مناسب پیش بینی شده را نداشته باشد.

۲- وسایلی که مؤقتاً اموال

لپاره مؤقت صادر شوي مالونه تعويضوي.

۳- د اړوندې کړنلارې مطابق په مسلکي کارګرانو پورې اړوند مسلکي سامان آلات (د موسيقي، هنري او سپورتي وسايلو په ګډون).

(۲) هغه مالونه چې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرايطو لرونکي نه وي، د مؤقت تورید تر پروسې لاندې د وارداتي مالونو د قسمي محصول معافیت ورته ورکول کېدی شي.

(۳) هغه مالونه چې د مؤقت تورید تر پروسې لاندې نشي راتلای،په اړونده کړنلاره کې اټکل کېږي.

صادر شده برای ترمیم را تعویض می نماید.

۳- سامان آلات مسلکی مربوط کارگران مسلکی (بشمول وسایل موسیقی، هنری و سپورتی) طبق طرزالعمل مربوط.

(۲) امواليکه حايز شرايط مندرج فقرۀ (۱) این ماده نباشد، معافیت قسمی محصول وارداتی اموال تحت پروسۀ تورید مؤقت برایش اعطاء گردیده می تواند.

(۳) امواليکه تحت پروسه تورید مؤقت قرار گرفته نمی تواند، در طرزالعمل مربوط پیش بینی می گردد.

له قسمي معافیت سره د مؤقت تورید تر پروسې لاندې مالونو د ورکړې وړ محصول

یو سلو څوارلسمه ماده:

(۱) د مؤقت تورید تر پروسې لاندې د مالونو وارداتي محصول، د هرې میاشتې په وړاندې یا تر هغې لږ، د ګمرکي محصول دری په سلو کې (۳٪) دی چې د مؤقت تورید تر پروسې لاندې د مالونو د راوستلو

محصول قابل تأدیه اموال تحت پروسۀ تورید مؤقت با معافیت قسمی

مادۀ یکصد و چهاردهم:

(۱) محصول وارداتی اموال تحت پروسۀ تورید مؤقت با معافیت قسمی، در برابر هر ماه یا کمتر از آن، سه فیصد (۳٪) محصول گمرکی است که در تاریخ قراردادن اموال تحت پروسۀ

په نښه کې، آزاد دوران ته د مالونو د ترخیص په صورت کې، د ورکړې وړ دی.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي محصول پرته مبلغ، له قسمي معافیت سره د مؤقت تورید تر پروسې لاندې د مالونو د راوستلو په نښه، له حصول وړ مبلغ څخه، آزاد دوران ته د هغو د ترخیص په صورت کې زیات نه وي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د محصول او نورو ګمرکي د یونو تر بشپړې ورکړې پورې، د غیر افغاني مالونو په توګه پېژندل کېږي.

تورید مؤقت، در صورت ترخیص اموال به دوران آزاد، قابل تأدیه می باشد.

(۲) مبلغ مجموعی محصول مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از مبلغ قابل حصول در تاریخ قرار دادن اموال تحت پروسهٔ تورید مؤقت با معافیت قسمی، در صورت ترخیص آن به دوران آزاد، متجاوز نمی باشد.

(۳) اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده الی تأدیه کامل محصول و سایر دیون گمرکی، بحیث اموال غیر افغانی پنداشته می شود.

د مؤقت تورید تر پروسې لاندې مالونو د ګمرکي موقف بدلون

یوسلو پنځلسمه ماده:

(۱) د مؤقت تورید تر پروسې لاندې تعلیقي مالونه، تر نوي ګمرکي موقف لاندې راتلای شي، پدې شرط چې نوی ګمرکي اظهار لیک، د مؤقتې مودې تر پای ته رسېدو د مخه وړاندې شي.

(۲) په هغه صورت کې چې د

تغییر موقف گمرکی اموال تحت پروسهٔ تورید مؤقت

مادهٔ یکصد و پانزدهم:

(۱) اموال تعلیقی تحت پروسهٔ تورید مؤقت تحت مؤقف گمرکی جدید قرار گرفته می تواند، مشروط براینکه اظهارنامهٔ جدید گمرکی قبل از ختم میعاد مؤقت ارائه گردد.

(۲) در صورتیکه اموال تحت

مؤقت توريد تر پروسې لاندې مالونه، تر نوي ګمرکي موقف لاندې راوستل شي، هغه مبلغ چې د دې قانون د يو سلو څوارلسمې مادې د حکم مطابق ورکړی شوی دی، له ګمرکي دين څخه وضع کېږي.

(۳) د مؤقت توريد د جواز لرونکی د مالونو د خرڅلاو يا په نورو شکلونو د لېږدونې په صورت کې، مکلف دی د دې قانون په يو سلو څوارلسمه ماده کې درج شوی محصول يا د نوي ګمرکي موقف محصول ورکړي.

پروسهٔ توريد مؤقت تحت مؤقف گمرکی جديد قرار داده شود، مبلغی که مطابق حکم مادهٔ يکصد و چهاردهم اين قانون تأديه شده، از دين گمرکی وضع می گردد.

(۳) دارندهٔ جواز توريد مؤقت در صورت فروش يا انتقال اموال به ساير اشکال، مکلف است محصول وارداتی مندرج مادهٔ يکصد و چهاردهم اين قانون يا محصول مؤقف گمرکی جديد را تأديه نمايد.

بهرنی پروسس

يوسلو شپاړسمه ماده:

د بهرني پروسس تر عملیې لاندې افغاني مالونه چې د مؤقت- الصدور مالونو په نوم يادېږي، په مؤقته توګه د پروسس لپاره د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه بهر ته صادرېدی شي. له دغه ډول عملیو څخه حاصله بېرته راګرځېدونکي مالونه، د محصول په راکمېدو (تخفیف) سره، د هېواد په ګمرکي قلمرو کې آزاد دوران ته

پروسس خارجی

مادهٔ يکصد و شانزدهم:

اموال افغانی تحت عملیهٔ پروسس خارجی که بنام اموال مؤقت الصدور ياد می گردد، به صورت مؤقت از قلمرو گمرکی کشور جهت پروسس به خارج صادر شده می تواند. اموال بازگشت کننده حاصله از چنين عمليه ها با تخفيف محصول، در قلمرو گمرکی کشور به دوران آزاد

مرخصېدلی شي.

د بهرني پروسس دجواز غوښتنليک يوسلو اووه لسمه ماده:

د بهرنـــي پروســـس جـــواز د غوښتونکي د کتبي غوښتنليک له مخـــې د مـــالیې وزارت لخـــوا، د اړوندې کړنلارې مطابق، تر دغـو شرايطو لاندې ورکول کېږي:

۱- پـــه هغـــه صـــورت کـــې چـــې غوښتنليک ورکوونکی دافغانستان استوګن وي.

۲- پـــه هـــغه صـــورت کـــې چـــې لـه مؤقـت الـصدور مـالونو څخـه د جبيـــروي توليداتـــو د تحـــصيل تـــصديقول د امکـــان ور وي.لـه دې حکـم څخـه اسـتثناآت پـه اړونـده کړنلاره کې تصريح کېږي.

۳- په هغه صورت کې چې بهرنی پروســس د صـــادراتو هڅونـــه او د هېـواد نـــورې اقتـصادي ګـټې پـه ښه توګه تأمين کړي.

۴- کـه چېـرې د بهرنـي پروسـس د عمليې په نتيجه کې، داسې مالونه توليد شي چې په خپـل ترکيـب کې غيـر افغـاني مالونـه ولـري، پـدې صورت کې په جواز کې تصديقېږي مرخص گرديده می تواند.

درخواست جواز پروسس خارجی

مادۀ يکصد و هفدهم:

جـــواز پـــروســـس خـــارجی بـــالاثر درخواست کتبی مـــتـــقـــاضـــی از طـــرف وزارت مـــالـــيـــه طـبـــق طـــرز الـعـمـــل مربـــوط تـحـــت شرايـط ذيـل اعطاء می گردد:

۱- در صـــورتيکه درخواســـت کننـــده مقـــيم افغانـــستان باشد.

۲- در صـــورتيکه تـــصديق تحصيل تـــولـــيدات جبيـــروی از امـــوال مؤقت الصدور، امکان پذير باشد استثناآت از اين حکم در طرزالعمل مربوط تصريح می گردد.

۳- در صورتيکه پروسس خارجی، تـشويق صـادرات و سـاير منـافع اقتصـادی کشور را به وجه احسن تأمين نمايد.

۴- هـــر گـــاه در نتيجـۀ عمليـــۀ پروسـس خـارجی، امـــوالی توليـد گردد کـه در ترکيـب خـود امـــوال غيـر افغـانی را داشـته باشـد، در ايـن صـورت در جواز تصديق می

چې له دې پروسې څخه ګټه اخیستنه، د افغاني مالونو خرڅلاو هڅوي پرته له دې چې له وارد شوو جبیروي تولیداتو سره د کورنیو مولدینو د یو شان یا ورته تولیداتو لرونکو اقتصادي ګټې په غیر متناسب ډول زیانمنې کړي.

۵- د افغاني مالونو مؤقت صادرول، د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د افغاني مالونو پر صادرولو د تطبیق وړ حکمونو تابع دي.

۶- د ګمرکي محصول د استرداد تر سیستم لاندې مالونه، د هغې مودې په ترڅ کې چې د بهرني پروسس تر عملیې لاندې دي، د دې قانون په یو سلو څلورمه ماده کې د درج شوې ببرته ورکړې تابع ندي.

۷- هغه غیر افغاني مالونه چې د دې قانون د شپږ شپېتمې مادې د حکم مطابق ترخیص او د بهرني پروسس تر عملیې لاندې راشي، تر هغه وخته پورې له ترجیحي تعرفې څخه ګټه اخیستلای شي چې د ورکولو شرایط یې د تطبیق وړ وي.

۸- د مؤقت صدور د پروسې موده دوولس میاشتې ده او د مؤجهو ګردد که استفاده از این پروسه فروشات اموال افغانی را تشویق نموده، بدون اینکه منافع اقتصادی مولدین داخلی دارای تولیدات یکسان یا مشابه با تولیدات جبیروی وارد شده را بطور غیر متناسب متضرر نماید.

۵- صدور مؤقت اموال افغانی تابع احکام قابل تطبیق بر صدور اموال افغانی از قلمرو گمرکی کشور می باشد.

۶- اموال تحت سیستم استرداد محصول گمرکی در خلال مدتیکه تحت عملیهٔ پروسس خارجی قرار دارد، تابع بازپرداخت مندرج مادهٔ یکصد و چهارم این قانون نمی باشد.

۷- اموال غیر افغانی که مطابق حکم مادهٔ شصت و ششم این قانون ترخیص و تحت عملیه پروسس خارجی قرار گیرد، از تعرفهٔ ترجیحی تا زمانی مستفید شده می تواند که شرایط اعطای آن قابل تطبیق باشد.

۸- میعاد پروسهٔ صدور مؤقت دوازده ماه بوده و بنابر دلایل

دلایلو لـه مخـې د نـورو دوولـسو میاشتو لپاره اوږدېدی شي.

د بهرني پروسس د جواز محتوی یوسلو اتلسمه ماده:

د بهرنـي پروسـس جـواز د لاندې محتویاتو لرونکی دی:

۱- د هغـې نېټـې درجـول چـې د هغـې مطـابق جبیـروي تولیـدات د پروسس د عملیې د اجراء لپـاره د لازم وخت په پام کې نیولو سره، د هېـواد ګمرکـي قلمـرو تـه بیـا وارد شي.

۲- د ثمرې د ستندرد میزان ټاکل.

۳- د مؤقت الصدور مـالونو د بیې ټاکـل چې د غوښـتنلیک د وړانـدې کولـو د نېټـې پـه اعتبـار محاسـبه کېږي.

د بهرنـي پروسـس د جبیـروي تولیداتو وارداتي محصول یوسلو نولسمه ماده:

(۱) د جبیـروي تولیـداتو وارداتـي محصول، د مؤقت الصدور مـالونو په بیه کې د زیـاتوالي لـه درکـه چې د دې قانون د څلېریشتمې مـادې د حکـم مطـابق محاسـبه کېږي، مـؤجه بـرای دوازده مـاه دیـگر تمـدید شده مـی تواند.

محتوای جواز پروسس خارجی مادۀ یکصد و هجدهم:

جـواز پروسـس خـارجی دارای محتویات ذیل می باشد:

۱- درج تـاریخی کـه مطـابق آن تولیـدات جبیـروی بـا نظرداشـت زمـان لازم بـرای اجـرای عملیـۀ پروسـس بـه قلمـرو گمرکـی کـشور، مجـدداً توریـد گردد.

۲- تعیین میزان ستندرد ثمره.

۳- تعیـین قیمـت امـوال مؤقت الصدور که با اعتبار تاریخ ارائـه درخواسـت محاسـبه می گردد.

محـصول وارداتـی تولیـدات جبیروی پروسس خارجی مادۀ یکصد و نزدهم:

(۱) محـصول وارداتـی تولیـدات جبیـروی تحت پروسـس خـارجی از مـدرك ازدیـاد در قیمـت امـوال مؤقـت الـصدور کـه مطـابق حکـم مـادۀ بیـست و چهـارم ایـن قـانون

اخیستل کېږي.په هغه صورت کې چې په بیه کې زیاتوالی په سلو کې پنځو (۵٪) څخه لږ وي، د محصول د ورکولو تابع نه ګرځي.
(۲) د جبیروي تولیداتو وارداتي محصول د هغو پر تعرفوي طبقو باندې د تطبیق وړ تعرفوي بیې پر بنسټ، سنجول کېږي.

محاسبه می گردد، اخذ می شود.
در صورتیکه ازدیاد در قیمت کمتر از پنج فیصد (۵٪) باشد، تابع پرداخت محصول نمی گردد.
(۲) محصول وارداتی تولیدات جبیروی به اساس قیمت تعرفوی قابل تطبیق بر طبقات تعرفوی آن سنجش می گردد.

په بهرني پروسس کې په وړیا توګه د مالونو ترمیمول
یو سلو شلمه ماده:
(۱) که چېرې د بهرني پروسس له عملیې څخه هدف د مؤقت‌الصدرو مالونو ترمیمول وي، جبیروي تولیدات له وارداتي محصول څخه په بشپړ معافیت سره آزاد دوران ته ترخیص کېږي، پدې شرط چې مالونه له عقد شوو مقاولو څخه د رامینځته شوو مکلفیتونو یا له ضمانت څخه د راپیدا شوو حقوقي مکلفیتونو او یا د نیمګړتیاوو په اثر په وړیا توګه ترمیم شي او پدې هکله د ګمرک مسئولینو قناعت کړی وي.
(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې آزاد دوران ته د درج شوو

ترمیم اموال طور مجانی در پروسس خارجی
مادۀ یکصد و بیستم:
(۱) هر گاه هدف از عملیۀ پروسس خارجی، ترمیم اموال مؤقت الصدور باشد، تولیدات جبیروی با معافیت کامل از محصول وارداتی به دوران آزاد ترخیص می گردد، مشروط براینکه اموال بالاثر مکلفیت های ناشی از مقاولات منعقده یا مکلفیتهای حقوقی ناشی از ضمانت و یا بنابر نقایص تولیدی، بصورت رایگان ترمیم گردیده و در مورد مسئولین گمرك قناعت نموده باشند.
(۲) هر گاه در مرحلۀ اول ترخیص اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده

مالونو د ترخیص په لومړۍ مرحله کې، د ګمرکې دین په ټاکلو کې د مالونو نقص یا عیب په پام کې نیول شوی وي، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي معافیت څخه ګټه نشي اخیستی.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي حالت کې یا د غیر مجاني ترمیم په صورت کې، د ترمیم شوو مالونو په بیه کې د زیاتوالي د ټاکلو په منظور، د لګښت لازم سندونه وړاندې کېږي.

به دوران آزاد نقص یا عیب اموال در تعیین دین گمرکی در نظر گرفته شده باشد، از معافیت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مستفید شده نمی تواند.

(۳) در حالت مندرج فقرهٔ (۲) این ماده یا در صورت ترمیم غیر مجانی، به منظور تعیین ازدیاد در قیمت اموال ترمیم شده اسناد لازم مصرف ارائه می گردد.

د بهرنۍ پروسس د جواز د امتیازاتو لېږدول

یو سلو یو ویشتمه ماده:

د بهرني پروسس د جواز لرونکی کولای شي د خپل جواز امتیاز، په افغانستان کې د مېشت د شرایطو لرونکو نورو اشخاصوته ولېږدوي.

انتقال امتیازات جواز پروسس خارجی

مادهٔ یکصد و بیست و یکم:

دارندهٔ جواز پروسس خارجی می تواند امتیاز جواز خود را به سایر اشخاص واجد شرایط مقیم در افغانستان انتقال دهد.

د افغاني مالونو د صادرېدو پروسه

یو سلو دوه ویشتمه ماده:

(۱) افغاني مالونه د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه له وتلو د مخه، په اړوند ګمرکي دفتر کې د صادرېدو د اظهار لیک په وړاندې

پروسه صدور اموال افغانی

مادهٔ یکصد و بیست و دوم:

(۱) اموال افغانی قبل از خارج شدن از قلمرو گمرکی کشور، در دفتر گمرکی مربوط با ارائهٔ اظهارنامهٔ صدور،

کولو سره، د صادرېدو تر پروسې لاندې راځي.
سرحدي ګمرک د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د مالونو وتل تر څارنې لاندې نیسي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه په هغه صورت کې د صادرېدو لپاره د ترخیص اجازه اخیستی شي چې د اظهار لیک د منلو د وخت هماغه حالت ولري.

تحت پروسهٔ صدور قرار می‌گیرد.
گمرك سرحدی خروج اموال را از قلمرو گمرکی کشور تحت نظارت قرار می دهد.
(۲) اموال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در صورتی اجازه ترخیص برای صدور را گرفته می تواند که همان حالت زمان پذیرش اظهارنامه را داشته باشد.

د غیر افغاني مالونو صادرېدل
یو سلو در ویشتمه ماده:
غیر افغاني مالونه د نوي اظهار لیک یا تر ګمرکي څارنې لاندې د صادرېدو له پروسې څخه له تابعیت پرته، صادرېږي.

صدور اموال غیر افغانی
مادهٔ یکصد و بیست و سوم:
اموال غیر افغانی بدون ارائهٔ اظهارنامهٔ جدید یا تابعیت از پروسهٔ صدور تحت نظارت گمرکی صادر می گردد.

یوولسم فصل
آزادې حوزې او ګدامونه

فصل یازدهم
حوزه ها و گدام های آزاد

د ګمرکي آزادو حوزو مفهوم
یو سلو څلېریشتمه ماده:
آزادې حوزې او ګدامونه او د محصول له ورکولو څخه معاف پلورنځي (د یوتي فري شاپ)، د

مفهوم حوزه های آزاد گمرکی
مادهٔ یکصد و بیست و چهارم:
حوزه ها و گدام های آزاد و فروشگاه های معاف از پرداخت محصول (دیوتی فری شاپ)

هېواد له ګمرکي قلمرو څخه جلا برخه ګڼل کېږي او په هغو کې د وارداتي محصول د وضع کولو او له غیر افغاني مالونو سره د سوداګریز سیاست د نیولو په منظور، په داسې ډول معامله کېږي چې ګواکې د هېواد په ګمرکي قلمرو کې واقع ندي.
افغاني مالونه د اړوندې کړنلارې مطابق، دغو ساحوته ننوتی شي.

بخشی مجزا از قلمرو گمرکی کشور شناخته می شود و در آن به منظور وضع محصول وارداتی و اتخاذ سیاست تجارتی با اموال غیر افغانی طوری معامله صورت می گیرد که گویا در قلمرو گمرکی کشور واقع نباشد.
اموال افغانی مطابق طرزالعمل مربوط به این ساحات داخل شده می تواند.

د آزادو حوزو ټاکل
یو سلو پنځه ویشتمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت واک لري د هېواد د ګمرکي قلمرو ځینې برخې د آزادو حوزو په توګه وټاکي او په هغو کې د ودانیو جوړولوته اجازه ورکړي.
(۲) په هره آزاده حوزه یا ګدام پورې د اړوندو ساحو څلور خواوې او د راننوتلو او وتلو نقطې دقیقاً د مالیې وزارت لخوا ټاکل کېږي.
د جواز لرونکی مکلف دی، اړونده حوزه یا ګدام دیوال (حصار) کړي.
(۳) د مالیې وزارت واک لري په هېواد کې له محصول څخه د آزادو

تعیین حوزه های آزاد
مادۀ یکصد و بیست و پنجم:
(۱) وزارت مالیه صلاحیت دارد قسمت هایی از قلمرو گمرکی کشور را بحیث حوزه های آزاد تعیین و اجازۀ اعمار ساختمانها را در آن بدهد.
(۲) حدود اربعۀ ساحات متعلق به هر حوزه یا گدام آزاد و نقاط دخولی و خروجی دقیقاً از طرف وزارت مالیه تعیین می گردد.
دارندۀ جواز مکلف است، حوزه یا گدام مربوط را حصار نماید.
(۳) وزارت مالیه صلاحیت دارد اجازۀ گشایش فروشگاه های آزاد

پلورنځیو (دیوتي فري شاپ) د پرانیستلو اجازه، د هغو مالونو د پلورنې په منظور چې له ګمرکي محصول څخه معاف دي، ورکړي.
له آزادو پلورنځیو څخه د ګټې اخیستنې ډول، په اړونده کړنلاره کې تنظیمېږي.

از محصول (دیوتی فری شاپ) را در قلمرو گمرکی کشور به منظور فروش اموال که ازمحصول گمرکی معاف اند، اعطاء نماید.
طرز استفاده از فروشگاه های آزاد در طرزالعمل مربوط تنظیم می گردد.

په آزادو حوزو کې د ګمرک څارنه
یو سلو شپږ ویشتمه ماده:
(۱) له محصول څخه آزادې حوزې، پلورنځي او ګدامونه، د هغو حدود او د راننوتلو او وتلو نقطې، د ګمرکي مامورینو د څارنې او څېړنې تابع دي.
(۲) اشخاص او نقلیه وسایط چې آزادې حوزې یا ګدام ته ننوځي یا له هغو څخه ووځي، د ګمرکي پلټنې تابع دي.
(۳) که چېرې اشخاص هغه تضمین چې د ګمرکي تقنیني سندونو په موجب لازم وګڼل شي، ورانديږي نکړي، له آزادو حوزو یا ګدامونو څخه ګټه نشي اخیستی.
(۴) آزادې حوزې یا ګدام ته د مالونو د ننوتلو یا وتلو په وخت کې، د لېږدونې د سند نقل له

نظارت گمرك در حوزه های آزاد
مادۀ یکصدو بیست و ششم:
(۱) حوزه ها، فروشگاه ها و گدام های آزاد از محصول، حدود و نقاط دخولی و خروجی آن تابع نظارت و بازرسی مامورین گمرکی می باشد.
(۲) اشخاص و وسایط نقلیه که به حوزه یا گدام آزاد داخل یا از آن خارج می گردند، تابع تفتیش گمرکی می باشند.
(۳) هرگاه اشخاص تضمینی را که به موجب اسناد تقنینی گمرکی لازم شمرده شود، ارائه ننمایند، از حوزه ها یا گدام های آزاد استفاده کرده نمی توانند.
(۴) حین دخول یا خروج اموال به حوزه یا گدام آزاد، نقل سند انتقال ضمیمۀ

مـالونو سـره ضـمیمه کېږي او ګمرکي مامورینو ته وړاندې کېږي.

امـوال گردیـده، بـه مـامورین گمرکی ارائه می شود.

د مالونو د ننوتلو یا وتلو شرایط

یو سلو اووه ویشتمه ماده:

(۱) ممـنوعـه مـالـونه یـا هغـه مـالونه چې د عامه وو مصؤنیت یا روغتیـا تـه ګـواښ متوجـه کـوي، آزادو حـــوزو، ګـــدامونو او پلورنځیوته د داخلېدو اجازه نلري.

(۲) هغـه مالونـه چـې آزادو حـوزو، ګدامونو یا پلورنځیوته ورننویستل شـي یـا ورځخـه وویـستل شـي پـه لـومړي پړاو کې ګمرکي مـامورینو ته احضارېږي او تر هغه وخته پورې چې مالونه تر ګمرکي پروسې لاندې رانشي، د مالونو مسئول شخص د اظهارلیک په وړاندې کولـو مکلف نـدی، د هغـو مـالونو بیـه چـې تـر ګمرکي پروسې لاندې راځي، د دې قانون د څلېریشتمې مادې د حکم مطابق، سنجول کېږي.

(۳) په هغه صورت کې چې مالونه د هېواد د ګمرکي قلمرو لـه نـورو برخو څخه آزادو حوزو، ګدامونو یـا پلورنځیـو (دیـوتي فـري شـاپ) تـه ورننویـستل شـي ګمرکي مـامورین

شرایط دخول و خروج امـوال

مادۀ یکصد و بیست و هفتم:

(۱) امـوال ممنوعـه و امـوالی کـه بـه مـصئونیت یـا صـحت عامـه خطـری را متـوجه مـی سـازد، اجازۀ دخول به حوزه هـا، گدام ها و فروشگاه های آزاد را ندارد.

(۲) امـوالی کـه به حوزه ها، گدام ها یا فـروشـگاه هـای آزاد داخـل و یـا از آن خـارج کـرده شـود، در مـرحلۀ اول بـه مـامـورین گمـرکی احـضار گردیـده و تـا زمـانیـکه امـوال تحت پروسه گمرکی قـرار نگیـرد، شـخص مـسئول امـوال مکلف به ارائه اظـهارنـامه نـمی باشـد. قیـمـت امـوالی کـه تحت پـروسـۀ گمرکی قـرار مـی گیـرد، مطابق حکم مـادۀ بیست و چهـارم این قانون سنـجش مـی گردد.

(۳) در صورتی‌کـه امـوال از سـایر قـسـمت هـای قلمـرو گـمرکـی کشـور بـه حوزه ها، گـدام هـا یـا فـروشـگاه هـای آزاد (دیـوتی فـری شاپ) داخل کـرده شود، مامورین

مالونـــه د د مخنیـــو (ړومبنیـــو) ګمرکي پروسو څخه آزادو افغاني مالونـه د صـادرېدو تـر پـروسـې لاندې راولي، خو دا چې په ګمرکي تقنیني سندونـو کـې بـل ډول تصریح شوي وي.

(۴) هغـه افغـاني مالونـه چـې لـه محـصول څخـه لـه آزادو حـوزو، ګدامونو یا پلورنځیو څخه د هېواد د ګمرکي قلمرو نورو برخوتـه بهـر کېږي، د هغـو ګمرکـي دیـن د دې قـانون د یـو سلو نولسمې مـادې د حکم مطابق، محاسبه کېږي.

(۵) مالونـه د اړونـدې کـړنلارې مطابق له آزادو حوزو، ګدامونو یا پلورنځیـو څخـه د صـادرېدو پـه منظور د هېواد لـه ګمرکي قلمرو څه ویستل کېدلی شي.

گمرکی امـوال را از پـروسـه هـای گمرکی قبلی آزاد و امـوال افغانی را تحت پروسۀ صـدور قـرار مـی دهنـد، مگـر اینکـه در اسـناد تـقنینـی گمرکـی طـور دیگـری تصریح شده باشد.

(۴) امـوال افغانی که از حوزه ها، گدام ها یـا فروشگاه هـای آزاد از محـصول بـه سـایر قـسمت هـای قلمـرو گمرکی کشور خارج کـرده شود، دین گمرکی آن مطابق حکم مـادۀ یکصد و نـزدهم ایـن قـانون محاسبه می گردد.

(۵) امـــوال مطـابق طرزالعمـل مربـوط از حـوزه هـا، گـدام هـا یـا فروشـگاه هـای آزاد بـه منظـور صـدور از قلمـرو گمرکـی کـشور خارج کرده شده می تواند.

په آزادو حوزو کې د مالونو ګمرکي موقف

یو سلو اته ویشتمه ماده:

(۱) ګمرکـي مـامورین د مـالونو د مسئول شخص د غوښتنې له مخې کولای شي د آزادو حوزو، ګدامونو یا پلورنځیو په دننه کې د مـالونو د ګمرکي تصنیف تصدیق پاڼه برابره

موقـف گمرکـی امـــوال در حـوزه های آزاد

مادۀ یکصد و بیست و هشتم:

(۱) مـــامورین گمرکـــی بـــالاثر درخواست، شخص مسئول امـوال مـی تواننـد تـصدیقنامۀ تـصنیف گمرکـی امـــوال داخـل حـوزه هـا، گـدام هـا یـا فروشگاه هـای آزاد را

کړي.
(۲) په هغه صورت کې چې د مالونو د ګمرکي تصنیف، تصدیق پاڼه یا نور اثباتوونکي مدارک وړاندې نشوی شي، پدې صورت کې د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه د صادرېدو په منظور، مالونه افغاني او د هېواد د ګمرکي قلمرو نورو برخوته د ورننویستلو په منظور، مالونه غیر افغاني ګڼل کېږي.

تهیه نمایند.
(۲) در صورتیکه تصدیقنامه یا سایر مدارك اثبات کنندۀ تصنیف گمرکی اموال ارائه شده نتواند، در این صورت به منظور صدور از قلمرو گمرکی کشور، اموال افغانی و به منظور دخول به سایر قسمت های قلمرو گمرکی کشور، اموال غیر افغانی دانسته می شود.

زماني حدود
یو سلو نهه ویشتمه ماده:
په آزادو حوزو، ګدامونو او پلورنځیو کې مالونه، تر نامحدودې مودې پورې باقي پاتې کېدی شي، خو دا چې په اړونده کړنلاره کې بل ډول تصریح شوي وي.

حدود زمانی
مادۀ یکصد و بیست و نهم:
در حوزه ها، گدام ها یا فروشگاه های آزاد، اموال الی مدت نامحدود باقی مانده می تواند، مگر اینکه در طرزالعمل مربوط طور دیگری تصریح گردیده باشد.

مجاز فعالیتونه
یو سلو دېرشمه ماده:
(۱) په آزادو حوزو، ګدامونو یا پلورنځیو کې د هر ډول صنعتي، سوداګریزو او خدماتي فعالیتونو سرته رسول، د دې قانون په اته

فعالیت های مجاز
مادۀ یکصد و سی ام:
(۱) انجام هر نوع فعالیت های صنعتی، تجارتی و خدماتی در حوزه ها، گدام ها یا فروشگاه های آزاد بدون

اتیایمه ماده کې د درج شوی حکم له په پام کې نیولو پرته، په ګمرکي تقنیني سندونو کې د درج اټکل شوو شرایطو مطابق، مجاز دي.

(۲) په آزادو حوزو کې د حق الاختراع، سوداګریز مارک، د طبع او نشر د حق د ساتلو په هکله د نافذه قوانینو حکمونه د په پام کې نیولو وړ دي.

(۳) ګمرکي مامورین کولای شي د اړوندو مالونو د ماهیت او ګمرکي ټارنې د مقتضیاتو په پام کې نیولو سره، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو فعالیتونو د پر مخ بیولو په هکله، لازم محدودیتونه وضع کړي.

رعایت حکم مندرج مادۀ هشتاد و هشتم این قانون مطابق شرایط پیش بینی شده مندرج در اسناد تقنینی گمرکی، مجاز می باشد.

(۲) در مورد حفظ حق الاختراع، مارک تجارتی، حق طبع و نشر در حوزه های آزاد، احکام قوانین نافذه قابل رعایت می باشد.

(۳) مامورین گمرکی می توانند با نظرداشت ماهیت اموال مربوطه و مقتضیات نظارت گمرکی، محدودیت های لازم را در مورد پیشبرد فعالیت های مندرج فقرۀ (۱) این مادۀ وضع نمایند.

منظور شوی ثبت او راجستر یو سلو یو دېرشمه ماده:

هغه اشخاص چې په آزادو حوزو، ګدامونو یا پلورنځیو کې د مالونو په زېرمه کولو یا د دې قانون د یو سلو دېرشمې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو نورو فعالیتونو باندې لاس پورې کړي، مکلف دي چې د تسلیمۍ په وخت کې هغه په

ثبت و راجستر منظور شده مادۀ یکصد و سی و یکم:

اشخاصی که به ذخیرۀ اموال یا سایر فعالیت های مندرج فقرۀ (۱) مادۀ یکصد و سی ام این قانون در حوزه ها، گدام ها یا فروشگاه های آزاد مبادرت ورزند، مکلف اند حین تسلیمی آنرا درج

سوابقو کې درج کړي او د ګمرکي مامورینو د لارښوونې مطابق یې په ساتلو اقدام وکړي.

سوابق نموده و طبق هدایت مامورین گمرکی به حفظ آن اقدام نمایند.

د مصرف شوو او ورکو شوو مالونو تعرفه

یو سلو دوه دېرشمه ماده:

(۱) د ورځنۍ ارتیا وړ مواد یا نور هغه مالونه چې د آزادو حوزو د ساتنې او ځارنې یا نورو هدفونو د ملاتړ لپاره، د اړوندې کړنلارې مطابق لګول کېږي، هغه مالونه ګڼل کېږي چې آزاد دوران ته ترخیص شوي او د ګمرکي دین د ورکولو تابع دي.

(۲) په هغه صورت کې چې مالونه ورک شي او د هغو د ورکېدو په اړه توضیحات د ګمرکي مامورینو د قناعت وړ نه ګرځي، نومورې مالونه په آزاده حوزه، ګدام یا پلورنځي کې د مصرف شوو مالونو په توګه ګڼل کېږي او د دې مادې د (۱) فقرې حکم ور باندې تطبیقېږي.

تعرفه اموال مصرف شده و مفقود الاثر

مادۀ یکصد و سی و دوم:

(۱) اموال مورد نیاز روزانه و یا اموالیکه برای حفظ و مراقبت یا حمایۀ سایر اهداف حوزه های آزاد طبق طرزالعمل مربوطه به مصرف میرسد، اموالی شمرده می شود که بدوران آزاد ترخیص گردیده و تابع پرداخت دین گمرکی می باشد.

(۲) در صورتیکه اموال مفقود گردد و توضیحات در مورد مفقودیت آن مورد قناعت مامورین گمرکی قرار نگیرد، اموال متذکره بحیث اموال مصرف شده در حوزه، گدام یا فروشگاه آزاد پنداشته شده و حکم فقرۀ (۱) این ماده بالای آن تطبیق می گردد.

په آزادو حوزو کې د مالونو ویجاړېدل (تخریب) یا ترک کول

یو سلو دري دېرشمه ماده:

د دې قانون په یو سلو څلور دېرشمه ماده کې درج په آزادو حوزو، ګدامونو یا پلورنځیو کې واقع د غیر افغاني مالونو د ترک یا تخریب موقف، د وخت په هغه موده کې چې هلته پاتې کېږي، ټاکل کېدی شي.

دوولسم فصل

ګمرکي موقفونه

د مالونو تخریب یا ترک

یو سلو څلور دېرشمه ماده:

(۱) د مالونو د تخریب یا ترک موقف، د اړوندې کړنلارې مطابق صورت مومي اظهاروونکی یا د مالونو مسئول اشخاص مکلف دي، ګمرکي اظهارلیک، د اړوند موقف د غوښتنې لپاره وړاندې کړي.

(۲) د مالونو د تخریب یا ترک موقف په هغه صورت کې رد کېږي چې لګښت یې د دولت په غاړه وي.

تخریب یا ترك اموال در حوزه های آزاد

مادۀ یکصد و سی و سوم:

موقف ترك یا تخریب مندرج مادۀ یکصد و سی و چهارم این قانون برای اموال غیر افغانی واقع در حوزه ها، گدام ها یا فروشگاه های آزاد در مدت زمانیکه در آنجا باقی می ماند، تعیین گردیده می تواند.

فصل دوازدهم

موقف های گمرکی

تخریب یا ترك اموال

مادۀ یکصد و سی و چهارم:

(۱) موقف تخریب یا ترك اموال مطابق طرزالعمل مربوط صورت می گیرد، اظهار کننده یا اشخاص مسئول اموال مکلف اند اظهارنامۀ گمرکی را جهت درخواست موقف مربوطه ارائه نمایند.

(۲) موقف تخریب یا ترك اموال در صورتی رد می گردد که مصرف آن بدوش دولت باشد.

د مالونو تخریب

یو سلو پنځه دېرشمه ماده:

(۱) د مالونو د ګمرکي تخریب موقف، ګمرکي مامورینو ته له مخکنۍ خبرتیا وروسته چې پکې د مالونو مشخصات، د تخریب د وخت، ځای، ډول او انګېزې یادښت شامل وي، صورت مومي.

(۲) ګمرکي مامورین کولای شي د تخریب پروسه وڅاري او د اړوندو ګمرکي سندونو وړاندې کول او د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې خبرتیا کاپي، د مالونو له مسئول شخص څخه وغواړي.

(۳) هغه فاضله او قراضه مواد چې د تخریب په نتیجه کې حاصلېږي، د غیر افغاني مالونو د موقف لرونکي دي او تر هغه وخته پورې د ګمرکونو تر څارنې لاندې پاتې کېږي چې موقف یا نورو ګمرکي پروسو ته یې ترخیص صورت ومومي.

تخریب اموال

مادۀ یکصد و سی و پنجم:

(۱) موقف گمرکی تخریب اموال بعد از اطلاعیه قبلی به مامورین گمرکی که شامل مشخصات اموال، ذکر زمان، محل، طرز و انگیزه تخریب باشد، صورت می گیرد.

(۲) مامورین گمرکی می توانند پروسۀ تخریب را نظارت نموده و ارائۀ اسناد گمرکی مربوطه و کاپی اطلاعیه مندرج فقرۀ (۱) این ماده را از شخص مسئول اموال تقاضا نماید.

(۳) مواد فاضله و قراضه که در نتیجۀ تخریب حاصل می گردد دارای موقف اموال غیر افغانی بوده و تا زمانی تحت نظارت گمرکات باقی می ماند که ترخیص آن به موقف یا سایر پروسه های گمرکی صورت گیرد.

د مالونو له ترک څخه حاصله وجوه

یو سلو شپږ دېرشمه ماده:

د هغو مالونو د خرڅلاو مبلغ یا انتقال چې دولت ته د ترک د

وجوه حاصله از ترك اموال

مادۀ یکصد و سی و ششم:

مبلغ فروش یا انتقال اموالی که در نتیجۀ موقف ترك به دولت

موقف په پایله کې لاس ته راځي، د ګمرکي ديونو د کړنلارې مطابق په اړوند حساب کې تحويلېږي، په هغه صورت کې چې د مالونو خرڅلاو يا انتقال اړوند لګښتونه بشپړ نکړي، د ګمرکونو عمومي رئيس کولای شي، د حالاتو په پام کې نيولو سره دولتي ادارو يا مؤسسوته د هغو د لېږدونې امر ورکړي.

بدست می آید، طبق طرزالعمل تأدیه دیون گمرکی به حساب مربوط تحویل می گردد. در صورتی‌که فروش یا انتقال اموال مصارف مربوط را تکمیل نه نماید، رئیس عمومي گمرکات می تواند با نظرداشت حالت، امر انتقال آن را به ادارات یا مؤسسات دولتی اعطاء نماید.

دیارلسم فصل
ګمرکي دين

فصل سیزدهم
دین گمرکی

د تضمين شکلونه

يو سلو اووه دېرشمه ماده:

(۱) د مديون لخوا د ګمرکي دين د ورکولو لپاره تضمين د نغدي سپارنې (سپردې) يا د معتبرو اشخاصو د ضمانت په شکل وړاندې کېږي، خو دا چې په اړونده کړنلاره کې بل ډول اټکل شوی وي.

(۲) په هغه صورت کې چې ګمرکي مامورين په ټاکلې موده کې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي ګمرکي دين په ورکولو باوري نه

اشکال تضمین

مادۀ یکصد و سی و هفتم:

(۱) تضمین برای تأدیه دین گمرکی از طرف مدیون به شکل سپرده نقدی یا ضمانت اشخاص با اعتبار ارائه می گردد، مگر اینکه در طرزالعمل مربوط طور دیگری پیش بینی شده باشد.

(۲) در صورتیکه مامورین گمرکی به پرداخت دین گمرکی مندرج فقرۀ (۱) این ماده در میعاد معینه، متیقن نباشند، می توانند

وي، کولای شي د تضمین توجیه کوونکی وړ وړاندیز واکمنو مقامونو ته وړاندې کړي.
(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې درج مقامات کولای شي د ګمرکي دین د اداء کولو لپاره مدیون د لازمو تضمینونو په برابرولو مکلف کړي.

پیشنهاد مناسب توجیه کنندۀ تضمین را به مقامات ذیصلاح ارائه نمایند.
(۳) مقامات مندرج فقرۀ (۲) این ماده می توانند مدیون را به فراهم نمودن تضمینات لازم برای ادای دین گمرکی مکلف نماید.

د متعددو عملیو لپاره د واحد تضمین حدود

یو سلو اته دېرشمه ماده:

ګمرکي مامورین کولای شي، له دوو یا له دوو څخه له زیاتو عملیو څخه د راپیدا شوي ګمرکي دین د تأمینولو لپاره، واحد تضمین مجاز وګرځوي.

حدود تضمین واحد برای عملیه های متعدد

مادۀ یکصد و سی و هشتم:

مامورین گمرکی می توانند جهت تأمین دین گمرکی ناشی از دو یا بیشتر از دو عملیه، تضمین واحد را مجاز سازد.

د تضمین مبلغ

یو سلو نهه دېرشمه ماده:

(۱) ګمرکي مامورین کولای شي د تضمین اندازه په لاندې توګه وټاکي:
۱- د هغه ګمرکي دین د دقیقې اندازې مطابق چې مبلغ یې د تضمین په وخت کې په یقیني توګه تثبیت شوی وي، خو دا چې په

مبلغ تضمین

مادۀ یکصد و سی و نهم:

(۱) مامورین گمرکی می توانند اندازۀ تضمین را طور ذیل، تعیین نمایند.
۱- مطابق اندازۀ دقیق دین گمرکی ایکه مبلغ آن حین تضمین طور یقینی تثبیت گردیده باشد، مگر اینکه در اسناد تقنینی

ګمرکي تقنيني سندونو کې بل ډول اټکل شوي وي.

۲- د ګمرکي دين د مبلغ د لوړې کچې (اعظمي حد) مطابق چې د ګمرکي مامورينو په واسطه اټکل کېږي، پدې شرط چې د ګمرکي دين دقيقه اندازه ونه ټاکلی شي.

(۲) په هغه صورت کې چې د ګمرکي دين د تحصيل لپاره د دې قانون په يو سلو اته دېرشمه ماده کې درج شوی تضمين اړين وګڼل شي چې اندازه ئي د وخت په تېرېدو سره تغيير ومومي، د دې تضمين اندازه پداسې ډول ټاکل کېږي چې ګمرکي دين په هر وخت کې تحصيل کړی شي.

گمرکی طور دیگری پیش بینی شده باشد.

۲- مطابق حداعظم مبلغ دین گمرکی که توسط مامورین گمرکی تخمین میگردد، مشروط براینکه اندازهٔ دقیق دین گمرکی تعیین شده نتواند.

(۲) در صورتیکه برای تحصیل دین گمرکی تضمین مندرج مادهٔ یکصد و سی و هشتم این قانون ضروری پنداشته شود که مقدار آن به مرور زمان تغییر یابد، اندازهٔ این تضمین طوری تعیین می گردد که دین گمرکی در هر زمان تحصیل شده بتواند.

نقدي سپارنې

يو سلو څلوېښتمه ماده:

نقدي سپارنه په افغاني پيسو ده او لاندې موارد هم نقدي سپارنې ګڼل کېږي:

۱- د چک تسليمي چې ورکړه يې صادروونکی د مربوطې لايحې مطابق تضمين کړي.

۲- د هغو نورو مالي سندونو تسليمول چې د ګمرکي مامورينو

سپرده های نقدی

مادهٔ یکصد و چهلم:

سپرده نقدی به پول افغانی بوده و موارد آتی نیز سپردهٔ نقدی پنداشته می شود:

۱- تسلیمی چك كه پرداخت آن را صادر کننده مطابق لایحهٔ مربوطه تضمین نماید.

۲- تسلیمی سایر اسناد مالی ایکه توسط مامورین گمرکی به

په واسطه د ورکړې د وسیلې په توګه منل شوي وي.

حیث وسیلهٔ پرداخت قبول گردیده باشد.

ضامن

یو سلو یو څلوېښتمه ماده:

هغه شخص د ضامن په توګه منل کېږي چې د لاندې اوصافو لرونکی وي:

۱- په افغانستان کې استوګن وي، خو دا چې په نړیوالو قراردادونو کې چې افغانستان ورسره الحاق کړی دی، بل ډول اټکل شوي وي.

۲- داسې ضمانت ورکوونکي چې د ګمرکي دین د مامورینو د منلو وړ تضمین شوی مبلغ ورکړی شي.

۳- داسې ضمانت ورکوونکي چې د ګمرکي مامورینو د تصمیم مطابق تر تاکلې مودې پورې وساتل شي.

ضامن

مادهٔ یکصد و چهل و یکم:

شخصی بحیث ضامن پذیرفته می‌شود که دارای اوصاف ذیل باشد:

۱- در افغانستان مقیم باشد مگر اینکه در قرار دادهای بین المللی که افغانستان به آن الحاق نموده طور دیگری پیش بینی گردیده باشد.

۲- ضمانتی ارائه نماید که مبلغ تضمین شدهٔ دین گمرکی را به شکل قابل پذیرش مامورین گمرکی تأدیه نموده بتواند.

۳- ضمانتی را ارائه نماید که مطابق تصمیم مامورین گمرکی الی مدت معین نگهداری شده بتواند.

د تضمینونو نور ډولونه

یو سلو دوه څلوېښتمه ماده:

ګمرکي مامورین کولای شي نور تضمینونه هم ومني، پدې شرط چې د ګمرکي دین د ورکړې په

سایر انواع تضمینات

مادهٔ یکصد و چهل و دوم:

مامورین گمرکی می توانند سایر تضمینات را نیز بپذیرند، مشروط بر اینکه تأمینات معادل

هکله معادل تأمینات وړاندې کړی شي.

اضافي تضمینونه
یو سلو دري څلوېښتمه ماده:
کـه چېـرې پـه ټـاکلې مـوده کـې د ګمرکـي دیـن د ورکـړې د تـأمینولو لپاره وړاندې شوی تـضمین، د ډاډ وړیـا کـافي ونـه ګڼـل شـي، ګمرکـي مامورین کولای شي مدیون په خپله خوښـــه د اضـــافي تـــضمین یـــا د مخکنـــي تـــضمین د تعـــویض پـــه وړاندې کولو مکلف کړي.

د تضمین خوشې کول (پرېښودل)
یو سلو څلور څلوېښتمه ماده:
(۱) کـه چېـرې ګمرکـي دیـن قـسماً اداء شـي، د مـدیون د غوښـتنې لـه مخـې د نقـدي تـضمین یـوه برخـه ګمرکـي مـدیون تـه بېرتـه ورکـول کېـږي، خـو دا چې د تـضمین پـاتې انـدازه د هغه د توجیه لپـاره کـافي نه وي.
(۲) کـه چېـرې ګمرکـي دیـن چې پـه هکلـه یـې تـضمین وړانـدې شـوی، اداء شي، غیـر نقده تـضمین بې لـه ځنـډه رفـع او نقـدي سـپارنه بېرتـه را در مورد تأدیه دین گمرکی ارائه نموده بتواند.

تضمینات اضافی
مادۀ یکصد و چهل و سوم:
هـر گـاه تـضمین ارائـه شـده جهـت تـأمین پرداخـت دیـن گمرکـی در میعـاد معینـه قابـل اطمینـان یـا کـافی پنداشـته نـشود، مـامورین گمرکـی مـی تواننـد مـدیون را مکلف به ارائه تضمین اضـافی یـا تعویض تضمین قبلی بـه انتخـاب خودش نمایند.

رهایی تضمین
مادۀ یکصد و چهل و چهارم:
(۱) هر گـاه دیـن گمرکی قـسماً ادا گـردد بـالاثـر درخواسـت مـدیون، قسمتی از تضمین نقدی به مدیون گمرکـی بـاز پرداخـت مـی گـردد، مگـر اینکـه مقـدار باقیمانـدۀ تـضـمین بـرای توجیـه آن کـافی نباشد.
(۲) هـر گـاه دیـن گمرکـی کـه در مـورد آن تـضمین ارائـه شـده، ادا گـردد، تـضمین غیـر نقـده بـلا فاصـله رفـع و سـپردۀ نقـدی بـاز

ورکول کېږي.

پرداخت می‌گردد.

د ګمرکي دین مسبب مجاز فعالیتونه

یو سلو پنځه څلوېښتمه ماده:

(۱) ګمرکي دین، په هغه صورت کې چې د مالونو مجاز واردات یا صادرات، د دې قانون د حکمونو مطابق آزاد دوران ته ترخیص یا منل شوی ګمرکي اظهارلیک ورکړل شوی وي، په لاندې حالاتو کې لازمېږي:

۱- د دې قانون د پنځه شپېتمې مادې د (۲) فقرې د حکم مطابق آزاد دوران ته د وارداتي محصول د تابع مالونو د ترخیص په حالت کې.

۲- له وارداتي محصول څخه په قسمي معافیت سره، د مؤقت توریدتر پروسې لاندې مالونو د راوستلو په حالت کې.

۳- د ګمرکونو تر څارنې لاندې مالونو په شرط پورې د ټرلي ترخیص په حالت کې.

۴- د صادرېدو تر پروسې لاندې د مالونو د راوستلو په حالت کې.

۵- تر نورو ګمرکي پروسو یا موقفونو لاندې د مالونو د

فعالیت های مجاز مسبب دین گمرکی

مادۀ یکصد و چهل و پنجم:

(۱) دین گمرکی در صورتیکه واردات یا صادرات مجاز اموال مطابق احکام این قانون به دوران آزاد ترخیص یا اظهارنامه گمرکی قبول شده ارائه گردیده باشد، در حالات ذیل لازم می گردد:

۱- در حالت ترخیص اموال تابع محصول وارداتی به دوران آزاد مطابق حکم فقرۀ (۲) مادۀ شصت و پنجم این قانون.

۲- در حالت قرار دهی اموال تحت پروسۀ توریدمؤقت با معافیت قسمی از محصول وارداتی.

۳- در حالت ترخیص منوط به شرط اموال تحت نظارت گمرکات.

۴- در حالت قرار دادن اموال تحت پروسۀ صدور.

۵- در حالت قرار دادن اموال تحت پروسه یا موقف های دیگر

راوستلو په حالت کې چې محصول، حق الزحمه، عوارض، جریمې یا نور پولي التزامات په غېږ (بر) کې ولري.
(۲) ګمرکي دین، د اظهارلیک د منلو په صورت کې یا د جریمو د وضع کولو په اثر، د دې قانون د حکمونو مطابق، ګمرکي مدیون ته له خبر ورکولو وروسته واجب الاداء ګرځي.

گمرکی که تأدیه محصول، حق‌الزحمه، عوارض، جریمه ها یا سایر التزامات پولی را در برداشته باشد.
(۲) دین گمرکی در صورت پذیرش اظهارنامه یا بالاثر وضع جریمه ها مطابق احکام این قانون بعد از اطلاع به مدیون گمرکی واجب الادا می گردد.

د ګمرکي دین مسبب غیر مجاز فعالیتونه

یو سلو شپږ څلوېښتمه ماده:

ګمرکي دین، د دې قانون د یو سلو شپږ شپېتمې مادې په (۲) فقره، د یو سلو اویایمې مادې په درېیمه فقره او یو سلو دوه اویایمه ماده کې د درج شوو حکمونو د سرغړوونکو اشخاصو د غیر مجازو فعالیتونو په اثر واجب الاداء ګرځي.

فعالیتهای غیر مجاز مسبب دین گمرکی

مادۀ یکصد وچهل و ششم:

دین گمرکی بالاثر فعالیت های غیر مجاز اشخاص متخلف از احکام مندرج فقرۀ (۲) مادۀ یکصد و شصت و ششم، فقرۀ (۳) مادۀ یکصد و هفتادم و مادۀ یکصد و هفتاد و دوم این قانون واجب الادا می گردد.

له څارنې څخه د غير مجاز مالونو د ايستلو (خروج) په وخت کې گمرکي دين

يو سلو اووه څلوېښتمه ماده:

له گمرکي څارنې څخه د محصول تابع مالونو د غير مجاز ايستلو په اثر هم گمرکي دين واجب الاداء گرځي او مديونين يې له لاندې اشخاصو څخه عبارت دي:

۱- هغه اشخاص چې مالونه يې له اجازې پرته، له گمرکي څارنې څخه ايستلي وي.

۲- هغه اشخاص چې د ايستلو په پروسه کې برخوال وي او د مخه له هغې څخه خبرتيا ولري.

۳- هغه اشخاص چې له گمرکي څارنې څخه د محصول تابع مالونه لاس ته راوړي يا يې تصرف کړي او د لاس ته راوړنې يا تصرف په وخت کې له گمرکي څارنې څخه د هغو د غير مجاز ايستلو په هکله خبر وي.

دين گمرکی حين خروج غير مجاز اموال از نظارت

مادۀ يکصد و چهل و هفتم:

دين گمرکی بالاثر خروج غير مجاز اموال تابع محصول از نظارت گمرکی نيز واجب الاداء می گردد و مديونين آن عبارت از اشخاص ذيل می باشند:

۱- اشخاصيکه اموال را از نظارت گمرکی بدون اجازه خارج نموده باشند.

۲- اشخاصيکه در عمليۀ خروج سهيم بوده و از آن آگاهی قبلی داشته باشند.

۳- اشخاصيکه اموال تابع محصول از نظارت گمرکی را حصول يا تصرف نموده و حين حصول يا تصرف در مورد خروج غير مجاز آن از نظارت گمرکی آگاه باشند.

د دين نه الزاميت

يو سلو اته څلوېښتمه ماده:

تر گمرکي څارنې لاندې د مالونو په هکله گمرکي دين، په لاندې حالاتو کې نه لازمېږي:

عدم الزاميت دين

مادۀ يکصد و چهل و هشتم:

دين گمرکی در مورد اموال تحت نظارت گمرکی در حالات ذيل لازم نمی گردد:

۱- هغه مالونه چې د غیر مترقبه پیښو (فورس ماژور) د پېښېدو له امله ورک شي.
۲- هغه مالونه چې د دې قانون د یو سلو څلور دېرشمې مادې د حکم مطابق، د تخریب یا ترک تر موقف لاندې راشي.
۳- هغه مالونه چې د تبخیر یا نورو طبیعي پدېدو له امله ضایع شي.
۴- د دې قانون په یو سلو شپږ څلوېښتمه او یو سلو اووه څلوېښتمه ماده کې د شاملو حالاتو درج شوي مالونه چې د شخص له کنترول څخه بهر او هغه ثابت کړي.

۱- اموالیکه بالاثر وقوع حوادث غیر مترقبه (فورس ماژور) مفقود گردد.
۲- اموالیکه مطابق حکم مادۀ یکصد و سی و چهارم این قانون، تحت موقف تخریب یا ترک قرار گیرد.
۳- اموالیکه بالاثر تبخیر یا سایر پدیده های طبیعی ضایع گردد.
۴- اموال مندرج شامل حالات مواد یکصد و چهل و ششم و یکصد و چهل و هفتم این قانون، که از کنترول شخص خارج و آنرا ثابت نماید.

د تضامني شرکتونو مسئولیت
یو سلو نهه څلوېښتمه ماده:
که چېرې یوه تضامني شرکت د ګمرکي دین د ورکړې ضمانت کړی وي، ونډه لرونکي یې د ګمرکي دین د اداء کولو په وړاندې په انفرادي او جمعي توګه مسئولیت لري.
له جریمو څخه راپیدا شوی دین له دې حکم څخه مستثنی دي.

مسئولیت شرکت های تضامنی
مادۀ یکصد و چهل و نهم:
هر گاه یك شرکت تضامنی تأدیۀ دین گمرکی را ضمانت نموده باشد، سهمداران آن در برابر ادای دین گمرکی طور انفرادی و جمعی مسئولیت دارند.
دین گمرکی ناشی از جریمه ها از این حکم مستثنی می باشد.

د ګمرکي دین د ټاکلو نېټه
یو سلو پنځوسمه ماده:
کـه چېـرې د دیـن د اداء د وجـوب وخت، د اظهـاروونکي د تقصیر لـه امله په دقیقه توګه و نه ټاکل شي، پـدې صـورت کـې د اکثـر حـد محصول چې د بحث وړ مـودې په اوږدو کـې د ورکـړې وړ وي، پـه مالونو باندې تطبیقېږي.

تاریخ تعیین دین گمرکی
مادۀ یکصد و پنجاهم:
هـر گـاه زمـان وجـوب ادای دیـن بـالاثر تقـصیر اظهـار کننـده طـور دقیق تعیـین شده نتواند، در ایـن صـورت حـداکثر محـصول کـه در طی میعاد مورد بحث قابل تأدیه باشـد، بـالای امـوال تطبیـق مـی گردد.

په حسابونو کې د دین ثبتول
یو سلو یو پنځوسمه ماده:
(۱) دمالونوګمرکي محصول د هغو د ورکړې د څرګندوی اظهارلیک لـه منلـو سـره پـه یـوه وخـت محاسـبه کېږي، که چېرې د مـالونو د بیې د ټاکلو لپـاره زیـات معلومـات لاړم وي، دګمرک مامورین مکلف دي د ګمرکـي اظهارلیـک لـه منلـو (۴۸) سـاعته وروسـته یـا د مـالونو د ارزښت د ټاکلو په کړنلاره کې په درج شـوې مـوده کـې، د محـصول انـدازه وټـاکي.د ګمرکـي محـصول انـدازه لـه محاسبې وروسـته بې لـه ځنډه ثبتېږي.
(۲) ګمرکي محصول د دې قـانون د دوه شپېتمې مادې د حکم مطابق،

ثبت دین در حسابات
مادۀ یکصد و پنجاه و یکم:
(۱) محـصول گمرکـی امـوال همزمان با پذیرش اظهارنامه مبنی بر تأدیه آن، محاسبه می گردد. هر گـاه بـرای تعیـین قیمـت امـوال معلومـات بیـشتر لازم باشـد، مـامورین گمرکـی مکلـف انـد در ظرف (۴۸) ساعت بعد از پذیرش اظهارنامـۀ گمرکـی یـا میعـاد منـدرج طرزالعمـل تعیـین ارزش امـوال، اندازۀ محصول را تعیین نمایند. اندازۀ محصول گمرکی بلا فاصـله بعـد از محاسبه ثبت مـی گردد.
(۲) مـحـصول گـمرکی مطـابق حکـم مـادۀ شـصت و دوم ایـن

آزاد دوران ته د مالونو له ترخیص یا د محصول د ورکړې له په برکې نیوونکو نورو پروسو څخه له ترخیص د مخه محاسبه او په حسابونو کې ثبتېږي، خو دا چې پدې قانون یا اړونده کړنلاره کې بل ډول تصریح شوي وي.

(۳) هغه ګمرکي دین چې له ګمرکي پروسو څخه تر یوې لاندې د مالونو له راتلو وروسته واقع شي، له هغې نېټې څخه چې ګمرکي مامورین د دین د تاکلو او د مدیون د تشخیص لپاره کافي معلومات ولري، (۴۸) ساعته وروسته ثبتېږي.

(۴) د ګمرک مامورین مکلف دي، د ګمرکي دین د ثبت د ځنډېدو دلیلونه په کافي توګه توضیح کړي.

قانون قبل از ترخیص اموال به دوران آزاد یا ترخیص از سایر پروسه های دربر گیرنده تأدیهٔ محصول، محاسبه و ثبت حسابات می گردد، مگر اینکه در این قانون یا طرزالعمل مربوط طور دیگری تصریح شده باشد.

(۳) دین گمرکی که بعد از قرار گرفتن اموال تحت یکی از پروسه گمرکی واقع گردد، در ظرف (۴۸) ساعت از تاریخی که مامورین گمرکی معلومات کافی برای تعیین اندازهٔ دین و تشخیص مدیون داشته باشد، ثبت می گردد.

(۴) مامورین گمرك مکلف اند دلایل تأخیر ثبت دین گمرکی را طور کافی توضیح نمایند.

د حسابونو په ثبت کې توپیر

یو سلو دوه پنځوسمه ماده:

کې چېرې ګمرکي دین، د واجب الاداء اصل دین ته په پام سره لږ ثبت شوی وي، ګمرکي مامورین مکلف دي د خبرېدو له نېټې څخه په (۴۸) ساعتونو کې د تحصیل اصلي پیسې د دې قانون د یو سلو

تفاوت در ثبت حسابات

مادهٔ یکصد و پنجاه و دوم:

هر گاه دین گمرکی نظر به اصل دین واجب الاداء کمتر ثبت گردیده باشد، مامورین گمرکی مکلف اند در ظرف (۴۸) ساعت از تاریخ آگاهی، اصل مبلغ تحصیل را مطابق حکم مادهٔ یکصد و پنجاه و

یو پنځوسمې مادې د حکم مطابق محاسبه او ثبت کړي.

یکم این قانون محاسبه و ثبت نمایند.

د دین د ثبتولو خبرتیا
یو سلو دري پنځوسمه ماده:
(۱) ګمرکي مامورین مکلف دي، په حسابونو کې د محصول له ثبت سره په یوه وخت مدیون ته داړوندې کړنلارې مطابق خبر ورکړي، مدیون ته خبر ورکول یوازي په هغو حالاتو کې صورت مومي چې په اظهارلیک کې ټاکل شوې اندازه د ګمرکونو په واسطه له تثبیت شوې اندازې سره توپیر ولري.
(۲) د ګمرکي دین د بیا محصول ټاکل د دري کلونو له تېرېدو وروسته د اعتبار وړ ندي.

اطلاعیه ثبت دین
مادهٔ یکصد و پنجاه و سوم:
(۱) مامورین گمرکی مکلف اند همزمان با ثبت محصول در حسابات، مدیون را مطابق طرزالعمل مربوط اطلاع دهند. اطلاعیه به مدیون صرف در حالاتی صورت می گیرد که اندازهٔ تعیین شده در اظهارنامه با اندازهٔ تثبیت شده توسط گمرکات تفاوت داشته باشد.
(۲) تعیین محصول مجدد دین گمرکی بعد از مرور سه سال مدار اعتبار نمی باشد.

د ګمرکي دین د تصفیې او اسقاط حالات
یو سلو څلور پنځوسمه ماده:
ګمرکي دین په لاندې حالاتو کې تصفیه یا ساقطېږي:
۱- په هغه حالت کې چې د دې قانون له یو سلو څلور پنځوسمې څخه تر یو سلو اته پنځوسمې مادې پورې د درج شوو حکمونو مطابق،

حالات تصفیه و اسقاط دین گمرکی
مادهٔ یکصد و پنجاه و چهارم:
دین گمرکی در حالات ذیل تصفیه و یا ساقط می گردد:
۱- در حالتی که مطابق احکام مندرج مواد یکصد و پنجاه و چهارم الی یکصد و پنجاه و هشتم این قانون پرداخت

د هغه بشپړې ورکړې صورت موندلی وي.
۲- په هغه حالت کې چې د دې قانون له یو سلو نهه پنځوسمې څخه تر یو سلو دري شپېتمې مادې پورې د درج شوو حکمونو مطابق د هغه پرېښودلو یا بېرته ورکولو صورت موندلی وي.
۳- په هغه حالت کې چې د دې قانون په اووه پنځوسمه یا څلور شپېتمه ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق د محصول د ورکړې څرګندوی اظهارلیک باطل یا لغو شوی وي.
۴- په هغه حالت کې چې مالونه مصادره یا د ګمرکي مامورینو د هدایت په اساس تخریب شوي وي.
۵- د دې قانون د یو سلو اته څلوېښتمې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقره کې په درج شوو حالاتو کې.

د ګمرکي دین د ورکړې موده
یو سلو پنځه پنځوسمه ماده:
(۱) مدیون مکلف دی هغه ګمرکي دین چې د دې قانون په یو سلو دري پنځوسمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق هغه ته خبر کامل آن صورت گرفته باشد.
۲- در حالتیکه مطابق احکام مندرج مواد یکصد و پنجاه و نهم الی یکصد و شصت و سوم این قانون واگذاری یا بازپرداخت آن صورت گرفته باشد.
۳- در حالتیکه مطابق احکام مندرج مواد پنجاه و هفتم یا شصت و چهارم این قانون اظهار نامۀ گمرکی مبنی بر پرداخت محصول باطل یا لغو گردیده باشد.
۴- در حالتیکه اموال مصادره یا به اساس هدایت مامورین گمرکی تخریب گردیده باشد.
۵- در حالات مندرج فقره های (۱، ۲و ۳) مادۀ یکصد و چهل و هشتم این قانون.

میعاد پرداخت دین گمرکی
مادۀ یکصد و پنجاه و پنجم:
(۱) مدیون مکلف است دین گمرکی را که مطابق حکم مندرج مادۀ یکصد و پنجاه و سوم این قانون به اطلاع وی رسانیده شده

ورکړل شوی دی، په لاندې موده کې ورکړي:
۱- د خبرتیا په درج شوې موده کې، د دې قانون په یو سلو شپږ پنځوسمه ماده کې درج شوی حکم لدې امر څخه مستثنی دی.
۲- که چېرې خبرتیا په ټاکلې موده کې ګمرکي مدیون ته ونه رسېږي، د ورکړې موده اوږده (تمدید) شوې حسابېږي.
(۲) ګمرکي مامورین کولای شي د مدیون د غوښتنې په اثر ټاکل شوې موده، د دې قانون د یو سلو دوه پنځوسمې مادې د حالت په پام کې نیولو سره اوږده کړي.د تمدید موده په هر حالت کې له (۱۰) ورځو څخه زیاتېدی نشي.

د دین په ورکړه کې ځنډ (تأخیر) یو سلو شپږ پنځوسمه ماده:
(۱) د مالیې وزارت کولای شي، د دین په کلي یا قسمي ورکړه کې ځنډ، د جلا کړنلارې په اساس مجاز وګرځوي.پدې شرط چې ګمرکي مدیون پدې برخه کې تضمین وړاندې او د ځنډونې موده له حق الزحمې پرته له (۳۰) ورځو

است، در میعاد ذیل تأدیه نماید:
۱- در میعاد مندرج اطلاعیه حکم مندرج مادۀ یکصد و پنجاه و ششم این قانون از این امر مستثنی است.
۲- هر گاه اطلاعیه در میعاد معینه به مدیون گمرکی مواصلت نه نماید، میعاد پرداخت تمدید شده محسوب می‌گردد.
(۲) مامورین گمرکی می توانند بالاثر تقاضای مدیون میعاد تعیین شده را با نظر داشت حالت مادۀ یکصد و پنجاه و دوم این قانون تمدید نمایند. میعاد تمدید در هر حالت از (۱۰) روز تجاوز کرده نمی تواند.

تأخیر در تأدیه دین
مادۀ یکصد و پنجاه و ششم:
(۱) وزارت مالیه می تواند تأخیر در تأدیۀ کلی یا قسمی دین را به اساس طرزالعمل جداگانه مجاز سازد، مشروط براینکه مدیون گمرکی در زمینه تضمین را ارائه و میعاد تأخیر بدون حق الزحمه از (۳۰) روز تجاوز نه نماید.

څخه زیاته نشي، په هغه صورت کې چې متعدد ګمرکي دیون مودې په ټاکلي وخت کې د ورکړې وړ وګرځي، څنډونه یې په اوسط ډول له (۳۰) ورځو څخه تجاوز نه کوي.

(۲) د ګمرکونو اداره کولای شي په ورکړه کې د څنډونې د خدمتونو د برابرولو له بابته، د هرې ورځې په وړاندې (۰،۰۱) فیصده د څنډ پیسې یا هغه پیسې چې په مربوطه کړنلاره کې ټاکل کېږي، د حق الزحمې په توګه واخلي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې حق الزحمې اندازه، د مالیې وزارت لخوا داسې محاسبه کېږي چې د هېواد په رایجو پیسو له ورته حق الزحمو یا مالي بازار سره معادل وي.

در صورتیکه دیون گمرکی متعدد طی میعاد زمانی معین قابل پرداخت گردد، تأخیر آن بطور اوسط از (۳۰) روز تجاوز نمی نماید.

(۲) ادارۀ گمرکات می تواند از بابت فراهم نمودن خدمات تأخیر در تأدیه، در برابر فی روز (۰،۰۱) فیصد مبلغ تأخیر یا مبالغیکه در طرزالعمل مربوط تعیین می گردد طور حق الزحمه اخذ نمایند.

(۳) اندازۀ حق الزحمه مندرج فقرۀ (۲) این ماده از طرف وزارت مالیه طوری محاسبه می گردد که با حق الزحمه های مشابه به پول رایج کشور یا بازار مالی معادل باشد.

د ورکړې ډول

یو سلو اووه پنځوسمه ماده:

(۱) نور اشخاص کولای شي، د مدیون په عوض ګمرکي دین اداء کړي.

(۲) د بانکي لېږدونې یا په ګمرکي تقنیني سندونو کې درج د بل هر سند له لارې د دین ورکړه صورت

طرز تأدیه

مادۀ یکصد و پنجاه و هفتم:

(۱) سایر اشخاص می توانند به عوض مدیون دین گمرکی را اداء نمایند.

(۲) پرداخت دین از طریق انتقال بانکی یا هر سند دیگر مندرج در اسناد تقنینی گمرکی

موندلی شي، که چېرې ورکوونکی د دې قانون په پنځه څلوېښتمه ماده کې درج شوی شخص وي يا د ګمرکونو اداري هغه تشخيص کړي وي، د دين ورکړه په نقدي توګه صورت مومي.

صورت گرفته می تواند. هر گاه تأدیه کننده شخص مندرج مادهٔ چهل و پنجم این قانون بوده یا ادارهٔ گمرکات آن را تشخیص نموده باشد، تأدیه دین طور نقده صورت می گیرد.

په ټاکلې موده کې د دين نه ورکول يو سلو اته پنځوسمه ماده:

(۱) ګمرکي مامورين مکلف دي د هغه ګمرکي دين د ورکړې د تأمينولو په منظور چې موده ئې لا د مخه پای ته رسېدلې ده، په قانوني مجازو اقداماتو لاس پورې کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې ګمرکي مديون خپل دين په ټاکلې موده کې اداء نکړي، د ګمرکونو اداره کولای شي د مديون ثبت شوی منقول او غير منقول ملکيت تر خپل تضمين لاندې راولي او له موضوع څخه د ملکيت يا بانکونو د راجستر دفترونو ته خبر ورکړي.نومورې ملکيت د دين تر ورکړې پورې د تضمين له قيده نه خلاصېږي.

(۳) د ګمرکونو اداره د ګمرکي دين په تحصيلولو کې، د قانون له

عدم تأدیه دین طی میعاد معینه مادهٔ یکصد و پنجاه و هشتم:

(۱) مامورین گمرکی مکلف اند به منظور تأمین تأدیه دین گمرکی ایکه میعاد آن قبلاً بسر رسیده است، به اقدامات مجاز قانونی متوسل گردند.

(۲) در صورتی که مدیون گمرکی دین خود را در میعاد معینه ادا نه نماید، ادارهٔ گمرک می تواند ملکیت منقول و غیر منقول ثبت شدهٔ مدیون را تحت تضمین خویش قرار داده و از موضوع به دفاتر راجستر ملکیت یا بانکها خبر دهد. ملکیت مذکور الی تأدیه دین از قید تضمین رها نمی گردد.

(۳) ادارهٔ گمرکات در تحصیل دین گمرکی مطابق احکام

حکمونو سره سم، د نورو داینینو په نسبت د لومړیتوب حق لري.
(۴) د هغو ګمرکي د یونو ټکټانه چې موده یې لاد مخه پای ته رسېدلې، د دې قانون د یو سلو شپږ پنځوسمې مادې د حکم مطابق وضع کېږي.

قانون نسبت به سایر داینین حق اولیت را دارد.
(۴) تکتانهٔ دیون گمرکی ایکه میعاد آن قبلاً ختم گردیده، مطابق حکم مادهٔ یکصد و پنجاه و ششم این قانون وضع می گردد.

د غلط ثبت پرېښودل یا بېرته ورکړه
یو سلو نهه پنځوسمه ماده:
(۱) په هغه صورت کې چې ثبت شوی یا ورکړل شوی ګمرکي دین، د مدیون له قانوني ذمت څخه زیات وي، تفاوت یې پرېښودل کېږي یا بېرته ورکول کېږي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې بېرته ورکړه او پرېښودنه د اظهارلیک په ابطال یا د اصلاح شوي اظهارلیک په وړاندې کولو سره، د دې قانون د اووه پنځوسمې مادې مطابق، د مالونو د دین په هکله د خبرتیا له نېټې څخه دری کاله وروسته صورت مونډلی شي.
(۳) د ګمرکونو اداره مکلفه ده، د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې په

واگذاری یا بازپرداخت ثبت غلط
مادهٔ یصکد و پنجاه و نهم:
(۱) در صورتیکه دین گمرکی ثبت یا تأدیه شده، بیشتر از ذمت قانونی مدیون باشد، تفاوت آن واگذار یا بازپرداخت می گردد.
(۲) بازپرداخت یا واگذاری مندرج فقرهٔ (۱) این ماده یا ابطال اظهارنامه یا ارائه اظهارنامه تصحیح شده مطابق مادهٔ پنجاه و هفتم این قانون در مدت سه سال بعد از تاریخ اطلاعیه در مورد دین اموال صورت گرفته می تواند.
(۳) ادارهٔ گمرکات مکلف است در حالات مندرج فقره های (۱ و ۲)

درج شوو حالاتو کې ګمرکي دین ببرته ورکړي یا یې پرېږدي.

د ناقصو مالونو پرېښودل یا ببرته ورکړه

یو سلو شپېتمه ماده:

(۱) د هغو ناقصو مالونو د وارداتي محصول ببرته ورکړه یا پرېښودل چې له ترخیص د مخه یې زیان لیدلی یا د توریدلو قرارداد سره مطابقت نلري او اظهاروونکي هغه رد کړی وي، تر دغو شرایطو لاندې صورت مومي:

۱- په هغه صورت کې چې مالونه تر ګټې اخیستنې لاندې نه وي راغلي.د مالونو د ناقص والي د اثبات لپاره ابتدایي ګټه اخیستنه لدې امر څخه مستثنی ده.

۲- په هغه صورت کې چې مالونه صادر یا تر داسې پروسې یا موقف لاندې راشي چې د ګمرکي محصول د ورکړې مستلزم نه وي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه، د غیر افغاني مالونو په توګه، د هېواد له ګمرکي قلمرو څخه صادرېدای شي.

(۳) د وارداتي محصول ببرته ورکړه

واگذاری یا بازپرداخت اموال ناقص

مادۀ یکصد و شصتم:

(۱) بازپرداخت یا واگذاری محصول وارداتی اموال ناقصی که قبل از ترخیص آسیب دیده یا با قرارداد توريد مطابقت نداشته و اظهار کننده آنرا مسترد نموده باشد، تحت شرایط ذیل صورت می گیرد:

۱ - در صورتیکه اموال مورد استفاده قرار نگرفته باشد، استفادۀ ابتدایی برای اثبات ناقص بودن اموال از این امر مستثنی است.

۲ - در صورتیکه اموال صادر یا تحت پروسه یا موقفی قرار گیرد که مستلزم تأدیه محصول گمرکی نباشد.

(۲) اموال مندرج فقرۀ (۱) این ماده بحیث اموال غیر افغانی از قلمرو گمرکی کشور صادر گردیده می تواند.

(۳) بازپرداخت یا واگذاری

این ماده دین گمرکی را بازپرداخت یا واگذار نماید.

یـا پرېښودنه د دې مـادې پـه (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د مـدیون د غوښـتنې لـه مخـې، د ابـلاغ لـه نېټـې څخـه پـه (۱۲) میاشتو کې صورت مومي.

(۴) د محـصول بېرتـه ورکـړه د یـو سلو څلورمې مادې د حکم مطابق صورت مونډلی شي.

محصول وارداتی در حالات مندرج فقـرۀ (۱) ایـن مـــاده بـنـــابر درخواست مـدیون در مـدت (۱۲) مـاه از تـاریخ ابـلاغ صـورت مـی گیرد.

(۴) بـــازپرداخت محصول مطابق حکـم مـادۀ یـکـــصد و چهـارم صورت گرفته می تواند.

د بېرته ورکړې وړ مبالغو حدود یو سلو یو شپېتمه ماده:

ګمرکـي محـصول پـه هغـه صـورت کې بېرتـه ورکـول کېږي چې اندازه يې له یو زر (۱۰۰۰) افغانیو یا په اړونده کړنلاره کې له نورو تثبیت شـوو مبـالغو څخـه زیاتـه وي.د دې قانون په پنځه څلوېښتمه ماده کې درج تحصیل شوی محصول له دې امر څخه مستثنی دی.

حدود مبالغ قابل بازپرداخت مادۀ یکصد و شصت و یکم:

محـــصول ګمرکـــی در صـــورتی بازپرداخت می گردد که اندازۀ آن بیشتر از یکهزار (۱۰۰۰) افغـانی یـا سـایر مبـالغ تثبیـت شـده در طرزالعمل مربوط باشد. محصول تحصیل شده مندرج مادۀ چهل و پـنجم ایـن قـانون از ایـن امـر مستثنی است.

د بېرته ورکړې ټکټانه یو سلو دوه شپېتمه ماده:

د دې قـانون پـه یـو سـلو نهـه پنځوسمه او یو سلو دري شپېتمه مـاده کـې درج د بېرتـه ورکـړې د ټکټـانې پـه ورکولـو کـې د بېرتـه ورکړې د تـصمیم لـه نېټـې څخـه د

تکتانه بازپرداخت مادۀ یکصد و شصت و دوم:

تـأدیـــه تـکـتـانـــۀ بـازپـرداخـــت مـنـدرج مـواد یـکـصد و پـنـجـاه و نهـم و یکصد و شصت و سـوم ایـن قـانون شـامل میعـاد قـبـل از تـاریخ تـصمیم بازپرداخـت نـمی

مخه موده شامله نده، ټکټانه د يو سلو شپږ پنځوسمې مادې د حکم مطابق، په هغه صورت کې ګمرکي مديون ته ورکول کېږي چې د بېرته ورکړې تصميم د هغه د نيولو له نېټې څخه تر يوې مياشتې وروسته مودې پورې نه وي عملي شوي.

اشتباهي بېرته ورکړه
يو سلو دري شپېتمه ماده:
که چېرې ګمرکي دين اشتباهاً بېرته ورکړل شوی وي، ګمرکي مديون مکلف دی، له ابلاغ وروسته هغه مسترد کړي، د دې قانون په يو سلو دوه شپېتمه ماده کې درج شوې ټکټانه هم د دې حکم تابع ده.

څوار لسم فصل
ګمرکي سرغړوني او مجازات يې

د ګمرکي پوليسو اداره
يو سلو څلور شپېتمه ماده:
(۱) د دې قانون له حکمونو او د قاچاقو د انسداد په قانون کې د درج شوو جرمونو د کشف او مخنيوي او د هېواد په ګمرکي باشد. تکتانه مطابق حکم مادۀ یکصد و پنجاه و ششم در صورتی به مدیون گمرکی پرداخت می گردد که تصمیم بازپرداخت الی مدت یك ماه بعد از تاریخ اتخاذ آن عملی نگردیده باشد.

بازپرداخت اشتباهی
مادۀ یکصد و شصت و سوم:
هر گاه دین گمرکی اشتباهاً بازپرداخت گردیده باشد، مدیون گمرکی مکلف است بعد از ابلاغ آنرا مسترد نماید. تکتانۀ مندرج مادۀ یکصد و شصت و دوم این قانون نیز تابع این حکم می باشد.

فصل چهاردهم
تخلفات گمرکی و مجازات آن

ادارۀ پولیس گمرکی
مادۀ یکصد و شصت و چهارم:
(۱) به منظور کشف و جلوگیری تخلفات از احکام این قانون و جرایم مندرج قانون انسداد قاچاق و دستگیری مظنونین مربوط در

قلمرو کې د اړوندو مظنونینو د نیولو په منظور، د ګمرکي پولیسو اداره د کورنیو چارو او مالیې وزارتونو لخوا مشترکاً جوړېږي.

(۲) د ګمرکي پولیسو اداره د کورنیو چارو د وزارت د تشکیل جزء ده.د کورنیو چارو وزارت په لاندې مواردو کې مسئولیت لري:

۱- د مالیې وزارت په وړاندیز د ګمرکي پولیسو منظوري، مقرري او ګوښه کول.

۲- د قانون د حکمونو مطابق، د معاشونو او نورو اړوندو امتیازونو ورکړه.

۳- د ګمرکي پولیسو د کاندیدانو استخدام او د هغو د سوابقو دوسیو ساتل.

۴- د پولیسو د اجراآتو د ډول (طرز) په هکله د ګمرکي پولیسو کاندیدانوته د زده کړې د زمینې برابرول.

۵- د مالیې له وزارت سره په تفاهم کې، پولیسو ته د ځانګړي یونیفورم او نورو وسایلو برابرول چې د هغوی د کاري ماهیت په پام کې نیولو سره لازم دي.

(۳) دمالیې وزارت د پولیسو د

قلمرو گمرکی کشور، ادارهٔ پولیس گمرکی از طرف وزارت های امور داخله و مالیه مشترکاً ایجاد می گردد.

(۲) پولیس گمرکی جزء تشکیل وزارت امور داخله می باشد. وزارت امور داخله در موارد ذیل مسئولیت دارد:

۱- منظوری، تقرر و سبکدوشی پولیس گمرکی به اساس پیشنهاد وزارت مالیه.

۲- پرداخت معاشات وسایر امتیازات مربوط مطابق احکام قانون.

۳- استخدام کاندیدان پولیس گمرکی و نگهداری دوسیه های سوابق آنها.

۴- فراهم نمودن زمینهٔ آموزش برای کاندیدان پولیس گمرکی در مورد طرز اجراآت پولیس.

۵- تهیه یونیفورم خاص و سایر وسایل برای پولیس گمرکی که با در نظرداشت ماهیت کاری آنها لازم باشد، در تفاهم با وزارت مالیه.

(۳) وزارت مالیه منحیث مسئول

لارښوونې، اداري او تنظيم د کار د مسئول په توګه، د لاندې دندو او واکونو لرونکی دي:

۱- د ګمرکي پوليسو د دندو او واکونو د حدودو ټاکل او د هغوی د کار د ځايونو ټاکل.

۲- د اداري د ډول او د اړونـــدو ګمرکي تقنيني سندونو د حکمونو د تطبيق په هکله، پوليس ته د زده کړې د زمينې برابرول.

۳- د مراتبو د سلسلې په پام کې نيولو سره د کورنيو چارو وزارت ته د ګمرکي پوليسو د مکافاتو، مجازاتو او د هغوی د ذاتي چارو په هکله سپارښتنې.

(۴) د کورنيـــو چـــارو او مـــالیې وزارتونه د دې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم د تطبيق په منظور، د وزارتونو تر منځ نور لارښودونه په ګډ (مشترک) صورت سره برابرولی شي.

(۵) د مالیې وزارت کولای شي، د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي حکم د تطبيق په منظور، جلا کړنلاره، عندالاقتضاء برابره او تصويب کړي.

(۶) د دې مادې په (۲) فقره کې رهنمـــایی، اداره و تنظـــیم کـــار پـــولیس گمرکـــی دارای وظـــایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تعیـــین وظـــایف و حـــدود صـــلاحیت هـــای پـــولیس گمرکـــی و تعیین محلات کار آنها.

۲- فـــراهـــم نمـــودن زمینـــهٔ آمـــوزش پـــولیس گمرکـــی در مـــورد طرز اداره و تـــطبیق احکام اسناد تقنینی گمرکی مربوط.

۳- سـفارش در مـورد مکافـات و مجـازات پـولیس گمرکـی و سـایر امـور ذاتـی آنهـا بـا در نظرداشـت سلـسلهٔ مراتـب بـه وزارت امـور داخله.

(۴) وزارت هـــای امـــور داخلـــه و مالیـــه بـــه منظـــور تطبیـــق حکـــم منـــدرج فقـــرهٔ (۲) ایـــن مـــاده رهـــنمودهـــای بـــین الـــوزارتین دیگر را به صورت مشترك ترتیب نموده می توانند.

(۵) وزارت مالیـــه مـــی توانـــد بـــه منظور تطبیـــق حکـم منـدرج فقـرهٔ (۳) ایـن مـاده طرزالعمـل جداگانـه را عندالاقتضاء ترتیب و تصویب نماید.

(۶) احـکام منـدرج فقـرهٔ (۲) ایـن

درج شوي حکمونه د دي قانون د انفاذ له نېټې څخه د دريو کلونو لپاره نافذ دي، د مالیې او کورنیو چارو وزارتونه کولای شي د حالاتو په پام کې نیولو سره د دې حکم د تمدید، تعدیل یا حذف په برخه کې خپل موافقه شوي وړاندیز د وزیرانو شوري ته وړاندې کړي، پدې برخه کې د وزیرانو د شوري تصویب نافذ ګڼل کېږي.

(۷) ګمرکي پولیس مکلف دي، د دې قانون، د قاچاقو د انسداد د قانون او نورو لارښودنو او کړنلارو د حکمونو مطابق، سپارل شوې دندې یوازې د مالیې وزارت تر امر لاندې سرته ورسوي.

ماده از تاریخ انفاذ این قانون برای مدت سه سال نافذ می باشد وزارت های مالیه و امور داخله می توانند با در نظرداشت حالات در قسمت تمدید، تعدیل یا حذف این حکم پیشنهاد موافقت شدهٔ خویش را به شورای وزیران ارائه نماید. تصویب شورای وزیران در زمینه نافذ پنداشته می شود.

(۷) پولیس گمرکی مکلف است مطابق احکام این قانون، قانون انسداد قاچاق و سایر رهنمودها و طرزالعمل ها، وظایف محوله را صرف تحت امر وزارت مالیه، انجام دهند.

ګمرکي سرغړوني

یو سلو پنځه شپېتمه ماده:

پدې قانون او نورو ګمرکي تقنیني سندونو کې له درج شوو حکمونو څخه سرغړونې په لاندې دوو ډولونو دي:

۱- اداري سرغړوني: د دې قانون په یو سلو اویایمه ماده کې د درج شوي حکم څخه پرته، پدې قانون کې له درج شوو حکمونو څخه

تخلفات گمرکی

مادهٔ یکصد و شصت و پنجم:

تخلفات از احکام مندرج این قانون و سایر اسناد تقنینی گمرکی بدو نوع ذیل می باشد:

۱- تخلفات اداری: تمام تخلفات از احکام مندرج این قانون به استثنای حکم مندرج مادهٔ یکصد و هفتادم این

ټولې سرغړونې.
۲- د مالونو قاچاق: د دی قانون په څوارلسم فصل کې د درج شوو مادو د حکمونو مطابق.

قانون.
۲- قاچاق اموال: مطابق احکام مندرج مواد فصل چهاردهم این قانون.

گمرکي اداري سرغړونې او مجازات يې

يو سلو شپږ شپېتمه ماده:
گمرکي اداري سرغړونې په لاندې درېو کټګوريو تصنيف کېږي:
(۱) د لومړۍ کټګورۍ سرغړونې په لاندې توګه دي:
۱- ځنډونه (تأخير)؛
د دې قانون د شپږ دېرشمې مادې په (۲) فقره، د نهه دېرشمې مادې په (۳) فقره، د يو پنځوسمې مادې په (۱) فقره، د څلور پنځوسمې مادې په (۱) فقره، اتيايمه، اووه اتيايمه، پنځه نوي يمه، يو سلو دوولسمه او يو سلو اتلسمه ماده کې په درج شوو اجراآتو کې ځنډ، چې مرتکب يې د يوې ورځې يا د ورځې د يوې برخې د اندازې يا د هغې اندازې معادل چې د حالاتو په پام کې نيولو سره د مالیې وزارت لخوا عنداللزوم وټاکل شي له قراره، د گمرکي محصول د

تخلفات اداری گمرکی و مجازات آن

مادۀ یکصد و شصت و ششم:
تخلفات اداری گمرکی به سه کتگوری ذیل تصنیف می گردد:
(۱) تخلفات کتگوری اول قرار ذیل است:
۱- تأخیر؛
تأخیر در اجراآت مندرج فقرۀ (۲) مادۀ سی و ششم، فقرۀ (۳) مادۀ سی و نهم، فقرۀ (۱) مادۀ پنجاه و یکم، فقرۀ (۱) مادۀ پنجاه و چهارم، مواد هشتادم، هشتاد و هفتم، نود و پنجم، یکصد و دوازدهم، و یکصد و هجدهم مندرج این قانون که مرتکب آن مکلف به پرداخت جریمه (۰،۰۱) فیصد محصول گمرکی از قرار فی روز یا اندازۀ معادل برای حصه از روز یا اندازۀ که با نظرداشت حالات توسط وزارت مالیه

(۰،۰۱) فیصده جریمې په ورکولو مکلف دی.

۲- د معلوماتو غلط وړاندې کول؛

د دې قانون د پنځه څلوېښتمې مادې د (۱) فقرې، د اته څلوېښتمې مادې د (۱) فقرې، د څلور شپېتمې مادې د (۱) فقرې، د اتیایمې او د دري اتیایمې مادې د حکمونو مغایر د مالونو د کیفیت، کمیت، بیې یا منشاء په هکله په نا بشپړه (نامکمل) یا غیر دقیق صورت سره د معلوماتو برابرول، چې مرتکب ته یې په هغه صورت کې چې په کمیت یا بیه کې توپیر (اختلاف) په اظهارلیک یا نورو ګمرکي سندونو کې د درج کمیت یا بیې له په سلو کې پنځه (۵٪) څخه لږ وي، لیکلی اخطار ورکول کېږي.

که چېرې ګمرکي محصول دګمرکي اظهارلیک له مخې محاسبه شي او په سلو کې پنځه (۵٪) په اندازه یا له هغه څخه زیات له اصلي مبلغ څخه لږ وي، مرتکب یې په لاندې توګه جریمه کېږي.

- له په سلو کې د پنځو څخه تر په سلو کې تر پنځلسو (۵٪-۱۵٪) عنداللزوم تعیین گردد، می باشد.

۲- ارائه غلط معلومات؛

فراهم نمودن معلومات بصورت نامکمل یا غیر دقیق در مورد کیفیت، کمیت، قیمت یا منشاء اموال مغایر احکام فقرۀ (۱) مادۀ چهل و پنجم، فقرۀ (۱) مادۀ چهل و هشتم، فقرۀ (۱) مادۀ شصت و چهارم، مواد هشتادم و هشتاد و سوم مندرج این قانون، که به مرتکب آن در صورتیکه اختلاف در کمیت یا قیمت که کمتر از پنج فیصد (۵٪) کمیت یا قیمت مندرج در اظهارنامه یا سایر اسناد گمرکی باشد، اخطار تحریری داده می‌شود.

هر گاه محصول گمرکی به رویت اظهارنامۀ گمرکی محاسبه گردیده و به اندازۀ پنج فیصد (۵٪) یا بیشتر از آن از مبلغ اصلی کمتر باشد، مرتکب آن طور ذیل جریمه می گردد:

- در صورت کسر پنج الی پانزده فیصد (۵٪-

پوري د کسر په صورت کې، د کسر معادل جریمه.
- له په سلو کې د پنځلسو څخه تر په سلو کې تر پنځه ویشتو (۱۵٪-۲۵٪) پوري د کسر دوه برابره جریمه.
- له په سلو کې د پنځه ویشتو څخه تر په سلو کې تر څلوېنبتو (۲۵٪-۴۰٪) پوري د کسر درې برابره جریمه.
- له په سلو کې د څلوېنبتو څخه تر په سلو کې تر شپېتو (۴۰٪-۶۰٪) پوري د کسر څلور برابره جریمه.
- له په سلو کې د شپېتو څخه تر په سلو کې تر اتیا (۶۰٪-۸۰٪) پوري د کسر پنځه برابره جریمه.
- له په سلو کې د اتیا څخه تر په سلو کې تر سل (۸۰٪-۱۰۰٪) پوري د کسر شپږ برابره جریمه.
۳- په هغه صورت کې چې د مالونو کمیت په سلو کې له پنځه (۵٪) له اندازې څخه زیات د هغه له اصل څخه لږ اظهار شي، د جریمې له وضع کولو بر سیره، نه اظهار شوي مالونه هم ضبطېږي.که چېرې نوموړې سرغړونې د ترانزیت ۱۵٪) جریمه معادل به کسر.
- در صورت کسر پانزده الی بیست و پنج فیصد (۱۵٪-۲۵٪): جریمه دو برابر کسر.
- در صورت کسر بیست و پنج الی چهل فیصد (۲۵٪-۴۰٪): جریمه سه برابر کسر.
- در صورت کسر چهل الی شصت فیصد (۴۰٪-۶۰٪): جریمه چهار برابر کسر.
- در صورت کسر شصت الی هشتاد فیصد (۶۰٪-۸۰٪): جریمه پنج برابر کسر.
- در صورت کسر هشتاد الی صد فیصد (۸۰٪-۱۰۰٪): جریمه شش برابر کسر.
۳- در صورتیکه کمیت اموال به اندازۀ بیشتر از پنج فیصد (۵٪) کمتر از اصل آن اظهار گردد، برعلاوه وضع جریمه، اموال اظهار ناشده نیز ضبط می گردد. هر گاه تخلف متذکره در پروسۀ

په پروسه کې صورت موندلی وي، دغه مجازات له لیکلي اخطار وروسته یوازې د سرغړونې د تکرار په صورت کې تطبیقیدای شي.

په نورو حالاتو کې د سرغړونې د تکرار په صورت کې، مرتکب په ګمرکي محصول کې د کسر شوي مبلغ له یوه څخه تر دوه برابره پورې معادل د جریمې په ورکولو مکلف دي، پدې شرط چې د مخه ورته اخطار ورکړل شوی وي.

۴- په هغه صورت کې چې ثابته شي چې د معلوماتو غلط وړاندې کول، د محاسباتي تېروتنو له امله یا له ښه نیت سره یو ځای د اظهارلیک د ترتیبولو په وخت کې منځته ته راغلی دی، د ګمرک مسئولین کولای شي پدې فقره کې درج شوې جریمې او اخطارونه لغو کړي.

(۲) د دوه یمې کټګورۍ سرغړونې په لاندې توګه دي:

۱- هغه شخص چې د دې قانون د اووه لسمې، شپږ څلوېښتمې او اته څلوېښتمې مادې له حکمونو څخه یې سرغړونه کړې وي او ورته اخطار او د اصلاح په اړه حکم په ترانزیت صورت گرفته باشد، این مجازات صرف در صورت تکرار تخلف بعد از اخطار تحریری، تطبیق گردیده می تواند.

در صورت تکرار تخلف در سایر حالات، مرتکب مکلف به پرداخت جریمه معادل یك الی دو چند مبلغ کسر شده در محصول گمرکی می باشد، مشروط براینکه قبلاً برایش اخطار داده شده باشد.

۴ - در صورتیکه اثبات گردد که ارائۀ غلط معلومات بالاثر اشتباهات محاسباتی یا توأم با حسن نیت حین ترتیب اظهارنامه بمیان آمده باشد، مسئولین گمرك می‌توانند جریمه ها و اخطارهای مندرج این فقره را لغو نمایند.

(۲) تخلفات کتگوری دوم قرار ذیل است:

۱- شخصی که از احکام مواد هفدهم، چهل و ششم، و چهل و هشتم این قانون تخلف نموده و برایش اخطار و حکم مبنی بر اصلاح طور تحریری صادر گردیده

لیکلی توګه صادر شوی وي او په ټاکل شوې موده کې، د ګمرکي واکمنو مامورینو په واسطه اخطار رعایت نکړي.

۲- هغه شخص چې په نهه دېرشمه ماده، د نهه څلوېښتمې مادې په (۱) فقره کې درج شوي حکمونه یا د څلور دېرشمې مادې له (۵) فقرې او د نهه څلوېښتمې مادې له (۲) فقرې څه په سرغړونې سره د ګمرکونو تر څارنې یا څېړنې لاندې مالونو په برخه کې د ګمرکي کارکوونکو لارښوونې رعایت نکړي.

۳- هغه شخص چې د دې قانون د څلور دېرشمې مادې په (۵) فقره، پنځه دېرشمه مادې، د اته دېرشمې مادې په (۱) فقره، شپږ دېرشمه، اتیایمه، دري اتیایمه، یو سلو در ویشتمه او یو سلو دوه دېرشمه ماده کې درج شوي ګمرکي مالونه له مجاز ځای څخه غیر مجاز ځای ته ولېږدوي.

(۳) د دریمې کټګورۍ سرغړونې عبارت دي له:

۱- د هغو حقایقو غلط او عمدي اظهار چې باید د ګمرکي لا باشد و در مدت تعیین شده توسط مامورین ذیصلاح گمرکی، اخطار را رعایت نه نماید.

۲- شخصی که احکام مندرج مادهٔ سی و نهم، فقرهٔ (۱) مادهٔ چهل و نهم یا عدم رعایت هدایات کارکنان گمرکی در خصوص اموال تحت نظارت و یا تحت بازرسی گمرکات با تخلف از فقرهٔ (۵) مادهٔ سی و چهارم و فقرهٔ (۲) مادهٔ چهل و نهم را رعایت نه نماید.

۳- شخصی که اموال گمرکی فقرهٔ (۵) مادهٔ سی و چهارم، مواد سی و پنجم و سی و ششم، فقرهٔ (۱) مادهٔ سی و هشتم، مواد هشتادم، هشتاد و سوم، یکصد و بیست و سوم و یکصد و سی و دوم مندرج این قانون را از محل مجاز به محل غیر مجاز انتقال دهد.

(۳) تخلفات کتگوری سوم عبارت است از:

۱ - اظهار غلط و عمدی حقایقی که باید جهت انتفاع از

ترجیحي تعرفې څخه د انتفاع لپاره، ګمرک ته وړاندې شي.

۲- هغه اجراآت چې د دې قانون د پنځوسمې مادې د (۲) فقرې، د یو شپېتمې مادې د (۲) فقرې او د شپږ شپېتمې، یو سلو څلور دېرشمې او یو سلو پنځه دېرشمې مادې د حکمونو مغایر صورت ومومي او هدف یې د ګمرکي تقنیني سندونو د حکمونو له تطبیق څخه مخنیوی وي.

مجازات

یو سلو اووه شپېتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د دې قانون په دوه یمه کټګوري کې د درج شوو سرغړونو مرتکب شي، د دې قانون د شلمې مادې د حکم د حالاتو په پام کې نیولو سره، د ګمرکونو د عمومي ریاست د لارښود مطابق، د اړوندو مالونو د ارزښت له په سلو کې د لسو څخه تر په سلو کې د پنځوسو (۱۰٪-۵۰٪) پورې معادل نقدي جریمه کېږي.

(۲) هغه شخص چې د دې قانون په درېیمه کټګوري کې د درج شوو

تعرفهٔ ترجیحی تر گمرکی به گمرك ارائه گردد.

۲- اجراآتی که مغایر حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ پنجاهم، فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت و یکم و مواد شصت و ششم، یکصد و سی و چهارم و یکصد و سی و پنجم این قانون صورت گیرد و هدف آن جلوگیری از تطبیق احکام اسناد تقنینی گمرکی باشد.

مجازات

مادهٔ یکصد و شصت و هفتم:

(۱) شخصی که مرتکب تخلفات کتگوری دوم مندرج این قانون گردد، با در نظرداشت حالات حکم مادهٔ بیستم این قانون معادل ده الی پنجاه فیصد (۱۰٪-۵۰٪) ارزش امتعال مربوط مطابق رهنمود ریاست عمومي گمرکات، جریمهٔ نقدی می گردد.

(۲) شخصی که مرتکب تخلفات کتگوری سوم مندرج

سرغړونو مرتکب شي، د دې قانون د شلمې مادې د حکم د حالاتو په پام کې نیولو سره، د ګمرکونو د عمومي ریاست د لارښود مطابق، د اړوندو مالونو د ارزښت له په سلو کې د پنځوسو څخه تر په سلو کې تر سل (۵۰٪-۱۰۰٪) معادل پورې نقدي جریمه کېږي.

(۳) په دې قانون کې له درج شوو ګمرکي سرغړونو څخه راپیدا شوې نقدي جریمې، د ګمرکي د دین اصل د ورکړې خنډ ونه ګرځي.

ایـــن قـانـــون گـــردد ، بـــا در نظـرداشـــت حـالات حـکم مـادۀ بیـســتم ایــن قـانـــون مـعـــادل پـنـجـــاه الـــی یـکـــصـد (۵۰٪-۱۰۰٪) فیـــصـد ارزش امـــوال مـربـــوط مـطـابـــق رهـنمـــود ریـاســت عـمـومي گـــمـرکـــات، جـــریـمـــۀ نـقـــدی می گردد .

(۳) جـریـمه های نـقدی نـاشی از تـخـلـفات گـمـرکـی مـندرج ایـن قـانـون مـانـع تـأدیۀ اصـل دیـن گـمرکی نـمی گردد .

متعددې سرغړونې

یو سلو اته شپېتمه ماده:

هغه شخص چې د ګمرکي اداري متعددو سرغړونو مرتکب شي، د هرې سرغړونې په وړاندې، د جلا جریمې پـــه ورکولـــو مکلـــف دی.

تخلفات متعدد

مادۀ یکصد و شصت و هشتم:

شخـصی کـه مرتکـب تخلفـات مـتـعـدد اداری گمرکی گـردد ، در برابـر هـر تـخـلـف مـکـلـف بـــه پـــرداخـــت جـریـمـۀ جـداگانه می باشد .

د جریمو د تحصیل ډول

یو سلو نهه شپېتمه ماده:

د نـقـدي جریـمو او پـدې فـصـل کـې د نـورو مـاحـصـل عـوایـدو د تحـــصـیـلولـو ډول، د اړونـــدې کړنلارې مطابق تنظیمېږي.

طرز تحصیل جریمه ها

مادۀ یکصد و شصت و نهم:

طرز تحصیل جریمه های نقدی و سایر عواید ماحصل مندرج این فصل، مطابق طرزالعمل مربوط تنظیم می گردد .

واکیز (صلاحیتي) اداري مجازات یو سلو اویایمه ماده:

(۱) پدې قانون کې د درج شوو مالونو قاچاق چې ارزښت یې له لسو زرو (۱۰۰۰۰) افغانیو څخه لږ وي، د درېیمې کټګورۍ د سرغړونو په توګه ګڼل کېږي، خو دا چې د جرم حالات په مشدده شرایطو سره ارتکاب شوي وي.

(۲) په هغه صورت کې چې د مالونو ارزښت له لسو زرو (۱۰۰۰۰) افغانیو څخه زیات وي، د ګمرکونو عمومي رئیس واک لري د مرتکب د غوښتنلیک له مخې د عادي شرایطو په پام کې نیولو سره قضیه عدلي مراجعو ته د هغې له رجعت پرته، له اداري لارې په لاندې توګه حل او فصل کړي:

۱- د قضیې عدلي تعقیب نه وي پیل شوی.

۲- په قاچاقو پورې د اړوندو مالونو ګمرکي محصول له شلو زرو (۲۰۰۰۰) افغانیو څخه لږ وي.

۳- مرتکب ګمرکي محصول او وضع شوې جریمې ورکړي.

دمالیې وزیر کولای شي، پدې فقره

مجازات اداری صلاحیتی مادۀ یکصد و هفتادم:

(۱) قاچاق اموال مندرج این قانون که ارزش آن کمتر از ده هزار (۱۰۰۰۰) افغانی باشد، بحیث تخلف کتگوری سوم پنداشته می شود، مگر اینکه حالات جرم با شرایط مشدده ارتکاب گردیده باشد.

(۲) در صورتی که ارزش اموال بیشتر از ده هزار (۱۰۰۰۰) افغانی باشد، رئیس عمومي گمرکات صلاحیت دارد بالاثر درخواست مرتکب با نظرداشت شرایط عادی، قضیه را بدون رجعت آن به مراجع عدلی از طریق اداری طور ذیل حل و فصل نماید:

۱- تعقیب عدلی قضیه آغاز نگردیده باشد.

۲- محصول گمرکی اموال مربوط به قاچاق کمتر از بیست هزار (۲۰۰۰۰) افغانی باشد.

۳- مرتکب محصول گمرکی و جریمه های وضع شده را تأدیه نماید.

وزیر مالیه می تواند مبلغ ده هزار

کې درج شوې لس زره افغانۍ، د وزیرانو د شوري له تصویب وروسته زیاتې یا لږې کړي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوې نقدي جریمې د ګمرکونو د عمومي ریاست د لارښود مطابق، د درېیمې کټګورۍ د جرمونو د نقدي مجازاتو له یو څخه تر دریو برابرو پورې کېدلی شي. که چېرې سرغړوونکي د نومورو نقدي جریمو ورکړه ومني، پدې صورت کې د کوم جرم تور هغه ته نه راجع کېږي، پرته لدې د ګمرک مامورین مکلف دي، موضوع د عدلي تعقیب په غرض واکمنو مراجعوته محول کړي.

(۴) که چېرې ګمرکي مامورینو ته ثابته شي چې د دې مادې په (۱) او (۲) فقره کې درج شوي شرایط او وجایب د سرغړوونکي په واسطه تر سره شوي دي، لاسته راغلي مالونه او سرغړوونکی شخص بې له ځنډه د ګمرک له کنترول څخه خلاصېږي.

(۵) په لاندې احوالو کې، د دې مادې په (۱، ۲، ۳ او ۴) فقره کې درج شوي حکمونه شامل ندي.

افغانی مندرج این فقره را بعد از تصویب شورای وزیران تزیید یا تقلیل دهد.

(۳) جریمه های نقدی مندرج فقرهٔ (۲) این ماده مطابق رهنمود ریاست عمومي گمرکات از یك الی سه برابر مجازات نقدی جرایم کتگوری سوم بوده می تواند. هر گاه متخلف تأدیهٔ جرایم نقدی متذکره را بپذیرد، در این صورت اتهام جرمی به وی راجع نمی شود، در غیر آن مامورین گمرك مکلف اند موضوع را غرض تعقیب عدلی به مراجع ذیصلاح محول نمایند.

(۴) هرگاه نزد مامورین گمرکی ثابت گردد که شرایط و وجایب مندرج فقرهٔ (۱) و (۲) این ماده توسط متخلف برآورده شده است، اموال بدست آمده و شخص متخلف بلافاصله از کنترول گمرك رها می گردد.

(۵) احکام مندرج فقره های (۱، ۲، ۳ و ۴) این ماده شامل احوال ذیل نمی باشد:

۱- په هغو صورت کې چې د قاچاقو عمل د ګمرکي کارکوونکو، د ګمرک د کمپشنکار یا نورو هغو اشخاصو په واسطه چې فعالیت یې په یو ډول نه یو ډول د ګمرک له کارکوونکو سره اړیکي ولري.

۲- په هغه صورت کې چې سر غړوونکي د قاچاقو مالونه، د بل د جرمي عمل په اثر لاسته راوړي وي.

۳- په هغه صورت کې چې د قاچاقو مالونه، د دې قانون د دري پنځوسمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو ممنوعه یا انحصاري مالونو له جملې څخه وي.

۴- په هغه صورت کې چې شخص، متکرر سرغړوونکی وي.

(۶) د درېیمې کټګورۍ سرغړوني، چې د دې مادې په (۵) فقره کې له درج شوو شرایطو څخه له یوه سره یې یو ځای ارتکاب شوې وي، قضیه د عدلي تعقیب لپاره واکمنو مراجعوته محول کېږي.

(۷) هغه سرغړوني چې د دې مادې په (۵) یا (۶) فقره کې له درج شوو شرایطو سره یو ځای ارتکاب شوې وي، د دې قانون د یو سلو څلور

۱- در صورتیکه عمل قاچاق توسط کارکنان گمرکی، کمیشن کار گمرك یا سایر اشخاصی که به نحوی از انحاء فعالیت شان با کارکنان گمرکی ارتباط داشته باشد.

۲- در صورتیکه متخلف، اموال قاچاق را بالاثر عمل جرمی دیگری بدست آورده باشد.

۳- در صورتیکه اموال قاچاق از جملهٔ اموال ممنوعه یا انحصاری مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ پنجاه و سوم این قانون باشد.

۴- در صورتیکه شخص متخلف متکرر باشد.

(۶) تخلفات کتگوری سوم که توام با یکی از شرایط مندرج فقرهٔ (۵) این ماده ارتکاب گردیده باشد، قضیه جهت تعقیب عدلی به مراجع ذیصلاح محول می گردد.

(۷) تخلفاتی که توأم با شرایط مندرج فقره های (۵) یا (۶) این ماده ارتکاب گردیده باشد، راپور مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ یکصد و

اتیایمې مادې په (۱) فقره کې درج شوی رپوټ، په نومورې ماده کې د درج شوو شرایطو د پوره کېدو په برخه کې د ګمرکي مامورینو له تصمیم سره ضمیمه کېږي.

هشتاد و چهارم این قانون همراه با تصمیم مامورین گمرکی در خصوص برآورده شدن شرایط مندرج در مادۀ متذکره، ضمیمه می گردد.

د جواز لغو

یو سلو یو اویایمه ماده:

د مالیې وزارت واک لري، د دې قانون په شپاړسمه او اویایمه ماده کې درج کړل شوي جوازونه، د هغو د ورکړې له شرایطو څخه د سرغړونو د تکرار یا شدت په صورت کې لغو کړي.

لغو جواز

مادۀ یکصد و هفتاد و یکم:

وزارت مالیه صلاحیت دارد جوازهای اعطاء شده مندرج مواد شانزدهم و هفتادم این قانون را در صورت تکرار یا شدت تخلف از شرایط اعطاء آن، لغو نماید.

د مالونو قاچاق

یو سلو دوه اویایمه ماده:

(۱) د دې مادې په مفهوم، د لاندې فعالیتونو تر سره کول، قاچاق ګڼل کېږي او مرتکب یې د دې قانون د حکمونو مطابق مجازات کېږي:

۱- له ګمرکي څېړنې یا څارنې څخه د تېښتې یا ډډې کولو په منظور، د دې قانون او نورو ګمرکي تقنیني سندونو د حکمونو مغایر، د هېواد ګمرکي قلمرو ته د مالونو داخلېدل یا له هغه څخه وتل

قاچاق اموال

مادۀ یکصد و هفتاد و دوم:

(۱) انجام فعالیتهای ذیل به مفهوم این ماده قاچاق شناخته شده و مرتکب آن طبق احکام این قانون مجازات می گردد:

۱- دخول یا خروج اموال از قلمرو گمرکی کشور مغایر احکام این قانون و سایر اسناد تقنینی گمرکی به منظور فرار یا اجتناب از بازرسی یا نظارت

(خارجېدل).
۲- د واکمنو مقاماتو له اجازې پرته د واردولو یا صادرولو یا ساتلو په هدف د ممنوعه مالونو حمل او نقل.
۳- د ګمرکي محصول له ورکولو پرته په ترانزیت کې د شاملو مالونو پېرودل او خرڅلاو.
(۲) د لاندې فعالیتونو د سرته رسولو د تکرار په صورت کې یا پداسې صورت چې د هغو په قصد باندې دلالت وکړي، قاچاق ګڼل کېږي:
۱- له هغو مالونو څخه چې د دې قانون د شپږ شپېتمې مادې د حکم مطابق، له ګمرکي دین څخه د قسمي یا کلي معافیت موجب کېږي، د ګټې اخیستنې له شرایطو څخه سرغړونه.
۲- د هغو مالونو لرل چې د دې قانون د یو شپېتمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو حکمونو مغایر واقع شي.
۳- د نقلیه وسایلو د تشخیصیه نومرې لیرې کول یا په هغې کې تزویر.
۴- د قاچاقي وارداتي مالونو ګمرکی.
۲- حمل و نقل اموال ممنوعه به هدف تورید، صدور یا نگهداشت بدون اجازهٔ مقامات ذیصلاح.
۳- خرید و فروش اموال شامل در ترانزیت بدون پرداخت محصول گمرکی.
(۲) انجام فعالیت های ذیل در صورت تکرار یا به صورتی که دلالت به قصد آن را نماید، قاچاق شناخته می شود:
۱- تخلف از شرایط استفادهٔ مورد نظر از اموالیکه مطابق حکم مادهٔ شصت و ششم این قانون موجب معافیت قسمی یا کلی از دین گمرکی می گردد.
۲- داشتن اموالیکه مغایر احکام مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ شصت و یکم این قانون قرار گیرد.
۳- دور نمودن نمبر تشخیصیهٔ وسایل نقلیه یا تزویر در آن.
۴- خرید، فروش، نگهداری و

پېرل، پلورل، ساتل او تصرف، پدې شرط چې له قاچاقي توب څخه يې خبر وي (که چېرې ګدامدار په ګدام کې د موجودو مالونو ګمرکي اظهارليک ونلري، هغه د مالونو له قاچاقي توب څخه خبر ګڼل کېږي).

۵- د مهر او لاک ماتول، په نقليه وسايلو يا مالونو کې د موجودو نورو حفاظتي مميزاتو بدلول يا تغييرول.

۶- د ګمرکي مامورينو له مجوز پرته د نقليه وسايلو بارول، تشول او په غير مجاز ځای کې له يوې نقليه وسيلې څخه بلې ته د مالونو، مسافرينو او مربوطو سفري وسايلو لېږدول.

(۳) د الوتکې د کپتان په واسطه د لاندې فعاليتونو تر سره کول هم قاچاق ګڼل کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د مربوط هوايي بارليک له موجوديت پرته، مالونه انتقال کړي يا په الوتکه کې دننه مالونه، له بارليک سره مطابقت ونلري.

۲- هغه مالونه ګمرک ته احضار نکړي چې د هېواد ګمرکي قلمروته د ننوتو په وخت کې په بارليک

تصرف اموال وارداتی قاچاقی، مشروط بر اینکه از قاچاقی بودن آن مطلع باشد، (هر گاه گدام دار کاپی اظهارنامۀ گمرکی اموال موجود در گدام را نداشته باشد، وی از قاچاقی بودن اموال مطلع پنداشته می شود).

۵- شکستن مهرولاك، تعویض یا تغییر در سایر ممیزات حفاظتی موجود در وسایل نقلیه و یا اموال.

۶- بارگیری، تخلیه و انتقال اموال، مسافرین و وسایل سفری مربوط از یك وسیلۀ نقلیه به دیگر در محل غیر مجاز بدون مجوز مامورین گمرکی.

(۳) انجام فعالیت های ذیل توسط کپتان طیاره نیز قاچاق شناخته می شود:

۱- در صورتیکه اموال را بدون موجودیت بارنامۀ هوایی مربوطه انتقال دهد یا اموال داخل طیاره با بارنامه مطابقت نداشته باشد.

۲- اموال را به گمرك احضار ننماید که حین دخول به قلمرو گمرکی کشور در بارنامه

کې شامل، ولې د تللو په وخت کې په الوتکه کې موجود نه وي.
۳- د ګمرکي هوايي ډګر له ساحې څخه بهر ناسته وکړي او له هغې څخه په لنډ وخت کې ګمرکي مامورینو یا اړوندو مسئولینوته خبر ور نه کړي.

شامل ولی موقع عزیمت در داخل طیاره موجود نباشند.
۳- در ساحهٔ خارج از میدان هوائی گمرکی نشست نموده و از آن به اسرع وقت به مامورین گمرکی یا سایر مسئولین مربوطه اطلاع ندهد.

پر قاچاقو باندې د تطبیق وړ مجازات

یو سلو دریم اویایمه ماده:
(۱) د دې قانون په یو سلو دوه اویایمه ماده کې درج شوي سرغړونکي، حالاتو ته په پام سره، په لاندې توګه مجازات کېږي:
۱- د قاچاق د مال ضبطېدل.
۲- دقاچاق پر مال باندې د تطبیق وړ دین له دوو څخه تر پنځو برابرو معادل پورې د جریمې وضع کول.
۳- د دې قانون په یو سلو نهه او یایمه ماده کې درج شوی مجازات.
(۲) له یوه څخه د زیاتو اشخاصو په واسطه د سرغړونې د ارتکاب په صورت کې، هر یو په سرغړونه کې د برخې اخیستنې په اندازه جریمه کېږي.

مجازات قابل تطبیق بر قاچاق

ماده یکصد و هفتاد و سوم:
(۱) متخلفین مندرج مادهٔ یکصد و هفتاد و دوم این قانون با در نظرداشت حالات حسب ذیل مجازات می گردند:
۱- ضبط مال قاچاق.
۲- وضع جریمه معادل دو الی پنج برابر دین قابل تطبیق بالای مال قاچاق.
۳- مجازات مندرج مادهٔ یکصد و هفتاد و نهم این قانون.
(۲) در صورت ارتکاب تخلف توسط بیش از یک شخص، هر کدام به اندازهٔ سهم گیری در تخلف جریمه می گردند.

که چېرې یو له شریکانو څخه د جریمې ټول مبلغ ورکړي، نور د جریمې په ورکولو مکلف نه دي.
(۳) که چېرې سرغړوونکی په یوه وخت، د دې قانون په څوارلسم فصل کې درج د څو سرغړونو مرتکب شي، د هرې سرغړونې په وړاندې په جلا توګه مجازات کېږي.

هر گاه یکی از شرکاء، تمام مبلغ جریمه را بپردازد، سایرین مکلف به پرداخت جریمه نمی باشند.
(۳) هر گاه متخلف همزمان مرتکب چندین تخلف مندرج فصل چهاردهم این قانون گردد، در برابر هر تخلف طور جداگانه مجازات می گردد.

له قاچاقو سره مرتبط وسایل او لوازم

یو سلو څلور اویایمه ماده:
(۱) هغه وسایل او لوازم چې مستقیماً له هغو څخه د قاچاقو په عمل کې ګټه اخیستل شوې وي (د وسلې، نقلیه وسایطو او د قاچاق د مالونو د لېږدونې او پټونې د ګټې اخیستنې وړ نورو وسایلو په ګډون). په قاچاق پورې مربوط وسایل او لوازم د ګمرک د کارکوونکو په واسطه ضبط او د واکمنو محکمو د فیصلې پر اساس مصادره او د پرېښودل شوو مالونو په توګه له هغو سره معامله کېږي.
د دې مادې په (۳) او (۴) فقره کې درج شوي وسایل او لوازم لدې

وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق

مادۀ یکصد و هفتاد و چهارم:
(۱) وسایل و لوازمیکه مستقیماً در عمل قاچاق از آن استفاده صورت گرفته باشد (بشمول اسلحه، وسایط نقلیه و سایر وسایل مورد استفاده انتقال و اخفای اموال قاچاق). وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق توسط کارکنان گمرکی ضبط و به اساس فیصلۀ محاکم ذیصلاح مصادره و بحیث اموال ترك شده با آن معامله صورت می گیرد.
وسایل و لوازم مندرج فقره های (۳) و (۴) این ماده از این حکم

حکم څخه مستثنی دي.

(۲) د قاچاق د مالونو نیول او ضبطول د هغه د اندازې او په قاچاق کې د خاوند د برخې اخیستنې له په پام کې نیولو پرته صورت مومي.

(۳) که چېرې په قاچاق تورن شخص، پدې ماده کې درج ضبط شوي وسایل او لوازم، د بل د جرمي عمل په پایله کې تر لاسه کړي وي، وسایل او لوازم ببرته خپل خاوند ته مسترد ېږي.

(۴) په لاندې مواردو کې نقلیه وسایط نه ضبطېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د نقلیه وسایطو خاوند، د قاچاق په عمل کې د نه دخالت په اړه، اثباتیه مدارک وړاندې کړي.

۲- په هغه صورت کې چې خاوند، نقلیه واسطه په نېک نیتې سره او د سوداګریزې متداولې کړنلارې مطابق، د مرتکب په واک کې ورکړې وي.(لدې څخه په ناخبرۍ چې مرتکب، نقلیه واسطه د قاچاقي فعالیتونو یا نورو غیر قانوني فعالیتونو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیسی).

مستثنی است.

(۲) دستگیری و ضبط مال قاچاق بدون در نظرداشت اندازه و سهم گیری مالك در قاچاق، صورت می گیرد.

(۳) هر گاه شخص متهم به قاچاق، وسایل و لوازم ضبط شدهٔ مندرج این ماده را در نتیجهٔ عمل جرمی دیگری به دست آورده باشد، وسایل و لوازم به مالك آن مسترد می شود.

(۴) در موارد آتی وسایط نقلیه ضبط نمی گردد:

۱- در صورتیکه مالك وسایط نقلیه مدارك اثباتیه مبنی بر عدم دخالت در عمل قاچاق را ارائه نماید.

۲- در صورتیکه مالك، واسطهٔ نقلیه را با حسن نیت و طبق طرزالعمل متداول تجارتی در اختیار مرتکب قرار داده باشد. (بدون آگاهی از اینکه مرتکب، واسطهٔ نقلیه را به منظور فعالیت های قاچاقی یا سایر فعالیت های غیر قانونی مورد استفاده قرار می دهد).

محکمـه مکلفـه ده، د دوسـيې لـه رسـېدو پنځـه ورځـې وروسـته، د نقليـه وسـايطو او لـه قاچـاقو سره د اړونـدو نـورو وسـايلو او لوازمـو د مصادرې حکم صادر کړي.
نقليه وسايط او له قاچاقو سره نور مربوط وسايل او لوازم د محکمې د حکم مطابق ليلامېږي.

محکمه مکلف است در مدت پنج روز بعد از مواصلت دوسیه حکم مصادرهٔ وسایط نقلیه و سایر وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق را صادر نماید.
وسایط نقلیه و سایر وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق طبق حکم محکمه لیلام می گردند.

نقليه وسايط
يو سلو پنځه اويايمه ماده:
د قاچـاقو د مـالونو حامـل د نقليـه وسـايطو خاونـد يـا چلـوونکی پـه لاندې توګه مجازات کېږي:
۱- کـه چېـرې د قاچـاق د مـالونو حامـل د نقليـه واسـطې خاونـد لـه نقليـه واسطې سره يـو ځای ونيـول شـي او ثابتـه شـي چې د قاچـاق د مالونو له وجود څخه خبر دی، پدې صورت کې د نقليه واسطې خاوند د قاچاق شوو مالونو د بيې معادل د نقـدي جريمـې پـه جـزاء بانـدې محکومېږي.
۲- کـه چېـرې د نقليـه واسـطې خاونـد پـه مکـرر صـورت سره د دې مـادې پـه (۱) جزء کې د درج شوي جـرم مرتکـب شـي، نقليـه واسـطه

وسایط نقلیه
مادهٔ یکصد و هفتاد و پنجم:
مالك یا رانندهٔ وسایط نقلیه حامل امـــوال قـاچـــاق حـــسب آتـــی مجازات می گردد:
۱- هـــرگاه مـــالك واســـطهٔ نقلیـه حـامل امـــوال قـاچاق بـا واسطهٔ نقـلیه یکجا دستـگیـر و ثـابت شـود کـه از وجـود امـوال قـاچـاق مطلـع بـوده، در ایـن صـورت مـالك واسـطهٔ نـقلیه بـــه جـــزای نـــقدی معـــادل قـیمت امـوال قـاچاق شـده مـحکوم مـی گـردد.
۲- هـــر گـــاه مالـــك واســـطه نقلیه به صورت مکرر مرتکب جرم منـدرج جـزء (۱) ایـن مـاده شـود، واســـطهٔ نقلیـــه مـــصادره

مصادره کېږي.
۳- که چېرې ثابته شي چې د نقلیه واسطې چلوونکی د حمل شوو مالونو له قاچاق والي څخه د وقوف په حال کې خبرو، هغه د جرم د شریك په توګه مجازات کېږي.

د قاچاق د وسایلو او لوازمو نیول او ضبطول

یو سلو شپږ اویایمه ماده:

(۱) په لاندې حالاتو کې په قاچاق پورې مربوط وسایل او لوازم نیول کېږي او ضبطېږي:

۱- د قاچاق عمل مشهود وي.

۲- مالونه د انتقال او حرکت په حال کې وي.

۳- مالونه په ناخوندي (عامه غیر محفوظ) ځای کې قرار ولري.

په شخصي ملکیت کې د مالونو نیول او ضبطول یوازې د واکمنې محکمې د مخکنۍ اجازې په اساس صورت مومي، مشهود قاچاق لدې امر څخه مستثنی دي.

(۲) قاچاقي مالونه، ورسره مربوط وسایل او لوازم له نیولو سره سم ګمرکي ادارو او په هغه ځای کې

می گردد.
۳- هرگاه ثابت شود که راننده واسطهٔ نقلیه در حال وقوف از قاچاق بودن اموال حمل شده مطلع بوده، وی بحیث شریك جرم مجازات می شود.

دستگیری و ضبط وسایل و لوازم قاچاق

مادهٔ یکصد و هفتاد و ششم:

(۱) در حالات ذیل وسایل و لوازم مرتبط با قاچاق دست گیر و ضبط می گردد:

۱- عمل قاچاق مشهود باشد.

۲- اموال در حالت انتقال و حرکت قرار داشته باشد.

۳- اموال در محل عامه غیر محفوظ قرار داشته باشد.

دست گیری و ضبط اموال در ملکیت شخصی صرف به اساس اجازهٔ قبلی محکمهٔ ذیصلاح صورت می گیرد قاچاق مشهود از این امر مستثنی است.

(۲) اموال قاچاق، وسایل و لوازم مرتبط با آن به مجرد گرفتاری به ادارات گمرکی و در جاییکه

چې ګمرکي اداري موجودې نه وي، د سیمې اداري ته د رسید په مقابل کې سپارل کېږي.

(۳) که چېرې شخړه په ممنوعه یا قاچاقي مالونو پورې مربوط وي، دغه مالونه هم د مال د خاوند په لګښت، تر وروستۍ پریکړې پورې د ګمرکونو د اداري لخوا ساتل او یا د قانوني اجراآتو لپاره اړوندو مراجعوته استول کېږي.

تشکیلات گمرکی موجود نباشد، به ادارهٔ محل در مقابل رسید سپرده می شود.

(۳) هر گاه تنازع مربوط به اموال ممنوعه و یا قاچاق باشد، این اموال نیز به مصرف صاحب مال الی فیصلهٔ نهایی از طرف ادارهٔ گمرکات نگهداری و یا به مراجع مربوطه به منظور اجراآت قانونی ارسال می گردد.

سریع الفساد مالونه او مواشي
یو سلو اووه اویایمه ماده:

(۱) واکمنه محکمه مکلفه ده، د قاچاق د سریع الفساد مالونو (هغه مالونه چې ژر خپل ماهیت له لاسه ورکوي یا ضایع کېږي) مواشي او نورو هغه مالونو چې ساتل یې د لګښتونو غوښتنه کوي، له نیولو وروسته حداکثر په (۲۴) ساعتونو کې د هغو د مصادرې حکم صادر کړي.

(۲) که چېرې د مالونو د مصادرې په اړه د محکمې حکم په موقع سره صادر نشي یا ونه رسېږي، ګمرکي مسئولین مکلف دي د خاوند په موافقه (په هغه صورت کې چې

اموال سریع الفساد و مواشی
مادهٔ یکصد و هفتاد و هفتم:

(۱) محکمهٔ ذیصلاح مکلف است حد اکثر در مدت (۲۴) ساعت بعد از دست گیری اموال سریع الفساد قاچاق (اموالیکه بزودی ماهیت خود را از دست می دهند یا ضایع می شوند) مواشی و سایر اموالیکه نگهداری آن ایجاب مصارف را نموده، حکم مصادرهٔ آن را صادر کند.

(۲) هر گاه حکم محکمه مبنی بر مصادرهٔ اموال به موقع صادر یا مواصلت ننماید، مسئولین گمرکی مکلف اند با موافقت مالك (در صورتیکه

حاضر وي) قاچاقي مالونه د ګمرکي اداري د مؤظف هیئت تر نظر لاندې لیلام او پیسې یې د محکمې د حکم تر رسېدو پورې په امانت کېږدي.

حاضر باشد) اموال قاچاق را تحت نظر هیئت مؤظف ادارهٔ گمرکی لیلام و پول آن را الی وصول حکم محکمه به ودیعت بگذارند.

د زیان جبران

یو سلو اته اویایمه ماده:

هغه زیان چې د قاچاقو د انسداد د فعالیتونو په بهیر کې د نیونې یا ضبط په ترڅ کې مالونو ته رسېږي، جبران یې نشي غوښتل کېدی.

جبران خساره

مادهٔ یکصد و هفتاد و هشتم:

خساره ایکه در جریان فعالیتهای انسداد قاچاق ضمن دست گیری یا ضبط به اموال عاید می گردد جبران آن مطالبه شده نمی تواند.

د مجازاتو حدود

یو سلو نهه اویایمه ماده:

مرتکب، په لاندې حالاتو کې د قاچاق د مالونو، په هغو پورې د اړوندو وسایلو او لوازمو پر مصادرې بر سېره، د حبس په مجازاتو هم محکومېږي:

۱- که چېرې قاچاق د مجاز مالونو له ډول څخه وي او بیه یې له پنځه اویا زرو (۷۵۰۰۰) افغانیو څخه زیاته وي، د حالاتو د په نظر کې نیولو سره له یوه څخه تر دریو کلونو پورې په حبس.

۲- که چېرې قاچاق د ممنوعه

حدود مجازات

مادهٔ یکصد و هفتاد و نهم:

مرتکب در حالات آتی علاوه بر مصادرهٔ اموال قاچاق، وسایل و لوازم مرتبط با آن به مجازات حبس نیز محکوم می شود:

۱- هر گاه قاچاق از نوع اموال مجاز بوده و قیمت آن بیش از هفتاد و پنج هزار (۷۵۰۰۰) افغانی باشد، با نظر داشت حالت به حبس از یك الی سه سال.

۲- هر گاه قاچاق از نوع اموال

مالونو له ډول څخه وي او بیه یې له شلو زرو (۲۰۰۰۰) افغانیو څخه لږ وي، د حالاتو د په نظر کې نیولو سره له شپږو میاشتو څخه تر یوه کاله پورې په حبس.

۳- که چېرې قاچاق د ممنوعه مالونو له ډول څخه وي او بیه یې له شلو زرو (۲۰۰۰۰) افغانیو څخه زیاته وي، د حالاتو د په نظر کې نیولو سره له یوه څخه تر شپږو کلونو پورې په حبس.

ممنوعه بوده و قیمت آن کمتر از بیست هزار (۲۰۰۰۰) افغانی باشد، با در نظر داشت حالت به حبس از شش ماه الی یک سال.

۳- هر گاه قاچاق از نوع اموال ممنوعه بوده و قیمت آن بیش از بیست هزار (۲۰۰۰۰) افغانی باشد، با در نظر داشت حالت به حبس از یک الی شش سال.

مشدده احوال

یو سلو اتیایمه ماده:

(۱) که چېرې د چاقاق عمل د دوو یا له هغو څخه د زیاتو کسانو په اتفاق ارتکاب شي، مرتکبین د دې قانون په یو سلو نهه اویایمه ماده کې درج په اکثر حد مجازاتو محکومېږي، متکرر مجرمین هم د دې حکم تابع دي.

(۲) په هغه صورت کې چې د قاچاق عمل د قاچاق وړونکې شبکې له لارې صورت ومومي، د شبکې سازمان ورکوونکی، د دې قانون په یو سلو نهه اویایمه ماده کې درج په دوه چنده اکثر حد

احوال مشدده

مادۀ یکصد و هشتادم:

(۱) هر گاه عمل قاچاق به اتفاق دو نفر یا بیشتر از آن ارتکاب گردد، مرتکبین به حد اکثر مجازات مندرج مادۀ یکصد و هفتاد و نهم این قانون محکوم می گردند، مجرمین متکرر نیز تابع این حکم می باشند.

(۲) در صورتیکه عمل قاچاق از طریق شبکۀ قاچاقبری صورت گیرد، سازمانده شبکه به دو چند حداکثر مجازات مندرج مادۀ یکصد و هفتاد و نهم این قانون

مجازاتو محکومېږي.
(۳) په هغه صورت کې چې قاچاق وړونکی، د قاچاقو د انسداد د مؤظفینو په وړاندې وسله وال مقاومت وکړي که د دې مقاومت په پایله کې جرح واقع شي یا نشي، مرتکب د قاچاق د مالونو د مصادرې پر جزاء بر سېره، له (۱۵) څخه تر (۲۰) کلونو پورې په حبس محکومېږي.
(۴) که چېرې قاچاق وړونکي، ګمرکي کارکوونکي یا بل شخص چې د دندې په اجراء کې له هغو سره مرسته کوي ووژني، د قاچاق د مالونو پر مصادرې بر سېره د اعدام په جزاء او مرستیالان یې له (۱۰) څخه تر (۱۵) کلونو پورې په حبس محکومېږي.

محکوم می گردد.
(۳) در صورتیکه قاچاقبر در مقابل مؤظفین انسداد قاچاق مقاومت مسلحانه نماید اعم از اینکه در نتیجهٔ این مقاومت جرح واقع شود یا نشود، مرتکب بر علاوهٔ جزای مصادرهٔ اموال قاچاق به حبس از (۱۵) الی (۲۰) سال محکوم می گردد.
(۴) هر گاه قاچاقبر، کارکنان گمرکی یا شخص دیگری را که در اجرای وظیفه با آنها معاونت می کند، به قتل برساند، بر علاوه مصادره اموال قاچاق به جزای اعدام و معاونین آن به جزای (۱۰) الی (۱۵) سال حبس محکوم می شوند.

د قاچاق په عمل کې د دولتي کارکوونکو ګډون

یو سلو یو اتیایمه ماده:

کـه چېرې کارکوونکي، نظامي منسوبین او نور هغه اشخاص چې په یوه ډول نه یو ډول له دولتي ادارو سره تړلي (مرتبط) وي او د قاچاق وړونکې شبکې په

اشتراك کارکنان دولتی در عمل قاچاق

مادهٔ یکصد و هشتاد و یکم:

هرگاه کارکنان، منسوبین نظامی و سایر اشخاصیکه به نحوی از انحاء با ادارات دولتی مرتبط باشند و در سازماندهی و ادارهٔ شبکه

ســـازمانولو او اداره کولـــو کـــې بـرخـــوال وي، د دې قـانون په يـو سلو نهـه اويايمـه مـاده کې درج په دوه نيم چنده مجازاتو محکومېږي.

قـاچـاقـبری سـهـيـم بـاشـند ، بـه دونيم چند مجازات مـــندرج مـادۀ يکـــصد و هفتـــاد و نهـــم ايـــن قـــانـــون مـــحـکوم می گردند.

د اداري سرغړونو څېړنه

يو سلو دوه اتيايمه ماده:

ګمرکي اداري سرغړونه د ګمرک د دوو مـــامورانو پـــه واســطه چـــې د مربـوطې ګمرکـي اداري د واکمـن مقـام لخـوا تاکـل کېـږي، څېـړل کېږي.

بررسی تخلفات اداری

مادۀ يکصد و هشتاد و دوم:

تخلف اداری گمرکی توسط دو نفر مـامور گمـرك کـه از طـرف مقـام ذيـصلاح ادارۀ گمرکـی مربـوط تعيـين مـی شـود ، بررسـی مـی گردد.

معلوماتو ته د لاس رسېدنې واک

يو سلو دري اتيايمه ماده:

ګمرکـي مـامورين کـولای شـي د ګمرکونـو د عمـومي رئـيس پـه ليکلې اجـازه د اداري سـرغړونو د مـدارکو د لټولـو پـه منظـور، هغـه معلومات تر لاسه کړي چې سندونه او سـوابق يـې د ګمـرک د اداري پـه واسـطه يـا د هغـې د غوښـتنې پـه اساس لـه نـورو مراجعـو سره ساتل کېږي.

هـــمدارنګه ګـــمرکي مـــامورين کـولای شـي د اداري سرغـــړونو د کـشف او مخنيـوي پـه منظـور، پـه

صلاحيت دسترسی به معلومات

مادۀ يکصد و هشتاد و سوم:

مـامورين گمرکـی مـی تواننـد بـا اجـازۀ کتبـی رئـيس عمـومي گمرکـات بـه منظـور جـستجوی مـــدارك تخلفـــات اداری، بـــه معلومـات هـايی دسترسـی پيـدا کنـد کـه اسناد و سـوابق آن توسـط اداره گمرك و يا به اساس تقاضای آن نـزد سـاير مراجـع نگهـداری مـی گردد.

همچنـان مـامورين گمرکـی مـی توانند به منظور کشف و جلوگيری از تخلفات اداری تمام تدابير لازم

دفترونـو، فـابریکو، ګـدامونو او نورو هغو ځایونو او ودانیو کې چې پکې د ګمرک حسابونه ساتل کېږي یا په ګمرکي فعالیتونو پورې تړلي اقـدامات تـر سـره کـېږي، ټـول لازم تدبیرونه ونیسي.

را در دفـاتر، فابریکـات، گـدام هـا و سایر محـلات و سـاختمانهاییکه در آن حسابات گمرك نگهـداری یـا اقـدامات وابسته بـه فعالیـت هـای گمرکی صورت می پذیرند، اتخـاذ نماید.

رپوټ او د شواهدو راټولول
یو سلو څلور اتیایمه ماده:

(۱) د څېړنې رپوټ په دریـو نسخو کـې پـه لیکلـې توګـه ترتیـب او لاسـلیک کـېږي، لاندې محتویـات پکې شامل وي:

۱- د سـرغړونې د پېښېدو ځـای، نېټه او موده.

۲- د رپـوټ د لاسـلیک کوونکـو اشخاصو نوم او موقفونه.

۳- د مرتکبینـو د هویـت د تثبیـت لپاره نوم، آدرس او نور معلومات.

۴- پـدې قـانون کـې د درج شـوو سرغړونو تصنیف.

۵- د مالونو موقعیت.

۶- د سـرغړونې پـه ارتکـاب کـې د ګټې اخیستل شوو وسایلو توضیح او تشخیص.

۷- د مالونو ډول، کیفیت، کمیت، بیـه، منـشاء او تعرفـوي طبـقه

راپور و جمع آوری شواهد
مادۀ یکصد و هشتاد و چهارم:

(۱) راپـور بررسـی در سـه نـسخه طـور تحریـری ترتیـب و امـضاء گردیده، شامل محتویات ذیل می باشد:

۱- مـحل، تـاریخ و زمـان وقـوع تخلف.

۲- اسـم اشـخاص امـضاء کننـدۀ راپور و موقفهای شان.

۳- اسم، آدرس و سایر معلومـات جهت تثبیت هویت مرتکبین.

۴- تـصنیف تـخلفـات منـدرج ایـن قانون.

۵- موقعیت امـوال.

۶- تـوضیح و تـشخیص وسـایل اسـتفاده شـده در ارتـکاب تـخلف.

۷- نوعیـت، کیفیـت، کمیـت، قیمـت، منـشاء و طبقـه بنـدی

بندي.
۸- د محصول او نورو واجب التأديه ګمرکي ديونو اندازه.
۹- د دې قانون د حکمونو ذکر کول چې په اساس يې وړانديز شوې جريمې وضع شوې دي.
۱۰- د دې قانون ديو سلو اويايمې مادې د مندرجاتو مطابق، د ګمرک دمامورينو اوسرغړوونکي لاسليک.
(۲) ګمرکي مامورين مکلف دي بې له ځنډه په سرغړونې تورن شخص، د دې مادې په (۱) فقره کې درج د ثبت شوي رپوټ په هکله خبر کړي.
(۳) ګمرکي مامورين مکلف دي، لدې قانون څخه د سرغړونو د څېړنې غونډه (جلسه) جوړه او سندونه او مدارک راټول او د شاهدانو اظهار ثبت کړي، ګمرکي مامورين د دې منظور لپاره د جلسې نېټه، ساعت او ځای ټاکي، د څېړنې موده د خبر ورکونې له نېټې څخه له (۷۲) ساعتونو نشي زياتېدی.
(۴) ګمرکي مامورين کولای شي تورن يا شاهدانو ته اجازه ورکړي د څېړنې په غونډه کې د حاضرېدو

تعرفوی اموال.
۸- اندازۀ محصول و سایر دیون گمرکی واجب التأدیه.
۹- ذکر احکام این قانون که به اساس آن جریمه های پیشنهاد شده وضع گردیده است.
۱۰- امضاء مامورین گمرك و متخلف حسب مندرجات مادۀ یکصد و هفتادم این قانون.
(۲) مامورین گمرکی مکلف اند بلافاصله شخص متهم به تخلف را در مورد راپور ثبت شده مندرج در فقرۀ (۱) این ماده اطلاع دهند.
(۳) مامورین گمرکی مکلف اند جلسه رسیدگی به تخلفات از این قانون را دایر و اسناد و مدارك را جمع آوری و اظهارات شهود را ثبت نمایند. مامورین گمرکی به این منظور تاریخ، ساعت و محل رسیدگی جلسه را تعیین می نمایند. میعاد رسیدگی از تاریخ اطلاع دهی از (۷۲) ساعت بیشتر بوده نمی تواند.
(۴) مامورین گمرکی می توانند به متهم یا شهود اجازه دهند تا عوض حضور در جلسه رسیدگی

په عوض خپل اظهارات وړاندې او ثبت کړي.
(۵) د دې مادې په (۴) فقره کې درج شوي اظهارات د تورن او شاهدانو(د دوی دحضور په صورت کې) او د ګمرکي مامورینو د دوو تنو په واسطه چې جلسه یې ترتیب او رهبري کړي ده، لاسلیک کېږي.
(۶) که چېرې تورن یا شاهدان په دري یا پښتو ژبه خبرې ونشي کولای، د څېړنې جلسه د هغه ژباړونکي (ترجمان) په حضور سره چې د جریانونو د ترجمې مسئول دی، پرمخ بیول کېږي.

اظهارات خود را ارائه و ثبت نمایند.
(۵) اظهارات مندرج فقرهٔ (۴) این ماده توسط متهم و شهود (در صورت حضورشان) و دو تن از مامورین گمرکی ایکه جلسه را ترتیب و رهبری نموده، امضاء می گردد.
(۶) هر گاه متهم یا شهود به لسان های دری یا پشتو صحبت نموده نتواند، جلسهٔ رسیدگی با حضور ترجمانی که مسئول ترجمه جریانات می باشد، پیش برده می شود.

د دوسیې تصفیه
یو سلو پنځه اتیایمه ماده:
ګمرکي مامورین مکلف دي د سندونو او مدارکو له راټولولو او په اداري سرغړونې پورې د مربوط رپوټ تر څېړنې وروسته، تصمیم ونیسي او هغه لاسلیک او صادر کړي.

تصفیه دوسیه
مادهٔ یکصد و هشتاد و پنجم:
مامورین گمرکی مکلف اند بعد از جمع آوری اسناد و مدارك و بررسی گزارش مربوط به تخلف اداری، تصمیم اتخاذ و آن را امضاء و صادر نمایند.

د جریمې د ورکولو د تصمیم پر خلاف اعتراض

یو سلو شپږ اتیایمه ماده:

(۱) ګمرکي مامورین مکلف دي پدې قانون کې د درج شوې جریمې د وضع کولو په هکله تصمیم، د تصمیم له صادرېدو څخه وروسته د (۲۴) ساعتونو په موده کې، تورن ته ابلاغ او ور تسلیم کړي.

(۲) د جریمې په ورکولو مکلف شخص، د دې قانون د اتلسمې مادې د حکم مطابق، کولای شي، د ګمرکي مامورینو د تصمیم په وړاندې اعتراض وکړي.

(۳) که چېرې اعتراض د دې قانون داتلسمې مادې د (۴) فقرې د حکم مطابق صورت ومومي، اعتراض کوونکی مکلف دی د ګمرکي دین پر ورکولو برسېره، داتلسمې مادې د(۲) فقرې دحکم مطابق، دجریمې له ټول مقدار څخه د په سلو کې د څلوېښتو (٪ ۴۰) معادل مبلغ هم ورکړي، پدې شرط چې د سپارنې ټول مقدار د سرغړونې د مورد د مالونو له بیې څخه تجاوز ونکړي.

(۴) د ګمرکي حکمیت د اداري پر تصمیم د نه قناعت په صورت کې،

اعتراض علیه تصمیم به پرداخت جریمه

مادۀ یکصد و هشتاد و ششم:

(۱) مامورین گمرکی مکلف اند تصمیم مبنی بر وضع جریمه مندرج این قانون را در مدت (۲۴) ساعت بعد از اصدار تصمیم به متهم ابلاغ و تسلیم نمایند.

(۲) شخص مکلف به تأدیه جریمه مطابق حکم مادۀ هجدهم این قانون می تواند در برابر تصمیم مامورین گمرکی، اعتراض نماید.

(۳) هرگاه اعتراض مطابق حکم فقرۀ (۴) مادۀ هجدهم این قانون صورت گیرد، اعتراض کننده مکلف است علاوه بر تأدیه دین گمرکی مطابق حکم فقرۀ (۲) مادۀ هجدهم مبلغ معادل چهل فیصد (٪۴۰) از مقدار مجموعی جریمه را نیز تسلیم نماید، مشروط براینکه مقدار مجموعی سپرده از قیمت اموال مورد تخلف تجاوز ننماید.

(۴) در صورت عدم قناعت به تصمیم ادارۀ حکمیت گمرکی،

اعتـراض کـوونکی مکلـف دی، د ګمرکي حکمیت د اداري پر تـصمیم له اعتراض د مخه چې د دې قـانون د اتلـسمې مـادې د حکـم مطـابق نیـول شـوی دی، د جریمې پاتې په سلو کې شپېته (٪ ۶۰) ورکړي.

(۵) پـــه هغـــه صـــورت کـــې چـــې تصمیم، ګمرکي قرار یا د محکمې فیصله د اعتراض کوونکي په ګټه وروسـتۍ (نهـایي) شـي، سـپارل شـوې پیـسې د (۵) ورځـو پـه مـوده کـې، د دې قـانون د شـلمې او یـو ویشتمې مادې د حکم مطابق، هغه ته بېرته ورکول کېږي.

اعتراض‌کننده مکلف است شصت فیـصد (٪۶۰) جریمـه باقیمانـده قبـل از اعتـراض بـر تـصمیم ادارهٔ حکمیت گمرکی کـه مطـابق حکم مـادهٔ هجـدهم ایـن قـانون اتخـاذ گردیده است، بپردازد.

(۵) در صـورتیـکه تـصمیم، قـرار گمرکی یـا فـیـصلـهٔ مـحـکمـه بـــه نفـــع اعـتـــراض کـننـــده نـهـایـی گـردد، مبلـغ سـپرده شـده در مـدت (۵) روز طـبـق احـــکام مـــواد بـیـــستـم و بـیـست و یـکم ایـن قـانـون بـه وی مسـترد مـی گـردد.

پنځلسم فصل
د تر لاسه شوو عوایدو د وېش (توزیع) ډول او د مکافاتو ورکول

فصل پانزدهم
طرز توزیع عواید حاصله و اعطای مکافات

له جرمونو او د قاچاق له مصادره شوو مالونو څخه د تر لاسه شوو عوایدو توزیع

یو سلو اووه اتیایمه ماده:

(۱) د جریمـو لـه اخیـستلو او د مصادره شوو مالونو له لیلام څخه تر لاسه شوي عواید، په لاندې توګه وېشل کېږي:

توزیـع عـــواید حـاصـــله از جـرایـم و امـــوال مصادره شدهٔ قاچاق

مادهٔ یکصد و هشتاد و هفتم:

(۱) عوایـد حاصـله از اخـذ جریمـه هـــا و لـــیلام امـــوال مـــصادره شـــده قـــرار ذیـــل توزیـــع می گردد:

۱- د دولت بودجې ته د ټولو تر لاسه شوو جریمو انتقالول.
۲- د مصادره شوو مالونو د بیې د په سلو کې د پنځوسو (٪۵۰) د دولت بودجې ته او د هغو په سلو کې د پنځوسو (٪ ۵۰) پولیسو او ګمرکي کارکوونکو، خبر ورکوونکو او نورو همکارانو ته د مکافاتو د ورکولو او د ګمرک د پرسونل د کاري شرایطو د ښه کولو په غرض، انتقالول.
(۲) د قاچاقو د مصادره شوو مالونو له لیلام څخه تر لاسه شوي عواید، د محکمې له وروستني حکم وروسته مستحقینوته د دې فصل د حکمونو مطابق محاسبه او ورکول کېږي.

۱- انتقال تمام جریمه های حاصله به بودجه دولت.
۲- انتقال پنجاه فیصد (٪۵۰) قیمت اموال مصادره شده به بودجه دولت و پنجاه فیصد (٪۵۰) آن غرض اعطای مکافات به پولیس و کارکنان گمرکی، اطلاع دهندگان و سایر همکاران و بهبود شرایط کاری پرسونل گمرك.
(۲) عواید حاصله از لیلام اموال مصادره شدهٔ قاچاق بعد از حکم نهایی محکمه به مستحقین آن مطابق احکام این فصل محاسبه و تأدیه می گردد.

د خبر (اطلاع) ورکوونکي مکافات یو سلو اته اتیایمه ماده:
هغه شخص چې د قاچاق د مال په کشف کې رښتینی خبر ورکړي، په لاندې توګه د مکافاتو مستحق ګرځي:
۱- مؤظف خبر ورکوونکي، د نومورو مالونو د ټولې بیې په سلو کې پنځه.

مکافات اطلاع دهنده مادهٔ یکصد و هشتاد و هشتم:
شخصی که در کشف مال قاچاق اطلاع مؤثق بدهد، قرار آتی مستحق مکافات می گردد:
۱- اطلاع دهندگان مؤظف پنج فیصد قیمت مجموعی فروش اموال مذکور.

۲- غیر مؤظف خبر ورکوونکي، د نومورو مالونو د ټولې بیې په سلو کې اووه نیم.

د نیوونکي مکافات

یو سلو نهه اتیایمه ماده:

هغه فرد چې د قاچاق مال شخصاً ونیسي او هغه مربوطو مراجعوته تسلیم کړي، په لاندې توګه د مکافاتو مستحق ګرځي:

۱- په هغه صورت کې چې د قاچاق دانسداد یاګمرک مؤظفین، مالونه له هغو ځایونو څخه ونیسي چې هلته له قاچاق وړونکي سره د ټکر (تصادم) خطر احساس نشي، د نیول شوو مالونو له خرڅلاو څه د ټولې بیې په سلو کې لس.

که چېرې له قاچاق وړونکي سره د ټکر خطر محسوس خو د وژلې او ټپ حادثه پېښه نشي، د نیول شوو مالونو له خرڅلاو څخه د ټولې بیې په سلو کې پنځلس دغه مؤظفین، د دې قانون په یو سلو اته اتیایمه ماده کې له درج شوو حقوقو څخه ګټه نشي اخیستی.

۲- نور هغه دولتي کارکوونکي او منسوبین چې د قاچاق د مالونو په ۲- اطلاع دهندگان غیرمؤظف هفت و نیم فیصد قیمت مجموعی فروش اموال مذکور.

مکافات دست گیر کننده

مادۀ یکصد و هشتاد و نهم:

فردی که مال قاچاق را شخصاً دست گیر و آن را به مراجع مربوطه آن تسلیم نماید، به ترتیب ذیل مستحق مکافات می گردد:

۱ - در صورتیکه مؤظفین انسداد قاچاق یا گمرك، اموال قاچاق را از محلاتی دست گیر نمایند که در آن خطر تصادم با قاچاقبر احساس نگردد، ده فیصد از قیمت مجموعی فروش اموال دست گیر شده.

هر گاه خطر تصادم با قاچاقبر محسوس، ولی حادثۀ قتل و جرح واقع نگردد، پانزده فیصد از قیمت مجموعی فروش اموال دست گیر شده. این مؤظفین از حقوق مندرج مادۀ یکصد و هشتاد و هشتم این قانون مستفید شده نمی توانند.

۲- سایر کارکنان و منسوبین دولتی که در دست گیری اموال

نیولو کې یې له مربوطو مؤظفینو سره عملاً مرسته کړې، د نیول شوو مالونو له خرڅلاو څخه د ټولې بیې په سلو کې دوه نیم.

۳- نور اشخاص چې د قاچاق د مالونو په نیولو کې یې له مربوطو مؤظفینو سره عملاً مرسته کړې، د نیول شوو مالونو له خرڅلاو څخه د ټولې بیې په سلو کې پنځه.

۴- هغه شخص چې د قاچاق د مالونو د نیولو په وخت کې ووژل شي یا داسې ټپي شي چې ټپونه یې د شغل او مسلک د دوام خنډ شي، د لاندې امتیازونو مستحق ګرځي:

- په هغه صورت کې چې شخص د دولت کارکوونکی یا منسوب وي، د تقاعد د حقوقو او ټاکلو مکافاتو بر سېره په خپله ده یا یې پاتو کسانوته له پنځه سوه زرو څخه تر یوملیون(۱۰۰۰۰۰۰-۵۰۰۰۰۰) افغانیو پورې.

- که چېرې شخص د تقاعد حقوق و نه لري، د معلولیت درجې ته یې په پام سره له ټاکلي مکافات بر سېره ده یا یې پاتو کسانوته، له اته سوه زرو څخه تر یو ملیون او پنځه

قاچاق با مؤظفین مربوطه عملاً کمك نموده اند ، دونیم فیصد از قیمت مجموعی فروش اموال دست گیر شده.

۳- سایر اشخاصیکه در دست گیری اموال قاچاق با مؤظفین مربوطه عملاً کمك نموده اند ، پنج فیصد قیمت مجموعی فروش اموال دست گیر شده.

۴ - شخصی که حین دست گیری مال قاچاق به قتل رسیده یا طوری مجروح شود که جراحات مانع ادامۀ شغل و مسلك وی گردد ، مستحق امتیازات ذیل شناخته می شود:

- در صورتیکه شخص کارکن یا منسوب دولت باشد ، بر علاوه حقوق تقاعد و مکافات معینه به خود وی یا بازماندگان وی پنجصد هزار الی یك ملیون (۱۰۰۰۰۰۰ - ۵۰۰۰۰۰) افغانی.

- هر گاه شخص حقوق تقاعد نداشته باشد ، نظر به درجۀ معلولیت به خود یا بازماندگان وی برعلاوه مکافات معینه هشتصد هزار الی یك ملیون و

سـوه زرو (۸۰۰۰۰۰- ۱۵۰۰۰۰۰) افغانیو پورې.

۵- په هغه صورت کې چې د قاچاق د مالونو اطلاع ورکوونکي یا نیوونکي له یوه تن څخه زیات وي، د دې قانون په یو سلو اته اتیایمه ماده کې درج شوی مکافات د دوی تر منځ علي السویه وېشل کېږي.

پنجصد هزار (۸۰۰۰۰۰ - ۱۵۰۰۰۰۰) افغانی.

۵ - در صورتیکه اطلاع دهنده یا دست گیر کنندۀ اموال قاچاق بیش از یك نفر باشد مکافات مندرج مادۀ یکصد و هشتاد و هشتم این قانون بین شان علی السویه تقسیم می شود.

د مکافاتو نیمایې

یو سلو نوي یمه ماده:

د قاچاق د مالونو نیوونکی یایې مرستیالان چې خاوند یې معلوم نه وي، د ټاکل شوو مکافاتو د نیمایې مستحق پېژندل کېږي.

مناصفۀ مکافات

مادۀ یکصد و نودم:

دست گیر کنندۀ اموال قاچاق و معاونین وی که مالك آن معلوم نباشد، مستحق مناصفۀ مکافات معینه شناخته می شوند.

شپاړسم فصل
متفرقه حکمونه

فصل شانزدهم
احکام متفرقه

د ګمرکونو له اداري سره همکاري

یو سلو یو نوي یمه ماده:

(۱) د کورنیو چارو په وزارت پورې مربوط پولیس او نورې ملکي او نظامي اداري مکلف دي، د دې قانون او نورو ګمرکي تقنیني سندونو د حکمونو په تطبیق کې له

همکاری با ادارۀ گمرکات

مادۀ یکصد و نود و یکم:

(۱) پولیس مربوط به وزارت امور داخله و سایر ادارات ملکی و نظامی مکلف اند در تطبیق احکام این قانون و سایر اسناد تقنینی گمرکی با پولیس

ګمرکي پوليسو سره هر اړخيزه همکاري وکړي.
(۲) هر شخص مکلف دی د تورنو په تعقیبولو او د قاچاق د مالونو په نیولو کې، د قاچاقو د انسداد د مؤظفینو د مرستې د غوښتنې په صورت کې له هغوی سره مرسته وکړي.
(۳) هر شخص کولای شي د قاچاق د عمل له پیل یا ارتکاب څخه د خبرتیا (وقوف) په صورت کې مربوطو مقاماتو ته خبر ورکړي.
پدې صورت کې د شخص هویت د ګمرکي کارکوونکو لخوا نه افشاء کېږي.

گمرکی همکاری همه جانبه نمایند.
(۲) هر شخص مکلف است در صورت استمداد مؤظفین انسداد قاچاق در تعقیب متهمین و گرفتاری اموال قاچاق با آنها معاونت نماید.
(۳) هر شخص می تواند در حال وقوف از آغاز یا ارتکاب عمل قاچاق به مقامات مربوطه اطلاع بدهد.
در این صورت هویت شخص از طرف کارکنان گمرکی افشاء نمی گردد.

د ګمرکونو د کلني رپوټ وړاندې کول

یو سلو دوه نوي یمه ماده:
د مالیې وزارت مکلف دی د خپلو اجراآتو کلنی رپوټ چې د لاندې معلوماتو لرونکی وي، د وزیرانو شوري ته وړاندې کړي:
۱- د هېواد د ګمرکونو کلنی عملیاتي بودجې.
۲- د کارمندانو شمېر او رتبې.
۳- د ګمرکونو په واسطه راټول

ارائه راپور سالانه گمرکات

مادۀ یکصد و نود و دوم:
وزارت مالیه مکلف است راپور سالانۀ اجراآت خویش را که حاوی معلومات ذیل می باشد، به شورای وزیران ارائه نماید:
۱- بودجه های عملیاتی سالانۀ گمرکات کشور.
۲- تعداد و رتب کارمندان.
۳- عواید جمع آوری شدۀ

شوي عواید.
۴- له ورکړو څخه د تېښتې او له محصول څخه د معافیت په پایله کې له لاسه تللي عواید.
۵- د نورو ادارو لخوا سپارل شوي فعالیتونه او عکس یې.
۶- د نورو هغو اجراآتو په هکله معلومات چې د ګمرکونو پر فعالیت باندې یې اغېزه لرلې ده.

گمرکات.
۴- عواید از دست رفته در نتیجه گریز از پرداختها و معافیت از محصول.
۵- فعالیتهای محول شده از جانب سایر ادارات و عکس آن.
۶- معلومات در مورد سایر اجراآت که اثری بالای فعالیت گمرکات داشته است.

ترجیحي حکمونه
یو سلو دري نوي یمه ماده:
که چېرې د دې قانون له حکمونو څخه یو حکم، د نورو نافذه تقنیني سندونو له حکم سره په مغایرت کې واقع شي.د دې قانون حکم مرجح ګڼل کېږي.

احکام ترجیحی
مادۀ یکصد و نود و سوم:
هر گاه حکمی از احکام این قانون، با حکم سایر اسناد تقنینی نافذه در مغایرت قرار گیرد، حکم این قانون مرجح دانسته می شود.

د انفاذ نېټه
یو سلو څلور نوي یمه ماده:
دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او په انفاذ سره یې د ۱۳۶۱/۲/۲۸ نېټې په (۵۰۸) ګڼې رسمي جریدې کې خپور شوی د ګمرکونو قانون د ۱۳۶۷/۱/۱۵ نیټې په (۶۳۳) ګڼې رسمي جریدې

تاریخ انفاذ
مادۀ یکصد و نود و چهارم:
این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن قانون گمرکات منتشرۀ جریدۀ رسمی شمارۀ (۵۰۸) مورخ ۱۳۶۱/۲/۲۸، مقررۀ اجراآت گمرکی منتشرۀ جریدۀ رسمی شمارۀ (۶۶۳)

کې خپره شوې د ګمرکې اجراآتو مقرره، تعدیلونه او هغه نور مغایر حکمونه لغو ګڼل کېږي.

مؤرخ ۱۳۶۷/۱/۱۵، تعدیلات و سایر احکام مغایر آن ملغی شمرده می شود

مقررۀ تعیین قیمت گمرکی اموال

د مالونو د ګمرکي بيې د ټاکلو د مقرري په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو شوري مصوبه

ګڼه: (۳۸)
نېټه: ۱۳۸۴/۱۱/۳

د مالونو د ګمرکي بيې د ټاکلو مقرره چې په (۵) فصلونو او (۲۲) مادو کې د وزيرانو شوري لخوا تصويب شوې، منظوره ده.
دغه مقرره د تصويب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جريده کې دې خپره شي.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس

مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد مقررهٔ تعیین قیمت گمرکی اموال

شماره:(۳۸)
تاریخ: ۱۳۸۴/۱۱/۳

مقررهٔ تعیین قیمت گمرکی اموال که به داخل (۵) فصل و (۲۲) ماده از جانب شورای وزیران به تصویب رسیده، منظور است.
این مقرره از تاریخ تصویب نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د مالونو د ګمرکي بیې د ټاکلو مقرره

لومړی فصل
عمومي حکمونه

مبني

لومړۍ ماده:

دغه مقرره د ګمرکونو د قانون د څلېریشتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، د ګمرکي مالونو د بیې د ټاکنې د مناسب، عادلانه او یوشان سیستم د جوړولو او پدې برخه کې د سندونو له تزویر او غلطو څرګندونو څخه د مخنیوي په منظور وضع شوې ده.

اصطلاحګانې

دوه یمه ماده:

لاندې اصطلاحګانې پدې مقرره کې لاندینې مفاهیم افاده کوي:

۱- د مالونو ګمرکي بیه: د مالونو معاملاتي بیه ده.

۲- د مالونو معاملاتي بیه: د وارداتي مالونو ورکړل شوې یا د ورکړې وړ واقعي بیه ده چې بایع ته د مشتري لخوا ټول لګښتونه او تأدیات پکې شامل دي.

مقررۀ تعیین قیمت گمرکی اموال

فصل اول
احکام عمومي

مبنی

مادۀ اول:

این مقرره بانظرداشت حکم مندرج فقرۀ (۱) مادۀ بیست وچهارم قانون گمرکات، به منظور ایجاد سیستم مناسب، عادلانه و یکسان تعیین قیمت گمرکی اموال و جلوگیری از تزویر اسناد و اظهارات غلط در زمینه، وضع گردیده است.

اصطلاحات

مادۀ دوم:

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:

۱-قیمت گمرکی اموال:قیمت معاملاتی اموال است.

۲-قیمت معاملاتی اموال: قیمت واقعی تأدیه شده یا قابل تأدیه اموال وارداتی است که شامل تمام مصارف وتأدیات از طرف مشتری به بایع می‌باشد.

۳- د مالونو ګمرکي نرخ: د مالونو د ګمرکي بیې له مجموع څخه عبارت دی چې د تعرفې د فیصدۍ له کود څخه لاسته راځي.

۴- بیجک (Invoice): له پلورونکې کمپنۍ یا یې له نمایندګۍ څخه د مال د پېرودنې سند دی چې د مال بیه، مشخصات، ډول (نوعیت)، شمېر، وزن او مقدار، د بایع او مشتري نوم او آدرس پکې درج وي.

۵- د بار ترلو (بار بندۍ) لست (Packing List): هغه سند دی چې د صندوق یا کارتن یا بستې محتویات په یوازې یا مجموعي صورت پکې درج وي.

۶- بارلیک (بارنامه) (Bill of loading):

هغه سند دی چې د صندوق یا کارتن یا بستې شمېر، د مال حجم یا وزن پکې درج وي.

۷- د ترانزیت فورم (Transit Form): هغه سند دی چې د مال د تېرېدو په منظور د هغه هېواد د اړوندو مقاماتو لخوا چې مال یې له قلمرو څخه تېرېږي، صادرېږي.

۸- د بیمې فورم: هغه سند دی چې

۳- نرخ گمرکی اموال: عبارت از مجموع قیمت گمرکی اموال بوده که از کود فیصدی تعرفه بدست می آید.

۴- بیجك (Invoice):سند خرید مال از کمپنی فروشنده یا نماینده گی آن است که قیمت، مشخصات، نوعیت، تعداد، وزن و مقدار مال، اسم و آدرس بایع و مشتری در آن درج می‌باشد.

۵- لست باربندی (packing list): سندی است که محتویات صندوق یا کارتن ویا بسته، به صورت منفرد یا مجموعی در آن درج می‌باشد.

۶-بارنامه (Bill of loading):

سندی است که تعداد صندوق یا کارتن یا بسته،حجم و یا وزن مال در آن درج می‌باشد.

۷- فورم ترانزیت (Transit form): سندی است که به منظورعبورمال از طرف مقامات مربوطۀ کشوریکه مال ازقلمرو آن عبور می‌نماید، صادر می‌گردد.

۸- فورم بیمه: سندی است که

په هغه کې د بیمه شوي مال مشخصات درج شوي وی او د بیمه کوونکي مؤسسې لخوا صادرېږي.

۹- د مال روغتیایی (صحی) تصدیق: هغه سند دی چې په هغه کې د درج شوي مال له روغتیایي توب څخه د صادروونکي هېواد د اړوندو مقاماتو په واسطه تصدیق کېږي.

۱۰- د پارسل کارت: هغه سند دی چې د بستو شمېر، وزن، ډول او د مرسل او مرسل الیه آدرس پکې درج شوی وي او د مالونو د مبداء هېواد په واسطه ترتیبېږي.

۱۱- هوایي بارلیک (Airway Bill): هغه سند دی چې د فضاء له لارې د مالونو د لېږدېدو په منظور، د اړوندو هوایي کرښو د نمایندګۍ په واسطه ترتیب او پکې د الوتنې نېټه، د بستو شمېر، د مال وزن، ډول، د تسلیمۍ مرجع او د مالک شهرت درجېږي.

مشخصات مال بیمه شده در آن درج گردیده و از طرف مؤسسۀ بیمه کننده صادر می شود.

۹- تصدیق صحی مال: سندی است که از صحی بودن مال مندرج در آن توسط مقامات مربوطۀ کشور صادر کننده تصدیق می‌گردد.

۱۰- کارت پارسل: سندی است که تعداد بسته، وزن، نوعیت و آدرس مرسل و مرسل الیه در آن درج گردیده و توسط کشور مبداء اموال ترتیب می‌شود.

۱۱- بارنامۀ هوائی (Airway Bill): سندی است که به منظور انتقال مال از طریق فضاء توسط نماینده گی خطوط هوائی مربوط ترتیب و در آن تاریخ پرواز، تعداد بسته، وزن، نوعیت مال، مرجع تسلیمی و شهرت مالك درج می‌گردد.

دوه یم فصل
د مالونو د ګمرکي بیې د ټاکلو تګلارې (روشونه)

لومړۍ تګلاره
درېیمه ماده:
د مالونو ګمرکي بیه د بیجک، د بار بندۍ لست، د کرایې سند، صحي تصدیق او د قرارداد د سند پر بنسټ، د دې مقررې په نهمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره ټاکل کېږي.

دوه یمه تګلاره
څلورمه ماده:
په هغه صورت کې چې د مالونو بیه د دې مقررې په درېیمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق ونشي ټاکل کېدی، د هغو بیه د لاندې شرطونو له په پام کې نیولو سره د یوشان مالونو د بیې پر بنسټ ټاکل کېږي:
۱- د فزیکي خصوصیت له پلوه توپیر ونلري.
۲- د شهرت او اعتبار له پلوه متفاوت نه وي.
۳- د عین سوداګریز نښان

فصل دوم
روش های تعیین قیمت گمرکی اموال

روش اول
مادۀ سوم:
قیمت گمرکی اموال به اساس بیجك، لست باربندی، سند کرایه، تصدیق صحی وسند قرارداد با نظر داشت حکم مندرج مادۀ نهم این مقرره تعیین می گردد.

روش دوم
مادۀ چهارم:
در صورتیکه قیمت اموا ل طبق حکم مندرج مادۀ سوم این مقرره تعیین شده نتواند، قیمت آن به اساس قیمت اموال یکسان با نظر داشت شرایط ذیل تعیین می گردد:
۱-از لحاظ خصوصیت فزیکی فرق نداشته باشد.
۲-ازلحاظ شهرت و اعتبار متفاوت نباشد.
۳-دارای عین نشان تجارتی

لرونکي وي.
۴- د يوه هېواد توليد وي.
۵- د واردو شوو مالونو او هغويو شان مالونو چې پر اوونه يې د مخه تېر شوي وي ترمنځ زماني واټن، له (۹۰) ورځو څخه زيات نه وي.

درېيمه تګلاره
پنځمه ماده:
په هغه صورت کې چې د مالونو بيه د دې مقرري په درېيمه او څلورمه ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق ونشي ټاکل کېدی، د هغو بيه د لاندې شرطونو له په پام کې نيولو سره د ورته مالونو دبيې پر بنسټ ټاکل کېږي:
۱- د فزيکی خصوصيت له پلوه ورته والی ولري.
۲- په ترکيبونو کې يې يو ډول مواد پکار وړل شوي وي.
۳- په عين مواردو کې د ګټې اخيستنې وړ وي.
۴- شهرت او اعتبار يې ورته وي.
۵- د عين سوداګريز نښان لرونکي وي.
۶- د يوه هېواد توليد وي.
۷- سوداګريز مالونه له کيفي باشد.
۴-تولید یك كشور باشد.
۵-فاصلۀ زمانی بین اموال وارده واموال یکسانیکه قبلاً طی مراحل گردیده، از (۹۰) روز بیشتر نباشد.

روش سوم
مادۀ پنجم:
در صورتیکه قیمت اموال طبق احکام مندرج مواد سوم و چهارم این مقرره تعیین شده نتواند ،قیمت آن به اساس قیمت اموال مشابه با نظرداشت شرایط ذیل تعیین می‌گردد:
۱- از لحاظ خصوصیت فزیکی مشابهت داشته باشد.
۲-در ترکیبات آن یك قسم مواد بکاررفته باشد.
۳-در عین موارد قابل استفاده باشد.
۴- شهرت و اعتبار آنها مشابه باشد.
۵- دارای عین نشان تجارتی باشد.
۶- تولید یك كشور باشد.
۷- اموال تجارتی از لحاظ کیفی

لحاظه د تبادلې وړ وي.
۸- د مالونو د فې واحد مقدار مساوي وي.
۹- د واردو شوو مالونو او هغو ورته مالونو چې پراوونه يې د مخه تېرشوي وي ترمنځ زماني واټن، له (۹۰) ورځو څخه زيات نه وي.

څلورمه تګلاره

شپږمه ماده:

په هغه صورت کې چې د مالونو ګمرکي بيه ددې مقررې له درېيمې څخه تر پنځمې مادې پورې د درج شوو حکمونو مطابق ونشي ټاکل کېدی، بيه يې د وضعي ميتود (له کورنيو مارکېټونو څخه د مالونو د اخيستل شوې لوړې بيې) پر بنسټ ټاکل کېږي، پدې صورت کې لاندې لګښتونه چې ګمرک ته د مال له واردېدو وروسته د خرڅلاو تر ځايه پورې ورکړل شوي دي، وضع کېږي:
۱- د حمل او نقل لګښتونه.
۲- د کمېشنکاری لګښتونه.
۳- محصول، مالیه او ګمرکي عوارض.
۴- د تاجر ګټه.
۵- نور اړوند لګښتونه.

قابل تبادله باشد.
۸- مقدار فی واحد اموال مساوی باشد.
۹- فاصلهٔ زمانی بین اموال وارده وامـوال مشابهی کـه قبلاً طی مراحل گردیده، از (۹۰) روز بیشتر نباشد.

روش چهارم

مادهٔ ششم:

در صورتیکه قیمت گمرکی اموال طبق احکام مندرج مواد سوم الی پنجم این مقرره تعیین شده نتواند، قیمت آن به اساس میتود وضعی (بالاترین قیمت گرفته شدهٔ اموال از مارکیت های داخلی) تعیین می‌گردد، در این صورت مصارف ذیل که بعد از ورود مال به گمرك الی محل فروش پرداخته شده، وضع می‌شود:
۱- مصارف حمل ونقل.
۲- مصارف کمیشنکاری.
۳- محصول، مالیه و عوارض گمرکی.
۴- مفاد تاجر.
۵- سایر مصارف مربوط.

پنځمه تګلاره

اوومه ماده:

په هغه صورت کې چې د مالونو ګمرکي بیه ددې مقرري له درېیمې څخه تر شپږمې مادې پورې د درج شوو حکمونو مطابق ونشي ټاکل کېدی، بیه یې د محاسباتي تګلارې پر بنسټ ټاکل کېږي.

پدې میتود کې د مالونو لګښتونه له مبداء څخه ګمرک ته د مالونو تر رسېدو پورې محاسبه کېږي او عبارت دي له:

۱-د اومو موادو بیه.

۲- د تولید لګښتونه.

۳- د کارکوونکو اجوره.

۴- د طرحې او ډیزاین لګښتونه.

۵- د دې مقررې په نهمه ماده کې درج شوي لګښتونه.

۶- نورهغه لګښتونه چې د کمپنۍ لخوا ورکړل شوي دي.

روش پنجم

مادۀ هفتم:

در صورتیکه قیمت گمرکی اموال طبق احکام مندرج مواد سوم الی ششم این مقرره تعیین شده نتواند، قیمت آن به اساس روش محاسباتی تعیین می‌گردد.

در این میتود مصارف اموال از مبداء الی رسیدن اموال به گمرك محاسبه گردیده و عبارت است از:

۱- قیمت مواد خام.

۲- مصارف تولید.

۳- اجرت کارکنان.

۴- مصارف طرح ودیزاین.

۵- مصارف مندرج مادۀ نهم این مقرره.

۶- سایر مصارفیکه ازطرف کمپنی تأدیه گردیده است.

شپږمه تګلاره

اتمه ماده:

په هغه صورت کې چې د مالونو ګمرکي بیه د دې مقرري له درېیمې څخه تر اوومې مادې پورې د درج شوو حکمونو مطابق ونشي ټاکل کېدی، له یو لړجزئیاتو لکه

روش ششم

مادۀ هشتم:

در صورتیکه قیمت گمرکی اموال طبق احکام مندرج مواد سوم الی هفتم این مقرره تعیین شده نتواند ،ازیك سلسله جزئیات مانند رنگ، مقدار،

رنګ، مقدار، مودې او هغو ته ورته څخه سترګې پټېږي او له پورته یادوشوو تګلارو څخه د یوې مطابق یې بیه ټاکل کېږي.

د مالونو د ګمرکي بیې په ټاکلو کې د نورو مواردو شمولیت

نهمه ماده:

د مالونو د ګمرکي بیې په ټاکلو کې لاندې موارد په هغه صورت کې شاملېږي چې د هغو په ورکړل شوې اصلي بیه کې شامل نه وي، په جلا توګه، د دې مقررې په درېیم فصل کې د درج شوو مالونو د پېرودنې د تګلارو له په پام کې نیولو سره وړاندې شوي وي:

۱- ټاکل شوي ځای ته له رسېدو وروسته د حمل او نقل لګښتونه.

۲- تر ټاکل شوي ځای پورې د بسته بندۍ، ساتنې او ځارنې یا تخنیکي خدمتونو لګښتونه.

۳- د مالونو د پېرودنې په وخت کې د ټکټانې د ورکړې لګښتونه.

۴- د کمېشنکارۍ لګښتونه.

۵- وارداتي محصول، حق الزحمه، د ورکړې وړ عوارض او د وارداتي مالونو مبداء دولت ته نور مالیات.

شمولیت سایر موارد در تعیین قیمت گمرکی اموال

مادۀ نهم:

موارد ذیل در تعیین قیمت گمرکی اموال در صورتی شامل می‌گردد که در قیمت اصلی تأدیه شدۀ آن شامل نبوده، طور جداگانه با نظرداشت روش های خرید اموال مندرج فصل سوم این مقرره ارائه شده باشد:

۱- مصارف حمل ونقل بعد از مواصلت آن به محل تعیین شده.

۲- مصارف بسته بندی، حفظ و مراقبت یا خدمات تخنیکی الی محل تعیین شده.

۳- مصارف پرداخت تکتانه حین خرید اموال.

۴- مصارف کمیشنکاری.

۵- محصول وارداتی، حق الزحمه، عوارض قابل تأدیه و سایر مالیات به دولت مبداء اموال وارداتی.

۶- د بارولو او تشولو لګښتونه.
۷- د بیمې لګښتونه.

د مشکوکو مالونو د سندونو او نمونې استول
لسمه ماده:
هغه وارداتي مالونه او اجناس چې بیه یې له شک او تردید سره مخامخ وي او د سیمې د ګمرک (محصولي ګمرک) په واسطه یې بیه ټاکل شوې وي خود مالونو مالکان ئې په تثبیت شوې بیه قناعت ونلري، د سیمې ګمرک مکلف دی د دغسې مالونو بشپړ سندونه د هغوله نمونې سره په (سیم او سرغچ) ډول د بیې د تثبیتولو په غرض د ګمرکونو لوی ریاست ته واستوي.

سریع الفساد مالونه
یوولسمه ماده:
د سریع الفساد مالونو ګمرکي بیه چې د معیارونو او د بیې اېښودنې دکړنلارو له تطبیق څخه د رامنځته شوي ځنډ له امله خپل کېفیت له لاسه ورکوي، د عمده پلورنې د مېوه جاتو، سبزیجاتو او هغو ته ورته په بیو کې د موسمي بدلونونو دبیو دمنځني (اوسط) حد ،له په پام

۶- مصارف بارگیری و تخلیه.
۷-مصارف بیمه.

ارسال اسناد ونمونۀ اموال مشکوك
مادۀ دهم:
اموال و اجناس وارداتی که قیمت آن مواجه به شك و تردید بوده و توسط گمرك محل (گمرك محصولی) تعیین قیمت شده، ولی مالکین اموال به قیمت تثبیت شده قناعت نداشته باشند ،گمرك محل مکلف است اسناد مکمل چنین اموال را با نمونۀ آن طور (سیم و سرغچ) غرض تثبیت قیمت بریاست عمومي گمرکات ارسال نماید.

اموال سریع الفساد
مادۀ یازدهم:
قیمت گمرکی اموال سریع الفساد که نسبت تأخیر ناشی از تطبیق معیارها و طرزالعمل های قیمت گذاری، کیفیت خود را ازدست می‌دهند با نظر داشت حد اوسط قیمت های عمده فروشی، تغییرات موسمی در قیمت میوه جات، سبزیجات و امثال آن مطابق

کې نیولو سره،د ګمرکونو د قانون په شپږ ویشتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق ټاکل کېږي.

حکم مندرج مادۀ بیست و ششم قانون گمرکات تعیین می گردد.

درېیم فصل
د مالونو د پېرودنې، پلورنې، تحویلولو، د بیمې او حمل او نقل د لګښتونو تګلارې

فصل سوم
روش های خرید ،فروش، تحویل، مصارف بیمه و حمل و نقل اموال

دسوداګریزو مالونو پېرودل او پلورل

دوولسمه ماده:

د نړیوالې سوداګرۍ له اصطلاحګانو څخه د متفاوتو انګیرنو او د مالونو د ګمرکې بیې په ټاکلو کې د راوروسته خطر د مخنیوي او د پېرودنې او پلورنې د قرارداد د اړخونو د خبرتیا او ډاډ په مقصد د ګمرکونو د نړیوا ل سازمان (WCO) او د سوداګری د نړیوال سازمان (WTO) د اصولو له پام کې نیولو سره د سوداګریزو مالونو پېرودل او پلورل، د لاندې تګلارو مطابق صورت مومي:

۱- د کار له ځای څخه د مالونو اخیستل (EXW OR EX – WORKS) :

پدې ډول پېرودنه کې، بایع،

خرید و فروش اموا ل تجارتی

مادۀ دوازدهم:

به منظور جلوگیری از برداشت های متفاوت از اصطلاحات تجارت بین المللی و خطر بعدی در تعیین قیمت گمرکی اموال و به مقصد آگاهی و اطمینان طرفین قرارداد خرید و فروش، با نظر داشت اصول سازمان جهانی گمرکات (WCO) وسازمان جهانی تجارت(WTO) خرید و فروش اموال تجارتی مطابق روش های ذیل صورت می گیرد:

۱-خریدا موال ازمحل کار (EXW OR EX – WORKS) :

در این نوع خرید ، بایع ،اموا ل را

مالونه د تولید په ځای (کارخانه، زېرمه تون او کارګاه) کې د مشتري په واک کې ورکوي او مشتري د کالیو له لېږدېدو څخه رامنځته شوي ټول لګښتونه، ورکړې او ضایعات قبلوي.

۲- په ټاکل شوي ځای کې د مالونو تحویلول (FCA OR FREE ARRIER):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع مالونه د صادرېدو په غرض له ګمرک څخه ترخیص او په موافقه شوي ځای کې یې د حمل او نقل متصدي ته چې مشتري معرفي کړی دی، تسلیموي.دغه اصطلاح د څارویو په شمول د هر ډول حمل او نقل لپاره هم کارول کېږي.

۳- د کښتی په څنګ (ارخ) کې د مالونو تحویلول (FAS OR FREE ALONGSIDE SHIP):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع، مالونه په هغه بندر کې چې له هغه څخه بارول د کشتی په څنګ کې صورت مومي، مالونه د حمل او نقل متصدي ته چې مشتري معرفي کړی دی، تسلیموي. د ورکېدو یا مالونو ته د نورو اووښتو زیانونو مسئولیت، له درمحل تولید (کارخانه،انبار وکارگاه) بدسترس مشتری قرار داده ومشتری تمام مصارف تأدیات و ضایعات ناشی از انتقال کالای مورد نظر را متقبل می‌شود.

۲- تحویل اموال در محل تعیین شده (FCA OR FREE ARRIER):

در این نوع خرید، بایع اموال را غرض صدور ازگمرك ترخیص و در محل توافق شده به متصدی حمل و نقل که مشتری معرفی نموده است،تسلیم مینماید .این اصطلاح برای هرنوع حمل و نقل بشمول حیوانات نیز بکار می‌رود.

۳- تحویل اموال در کنار کشتی (FAS OR FREE ALONGSIDE SHIP):

در این نوع خرید، بایع،اموال را در بندریکه بارگیری از آن در کنار کشتی صورت می‌گیرد، اموال را به متصدی حمل و نقل که مشتری وی را معرفی نموده تسلیم می‌نماید. مسئولیت مفقودی و سایر خسارات وارده به اموال، بعد از تسلیمی به

تسلیمی وروسته د بایع په غاړه ندي.

۴- د کشتی په عرشه کې تحویلول (FOB OR FREE ON BOARD):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع مالونه د کشتی په عرشه کې د حمل او نقل متصدي ته چې مشتري معرفي کړی دی، تسلیموي.

۵- د مالونو بیه او د حمل او نقل کرایه (CFR OR COST AND FREIGHT):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع د مرجع تر بندره پورې چې د مخه مشخص شوی دی، د مالونو د رسولو د حمل او نقل لګښتونه په غاړه لري، خو له بایع څخه مشتري ته د هغو له تحویلولو وروسته د ورکېدو او او ښتو زیانونو مسئولیت له بایع څخه مشتري ته لېږدېږي. لدې ټکلارې څخه یوازې د سمندر له لارې د مالونو د حمل او نقل په مورد کې ګټه اخیستل کېږي.

۶- د مالونو بیه، بیمه او د حمل او نقل کرایه

عهدهٔ بایع نمی باشد.

۴ - تحویل درعرشهٔ کشتی (FOB OR FREE ON BOARD):

در این نوع خرید، بایع اموال را در عرشهٔ کشتی به متصدی حمل و نقل که مشتری وی را معرفی نموده، تسلیم می نماید.

۵- قیمت و کرایهٔ حمل ونقل اموال (CFR OR COST AND FREIGHT):

در این نوع خرید، بایع مصارف حمل ونقل اموال را الی مواصلت به بندر مرجع که قبلاً مشخص گردیده بدوش داشته، ولی مسئولیت مفقودی و خسارات وارده به اموال بعداز تحویل آن از بایع به مشتری منتقل میگردد. از این روش صرف در مورد حمل ونقل اموال از طریق بحر استفاده می شود.

۶- قیمت، بیمه و کرایهٔ حمل و نقل اموال

(CIF OR COST, INSURANCE AND FREIGHT):
پدې ډول پېرودنه کې، بایع تر مقصود ځای (تاکل شوي ځای) پورې د مالونو د کرایې او بیمې مسئولیت په غاړه لري.

۷- د مالونو د حمل او نقل ورکړل شوي لګښتونه (CPTOR CARRIAGE PAID TO):
پدې ډول پېرودنه کې، بایع تر تاکل شوي ځای پورې د مالونو د حمل او نقل کرایه، په غاړه لري، له تسلیمي وروسته د ورکېدو او اووښتو زیانونو مسئولیت له بایع څخه مشتری ته لېږد ېږي.پدې تګلاره کې د حیواناتو په شمول د مالونو په هر ډول حمل او نقل کې ګټه اخیستل کېږي.

۸- د مالونو کرایه او د حمل او نقل ورکړل شوې بیمه (CIP OR CARRIAGE INSURANCE AND PAID):
پدې ډول پېرودنه کې، بایع د دې مادې په (۶) جزء کې پر درج شوو مکلفیتونو برسېره د احتمالي زیانونو د پېښېدو په صورت کې، د مالونو بیمه ورکوي.

(CIF OR COST, INSURANCE AND FREIGHT):
در این نوع خرید، بایع مسئولیت کرایه و بیمۀ اموال را الی محل مقصود (محل تعیین شده) بدوش دارد.

۷- مصارف تأدیه شده حمل و نقل اموال (CPT OR CARRIAGE PAID TO):
درایـن نوع خرید، بایع کرایۀ حمل ونقل اموال را الی محل تعیین شده، به عهده دارد، مسئولیت مفقودی و خسارات وارده بعد از تسلیمی از بایع به مشتری منتقل می‌گردد. از این روش در هر نوع حمل و نقل اموال بشمول حیوانات استفاده می‌شود.

۸-کرایه وبیمۀ حمل و نقل پرداخت شدۀ اموال (CIP OR CARRIAGE INSURANCE AND PAID):
دراین نوع خرید، بایع علاوه بر مکلفیت های مندرج جزء (۶) این ماده، بیمۀ اموال را درقبال وقوع خسارات احتمالی پرداخت می نماید.

۹- په پولـــه(ســـرحد) کـې د مـالـونـو تحـــويـــلول (DAF OR DELIVERED AT FRONTIER):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع ترپولې (ټاکـل شـوي ځـای) پـورې ټـول لګښتونه په غـاړه لـري او لـه هغـه وروسته مشتري ته لېږد ېږي. لدې تګلارې څخه د اوسپنې د پټلۍ یا لویې لارې او هغو ته له ورتو څخه په حمل او نقل کې ګټه اخیستل کېږي.

۹- تحـــــويل امـــــوال در ســـــــــرحـــــــد (DAF OR DELIVERED AT FRONTIER):

در ایـن نـوع خریـد ، بـایع تمـام مـصارف امـــوال را الـی سـرحد (محـل تعیـین شـده) بـــدوش داشـــته و بعـد از آن به مشـتری منتـــقل میگردد. ازایـــن روش در حمـــل و نـــقل از راه آهـــن یـا شـاهـــراه وامثـــال آن استـــفاده می‌شـود.

۱۰- لـــه کـــشتۍ څخـــه د مـالـــــونـــو تـــحـــويـــل (DES OR DELIVERED EX SHIP):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع مـالونه د کشتۍ له عرشې څخه په مقصود بندر (ټاکل شوي ځای) کې مشتري ته تحویلوي. د مـالونو تر تحویلۍ پورې له احتمـالي خطرونو څخه د رامنځته شوو زیانونو جبران د بایع په غاړه دی.

۱۰- تحـــــويل امـــــوال از کـــــشـــــتـــــی (DES OR DELIVERED EX SHIP):

دراین نوع خرید ، بایع امـوال را از عرشه کشتی دربندرمقصود(محل تعیـین شـده)بـــه مـشتری تحویـل مـی‌نمایـد .جبـران خـسارات ناشـی ازخطـــرات احتـمـــالی الـــی تـــحویلی امـــوال بـدوش بـــایع می باشد.

۱۱- د ټاکـــل شـــوي بنـــــدر په اسکله کې د مـالـونـو تحـویل (DEQ OR DELIVERED EX QUAY):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع مـالونه لـــه تـرخیص د مخـه د ټاکـل شـوي

۱۱- تحـــــويل امـــــوال در اسـکلۀ بندر تعـیـین شـــده (DEQ OR DELIVERED EX QUAY):

در این نوع خرید ، بایع امـــوال را قبـــل از ترخیـــص برای ورود بـــه

بندر اسکلې ته د وارډ بدو لپاره د مشتري په واک کې ورکوي، د ورکړو، عوارضو او د مالونو په تحویلولو پورې د نورو اړوندو مخارجو په شمول د هغو مسئولیت او لګښتونه، د بایع په غاړه دي.

۱۲- له ترخیص، ورکړو او ګمرکي عوارضو پرته په ټاکل شوي ځای کې د مالونو تحویلول (DDU OR DELIVERED DUTY UNPAID):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع مالونه د هغه هېواد په ټاکل شوی ځای کې چې مالونه ورته وارد ېږي د مشتری په واک کې ورکوي. ګمرک ته تر ننوتو پورې له احتمالي پېښو څخه د رامنځته شوو زیانونو جبران چې مالونو ته پېښېږي، د بایع په غاړه دی.

۱۳- له ترخیص، ورکړو او ګمرکي عوارضو سره په ټاکل شوي ځای کې د مالونو تحویلول (DDP OR DELIVERED DUTY PAID):

پدې ډول پېرودنه کې، بایع، مالونه د ګمرکي پراووونو له تېرولو وروسته، په هغه هېواد کې چې ورته وارد ېږي، د محصول، اسکلۀ بندر تعیین شده بدسترس مشتری قرارداده، مسئولیت ومصارف آن بشمول تأدیات، عوارض وسایر مخارج مربوط به تحویل اموال، بدوش بایع می باشد .

۱۲- تحویل اموا ل درمحل تعیین شده بدون ترخیص، پرداخت ها وعوارض گمرکی (DDU OR DELIVERED DUTY UNPAID):

در این نوع خرید ، بایع اموال را در محل تعیین شدۀ کشوریکه اموال به آن وارد می‌گردد ،به دسترس مشتری قرار می‌دهد . مصارف وجبران خسارات ناشی از حوادث احتمالی که به اموال عاید می‌گردد ،الی دخول به گمرك بدوش بایع می‌باشد.

۱۳- تحویل اموال در محل تعیین شده با ترخیص، پرداخت ها وعوارض گمرکی (DDP OR DELIVERED DUTY PAID):

دراین نوع خرید ، بایع،اموا ل را بعد از طی مراحل گمرکی درکشوري‌که به آن وارد می‌گردد ، با پرداخت تمام

مـالیاتو او نـورو ګمرکـي عوارضـو په شمول د ټولو ورکړو او لګښتونو پـه ورکولـو سره د مـشتري پـه واک کې ورکوي. په ټاکل شوي ځای کې مـشتري تـه د مـالونو لـه تحویلولـو وروسته، له احتمالي پېښو څخه د رامنځته شوو زیانونو جبران او نور لګـښتونه، پـه مـشتری پـورې اړه مومي.

د مـالونو د واردوونکو مکلفیت دیارلسمه ماده:

د مـالونو واردوونکي مکلـف دي، د سـالمو ګمرکي اجراآتو په منظور، د اړونـــدو وارداتـــي مـــالونو د پېرودنـې او پلـورنې پروسـه، پـدې مقـرره کـې د درج شـوو تګـلارو مطابق عیاره کړي.

تأدیـــات و مـــصارف بـــشمول محـــصول، مـــالیات و ســـایر عـوارض گمرکـی مـی پـردازد، بـه دسـترس مـشتری قـرار مـــیدهد. جبـران خـسارات ناشـی ازحـوادث احـــتمالی و ســـایر مصارف بعد از تحـویلی امـوال در محـل تعیـین شـــده بـــه مـــشـــتری تـــعلق می‌گیرد.

مکلفیت وارد کنندگان اموال مادۀ سیزدهم:

وارد کننده گان امـوال مکلف اند، بـه منظـور اجـراآت سـالم گمرکـی، پروسۀ خرید وفروش اموال وارداتی مربـــوط را مطـــابق روش هـــای منـــدرج احکـــام ایـــن مقـــرره عیارنمایند.

څلورم فصل
د ګمرکي بیې په ټاکلو کې غیر مجاز موارد

دنه اعتبار ورې سندونه

(۱) د سوداګریزې معاملې سندونه چې اړخونه ئې یو د بل خپلوان وي، د اعتبار وړ ندي، د مالونو د ګمرکي بیې ټاکل هم پدې مقرره کې د درج شوو میتودونو مطابق صورت مومي.خپلوان پدې منظور د شخص له اصولو او فروعو، پلار، نیکه (بابا)، د زوج یا زوجې له لومړۍ درجې خپلوانو څخه عبارت دي.

(۲) لاندې اشخاص هم د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم تابع دي:

۱- په هغه صورت کې چې بایع یا مشتري دواړه په یوۀ شخص پورې د سوداګرۍ د اړوندو چارو مامور یا آمر وي.

۲- په هغه صورت کې چې اړخونه په سوداګرۍ کې قانوني شریکان وي.

۳- په هغه صورت کې چې اړخونه

فصل چهارم
موارد غیر مجاز در تعیین قیمت گمرکی

اسنادغیر قابل اعتبار

مادۀ چهاردهم:

(۱) اسناد معاملۀ تجارتی که طرفین آن اقارب یکدیگر باشند، مدار اعتبار نبوده، تعیین قیمت گمرکی اموال نیز مطابق میتودهای مندرج این مقرره صورت می‌گیرد. اقارب بدین منظور عبارت از اصول و فروع شخص، پدر، پدرکلان و اقارب درجه اول زوج یا زوجه می باشد.

(۲) اشخاص ذیل نیز تابع حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده می باشند:

۱-در صورتیکه بایع یا مشتری هر دو مامور یا آمر امور تجارت مربوط به یک شخص باشد.

۲-در صورتی‌که طرفین شرکای قانونی در تجارت باشند.

۳-در صورتیکه طرفین استخدام

یـو د بـل اسـتخداموونکی یـا کارمندوي.
۴- په هغه صورت کې چې شخص په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د رأیې د حق لرونکې په سلو کې پنځه یا زیاتې وندې ولري.
۵- په هغه صورت کې چې له هغو څخـه یـو پـه مـستقیمه یـا غیرمستقیمه توګه یو بل کنترول کړي یا د درېیم شخص په واسطه کنترول شي.
۶- په هغه صورت کې چې بایع او مـشتري د یوبـل د سـوداګرۍ، اسـتازی، وېـشونکی یـا امتیـاز ورکوونکی وي.

معاملاتی بیه

پنځلسمه ماده:

کـه چېـرې د پلـورنې او تـرخیص ترمنځ د زمـاني مـودې په تـرڅ کې آزاد دوران تـه مـالونه پـه درېـیم هېواد کې تر ګټې اخیستنې لاندې راغلـي وي، پـدې صـورت کـې د مـالونو ګمرکـي بیـه د هغـو د معـاملاتي بیـې پـر بنسټ تاکـل کېږي.

کننـده یـا کارمنـد یکـدیگر باشند.
۴-در صـورتیکه شـخص طـور مستقیم یا غیر مستقیم پنج فیصد یـا بیـشتر از سهـام واجـد حـق رأی را داشته باشد.
۵-در صورتیکه یکی از آنها طور مستقیم یا غیر مستقیم یکدیگر را کنتـرول نمایـد یـا توسـط شـخص سـوم کنتـرول شود.
۶-در صـورتیکه بـایع و مـشتری نماینـده، توزیـع کننـده یـا امتیازدهنـدۀ تجـارت یکـدیگر باشد.

قیمت معاملاتی

مادۀ پانزدهم:

هرگاه درخلا ل میعاد زمانی بین فروش وترخیص،اموال به دوران آزاد در کشور ثالث مورد استفاده قـرار گرفتـه باشـد، در ایـن صـورت قیـمت گمرکـی امـوال بـه اسـاس قیمت معـاملاتی آن تعـیین می‌گردد.

د مالونو د صادرېدو په غرض د مبالغو تخصیص

شپاړسمه ماده:

هغه مبالغ چې د بایع په واسطه په مستقیم یا غیرمستقیم صورت سره د تولید او پلورنو د وړیا یا ټیټې بیې په ډول وارداتي مالونو د صادرېدو په غرض تخصیص ورکول کېږي، د مالونو د ګمرکي بیې په ټاکلو کې په پام کې نه نیول کېږي، په دې شرط چې د مالونو په ورکړې وړ بیه کې شامل نه وي.

تخصیص مبالغ غرض صدور اموال

مادۀ شانزدهم:

مبالغی که توسط بایع به صورت مستقیم یا غیر مستقیم به شکل رایگان یا قیمت نازل تولید و فروشات غرض صدور اموال وارداتی تخصیص می یابد، در تعیین قیمت گمرکی اموال در نظر گرفته نمی‌شود، مشروط براینکه در قیمت قابل تأدیه اموال شامل نباشد.

د لومړي اظهارکوونکي پر معلوماتو باندې استناد نه کول

اووه لسمه ماده:

که چېرې د مالونو د ګمرکي بیې د ټاکلو لپاره د مؤلد، بایع یا یې د استازو په واسطه د وړاندوشوو معلوماتو برسېره، نور معلومات هم وړاندې شوي وي، ګمرکي کارکوونکي مکلف دي اظهاروونکی له دغه ډول معلوماتو او محاسباتو څخه چې د دغې خبرتیا پر بنسټ یې صورت مونډلی دی خبر کړی.په دې حالت کې وړاندې شوي معلومات، د لومړي

عدم استناد بر معلومات اظهارکنندۀ اولی

مادۀ هفدهم:

هرگاه برای تعیین قیمت گمرکی اموال، علاوه از معلومات ارائه شده توسط مؤلد، بایع یا نماینده گان آنها، معلومات دیگری نیز ارائه گردیده باشد، کارکنان گمرکی مکلف اند اظهار کننده را از منبع چنین معلومات و محاسباتیکه به اساس این اطلاع صورت گرفته مطلع نمایند. در این حالت معلومات ارائه شده توسط اظهارکنندۀ اولی

اظهاروونکي په واسطه د استناد وړ نشي ګرځېدی.

د لګښتونو محاسبه

اتلسمه ماده:

د انجنیري خدمتونو، څېړنو او د صنعتي او هنري کار په تولیداتو کې د نوښتونو، ډیزاین، پلانګذاری او سکېچ لګښتونه چې د وارداتي مالونو د تولید لپاره له افغانستان څخه بهر، سرته رسېدلی وي، له غیر مجاز مواردو څخه نه ګڼل کېږي، د ګمرکي بیې په ټاکلو کې د محاسبې وړ دي.

مورد استناد قرار گرفته نمیتواند.

محاسبه مصارف

مادۀ هجدهم:

مصارف خدمات انجنیری، تحقیقات و نو آوری ها در تولیدات کار صنعتی یا هنری، دیزاین پلانگذاری و سکیج که برای تولید اموال وارداتی در خارج از افغانستان انجام پذیرفته باشد از موارد غیر مجاز پنداشته نشده در تعیین قیمت گمرکی قابل محاسبه می‌باشد.

د بیجک او نورو سندونو وړاندې کول

نولسمه ماده:

(۱) د مالونو د ګمرکي بیې د ټاکلو په منظور، واردوونکی مکلف دی، بیجک او نور اړوند سندونه ګمرکي مامورینو ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې ګمرکي مامورین د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی بیجک او نور وړاندې شوي سندونه غیر واقعي او شکمن

ارائه بیجک و سایر اسناد

مادۀ نزدهم:

(۱) به منظور تعیین قیمت گمرکی اموال، وارد کننده مکلف است، بیجك وسایر اسناد مربوط را به مامورین گمرکی ارائه نماید.

(۲) هرگاه مامورین گمرکی بیجك وسایر اسناد ارائه شدۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده را غیر واقعی ومشکوك تشخیص نمایند،

(مشکوک) تشخیص کړي، کولای شي، د مالونو له واردوونکي څخه زیات معلومات وغواړي او له هغه شک او تردید څخه چې پدې برخه کې وجود لري،هغه خبر کړي. واردوونکی مکلف دی د (۱۰) کاري ورځو په ترڅ کې بیجک او نور واقعي سندونه وړاندې کړي.

می‌توانند معلومات بیشتر را از وارد کنندۀ اموال مطالبه نموده واز شك وتردیدی که در زمینه وجود دارد، وی را مطلع سازد. وارد کننده مکلف است در خلال (۱۰) روز کاری بیجك و سایراسناد واقعی را ارائه نماید.

دمعلوماتو او سندونو وړاندې کول

شلمه ماده:

(۱) اظهاروونکی مکلف دی لاندې معلومات او سندونه د ګمرکي مامورینو د غوښتنې په وخت کې وړاندې کړي:

۱- د مالونو د وړاندې شوې بیې په هکله معلومات یا سندونه.

۲- معلومات او نورهغه سندونه چې د مالونو د ګمرکي بیې د ټاکلو لپاره اړین ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې د مالونو په معاملاتي بیه کې شک او تردید منځته راشي، ګمرکي مامورین کولای شي د واردوونکي په لګښت له پلورونکې کمپنۍ یا لېږدوونکي یا نورو ذیدخلو مراجعو څخه له الکترونیکي

ارائه معلومات و اسناد

مادۀ بیستم:

(۱) اظهار کننده مکلف است، معلومات و اسناد ذیل را حین مطالبۀ مامورین گمرکی ارائه نماید:

۱-معلومات یا اسناد در مورد قیمت ارائه شدۀ اموال.

۲-معلومات و سایر اسنادیکه جهت تعیین قیمت گمرکی اموال ضروری پنداشته می‌شود.

(۲) هرگاه در قیمت معاملاتی اموال شك و تردید به میان آید، مامورین گمرکی می‌توانند از کمپنی فروشنده یا انتقال دهنده یا سایر مراجع ذیدخل با استفاده از وسایل الکترونیکی به مصرف وارد

وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره معلومات وغواړي.

کننده معلومات مطالبه نمایند.

پنځم فصل
متفرقه حکمونه

مجازات
یوویشتمه ماده:

(۱) که چېرې د ګمرک مامور د سپارل شوو دندو په اجراء کې چې د ګمرکونو د قانون او دغې مقررې د حکمونو مطابق د هغو په اجراء کولو مکلف دی، هغو جعلي او مزورو شوو سندونو یا غلطو اظهاراتو یا نورو هغو مواردو ته چې د ګمرکي عوایدو د اتلاف سبب شي، ترتیب اثر ورکړي، یا د خپلو قانوني وجیبو په اجراء کې غفلت وکړي، له احوالو سره سم د جزاء د قانون د حکمونو مطابق د واکمنې محکمې لخوا مجازات کېږي.

(۲) سرغړوونکی مامور، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوې جزاء برسېره د وارد شوي زیان معادل په نغدي جزاء هم محکومېږي.

فصل پنجم
احکام متفرقه

مجازات
مادۀ بیست و یکم:

(۱)هرگاه مامور گمرك در اجرای وظایف محوله که طبق احکام قانون گمرکات واین مقرره به انجام آن مکلف است، به اسناد جعلی و مزور شده یا اظهارات غلط یا سایر مواردی که سبب اتلاف عواید گمرکی گردد، ترتیب اثر داده یا در اجرای و جایب قانونی خویش غفلت نماید ،حسب احوال طبق احکام قانون جزا ازطرف محکمۀ ذیصلاح مجازات می گردد.

(۲)مامورمتخلف علاوه برجزای مندرج فقرۀ (۱) این ماده به جزای نقدی معادل ضرر وارده نیز محکوم می گردد.

د نافذېدو نېټه

دوه ویشتمه ماده:

دغه مقرره د تصویب له نېټې څخه نافـذه او په رسمي جریده کې دې خپره شي.

تاریخ انفاذ

مادۀ بیست و دوم:

ایـن مقـرره از تـاریـخ تـصویب نـافـذ ودر جـریدۀ رسـمی نشر گردد.

مقررۂ حکمیت گمرکی

د ګمرکي حکمیت د مقرري په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو شوري مصوبه

ګڼه: (۳۸)
نېټه: ۱۳۸۴/۱۱/۳

د ګمرکي حکمیت مقرره چې په (۴) فصلونو او (۱۹) مادو کې د وزیرانو شوري لخوا تصویب شوې، منظوره ده.
دغه مقرره د تصویب له نېټې څخه نافذه او په رسمي جریده کې دې خپره شي.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس

مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان در مورد مقررهٔ حکمیت گمرکی

شماره: (۳۸)
تاریخ: ۱۳۸۴/۱۱/۳

مقررهٔ حکمیت گمرکی که به داخل (۴) فصل و (۱۹) ماده از جانب شورای وزیران به تصویب رسیده، منظور است.
این مقرره از تاریخ تصویب نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د ګمرکي حکمیت مقرره

لومړی فصل
عمومي حکمونه

مبني
لومړی ماده:
دغه مقرره د ګمرکونو د قانون د نولسمی او دوه ویشتمی مادی د حکمونو په رڼا کې د ګمرکي حکمیت په واسطه د دواردو شوو اعتراضونو د څېړنې (رسیدګی) د ډول او د هغه د تشکیل، دندو او واکونو د تنظیم په منظور وضع شوې ده.

خپلواکتوب
دوه یمه ماده:
د ګمرکي حکمیت اداره په خپلو اجراأتو کې خپلواکه ده، خپلې دندې په بشپړه ناپلوی او د ګمرکونو د قانون، دغې مقررې او نورو تقنینی سندونو د حکمونو له په پام کې نیولو سره سرته رسوي.

د نوی کتنې غوښتنلیك
دریمه ماده:
د ګمرکي حکمیت اداره، اعتراض په هغه صورت کي څېړي چې

مقررۀ حکمیت گمرکی

فصل اول
احکام عمومي

مبنی
مادۀ اول:
اعلان ته ځواب ویونکی آفر یا وړاندیز ترلاسه نشي، د تدارکاتو څانګه، د موضوع رپوټ ترتیبوي، د تدارکاتو له بدیل لارو څخه په ګټې اخستنې سره، دشرطپانې یا د مشورتي خدمتونو دوړاندیز د غوښتنې دبدلولو په هکله، نوی وړاندیز ترتیب او د منظورۍ لپاره اعطاء امر ته وړاندې کوي.*

د دواطلبۍ اعلان

نهه ویشتمه ماده:

(۱) د مقیدې داوطلبۍ اعلان د شرطپانې د صادرېدو د مودې له پایته رسېدو څخه لږ تر لږۀ (۱۴) کاري ورځې د مخه د داوطلبانو له لست سره خپرېږي او د هغې د دایرېدو دلایل او تاکلې موده هم په اعلان کې درجېږي.

(۲) د مقیدې داوطلبۍ د اجراء په صورت کې، د دې قانون د درویشتمې مادې دحکم مطابق، آفرونه لږ تر لږۀ له دریو داوطلبو څخه غوښتل کېږي.

(۳) پدې قانون کې د داوطلبۍ په درج شوو پراوونو پورې نور اړوند حکمونه، د مقیدې داوطلبۍ د پراوونو په هکله هم

پیشنهاد آفر یا پیشنهاد جوابگو دریافت نگردد، شعبۀ تدارکات، گزارش موضوع را ترتیب و درمورد تغییر شرطنامه یا مطالبۀ پیشنهاد خدمات مشورتی با استفاده از شیوه های بدیل تدارکات، پیشنهاد جدید را ترتیب و جهت منظوری به آمر اعطاء تقدیم می نماید.*

اعلان داوطلبی

مادۀ بیست ونهم:

(۱) اعلان داوطلبی مقید حداقل (۱۴) روز کاری قبل از ختم میعاد صدور شرطنامه با لست داوطلبان نشر و دلایل تدویر آن و مدت معینه در اعلان نیز درج می شود.

(۲) در صورت اجرای داوطلبی مقید طبق حکم مادۀ بیست وسوم این قانون، آفر ها حداقل از سه داوطلب مطالبه می گردد.

(۳) سایر احکام مربوط به مراحل داوطلبی مندرج این قانون در مورد مراحل داوطلبی مقید نیز رعایت

* ماده ۲۸ و ۲۹ تعویض و تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

رعایت کېږي.

شرطپاڼه

دېرشمه ماده:

(۱) شرطپاڼه د شرایطو لرونکو هغو داوطلبانو ته چې د داوطلبۍ د بلنې اعلان ته يې مثبت ځواب ویلی دی، استول یا سپارل کېږي.*

(۲) هغه شرطپاڼه چې د اداري لخوا ترتیبېږي، د داوطلبۍ بنسټ دی او لاندې مطالب لري:

۱- د آفرونو د ترتیب او تسلیمۍ او د هغو د پرانستلو د نېټې او ځای په هکله شرایط.

۲- د دې قانون په څوارلسمه، اووه لسمه او شپږویشتمه ماده کې درج شوي معلومات.

۳- د آفرونو د څېړنې د معیارونو ټاکل.

۴- د تأميناتو د اندازې څرګندول.

۵- د تدارکاتو د اجراء تګلاره او ډول.

۶- د ورکړې وړ وجوهو د ورکولو ډول.

۷- په آفر او ټوله بیه کې، د فیات بیې غوښتنه.

۸- د کیفیت، کمیت، ماهیت د

می گردد.

شرطنامه

مادۀ سی ام:

(۱) شرطنامه به داوطلبان واجد شرایطی که به اعلان دعوت داوطلبی پاسخ مثبت ارائه نموده اند، ارسال یا سپرده می شود.*

(۲) شرطنامۀ که از طرف اداره ترتیب می شود، اساس داوطلبی بوده و حاوی مطالب ذیل می باشد:

۱- شرایط در مورد ترتیب و تسلیمی آفرها و تاریخ و محل باز نمودن آنها.

۲- معلومات مندرج مواد چهاردهم، هفدهم و بیست وششم این قانون.

۳- تعیین معیارهای بررسی آفرها.

۴- توضیح اندازۀ تأمینات.

۵- روش و شکل اجرای تدارکات.

۶- طرز تأدیۀ وجوه قابل پرداخت.

۷- مطالبۀ قیمت فیات در آفر وقیمت مجموعی.

۸- تثبیت مشخصات کیفیت،

* فقره (۱) و اجزاي ۱، ۲، ۴، ۶، ۷ و۸ ماده ۳۰ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

مشخصاتو او د تدارکاتي فعالیت د ډول تشبیتول.

۹- د دې قانون د حکمونو مطابق، د قراردادي د اهلیت معیار.

۱۰- د قراردادي یا اداري د ژمنو په سرته رسېدو کې له ځنډ یا د قرارداد د فسخ څخه له راپیدا شوو مکلفیتونو سره په رابطه کې نه اټکل کېدونکي (فورس ماژور) حالات.*

۱۱- نور هغه معلومات چې د دې قانون یا نمونوي معیاري سندونو دحکمونو مطابق، د تدارکاتي پالیسۍ د اداري لخوا لازم وي.

کمیت، ماهیت و نوع فعالیت تدارکاتی .

۹- معیار اهلیت قراردادی طبق احکام این قانون.

۱۰-حالات غیر مترقبه (فورس ماژور) در رابطه به مکلفیت های ناشی از تأخیر در انجام تعهدات قراردادی یا اداره یا فسخ قرارداد.*

۱۱-سایر معلوماتی که مطابق احکام این قانون یا اسناد معیاری نمونوی توسط ادارۀ پالیسی تدارکاتی لازم باشد.

د شرطپانې څرګندول او د وړاندیزونو غوښتنه

یودېرشمه ماده:

(۱) اداره د شرطپانې د څرګندونې یا وړاندیزونو د غوښتنې په اړه د داوطلبانو غوښتنلیک ته له ځنډ پرته ځواب ورکوي، پدې شرط چې غوښتنلیک د آفرونو یا د وړاندیز د تسلیمۍ د ټاکلې نېټې له پایته رسېدو لږ تر لږۀ (۱۴) کاري ورځې دمخه، د اداري لخوا ترلاسه شوی وي.

(۲) د شرطپانې په هکله د زیاتو

توضیح شرطنامه و مطالبۀ پیشنهادات

مادۀ سی ویکم:

(۱) اداره به درخواست داوطلبان مبنی بر توضیح شرطنامه و یا مطالبۀ پیشنهادات بدون تأخیر پاسخ می‌دهد، مشروط براینکه درخواست حد اقل (۱۴) روز کاری قبل از ختم میعاد معینۀ تسلیمی آفر ها یا پیشنهاد، توسط اداره دریافت گردیده باشد.

(۲) پاسخ به درخواست داوطلبان

* جزء ۱۰ فقره (۲) ماده ۳۰ حذف و جزء ۱۱ فقره (۲) همین ماده به جزء ۱۰ تصحیح و تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

څرګندونو او په هغې کې په لیکلې توګه د تعدیلونو د راوستلو په خاطر، د داوطلبانو غوښتنلیک ته ځواب د (۷) کاري ورځو په ترڅ کې صورت مومي. اداره کولی شي د لزوم په صورت کې د آفرونو د تسلیمۍ تاکلې موده د یو ځل لپاره تمدید کړي.

د آفرونو تسلیمول

دوه دېرشمه ماده:

(۱) د آفرونو د تسلیمۍ نېټه او وخت، د داوطلبۍ داعلان له خپرېدو وروسته له احوالو سره سم له (۷) څخه تر (۹۰) کاري ورځو پورې دی، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول تصریح شوي وي.*

(۲) آفر د دواطلب یا یې د واکمن استازي په واسطه، لاسلیک او له تسلیمۍ دمخه سرغچ کېږي.

(۳) زماني اقل حد موده، په هغۀ صورت کې چې په بین المللي موافقه لیک کې تصریح شوې وي، په پام کې نیول کېږي.

(۴) هغه آفرونه چې له تاکلې نېټې وروسته تسلیمېږي، له پرانستلو پرته مسترد ېږي.

بخاطر توضیحات بیشتر در مورد شرطنامه و وارد نمودن تعدیلات در آن به صورت کتبی در خلال (۷) روز کاری صورت می گیرد. اداره می تواند در صورت لزوم میعاد معینۀ تسلیمی آفرها را برای یک بار تمدید نماید.

تسلیمی آفرها

مادۀ سی ودوم :

(۱) تاریخ و زمان تسلیمی آفرها بعد از نشراعلان داوطلبی حسب احوال از (۷) الی (۹۰) روز کاری می باشد، مگر اینکه در این قانون طور دیگری تصریح شده باشد.*

(۲) آفر، توسط داوطلب یا نمایندۀ با صلاحیت وی امضاء و قبل از تسلیمی سرغچ می گردد.

(۳) میعاد حد اقل زمانی درصورتی که در موافقتنامۀ بین المللی تصریح شده باشد، رعایت می گردد.

(۴) آفر های که بعد از تاریخ معینه تسلیم داده می شود، بدون باز شدن مسترد می گردد.

* فقره (۱) ماده ۳۲ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

د آفرونو پرانستل او ارزونه
دري دېرشمه ماده:

(۱) آفرونه له تسلیمې وروسته په عمومي غونډه کې په لنډ وخت کې د شرطپانې د محتویاتو مطابق، د آفرونو د ارزونې د هیئت په واسطه د داوطلبانو یا یې دقانوني استازو په حضور کې، پرانستل کېږي.

شهرت، آدرس او وړاندیز شوې بیه د ارزونې د هیئت په واسطه د غونډې د پېښلیک په پاڼه کې درج او د ټولو ګډون کوونکو داوطلبانو لخوا لاسلیک کېږي.*

(۲) آفرونه په شرطپاڼه کې تر درج شوې ټاکلې مودې پورې د اعتبار وړ دي، د آفر د اعتبار موده د داوطلب د موافقې پربنسټ اوږدېدی شي، پدې صورت کې د داوطلبې د تأمیناتو موده هم اوږدېږي.

(۳) د ارزونې هیئت، آفرونه پدې ماده او د دې قانون په دېرشمه ماده کې د درج شوو معیارونو پربنسټ، څېړي او مقایسه کوي.

اداره کولی شي د آفرونو په هکله له داوطلب څخه زیات لیکلي معلومات وغواړي او هغه تر غور

بازنمودن وارزیابی آفرها
مادۀ سی و سوم :

(۱) آفر ها بعد از تسلیمی در جلسۀ عمومي به اسرع وقت مطابق محتویات شرطنامه توسط هیئت ارزیابی آفرها در حضور داشت داوطلبان یا نمایندگان قانونی آنها باز می شود.

شهرت، آدرس و قیمت پیشنهاد شده، توسط هیئت ارزیابی در ورق رویداد جلسه درج و توسط تمام داوطلبان اشتراك کننده امضاء می گردد.*

(۲) آفر ها الی مدت معینۀ مندرج در شرطنامه مدار اعتبار می باشد. مدت اعتبار آفر به اساس موافقۀ داوطلب، تمدید شده می تواند، در این صورت میعاد تأمینات داوطلبی نیز تمدید می گردد.

(۳) هیئت ارزیابی، آفرها را به اساس معیارهای مندرج این ماده ومادۀ سی ام این قانون بررسی و مقایسه می نماید.

اداره می تواند در مورد آفرها معلومات کتبی بیشتر را از داوطلب مطالبه و آنرا تحت

* فقره (۱) ماده ۳۳ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود..

لاندې ونيسي.
اداره نشي کولی په آفرونو کې د بدلون په اړه غوښتنه ومني يا د هغو د شرايطو په هکله له داوطلبانو سره خبرې وکړي.
(۴) وړونکی آفر،ځواب ويونکی آفردی چې له ارزونې وروسته، ډېره ټيټه بيه وړاندیز کړي او لاندې موارد پکې په پام کې نيول شوي وي:
۱- د آفر د منل کېدو په اړه د دې قانون د څلور دېرشمې مادې حکمونه.
۲- په شرطپانه کې درج شوي معيارونه.
۳- د فعاليت، داجناسو يا ودانيزو چارو د ساتنې اوڅارنې او ترميم د لګښتونو اټکل، د تسليمی موده، د اجناسو يا ودانيزو چارو مشخصات او د تأمينات و ورکړې ډول او شرايط.
۴- په هېواد کې دننه پرتوليداتو، کارګر، کورنيو موادو، د تکنالوژی او فنی، اداري، علمي او عملي مهارتونو د پرمختيا پر لېږدېدو او د ژوند پر چاپېريال باندې د آفر اغېزې.

غور قرار دهد.
اداره نمی تواند تقاضای مبنی بر تغییر در آفرها را قبول یا در مورد شرایط آن با داوطلبان مذاکره نماید.
(۴) آفر برنده، آفر جوابگوی است که بعد از ارزیابی، نازلترین قیمت را پیشنهاد نموده و موارد ذیل در آن رعایت گردیده باشد:
۱- احکام مادۀ سی وچهارم این قانون در رابطه با قبولی آفر.
۲- معیارهای مندرج شرطنامه.
۳- پیشبینی مصارف فعالیت، حفظ ومراقبت وترمیم اجناس یا امور ساختمانی، میعاد تسلیمی، مشخصات اجناس ویا ساختمانی و طرز تأدیه وشرایط پرداخت تأمینات.
۴- اثرات آفر بر تولیدات ، کارگر، مواد داخلی، انتقال تکنالوژی و انکشاف مهارت های فنی، اداری، علمی و عملی و محیط زیست د رداخل کشور.

(۵) د ارزونې هیئت، د آفرونو حسابي تېروتنې تصحیح کوي.

(۶) هغه آفرونه چې د شرطپانې مشخصات پکې په پام کې نیول شوي نه وي، مسترد ېږي.

(۷) د آفرونو له منل کېدو، د وړونکي داوطلب له غوره کېدلو او د اعطاء آمر له منظورۍ وروسته، د دې قانون د پنځه دېرشمې او دري شپېتمې مادې د حکمونو له په پام کې نیولو سره اجراآت صورت مومي.

د آفر منل

څلور دېرشمه ماده:

(۱) د آفرونو د ارزونې هیئت د آفرونو د ارزونې او مقایسې یا د وړاندیز دغوښتنې په هکله، په شرطپانه کې د درج شوو معیارونو مطابق، رپوټ ترتیبوي او وړونکی داوطلب تشخیصوي. د ارزونې رپوټ داسې تنظیمېږي چې د ځواب ویونکو آفرونو کمي اوکیفي ګټه او ضرر په ځرګنده وښیي اوپه هغۀ صورت کې چې انتقادي نظریې موجودې وي، په هغۀ کې درجېږي.

(۵) هیئت ارزیابی اشتباهات حسابی آفرها را تصحیح می نماید.

(۶) آفرهائی‌که مشخصات شرطنامه در آن رعایت نشده باشد، مسترد می گردد.

(۷) بعد از قبولی آفرها و انتخاب داوطلب برنده و منظوری آمر اعطاء، بانظرداشت احکام مواد سی وپنجم و شصت وسوم این قانون اجراآت صورت می گیرد.

قبول آفر

مادۀ سی وچهارم :

(۱) هیئت ارزیابی آفرها گزارشی را در مورد ارزیابی و مقایسۀ آفرها یامطالبۀ پیشنهاد طبق معیارهای مندرج شرطنامه ترتیب و داوطلب برنده را تشخیص می نماید. گزارش ارزیابی طوری تنظیم می گردد که منفعت و ضرر کمی و کیفی آفرهای جوابگو را به وضاحت نشان داده و درصورتی که نظریات انتقادی موجود باشد، در آن درج می گردد.

(۲) د آفرونو د ارزونې هیئت، د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی رپوټ، د قرارداد د عقد په هکله د تصمیم د نیولو لپاره، د تدارکاتو هیئت ته وړاندې کوي. په هغۀ صورت کې چې د تدارکاتو د هیئت تصمیم د اعطاء آمرمنظوری ته موکول وي، د ارزونې رپوټ د تصمیم د نیولو او منظوری لپاره واکمنې مرجع ته وړاندې کېږي.

(۳) په هغۀ صورت کې چې وړونکی داوطلب په شرطپانه یا د وړاندیزونو په غوښتنه کې د درج شوو شرایطو مطابق، د قرارداد له عقدولو څخه ډډه وکړي، اداره قرارداد له وروستي داوطلب سره چې دآفرونو د ارزونې په درجه بندی کې، د اهلیت لرونکی وي، عقدوي.

(۲) هیئت ارزیابی آفرها، گزارش مندرج فقرۀ (۱) این ماده را جهت اتخاذ تصمیم درمورد عقد قرارداد به هیئت تدارکات ارایه می نماید. درصورتی که تصمیم هیئت تدارکات موکول به منظوری آمر اعطاء باشد، گزارش ارزیابی جهت اتخاذ تصمیم و منظوری به مرجع ذیصلاح تقدیم می گردد.

(۳) در صورتی که داوطلب برنده مطابق شرایط مندرج در شرطنامه یا مطالبۀ پیشنهادات، از عقد قرارداد اجتناب نماید، اداره، قرارداد را با داوطلب بعدی که طبق درجه بندی در ارزیابی آفرها، واجد اهلیت باشد، عقد می نماید.

دمنل کېدو د خبرتیا استول

پنځه دېرشمه ماده:

اداره، وړونکي داوطلب ته د آفر د منل کېدو په اړه خبرتیا، د دې قانون په دري شپېتمه ماده کې د درج شوې خبرتیا له خپرېدو وروسته، وراستوي.

ارسال اطلاعیۀ قبولی

مادۀ سی وپنجم:

اداره، اطلاعیۀ مبنی بر قبولی آفر را به داوطلب برنده بعد از نشر اطلاعیۀ مندرج مادۀ شصت وسوم این قانون ارسال می نماید.

د آفر ردېدل او د تدارکاتي پرڅاوونو فسخ

شپږدېرشمه ماده:

(۱) آفر د دې قانون د حکمونو مطابق، ردکېدلی شي. تدارکاتي اداره د آفرونو د ردولو او د تدارکاتي پرڅاوونو د فسخ کولو په منظور، لاندې واکونه لري:

۱- د ټولو آفرونو ردول د هغو له منل کېدو د مخه.

۲- د عامه ګټو د تأمینېدو په مقصد، د تدارکاتي پرڅاوونو فسخ.

(۲) د ټولو آفرونو د ردېدو او د تدارکاتي پرڅاوونو د فسخ کېدو دلایل، په اړوندو سندونو کې قید او له ځنډ پرته، رسماً داوطلبانو ته ابلاغېږي.

(۳) که چېرې د تدارکاتي پرڅاوونو په اړه تصمیم، د آفرونو د تسلیمې له ټاکلې مودې دمخه صورت ومومي ترلاسه شوي آفرونه پرته لدې چې پرانستل شي، اړوندو داوطلبانو ته مسترد ږېرې.

(۴) اداره، د آفرونو د ردولو یا د تدارکاتي پرڅاوونو د فسخ په صورت کې د داوطلبانو په وړاندې مسئوله نده.

رد آفر و فسخ مراحل تدارکاتی

مادۀ سی و ششم :

(۱) آفرها طبق احکام این قانون رد شده می تواند . ادارۀ تدارکاتی به منظور رد آفر ها و فسخ مراحل تدارکاتی دارای صلاحیت های ذیل می باشد :

۱- رد تمام آفر ها قبل از قبولی آن.

۲- فسخ مراحل تدارکاتی به مقصد تأمین منافع عامه.

(۲) دلایل رد تمام آفر ها و فسخ مراحل تدارکاتی در اسناد مربوط قید و بدون وقفه، رسماً به داوطلبان ابلاغ می گردد.

(۳) هرگاه تصمیم مبنی بر فسخ مراحل تدارکاتی قبل از میعاد معینۀ تسلیمی آفر ها صورت گیرد، آفر های دریافت شده بدون آنکه باز شود، به داوطلبان مربوط مسترد می گردد.

(۴) اداره در صورت رد آفر ها یا فسخ مراحل تدارکاتی، در برابر داوطلبان مسئول نمی باشد.

د وړاندیزونو د غوښتنې پراوونه اووه دېرشمه ماده:

(۱) د مشورتي خدمتونو د وړاندیز غوښتنه، د شرایطو لرونکو تر شپږو تنو په شمېر داوطلبانو ته چې د بلنې اعلان ته یې مثبت ځواب ورکړی وي، استول کېږي، پدې شرط چې د اغېزمنې سیالۍ د تأمینېدو لپاره د مثبتو ځوابونو شمېر، کافي وي. په لست کې د داوطلبانو شاملېدل اود شمېر ټاکل داسې صورت مومي چې د داوطلبانو له جملې څخه د اهلیت لرونکی ډېر نېه داوطلب غوره کېږي. د داوطلب دبلنې اعلان د دې قانون د اوویشتمې مادې د حکم مطابق، داعلان په خپرولو سره صورت مومي. دغه اعلان په اړونده سوداګریزه خپرونه یا تخنیکي یا مسلکي (د چاپې او الکترونیکي) په شمول ژورنال کې خپرېږي. د نظر وړ خدمت د تدارک لپاره د داوطلب د اهلیت معیارونه هم په اعلان کې یاد ېږي.

(۲) دتدارکاتو په پراوونوکې د ګډون اوځواب ویونکو وړاندیزونو دتسلیمولو لپاره داوطلبانو ته په

مراحل مطالبهٔ پیشنهادات

مادهٔ سی و هفتم :

(۱) مطالبهٔ پیشنهاد خدمات مشورتی به تعداد الی شش نفر از داوطلبان واجد شرایط که به اعلان دعوت پاسخ مثبت داده باشند، فرستاده می شود، مشروط براینکه تعداد پاسخ های مثبت برای تأمین رقابت مؤثر، کافی باشد. شمولیت و تعیین تعداد داوطلبان در لست طوری صورت می گیرد که بهترین داوطلب واجد اهلیت از جمله داوطلبان، انتخاب می شود. اعلان دعوت داوطلب طبق حکم مادهٔ بیست وهفتم این قانون با نشر اعلان صورت می گیرد . این اعلان در نشریهٔ مربوط تجارتی یا ژورنا ل های تخنیکی یا مسلکی (اعم از چاپی و الکترونیکی) نشر می گردد. معیارهای اهلیت داوطلب برای تدارك خدمت مورد نظر نیز در اعلان ذکر می گردد.

(۲) معلومات برای داوطلبان جهت اشتراك در مراحل تدارکات و تسلیم پیشنهادات جوابگو شامل

معلوماتو کې لاندې مطالب شامل دي:
۱- کیفیت، موده، موقعیت، کاري حدود، دندې او غوښتل شوې پایلې.
۲- د اړوندو کړنلارو مطابق، د بیو د تعدیل لپاره د تطبیق وړ فورمول په شمول، د وړاندیز په ارزونه او مقایسه کې د ګټې اخستلو وړ معیارونه.
۳- د تدارکاتو په قرارداد کې درج شوي شرطونه او د هغو انفاذ.
۴- د وړاندیزونو د ترتیب او تسلیمۍ او د هغو د ځای او وخت په هکله لارښوونې.
۵- د دې مطلب څرګندول چې وړاندیز، د کیفیت او بیې له په پام کې نیولو سره، یوازې د کیفیت او لږې بیې یا زیات نه زیات په بودجه کې د ټاکل شوې وجهې پربنسټ، ولاړ دی.
۶- د ګټو په تضاد، د تزویر په مخنیوي اود شرایطو لرلو د تداوم لپاره، په نورو موضوعګانو پورې د اړوندو حکمونو ذکر کول.
۷- د کړنلارې او نمونوي معیاري سندونو مطابق، نورې موضوعګانې چې د تدارکاتو د

مطالب ذیل می باشد:
۱- کیفیت، مدت، موقعیت، حدود کاری، وظایف و نتایج تقاضا شده.
۲- معیارهای قابل استفاده در ارزیابی و مقایسه پیشنهاد بشمول فورمول قابل تطبیق برای تعدیل قیم طبق طرزالعمل های مربوط.
۳- شروط مندرج در قرارداد تدارکات وانفاذ آن.
۴- هدایات در مورد ترتیب و تسلیمی پیشنهادات و محل و زمان آن.
۵- توضیح این مطلب که پیشنهاد بانظر داشت کیفیت و قیمت، صرف براساس کیفیت، قیمت کمتر یا حد اکثر وجه تعیین شده در بودجه، استوار می باشد.
۶- ذکر احکام مربوط به تضاد منافع، جلوگیری از تزویر و سایر موضوعات برای تداوم‌واجد شرایط بودن.
۷- سایر موضوعات مطابق طرزالعمل و اسناد معیاری نمونوی که توسط ادارۀ

پالیسۍ د اداري په واسطه تنظیمېږي.

د قرارداد عقدول اود کارکوونکو نه بدلول

اته دېرشمه ماده:

(۱) د قرارداد عقدول له هغۀ داوطلب سره صورت مومي چې وړاندیز یې د غوښتنې په وړاندیز کې درج شوې اړتیاوې او معیارونه په ښه توګه تأمین کړي.

(۲) وړونکی داوطلب نشي کولی، خپل کلیدي کارکوونکي بدل کړي، خو دا چې اړخونه موافقه وکړي چې د تدارکاتي اداري په واسطه د غوره کونې د پړاوونو په غیر موجه ځنډولو سره، له بدلونونو څخه ډډه نشي کېدی یا دا چې بدلونونه د سپارل شوې دندې د موخو د تأمینولو په منظور لازم وي، پدې حالاتو کې کلیدي کارکوونکي د هغو کارکوونکو پرځای چې په وړاندیز کې یاد شویدي، د ځای پر ځای کېدو په منظور، د مساوي یا له هغو څخه د ښه اهلیت لرونکي وي.

پالیسی تدارکات تنظیم می گردد.

عقد قرارداد و عدم تعویض کارکنان

مادۀ سی و هشتم :

(۱) عقد قرار داد با داوطلبی صورت می گیرد که پیشنهاد وی نیازمندی ها و معیارهای مندرج در مطالبۀ پیشنهادرا به وجه احسن تأمین نماید.

(۲) داوطلب برنده نمی تواند، کارکنان کلیدی خود را تعویض نماید، مگر اینکه طرفین موافقه نمایند که تأخیر غیر موجه مراحل انتخاب توسط ادارۀ تدارکاتی، تغییرات را اجتناب ناپذیر می سازد یا اینکه تغییرات به منظور تأمین اهداف وظیفۀ محوله لازم باشد، در این حالات کارکنان کلیدی که به منظور جانشین شدن کارکنان که در پیشنهاد، ذکر گردیده، دارای اهلیت مساوی یا بهتر از آنها باشند.

مغلقو تدارکاتو ته د داوطلبانو بلنه

نهه دپرشمه ماده:*

(۱) اداره کولی شي، د مغلقو تدارکاتو لپاره د ښي لاړې چارې د موندلو په منظور، داوطلبانو ته د مقدماتي شرطپانې مطابق، د مقدماتي مشاورې په غرض، په لاندې مواردو کې بلنه ورکړي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د خپلو تدارکاتي ضرورتونو لړې کوونکو اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د برابرولو او تدارک د اړتیاوو په اړه دلایل او څرګندونې وړاندې نکړي شي او د خپلو اړتیاوو د لړې کولو په هکله، د وړاندیز د ترلاسه کولو په هکله، د وړاندیز د ترلاسه کولو غوښتونکې وي یا د ودانیزو مالونو د تخنیکي اوصافو له مخې او یا نظر د خدمتونو ماهیت ته، اداره له داوطلبانو سره د دې قانون د څلېریشتمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، مشوره کوي.

۲- په هغۀ صورت کې چې تدارکات، په څېړنیزو، پرمختیایي مطالعاتو او مطالعاتي ازمېښتونو

دعوت داوطلبان درتدارکات مغلق

مادۀ سی ونهم:*

(۱) اداره می تواند، به منظور دریافت طریقۀ بهتر جهت تدارکات مغلق، داوطلبان را طبق شرطنامۀ مقدماتی غرض مشاورۀ مقدماتی درموارد ذیل دعوت نماید :

۱-درصورتی که دلایل وتوضیحات مبنی برضروریات تهیه وتدارك اجناس، خدمات وامورساختمانی رفع کنندۀ نیازمندی های تدارکاتی خود را ارائه کرده نتواند وخواهان دریافت پیشنهاد درمورد بررسی راه های مختلف برطرف نمودن نیازمندی های خود باشد یا بنابر اوصاف تخنیکی اموال ساختمانی ویا نظر به ماهیت خدمات ، اداره با داوطلبان طبق حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ بیست وچهارم این قانون مشوره می نماید.

۲- درصورتی که تدارکات، مربوط مطالعات تحقیقاتی، انکشافی وآزمایش های مطالعاتی

* ماده ۳۹ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

پورې اړوند وي، خو دا چې مالونه سوداګریز ارزښت ولري او یا د پرمختیاوو د څېړنو د لګښتونو د جبران لپاره په کافي کمیت سره تولید شي.

(۲) له داوطلبانو سره دمقدماتي مشاورې په پړاو کې د اجناسو، د خدمتونو د تدارک او د ودانیزو چارو تخنیکي مشخصات، کیفیت او نور مشخصات، د تدارکاتو د قرارداد شرایط او مندرجات او د لزوم په صورت کې د داوطلبانو لیاقت اومسلکي او تخنیکي اهلیت په شرطپاڼه کې درجېږي.

(۳) اداره کولی شي، تخنیکي شرایط یا د قرارداد شرایط، د مقدماتي مشاورې د پړاو په پای کې، په شرطپاڼه کې نهایي کړي.

(۴) د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوې شرطپاڼه یوازې هغو داوطلبانو ته چې وړاندیز یې رد شوی ندی، په داوطلبی کې د ګډون په غرض استول کېږي او د تدارکاتو په پړاوونو پورې اړوند حکمونه، په پام کې نیول کېږي.

باشد، مگراینکه اموا ل حایز ارزش تجارتی و یا به کمیت کافی برای جبران مصارف تحقیقات انکشافات تولید گردد.

(۲) درمرحلۀ مشاورۀ مقدماتی با داوطلبان ،مشخصات تخنیکی،کیفیت وسایر مشخصات اجناس، تدارك خدمات وامور ساختمانی، شرایط ومندرجات قرارداد تدارکات ودرصورت لزوم لیاقت واهلیت مسلکی وتخنیکی داوطلبان درشرطنامه درج می گردد.

(۳) اداره می تواند، شرایط تخنیکی یا شرایط قرارداد را درختم مرحلۀ مشاورۀ مقدماتی درشرطنامه نهائی نماید .

(۴) شرطنامۀ مندرج فقرۀ (۲) این ماده صرف به داوطلبانی‌که پیشنهاد آنها رد نگردیده، غرض اشتراك درداوطلبی ارسال واحکام مربوط به مراحل تدارکات رعایت می شود.

بنسټیز تدارکات او د امتیازونو ورکول

څلوېښتمه ماده:

په ودانیزو چارو، د عامه چارو او نورو عامه مالونو د چارو د پرمخبیولو او د خدماتي امتیازونو د ورکړې په اړه د خصوصي پانګې اچونې په ارتباط د قراردادونو سپارل د ځانګړې کړنلارې مطابق او د لاندې اصولو له په پام کې نیولو سره صورت مومي:

۱- په تدارکاتي پراوونو کې چې د قرارداد په عقد کېدو پای ته رسېدلي وي، د داوطلبانو د اهلیت د دمخه ارزول.

۲- د اتحادیو (کنسرسیومونو) د ګډون اجازه.

۳- د دې قانون د حکمونو مطابق، د قرارداد د عقدولو پر وخت د مذاکرو د سرته رسولو په صورت کې د وړاندیزونو د غوښتنې د ډول او د شفافیت د تأمینېدو په هکله، د ځانګړو حکمونو په پام کې نیول.

۴- د تخنیکي او مالي چارو د څېړلو لپاره د ځانګړو معیارونو تثبیتول.

۵- د هغو استثنایي شرایطو

تدارکات زیربنا و اعطای امتیازات

مادۀ چهلم:

سپردن قراردادها مبنی بر سرمایه گذاری خصوصی در امور ساختمانی، پیشبرد امور عامه و سایر اموال عامه وقراردادهای مبنی بر اعطای امتیازات خدماتی، طبق طرزالعمل خاص و با رعایت اصول ذیل صورت می گیرد:

۱- ارزیابی قبلی اهلیت داوطلبان در مراحل تدارکاتی که به عقد قرارداد منتج گردیده باشد.

۲- اجازۀ اشتراك اتحادیه ها (کنسرسیوم ها).

۳- رعایت احکام خاص در مورد نحو تقاضای پیشنهادات و تأمین شفافیت در صورت انجام مذاکرات حین عقد قرارداد مطابق احکام این قانون.

۴- تثبیت معیار های خاص برای بررسی امور تخنیکی و مالی.

۵- تشخیص شرایط

تشخیصول چې په هغو کې له سیالۍ پرته د قرارداد عقدول مجاز وي.
۶- هغو وړاندیزونو ته رسیدګي چې د تدارکاتو د اداري له بلنې پرته رسېږي، نو خصوصي سکتور وهڅول شي او په ترڅ کې ئې سیالي او شفافیت تأمین شي.

پنځم فصل
تضمینونه

د تضمینونو ډولونه
یو څلوېښتمه ماده:
(۱) لاندې تضمینونه له داوطلبانو څخه اخستل کېږي:
۱- د آفر تضمین.
۲- د قرارداد د اجراء تضمین.
۳- د دمخه ورکړې تضمین.
(۲) اړونده اداره تضمینونه ثبت اوساتي او له تمدید څخه یې تصدیق کوي.
(۳) هغه مواد چې د تضمینونو اخیستل نه ایجابوي، په اړونده کړنلاره کې اټکل کېږي.

استثنائی که در آن عقد قرارداد بدون رقابت مجاز باشد.
۶- رسیدگی به پیشنهاداتی که بدون دعوت ادارۀ تدارکات مواصلت می ورزد تا سکتور خصوصی تشویق و در ضمن رقابت و شفافیت تأمین گردد.

فصل پنجم
تضمینات

انواع تضمینات
مادۀ چهل ویکم:
(۱) تضمینات ذیل از داوطلبان اخذ می گردد:
۱- تضمین آفر.
۲- تضمین اجرای قرارداد.
۳- تضمین پیش پرداخت.
(۲) ادارۀ مربوط، تضمینات را ثبت و نگهداری نموده و از تمدید آن تصدیق می نماید.
(۳) مواردیکه ایجاب اخذ تضمینات را نمی نماید، در طرز العمل مربوط پیشبینی می گردد.

د آفر تضمینونه

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) د تدارکاتو د قرارداد د عقد په اړه د داوطلب دمکلفیت له پوره کېدو څخه د ډاډ د ترلاسه کېدو په منظور، د آفر تضمینونه په شرطپانې کې درجېږي.

د آفر د تضمین لپاره لازمه وجه (د آفر د بیې د فیصدی له په پام کې نیولو پرته د شرطپانې مطابق)، د یوې اندازې تاکلو پیسو په ډول مشخصېږي. تضمین د نغدو پیسو یا بانکي تضمین یا د لېتر آف کرېدت د پرانستلو، د غیر منقول ملکیت د رهن په شمول د هغۀ د معادل سندونو په توګه نورو ډولونو چې د اداري دمنلو وړ وي، وړاندې کېدی شي.*

(۲) د وړونکي داوطلب د آفر تضمین، د هغۀ د قرارداد د اجراء په تضمین، کې محاسبه کېدی شي.

(۳) د آفر تضمین، د شرطپانې د مندرجاتو له په پام کې نیولو سره په لاندې احوالو کې د استرداد وړ ندی:

۱- د آفر بدلون یا له هغۀ څخه

تضمینات آفر

مادۀ چهل ودوم :

(۱) به منظور حصول اطمینان از ادای مکلفیت داوطلب مبنی بر عقد قرار داد تدارکات تضمینات آفر در شرطنامه درج می گردد.

وجه لازم برای تضمین آفر (بدون نظرداشت فیصدی قیمت آفر) به حیث یك مقدار پول معین طبق شرطنامه مشخص می شود. تضمین بشکل پول نقد یا تضمین بانکی یا اسناد معادل آن شامل افتتاح لیترآف کریدت، رهن ملکیت غیر منقول یا سایر اشکالی که مورد قبول اداره باشد، ارائه شده می تواند.*

(۲) تضمین آفر داوطلب برنده به تضمین اجرای قرارداد وی محاسبه شده می تواند.

(۳) تضمین آفر با رعایت مندرجات شرطنامه در احوال ذیل قابل استرداد نمی باشد:

۱- تغییر یا انصراف از آفر

* فقره (۱) ماده ۴۲ تعدیل، فقره (۲) همین ماده حذف و فقره (۳) به جاي فقره (۲) تصحیح گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

انصراف، د هغۀ د تسلیمۍ د ټاکلې مودې له تېرېدو وروسته.
۲- د آفر په پاڼه کې د حسابي تېروتنو له تصحیح څخه د داوطلب انکار.
۳- د وړونکي داوطلب لخوا، د شرطپاڼې مطابق، د تدارکاتو د قرارداد له عقد څخه ډډه کول.
۴- د وړونکي داوطلب لخوا، د شرطپاڼې مطابق، د قرارداد د اجراء د تضمین نه برابرول.
۵- د داوطلب لخوا د هغۀ له اهلیت سره په رابطه کې د کاذبو معلوماتو وړاندې کول.

بعد از انقضای مدت معینۀ تسلیمی آن.
۲- انکار داوطلب از پذیرش تصحیح اشتباهات حسابی در ورق آفر.
۳- اجتناب از عقد قرار داد تدارکات مطابق شرطنامه از طرف داوطلب برنده.
۴- فراهم نکردن تضمین اجرای قرارداد مطابق شرطنامه از طرف داوطلب برنده .
۵- ارایۀ معلومات کاذب از طرف داوطلب در رابطه به اهلیت آن .

د قرارداد د اجراء تضمینونه

دري څلوېښتمه ماده:

(۱) له قرارداد څخه د راپیدا شوو مکلفیتونو د تأمینېدو لپاره، د وړونکي داوطلب د تضمین ډول، موده او اندازه په شرطپاڼه او د غوښتنې په وړاندیز کې درجېږي.
(۲) د قرارداد له ختمېدو او د قراردادي د ژمنو له پوره کېدو وروسته، د قرارداد د اجراء تضمین او دکار د پرمختګ له ورکړې څخه پاتې مبالغ، قراردادي ته مسترد ېږي.

تضمینات اجرای قرارداد

مادۀ چهل وسوم:

(۱) نوعیت، مدت و اندازۀ تضمین داوطلب برنده جهت تأمین مکلفیت های ناشی از قرارداد در شرطنامه یا در مطالبۀ پیشنهاد درج می گردد.
(۲) بعد از ختم قرار داد وایفای تعهدات قراردادی، تضمین اجرای قرارداد و مبالغ باقیمانده از پرداخت پیشرفت کار، به قرار دادی مسترد می شود.

د دمخه ورکړې تضمینونه څلور څلوېښتمه ماده:

هغه قراردادي چې د خپلو ژمنو د پوره کېدو لپاره، د تدارکاتو د قرارداد له مخې د دمخه ورکړې مبلغ له اداري څخه ترلاسه کوي، مکلف دی، د قرارداد له شرایطو څخه د سرغړونې یا د شرطپانې د نه په پام کې نیولو په صورت کې د دمخه ورکړې د مبلغ له بېرته ورکړې څخه د راپیدا شوو مکلفیتونو د تأمینېدو په منظور، تضمین برابر کړي.

د دمخه ورکړې تضمین د ورکړو له کسر وروسته محاسبه او قراردادي ته مسترد ېږي.

تضمینات پیش پرداخت

مادۀ چهل وچهارم :

قراردادی ایکه به منظور ایفای تعهداتش مبلغ پیش پرداخت را به تأسی از قرارداد تدارکات از اداره حصول می نماید ، مکلف است تضمینی را جهت تأمین مکلفیت های ناشی از بازپرداخت مبلغ پیش پرداخت درصورت تخطی از شرایط قرارداد یا عدم رعایت شرطنامه، فراهم نماید .

تضمین پیش پرداخت بعد از کسر پرداخت ها محاسبه و به قراردادی مسترد می گردد.

د تأمیناتو لپاره بدیل تدبیرونه پنځه څلوېښتمه ماده:

(۱) د تدارکاتو د پالیسۍ اداره کولی شي، د لزوم په صورت کې د وړو خصوصي تشبثاتو او نورو انفرادي اشخاصو د هڅونې په منظور، د تدارکاتي قراردادونو په عقدولو سره، له هغوی سره د آفر د تأمیناتو یا د تضمین د بدیل په برابرولو کې مرسته وکړي.

پدې منظور، د بدیل تأمیناتو

تدابیر بدیل برای تأمینات

مادۀ چهل وپنجم:

(۱) ادارۀ پالیسی تدارکات می تواند ، در صورت لزوم به منظور تشویق تشبثات خصوصی کوچك وسایراشخاص انفرادی با عقد قراردادهای تدارکاتی، آنها را در فراهم نمودن تأمینات آفر یا بدیل تضمین کمك نماید .

تدابیر بدیل تأمینات بدین

تدبیرونه، د ورکړو د زمانې مودې له بدلون یا د کار د پرمختګ د ورکړو له قسمي ساتنې څخه عبارت دي.

(۲) اداره کولی شي، د تدارکاتو د قرارداد د شرایطو له په پام کې نیولو سره، دکار پرمختګ له ورکړو څخه په سلو کې د لسو معادل، د قراردادي دمکلفیتونو د ترسره کېدو د تأمین لپاره، وضع کړي، پدې صورت کې وضع شوې پیسې د اماناتو په خاص حساب کې چې د مالیې وزارت لخوا ټاکل کېږي، لېږدول او ساتل کېږي.

منظور عبارت از تغییر میعاد زمانی تأدیات یا حفظ قسمی پرداخت های پیشرفت کار می باشد.

(۲) اداره می تواند، با رعایت شرایط قرارداد تدارکات معادل ده فیصد از پرداخت های پیشرفت کار را جهت تأمین ایفای مکلفیت های قراردادی وضع نماید، در این صورت پول وضع شده به حساب خاص امانات که توسط وزارت مالیه تعیین می گردد، منتقل و نگهداری می شود.

شپږم فصل
د قراردادونو د چارو تنظیم

فصل ششم
تنظیم امور قرارداد ها

معیاري فورمونه
شپږځلورښتمه ماده:

د تدارکاتو قرارداد، د دې قانون په شپږمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، د قرارداد له فورمونو څخه په ګټې اخستنې سره ترتیب یا دهغو خاصو تدارکاتي پراوونو په پام کې نیولو سره چې لاندې مطالب لري، برابرېږي:

فورم های معیاری
مادۀ چهل وششم:

قرار داد تدارکات، طبق حکم مندرج مادۀ ششم این قانون با استفاده از فورم های معیاری قرارداد ترتیب یا بانظرداشت شرایط مراحل تدارکاتی خاص که حاوی مطالب ذیل می باشد، تهیه می گردد :

۱- د متعاقدینو بشپړ شهرت او آدرس.
۲- د لومړیتوب (اولویت)په ترتیب د قرارداد د سندونو فهرست.
۳- د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د برابرولو او تدارک مشخصات او معیارونه.
۴- د اجناسو کمیت یا شمېر یا دخدمتونو د تدارک یا د ودانیزو کارونو حجم.
۵- د تدارکاتو د تسلیمۍ ځای، وخت او نور شرایط.
۶- د لزوم په صورت کې تأمینات یا بانکي تضمین.
۷- د نه اټکل کېدونکو (فورس ماژور) پېښو د پېښېدو په صورت کې، له ځنډ څخه راپیدا شوي مسئولیتونه.
۸- (د پروژې د ګرنټي) تضمین.
۹- د شخړو د حل د څېړنې دمرجع ټاکل، پر قرارداد باندې د نافذ قانون تطبیق او نورې حقوقي او قانوني موضوعګانې.
۱۰- پدې قانون کې نور درج شوي مطالب او موارد چې قرارداد ته صراحت ورکړي.

۱- شهرت مکمل و آدرس متعاقدین.
۲-فهرست اسناد قرارداد به ترتیب تقدم (اولویت).
۳- مشخصات ومعیارهای تهیه و تدارك اجناس، خدمات و امور ساختمانی.
۴- کمیت یا تعداد اجناس یا تدارك خدمات یا حجم کار های ساختمانی.
۵- محل، زمان و سایر شرایط تسلیمی تدارکات.
۶- درصورت لزوم تأمینات یا تضمینات بانکی .
۷- مسئولیت های ناشی از تأخیر در صورت وقوع حوادث غیرمترقبه (فورس ماژور).
۸- تضمین(گرنتی پروژه).
۹- تعیین مرجع رسیدگی حل منازعات، تطبیق قانون نافذ بر قرارداد وسایر موضوعات حقوقی وقانونی.
۱۰- سایر مطالب مندرج در این قانون وموارديکه قرارداد را صراحت بخشد.

بیه اېښودنه

اووه څلوېښتمه ماده:

(۱) د تدارکاتو په قرارداد کې بیه، د فـي کمیـت د واحـد پـه ډول یـا قـرارداد د ټولې یـا یـوې برخې لـه اجراآتـو څخـه د راپیـدا شـوې ټولې بیې په ډول، درجېرې، خـو دا چې بیه اېښودنه د دې قانون د حکمونو مطابق، بل ډول تجویز شوې وي.

(۲) لنډ مهاله بیه (لومړنی بر آورد) پـه تـدارکاتي قـرارداد کـې ټاکـل کېدی شي، پدې شرط چې د بیې د ټـاکلو ډول، د لنـډ مهـالې بیـې اېـښودنې تثبیـت او ورځخـه ګټـه اخیـستل، د تـدارکاتو پـه سـندونو کې درج شوي وي.

(۳) پـه تـدارکاتي قـرارداد کـې، پـه ټاکلي وخت د تدارکاتو د تسلیمې پـه صـورت کـې د امتیـازونو د ورکولـو، د کیفیـت د ښـه والـي، د لګښتونو د راټیټولو موضوعګانې او پـه اجراآتـو پـورې اړونـد نـور عوامل درجېدی شي.

د قرارداد دبیو تعدیل

اته څلوېښتمه ماده:*

(۱) پـه تـدارکاتي قـرارداد کـې چې داعتبار موده یې لـه (۱۲) میاشتو

قیمت گذاری

مادۀ چهل وهفتم:

(۱) در قـرار داد تـدارکات، قیمـت بشکل فی واحد کمیت یـا بشکل قیمـت مجمـوعی ناشـی از اجراآت یك بخش یا تمام قرار داد درج می گـردد، مگـر اینکـه قیمـت گـذاری طبق احکام این قـانون طـور دیگری تجویز شده باشد.

(۲) قیمـــت مـــؤقتی (بـــر آورد ابتـدائی) در قـرار داد تـدارکاتی تعیین شده می توانـد، مشروط بـر اینکـــه طـــرز تعیـــین قیمـــت، تثبیت و استفاده از قیمت گذاری مـــؤقتی در اســـناد تـــدارکات درج گردیده باشد.

(۳) در قـــرار داد تـــدارکاتی موضـوعات اعطـای امتیـازات در صورت تسلیمی تدارکات در زمـان معینـۀ آن، بهبـود کیفیـت، تنزیـل مـــصارف وســـایر عوامـــل مربـوط بـــه اجـــراآت درج شـــده می تواند.

تعدیل قیم قرارداد

مادۀ چهل وهشتم:*

(۱) در قـــرار داد تـــدارکاتی کـــه مـــدت اعتبـــار آن بـــیش از (۱۲)

* ماده ۴۸ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

څخه زیاته وي، په لګښتونو کې د بدلونونو په نسبت، د بیو تعدیل صورت مونډلی شي.

(۲) د بیې د تعدیل په هکله د تصمیم د نیولو وخت، د هغۀ توجیه کوونکي شرایط (د موادو، کارګر او انرژۍ په نرخ کې کموالی یا زیاتوالی)، د بیې د تعدیل د اندازې ټاکونکي فورمولونه او شاخصونه او د بیې په تعدیل پورې نورې تګلارې، په قرارداد کې درجېږي.

(۳) که چېرې د بیې تعدیل د قرارداد له ټاکلې اندازې یا فیصدۍ څخه تجاوز وکړي، قرارداد لغو یا بیا خبرو اترو ته موکول کېږي.

(۴) د قرارداد تعدیل د عاقدینو په واسطه لاسلیک کېږي. تعدیل نشي کولی د قرارداد کیفیت یا بنسټیزو حدودو ته بدلون ورکړي.

(۵) که چېرې د قرارداد تعدیل، د قرارداد ارزښت په سلو کې تر (۲۵) پورې زیات کړي، دغه تعدیل د پولي واک په پام کې نیولو سره د اړوندې کړنلارې مطابق، د اعطاء آمر په واسطه منظورېږي.

ماه باشد، تعدیل قیم نسبت به تغییرات در مصارف صورت گرفته می تواند.

(۲) زمان اتخاذ تصمیم در مورد تعدیل قیمت،شرایط توجیه کنندۀ آن (تزئید یا کاهش درنرخ مواد، کارگر و انرژی) فورمول ها و شاخص های تعیین کنندۀ اندازۀ تعدیل قیمت و سایر روش های مربوط به تعدیل قیمت، در قرارداد درج می گردد.

(۳) هرگاه تعدیل قیمت از اندازه یا فیصدی معین قرارداد تجاوز نماید، قرارداد ملغی یا موکول به مذاکرات مجدد می گردد.

(۴) تعدیل قرارداد توسط عاقدین امضاء می گردد. تعدیل نمی تواند کیفیت یا حدود اساسی قرارداد را تغییر دهد.

(۵) هرگاه تعدیل قرار داد، ارزش قرار داد را الی (۲۵) فیصد افزایش دهد، این تعدیل طبق طرزالعمل مربوط بانظرداشت صلاحیت پولی توسط آمر اعطاء منظور می گردد.

(۶) کـه چېرې تعـديل د قـرارداد د ارزښت په سلو کې له (۲۵) څخه په ډېر زياتوالي تمام شي، دغه تعديل د تدارکاتو د نوو پراوونو تېرول يـا د دې قانون د څلېرېشتمي مـادې د حکم مطابق، لـه واحـدې سرچېنې څخـه د تـدارکاتو منظـوري، ايجابوي.

ورکړې

نهه څلوېښتمه ماده:

ورکـړې اود هغـو دځنډ ېـدو جبـران دتـدارکاتو پـه قـرارداد کې ددرج شوي زماني جدول مطابق، صورت مومي.

دکار د پرمختګ په تناسب ورکړې

پنځوسمه ماده:

(۱) ورکـړې د قـرارداد د اجـراء پـه ټاکلو پراوونو کې د کار دپرمختګ پـه تناسـب د ټـاکلو اجراآتـو د فيصديو د بشپړېدو يا د قراردادي دمکلفيتونو د سرته رسېدو په پام کـې نيولـو سره، پـه قـرارداد کـې درج کېدی شي.

(۲) د تأمينـاتو پـه توګـه د کـار د پرمختګ د ورکړو د فيصدی وضع کول او ساتل، د دې قانون په پنځه څلوېښتمه مـاده کـې د درج شـوي (۶) هرگـاه تعـديل بـه افـزايش بـيش از (۲۵) فيـصد ارزش قـرارداد منـتج شـود، ايـن تعديل طی مراحل جديد تدارکات يـا منظوری تـدارکارت را از منبـع واحد طبق حکم مادۀ بيستوچهارم ايـن قـانون ايجـاب می نمايد.

پرداخت ها

مادۀ چهل ونهم:

پرداخـت هـا و جبـران تـأخير آن طبـق جـدول زمـانی منـدرج در قـرار داد تـدارکات صورت می گيرد.

پرداخت ها به تناسب پيشرفت کار

مادۀ پنجاهم:

(۱) پرداخت ها به تناسب پيشرفت کـار در مراحل معينۀ اجرای قـرار داد بـا نظرداشت تکميل فيصدی هـای اجـراآت معـين يـا انجـام مکلفيـت هـای قـرار دادی، در قـرارداد درج گرديـده می تواند.

(۲) وضـع ونگهـداری فيـصدی پرداخت هـای پيـشرفت کاربحيث تأمينـات طبـق حکـم منـدرج مـادۀ چهـل و پـنجم ايـن قـانون در

حکم مطابق، د کار په قرارداد کې درج کېدی شي.
(۳) دکار په پرمختګ پورې اړوندې ورکړې د هغۀ تصدیق لیک پربنسټ چې د ورکړې شرایط پکې تأیید ېږي، صورت مومي.

د دمخه ورکړې موارد
یوپنځوسمه ماده:
(۱) د تدارکاتو د قرارداد د اغېزمن تطبیق د زمینې د برابرولو په منظور، ددمخه ورکړه، ورکول کېدی شي.
(۲) هغه د دمخه ورکړې چې د تدارکاتو د قرارداد مطابق ورکول کېږي، د لومړني قرارداد د بیې یا په کړنلاره کې د درج شوو نورو فیصدیو په سلو کې له (۱۰) څخه زیاتېدی نشي.
(۳) تر هغۀ وخته چې د دمخه ورکړې تأمینات، د دې قانون په څلور څلوېښتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، برابر نشي، د دمخه ورکړه نه ورکول کېږي، خو دا چې د تدارکاتو په قرارداد کې بل ډول تصریح شوي وي.
(۴) قراردادي ملکف دی هغه مواد، تجهیزات او کاري قوه چې د قرارداد کاردرج شده می تواند.
(۳) پرداختهای مربوط به پیشرفت کار به اساس تصدیقنامۀ که شرایط پرداخت در آن تأیید می شود، صورت می گیرد.

موارد تادیۀ پیش پرداخت
مادۀ پنجاه ویکم:
(۱) به منظور فراهم نمودن زمینۀ تطبیق مؤثر قرار داد تدارکات، پیش پرداخت تأدیه شده می تواند.
(۲) پیش پرداخت های که مطابق قرار داد تدارکات پرداخته می شود، از(۱۰) فیصد قیمت قرار داد ابتدایی یا سایر فیصدی های مندرج در طرزالعمل بیشتر بوده نمی تواند.
(۳) تا زمانیکه تأمینات پیش پرداخت مطابق حکم مندرج مادۀ چهل وچهارم این قانون فراهم نگردد، پیش پرداخت تأدیه نمی شود، مگر اینکه در قرار داد تدارکات طور دیگری تصریح گردیده باشد.
(۴) قراردادی مکلف است، مواد، تجهیزات و نیروی کاری را که با

دمخه ورکړې په پیسو یې برابروي او استخداموي، یوازې د اړوند قرارداد په اجراء کې له هغو څخه ګټه واخلي.

(۵) د دمخه ورکړې، د ورکړې او بېرته ورکړې د شرایطو د پوره کېدلو تابع دي.

محموله

دوه پنځوسمه ماده:

د مالونو د واردېدو په صورت کې، دملکیت د لېږدېدو، ورکېدو د خطر په اړه د مسئولیت د اندازې او مقیاس، تحویلولو (رسولو)، دحمل او نقل د بیمې او په وارداتو او صادراتو پورې د اړوندو تشریفاتو په هکله بین المللي سوداګریز شرایط، د تدارکاتو د قرارداد د مندرجاتو مطابق، تطبیقېږي.

د ودانیزو اجناسو او مالونو پلټنه

دري پنځوسمه ماده:

(۱) د تدارکاتو په قرارداد کې د اداري واک د قراردادي د اجراآتو، د هغو په هکله د څارنې او د رپوټونو د ترلاسه کولو په شمول ټول اړخونه تصریح کېږي.

(۲) قراردادی مکلف دی د پلټنې پول پیش پرداخت تهیه واستخدام می کند صرف در اجرای قرارداد مربوط ازآنها استفاده نماید.

(۵) پیش پرداخت ها، تابع برآورده شدن شرایط پرداخت و بازپرداخت می باشد.

محموله

مادۀ پنجاه ودوم :

در صورت توریدِ اموال، شرایط تجارتی بین المللی در مورد انتقال ملکیت، اندازه ومقیاس مسئولیت به ارتباط خطر مفقودی ، تحویلدهی (رسانیدن)، بیمۀ حمل ونقل و تشریفات مربوط به واردات و صادرات، طبق مندرجات قرار داد تدارکات تطبیق می گردد.

تفتیش اجناس واموال ساختمانی

مادۀ پنجاه وسوم:

(۱)درقرارداد تدارکات، صلاحیت اداره مبنی بر تفتیش تمام جوانب اجراآت قراردادی بشمول نظارت و دریافت گزارشات در مورد آن تصریح می گردد.

(۲) قراردادی مکلف است، تمام

وړ ټـــول ځایونـــه، ودانـــی او کـارکوونکي پـه خپـل لګـښت د اداري پـــه واک کـــې ورکـــړي.
قـراردادي او اداره هـر یـو د خپـل استازي له ګډون څخه را پیدا شوي لګښتونه، په غاړه لري.
(۳) قـــراردادي مکلـــف دی لـــه اهمـا ل څخـه راپیـدا شـوې هـرډول نمیګړتیـاوې او تـشې پـه خپـل لګښت لرې کړي.
(۴) قـراردادي نـشي کـولی عقـد شوی قرارداد لـه ثانی شخص سره قرارداد کړي.*

محـلات، سـاختمان هـا وکارکنـان قابـل تفتـیش را بـه مـصرف خـود بدسترس اداره قرار دهد. قراردادی و اداره هـــر یـــك مـــصارف ناشی از اشتراك نمایندۀ خود را، بعهده دارد .
(۳) قـراردادی مکلـف اسـت، هـر گونـه نـواقص و خـلا هـای ناشـی از اهمـــا ل را بـــه مـــصرف خـــود مرفوع سازد.
(۴) قـرار دادی نمـی توانـد قـرارداد عقـد شـده را بـا شـخص ثـانی قرارداد نماید.*

د فرعي قرارداد عقدول
څلور پنځوسمه ماده:
(۱) قـــراردادي کـــولی شـــي، د قرارداد په سلو کې تر (۲۰) پورې ســـپارل شـــوې دنـــدې، فرعـــي قـراردادي تـه پرېږدي، پدې شـرط چـــې د اداري لیکلـــې موافقـــه ترلاسه کړي.
(۲) د فرعي قرارداد د استخدام په اړه موافقـه پـه هغـۀ صـورت کـې عملـي کېـدی شـي چـې د لـومړي قـــراردادي نـــور مـــسئولیتونه د تـدارکاتو پـه قـرارداد کـې اغېـزمن نـشي او فرعـــي قـــراردادي هـــم د

عقد قرارداد فرعی
مادۀ پنجاه وچهارم :
(۱) قـراردادی مـی توانـد، الـی (۲۰) فیـــصد وظـــایف محولـــۀ قـــرارداد را بـه قـراردادی فرعـی واگـــذار نمایـــد، مـــشروط براینکـــه موافقـــه کتبـــی اداره را حاصل نماید.
(۲) موافقـه مبنـی بـر اسـتخدام قـــراردادی فرعـــی در صـــورتی عملـی شـده مـی توانـد کـه سـایر مسئولیت های قراردادی اولی در قـرارداد تـدارکات متـأثر نگـردد و قـراردادی فرعـی نیـز مکلـف بـه

*فقره (۴) ماده ۵۳ حذف گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

فرعي قرارداد په ارتباط د لومړي قراردادي د عين وجايبو په لرلو مکلف دی.

له پلورنې وروسته خدمتونه
پنځه پنځوسمه ماده:
د تدارکاتو څانګه کولی شي، قراردادي د هغو اجناسو چې له پلورلو څخه د وروسته خدمتونو مستلزم دي، د استهلاک د منځني حد په موده کې د ساتنې او څارنې د ورکشاپونو په جوړولو او د اضافي پرزه جاتو په برابرولو، مکلف کړي.

بیمه
شپږ پنځوسمه ماده:
(۱) د بیمې اندازه او بنسټیز شرایط، د تدارکاتو په اصلي او فرعي قراردادونو کې درجېږي.
(۲) تدارکاتي څانګه کولی شي، هغه بیمه چې د قرارداد د شرایطو مطابق نه وي، رد کړي.

د قرارداد د نقض جبران
اووه پنځوسمه ماده:
د تدارکاتي قرارداد چې لاندې موارد پکې شامل دي، اصلاح او د نقض جبران، په اړوند قرارداد کې

داشتن اهلیت انجام عین وجایب قراردادی اولی در ارتباط به قرار داد فرعی می باشد.

خدمات بعد از فروش
مادۀ پنجاه وپنجم:
شبعۀ تدارکات می تواند، قراردادی را به ایجاد ورکشاپهای حفظ و مراقبت و تهیۀ پرزه جات اضافی در مدت حد اوسط استهلاك اجناسی که مستلزم خدمات بعد از فروش اند، مکلف نماید.

بیمه
مادۀ پنجاه و ششم :
(۱) اندازه وشرایط اساسی بیمه ، در قرارداد های اصلی وفرعی تدارکات درج می گردد.
(۲) شعبۀ تدارکاتی می تواند، بیمه ای را که مطابق شرایط قرارداد نباشد، رد نماید.

جبران نقض قرارداد
مادۀ پنجاه وهفتم:
اصلاح و جبران نقض قرارداد تدارکاتی که شامل موارد ذیل می باشد در قرارداد مربوط

تصریح کېږي:
۱- د نیمګړو اجراآتو ردول.
۲- د نیمګړو اجناسو فوري ایستل یا بدلول او یا د ناقصو اجراآتو ترمیمول یا بدلول.
۳- د ځنډ په صورت کې نغدي جریمې، د دې قانون د اته پنځوسمې مادې دحکم مطابق.
۴- د سرغړونې په علت د قرارداد فسخ کول اود سرغړوونکي په لګښت د بدیلو اجراآتو تدارک.
۵- نور هغه اصلاحات چې د دې قانون د حکمونو یا د قرارداد د مندرجاتو مطابق د تعمیل وړ وي.

د ځنډ جریمه

اته پنځوسمه ماده:

(۱) که چېرې په قرارداد کې د درج شوو ژمنو په سرته رسېدو کې، ځنډ راشي، قراردادي د تدارکاتو د قرارداد دمندرجاتو مطابق، له ځنډ څخه د راپیدا شوي موافقه شوي مبلغ په ورکولو مکلف ګڼل کېږي، د نه ورکړې موارد په هغو قراردادونو کې چې زماني موده د هغو په بشپړېدو کې مهمه نه وي، په اړونده کړنلاره کې اټکل کېږي.
(۲) د ژمنو په سرته رسېدو کې له

تصریح می گردد:
۱- رد اجراآت ناقص.
۲- خروج یا تعویض فوری اجناس ناقص یا ترمیم ویا تعویض اجراآت ناقص.
۳- جریمه های نقدی در صورت تأخیر، مطابق حکم مادۀ پنجاه و هشتم این قانون.
۴- فسخ قرارداد به علت تخلف و تدارك اجراآت بدیل به مصرف متخلف.
۵- سایر اصلاحاتی که مطابق احکام این قانون یا مندرجات قرارداد قابل تعمیل با شد.

جریمۀ تأخیر

مادۀ پنجاه وهشتم:

(۱) هرگاه در ایفای تعهدات مندرج قرارداد، تأخیر صورت گیرد، قراردادی مطابق مندرجات قرارداد تدارکات، مکلف به پرداخت مبلغ موافقه شدۀ ناشی ازتأخیر دانسته می شود. موارد عدم پرداخت در قرارداد های که میعاد زمانی در اکمال آن مهم نباشد، در طرزالعمل مربوط پیشبینی می گردد.
(۲) موارد ناشی از تأخیر

ځنډ څخه راپیدا شوي موارد، په قرارداد کې په لاندې توګه درجېږي:
۱- د زمان د فې واحد (ورځې، اوونۍ یا میاشت) په وړاندې د ورکړې وړ موافقه شوی مبلغ.
۲- د جریمې د مبلغ اکثر حد.
(۳) د نغدي جریمې ورکړه، د قراردادي د نورو ژمنو سرته رسېدل چې په قرارداد کې تصریح شوي دي، نه اغېزمنوي.
(۴) په هغۀ صورت کې چې قرارداد د سرغړونې له امله فسخ شي، تر هغۀ وخته پورې چې اداره، ورته تدارکات ترلاسه کوي، قراردادي د اووښتي زیان د جبران مسئول دی.
(۵) په هغۀ صورت کې چې ځنډ د قراردادي له کنټرول څخه بهر یا د هغۀ له قصور او اهمال پرته صورت مونډلی وي، د ځنډ جریمه د تطبیق وړ نده.

ایفای تعهدات قرار ذیل در قرارداد، درج می گردد:
۱- مبلغ مورد موافقۀ قابل پرداخت در مقابل فی واحد زمان (روز، هفته یا ماه).
۲- حداکثر مبلغ جریمه.
(۳) تأدیۀ جریمۀ نقدی، ایفای سایر تعهدات قرار دادی را که در قرارداد تصریح شده است متأثر نمی سازد.
(۴) در صورتی که قرارداد به اثر تخطی فسخ گردد، الی زمانیکه اداره، تدارکات مشابه را حاصل می‌نماید، قراردادی مسئول جبران خسارۀ وارده می باشد.
(۵) در صورتی که تأخیر خارج از کنترول قراردادی و بدون قصور یا اهمال وی صورت گرفته باشد، جریمۀ تأخیر قابل تطبیق نمی باشد.

دقرارداد پای ته رسېدل اودهغۀ فسخ
نهه پنځوسمه ماده:
د تدارکاتو قرارداد په هغۀ کې د ټولو درج شوو ژمنو او شرایطو په سرته رسېدو سره پای ته رسېږي. هغه حالات چې قرارداد د ژمنو له

ختم قرارداد وفسخ آن
مادۀ پنجاه ونهم:
قرارداد تدارکات با ایفای تمام تعهدات و شرایط مندرج آن خاتمه می یابد. حالاتی که قرارداد قبل ازایفای

سرته رسېدو د مخه پایته رسېږي، په قرارداد کې ذکر کېږي او لاندې موارد پکې شامل دي:
۱- په قرارداد کې د درج شوو ژمنو اوشرایطو له سرته رسېدو څخه دقراردادي دسرغړونې په دلیل د اداري په واسطه، فسخ کول.
۲- د حکومت په واسطه، د عامه ګټو د تأمینېدو په منظور د قرارداد، فسخ.
۳- د نه اړتکل کېدونکو پېښو د پېښېدو له امله په قرارداد کې د درج شوو ژمنو اوشرایطو دسرته رسېدو دنه امکان په علت، فسخ کول.

تعهدات خاتمه می یابد، در قرارداد ذکر گردیده و شامل موارد ذیل می باشد :
۱- فسخ تو سط اداره به دلیل تخطی قراردادی از ایفای تعهدات و شرایط مندرج قرارداد.
۲- فسخ قرار داد به منظور تأمین منافع عامه توسط حکومت.
۳- فسخ به علت عدم امکان ایفای تعهدات و شرایط مندرج قرار داد بالاثر وقوع حوادث غیر مترقبه.

د تصدیق او ورکړې حالات
شپېتمه ماده:
تدارکات د دې قانون په پنځه اتیایمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، معاینه او تصدیقېږي. که چېرې اجناس تسلیم یا خدمتونه سرته رسېدلي یا دکار پرمختګ او بشپړېدل تصدیق او لاسلیک شوي وي، ورکړې صورت مومي.

حالات تصدیق وتأدیه
مادۀ شصتم:
تدارکات مطابق حکم مندرج مادۀ هشتادوپنجم این قانون معاینه و تصدیق می گردد. هرگاه اجناس تسلیم یا خدمات انجام یا پیشرفت و اکمال کار تصدیق و امضأ گردیده باشد، تأدیات صورت می گیرد.

د زیان د جبران د غوښتنې حق
یوشپېتمه ماده:
اداره کولی شي د مقدار یا شمېر د کموالي، ورکېدو، د

حق مطالبۀ جبران خساره
مادۀ شصت ویکم:
اداره می تواند درصورت کم بودن مقدار یا تعداد،

اجناسو، خدمتونو یا ودانیزو چارو د ضایع کېدو یا زیانمنېدو په صورت کې د هغو جبران وغواړي.

مفقود شدن، ضیاع یا وارد شدن خساره به اجناس، خدمات یا امور ساختمانی، جبران آن را مطالبه نماید.

اووم فصل
شفافیت او حساب ورکونه

فصل هفتم
شفافیت و حسابدهی

د شفافیت قواعد

دوه شپېتمه ماده:

(۱) دتدارکاتو د سیستم او پراوونو او هغو ته د علاقمندانو د لاس رسۍ په هکله د مؤثقو معلوماتو د وړاندې کولو په منظور، په لاندې توګه اجراآت صورت مومي:

۱- د تدارکاتو د پالیسۍ اداره د تدارکاتو پر پراوونو باندې د تطبیق وړ ټول تقنیني سندونه په مطبوع یا الکترونیک ډول خپروي.

۲- اداره تدارکاتي پراوونه د ټولیزو رسنیو له لارې او د امکان په صورت کې د انترنټ له لارې خپروي.

۳- اداره د داوطلبانو او عامه خلکو د لاس رسۍ د زمینې د برابرولو په منظور شرطپانه، بلن لیک، غوښتنلیک، د اهلیت،

قواعد شفافیت

ماده شصت ودوم:

(۱) به منظور ارائۀ معلومات مؤثق درمورد سیستم و مراحل تدارکات ودسترسی علاقمندان به آن طور ذیل اجراآت صورت می گیرد:

۱- ادارۀ، پالیسی تدارکات مجموع اسناد تقنینی قابل تطبیق بر مراحل تدارکات را به طور مطبوع یا الکترونیک نشر می نماید.

۲- اداره، مراحل تدارکاتی را از طریق رسانه های همگانی و در صورت امکان از طریق انترنت نشر می نماید.

۳- اداره، به منظور مساعد ساختن زمینۀ دسترسی داوطلبان و عامه مردم، شرطنامه، دعوت نامه، درخواست و رهنمود های

تخنیکـــي شـــرایط، د څېړنـــې د معیـــارونو او د قـــرارداد د شـــرایطو په شـمول په تـدارکاتي پړاو کې د آفرونـو د چمتـو کولـو لپـاره لازم لازمښـــودونه، د دې قـــانون د شپږشپېتمې مادې د حکم له په پام کې نیولو سره خپروي.

۴- اداره دتـــدارکاتي پړاوونـــو پایلې خپروي.

(۲) هغه مراسلات او مراودات چې د اداري او د داوطلـــب تـــرمنځ صـورت مـومي، پـه لیکلـې توګـه ترتیبېږي، خـو دا چې قـانون یـا د تـدارکاتو د پالیـسۍ اداري بـل تجویز نیولی وي.

(۳) د تـدارکاتو په تأمینېدو کې د شفافیت د زیات په پام کې نیولو پـه منظـور، د تـدارکاتي پړاوونـو د ارزوني سندونه او رپوټونه ترتیب او لنـډیز یـې د دې قـانون پـه شـپږ شپېتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، ساتل کېږي.

د قـرارداد د عقـد پـه هکلـه عامـه خبرتیا

دري شپېتمه ماده:

اداره لـه وړونکـي داوطلـب سـره د داوطلبـۍ پـړاو، د وړانـدیزونو لازم بـــرای آمـــاده ســـاختن آفرهـــا در مرحلـــه تـــدارکاتی اعـم از اهلیـت، شـرایط تخنیکـی، معیارهـــای بررســـی و شـــرایط قـــرارداد را بـــا رعایـــت حکم مادۀ شصت و ششم این قـانون نشر می نماید .

۴- اداره، نتـایج مراحـل تـدارکاتی را نشر می نماید.

(۲) مراســـلات و مراوداتـــی کـــه میـــان اداره و داوطلـــب صـــورت مـی گیـرد، بـه شـکل کتبـی ترتیـب مـی گـردد، مگـر ایـنکـه قـانون یـا ادارۀ پالیـــسی تـــدارکات تجـــویز دیگری اتخاذ نموده باشد.

(۳) بـــه منظـــور رعایـــت بیـــشتر شـــفافیت درتـــأمین تـــدارکات، اســـناد وگزارشـــات ارزیـــابی مراحـــل تـــدارکاتی ترتیـــب وخلـــص آن طبـــق حکـــم منـــدرج مـــادۀ شـــصت وششـــم ایـــن قـــانون حفظ می گردد.

اطلاعیـــۀ عـــام در مـــورد عقـــد قرارداد

مادۀ شصت وسوم:

اداره، مرحلـه داوطلبـی، مطالبـۀ پیـــشنهادات وعقـــد قـــرارداد را

غوښتنه او د قرارداد عقدول، د هغۀ د نوم او آدرس او د قرارداد د ټولې بیې په ذکرولو سره، دعامه خبرتیا لپاره، د اعطاء آمر له تصمیم وروسته په ټولیزو رسنیو او انټرنټ کې خپروي.

د څرګندونو د ترلاسه کولو په اړه دنه وړونکو داوطلبانو حق

څلورشپېتمه ماده:

(۱) نه وړونکی داوطلب کولی شي د اهلیت د ارزونې دغوښتنلیک یا آفر د رد په هکله، د رد د دلایلو د څرګندېدو لپاره، اړوندې اداري ته لیکلی غوښتنلیک وړاندې کړي.

(۲) اداره د داوطلب د اهلیت یا آفر د دمخه ارزونې د غوښتنلیک د رد دلایل بې له ځنډه د هغۀ په لګښت ابلاغوي.

د قراردادونو ثبتېدل

پنځه شپېتمه ماده:

د تدارکاتو ټول قراردادونه، له نورو تدارکاتي ادارو څخه د نظر وړ معلوماتو د راټولولو په منظور، د اړوندې کړنلارې مطابق، د مالیې وزارت د قراردادونو په اداره کې ثبتېږي.

با داوطلب برنده، با ذکر اسم و آدرس آن و قیمت مجموعی قرارداد جهت آگاهی عامه بعد از تصمیم آمر اعطاء در رسانه های همگانی وانترنت نشر می نماید.

حق داوطلبان غیربرنده مبنی بر حصول توضیحات

مادۀ شصت وچهارم :

(۱) داوطلب غیربرنده می تواند درمورد رد درخواست ارزیابی اهلیت یا آفر، درخواست کتبی راجهت توضیح دلایل رد به ادارۀ مربوط ارائه نماید.

(۲) ادارۀ دلایل رد درخواست ارزیابی قبلی اهلیت داوطلب یا آفر را بدون تأخیر به مصرف وی ابلاغ می نماید.

ثبت قرارداد ها

مادۀ شصت وپنجم:

تمام قرارداد های تدارکات به منظور جمع آوری معلومات مورد نظر از سایر ادارات تدارکاتی طبق طرزالعمل مربوط در ادارۀ قرارداد های وزارت مالیه ثبت می گردد.

د تدارکاتو سندونه او رپوټونه

شپږم شپېتمه ماده:

(۱) اداره مکلفه ده د تدارکاتو د پراوونو سندونه او رپوټونه چې لاندې مطالب لري، راټول او حفظ کړي:

۱- د تدارکاتو د موضوع شرح.

۲- د ګډون کوونکو داوطلبانو فهرست او د هغو اهلیت.

۳- د آفرونو بیې.

۴- د آفرونو د ارزونې، د ځېرنې د اجراآتو او اړوندو تصمیمونو لنډیز.

۵- د څرګندونو د وړاندې کولو په اړه غوښتنلیک، هغه ته ورکړل شوی ځواب.

۶- (د آفر یا وړاندیز د منل کېدو په صورت کې)له داوطلبې او د مشورتي خدمتونو د وړاندیز له غوښتنې پرته، د تدارکاتو د تګلارې د غوره کولو لپاره د دلیل وړاندې کول.

۷- د دې قانون د شپږم د برشمې مادې د (۲) فقرې د حکم له مخې د تصمیم دنیولو په علت، اړوند معلومات.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي سندونه، د داوطلبانو د

اسناد و راپور های تدارکات

مادۀ شصت وششم:

(۱) اداره مکلف است، اسناد وراپورهای مراحل تدارکات را که حاوی مطالب ذیل می باشد ، جمع آوری وحفظ نماید :

۱- شرح موضوع تدارکات.

۲- فهرست داوطلبان اشتراک کننده و اهلیت آنها.

۳- قیم آفر ها.

۴- خلص ارزیابی آفرها، اجراآت بررسی و تصامیم مربوطه.

۵- درخواست مبنی بر ارائه توضیحات، پاسخ داده شده به آن.

۶- ارائۀ دلیل برای انتخاب شیوۀ تدارکات بدون داوطلبی و مطالبۀ پیشنهاد خدمات مشورتی (در صورت قبول آفریا پیشنهاد) .
(الف) د پېرودنې غوښتنلیک : هغه سند دی چې د تدارکاتو د قانون د (دوولسمې مادې) مطابق د پېرودنې د پراوونو د پیل لپاره ترتیبېږي، د تدارکاتو خاص نمبر پکې درجېږي، ارتیا ور اجناس، خدمتونه او ودانیزې چارې، هغو ته د ارتیا وخت او تخميني بیه په لنډه سره څرګندوي، د واکمن اعطاء آمر منظوري پکې اخستل کېږي.

(ب) د نرخ ورکونې د غوښتنلیک سند: هغه سند دی چې په پرچون پېرودنه کې پلورونکو ته د رقابتي نرخ ورکونې د بلنې لپاره صادرېږي اود ارتیا ور تدارکاتو د اجراء د ډول، د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو، له هغو څخه د رامنځته شوي قرارداد د شرطونو اومندرجاتو په هکله پر لاړښوونو

ضمیمه قانون تدارکات

اسناد تدارکاتی:

(۱) اسناد آتی درمراحل درخواست نرخ دهی (پرچون) وسایرمراحل تدارکاتی مورد استفاده قرار می گیرد:

(الف) درخواست خریداری: سندی است که مطابق (مادۀ دوازدهم) قانون تدارکات برای آغازمراحل خریداری ترتیب می گردد. نمبرخاص تدارکات درآن درج واجناس خدمات وامورساختمانی مورد ضرورت ، زمان ضرورت به آنها وقیمت تخمینی آن را مختصراً توضیح می نماید. منظوری آمر اعطای ذیصلاح درآن درج می گردد.

(ب) سند درخواست نرخ دهی: سندی است که جهت دعوت نرخ دهی رقابتی به فروشندگان در خریداری پرچون صادر می گردد ومشتمل برهدایات درمورد طرزاجرای تدارکات، توضیح اجناس خدمات وامور ساختمانی مورد ضرورت ، شروط ومندرجات قرارداد ناشی

مشتمل وي.

(ج) مؤقت بیجک: هغه سند دی چې د داوطلب په واسطهٔ اداري ته د نرخ د وړاندې کولو په منظور، برابرېږي. البته په هغو حالاتو کې تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي چې اداري د نرخونو د درجولو لپاره داوطلبانو ته فورمه برابره کړې نه وي.

(د) د سوداګریز راجستر سند: هغه سند دی چې د داوطلب په هېواد کې د واکمنې مرجع په واسطه صادرېږي او د سودا ګربزې مؤسسې په توګه د داوطلب د موقف داثبات لپاره، تدارک جوړوي.

له داوطلبانو څخه غوښتل کېدی شي څو یاد شوی سند (نولسمې مادې) دحکم مطابق، برابر کړي.

(هـ) د مالیاتي تصفیې تصدیق لیک: هغه سند دی چې د داوطلب د متبوع هېواد د واکمنو مراجعو په واسطه صادرېږي، او د داوطلب د مالیاتي مکلفیتونو د ترسره کېدو په اړه مدرک جوړوي. له داوطلبانو څخه غوښتل کېدی شي څو (نولسمې مادې) دحکم مطابق، از آن می باشد.

(ج) بیجك مؤقت: سندی است که توسط داوطلب به منظور ارائه نرخ به اداره فراهم می گردد. البته در حالاتی مورد استفاده قرار می گیرد که اداره فورمهٔ را جهت درج نرخ ها به داوطلبان تهیه نه نموده باشد.

(د) سند راجستر تجارتی: سندی است که توسط مراجع ذیصلاح درکشور داوطلب صادر می گردد ومدرکی را برای اثبات موقف داوطلب به حیث مؤسسه تجارتی تشکیل می‌دهد.

ازداوطلبان تقاضا بعمل آمده می تواند تا سند متذکره را طبق حکم (مادهٔ نزدهم) فراهم نمایند.

(هـ) تصدیق نامه تصفیه مالیاتی: سندی است که توسط مراجع ذیصلاح کشور متبوع داوطلب صادر می‌گردد و مدرکی را مبنی بر برآورده ساختن مکلفیت های مالیاتی داوطلب تشکیل می دهد.

ازداوطلبان تقاضا بعمل آمده می تواند تا طبق حکم (مادهٔ نزدهم)

هغه برابره کړي.
(و) بیجک: هغه سند دی چې د قراردادي په واسطه د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د برابرولو او تدارک له بابته دورکړې د غوښتنې لپاره تدارکاتي ادارې ته وړاندې کېږي.
نومورې سند پر لاندې مواردو مشتمل دی:
- د قراردادي نوم او آدرس.
- د قراردادي د مالیې ورکونې تشخیصیه نمبر.
- د بیجک تخصص نمبر.
- د قرارداد نمبر.
- داجناسو، خدمتونو او اړوندو ودانیزو چارو د رسولو لپاره اکمال، څرګندول، نښته او ځای.
- د هغو د فې واحد یا ټوله بیه.
(ز) د تحویل سند: هغه سند دی چې د قراردادي لخوا وړاندې او د اداري د واکمن استازي په واسطه لاسلیک کېږي. نومورې سند د دې د اثبات لپاره چې اداري د قرارداد له مخې لازم اجناس ترلاسه کړي، مدرک جوړوي او پرلاندې مندرجاتو مشتمل دی:
- د قراردادي نوم او آدرس.

آنرا فراهم نمایند.
(و) بیجك: سندی است که توسط قراردادی جهت درخواست پرداخت ازبابت تهیه وتدارك اجناس، خدمات وامور ساختمانی به ادارهٔ تدارکاتی ارائه می گردد.
سندمتذکره مشتمل است بر موارد ذیل:
- نام وآدرس قراردادی .
- نمبرتشخیصیه مالیه دهی قراردادی.
- نمبر مخصوص بیجك.
- نمبر قرارداد.
- توضیح، تاریخ ومحل رسانیدن ویا اکمال اجناس خدمات وامور ساختمانی مربوط.
- قیمت فی واحد یا مجموعی آن.
(ز) سند تحویل: سندی است که توسط قراردادی ارائه وتوسط نماینده ذیصلاح اداره امضاء می گردد. سند مذکور مدرکی را جهت اثبات اینکه اداره اجناس لازم به تأسی از قرارداد را دریافت نموده، تشکیل می دهد ومشتمل برمندرجات ذیل می باشد :
- نام وآدرس قراردادی .

- د رسول شوو اجناسو څرګندونه اوکمیت .
- د هغو د تحویلولو نېټه او موقعیت .
- د اداري نوم.
- د هغې اداري د استازي نوم او لاسلیک چې اجناس ترلاسه کوي.
(ح) د مالونو د رسېد یادښت: هغه سند دی چې د تدارکاتو د څانګې په واسطه د هغې دتحویلخانو په موجودۍ کې د اضافه شوو اجناسو د قید لپاره، صادرېږي.
(ط) د ورکړې سند: هغه سند دی چې د ادارې لخوا برابر او پکې لاربښوونه کېږي څو قراردادي ته پیسې ورکړل شي او پر لاندې مندرجاتو مشتمل دی:
- د قراردادي نوم او آدرس.
- د ورکړې وړ بیجک نمبر.
- پیسې (افغانۍ یا اسعار).
- د ورکړې ټګلاره اونېټه.
- د هغۀ شخص نوم او لاسلیک چې ورکړه منظوروي.

- توضیح وکمیت اجناس رسانیده شده.
- تاریخ وموقعیت تحویل دهی آن.
- اسم اداره.
- اسم وامضاء نماینده اداره که اجناس را دریافت می دارد.
(ح) یادداشت رسید اموال: سندی است که توسط شعبه تدارکات جهت قید اجناس اضافه شده به موجودی تحویلخانه های آن صادر می گردد.
(ط) سند پرداخت : سندی است که توسط اداره تهیه ودرآن هدایت داده می شود تا به قراردادی پول پرداخته شود ومشتمل است برمندرجات ذیل:
- اسم وآدرس قراردادی .
- نمبر بیجك مورد تأدیه.
- پول(افغانی یا اسعاری).
- روش وتاریخ پرداخت.
- نام وامضای شخصی که پرداخت رامنظور می نماید.

د ۱۳۸۷ کال په (۹۵۷) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د تدارکاتو د قانون دځینو موادو دتعدیل، ایزاد اوحذف په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۱۴۶)
نېټه: ۱۳۸۷/۱۰/۲۹

لومړۍ ماده:
د افغانستان د اساسي قانون په نهه اویایمه ماده کې د درج شوي حکم له مخې، د تدارکاتو د قانون د ځینو موادو تعدیل، ایزاد او حذف چې د وزیرانو شوري د ۱۳۸۷/۱۰/۲۸ نېټې د(۴۷) ګڼې مصوبې پربنسټ تأیید شویدي، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، هغې

فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان دربارۀ تعدیل، ایزاد و حذف برخی از مواد قانون تدارکات منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۵۷) سال ۱۳۸۷

شماره: (۱۴۶)
تاریخ: ۱۳۸۷/۱۰/۲۹

مادۀ اول:
به تأسی از حکم مندرج مادۀ هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، تعدیل، ایزاد و حذف برخی از مواد قانون تدارکات را که به اساس مصوبۀ شماره (۴۷) مؤرخ ۱۳۸۷/۱۰/۲۸ شورای وزیران تأیید گردیده است، توشیح می دارم.

مادۀ دوم:
وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی، به آن شورا

شوري ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده:
دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د تدارکاتو د قانون له تعدیل، ایزاد او حذف سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان اسلامي جمهوریت
رئیس

تقدیم نمایند.

مادۀ سوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با تعدیل، ایزاد و حذف قانون تدارکات در جریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د ۱۳۸۷ کال په (۹۵۷) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د تدارکاتو د قانون په ځینو موادو کې د تعدیل، ایزاد اوحذف په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د وزیرانو شوري مصوبه

۱- د تدارکاتو د قانون لومړۍ ماده دې په لاندې متن تعدیل شي:
دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځه اویایمې مادې په څلورم جزء کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، د هېواد له دننه او بهر څخه ادارو، مؤسسو او ګډو شرکتونو ته د اجناسو د برابرولو او د خدمتونو د تدارک او د ودانیزو چارو د سمون د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی.

۲- د تدارکاتو د قانون د درېیمې مادې (۱، ۴، ۵، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۶، ۱۷، ۱۹، ۲۰، ۲۱ او ۲۲) اجزاء دې په لاندې متن تعدیل شي:
۱ جزء- تدارکات: د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو برابرول او تدارک دی چې د اداړې په واسطه یا د قراردادي له لارې د

مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان درمورد تعدیل، ایزاد و حذف در برخی ازمواد قانون تدارکات منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۹۵۷) سال ۱۳۸۷

۱- مادهٔ اول قانون تدارکات به متن ذیل تعدیل گردد:
این قانون با رعایت حکم مندرج جزء چهارم مادهٔ هفتاد وپنجم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به تهیهٔ اجناس و تدارک خدمات و انسجام امور ساختمانی، برای ادارات، مؤسسات و شرکتهای مختلط از داخل و خارج کشور وضع گردیده است.

۲- اجزای (۱، ۴، ۵، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۶،۱۷، ۱۹، ۲۰، ۲۱ و ۲۲) مادهٔ سوم قانون تدارکات به متون ذیل تعدیل گردد:
جزء ۱ - تدارکات: تهیه وتدارک اجناس، خدمات و امور ساختمانی است که توسط اداره یا ازطریق قراردادی

عامه وجوهو په بدل کې صورت مومي.

۴ جزء – آفر: وړاندیز یا نرخ ورکول دي چې د داوطلب په واسطه د اجناسو د برابرولو او د خدمتونو او ودانیزو چارو د تدارک په اړه، د بلنې یا غوښتنلیک په مقابل کې، وړاندې کېږي.

۵ جزء- شرطپاڼه هغه سند دی چې د تدارکاتو د اداري لخوا صادر او په هغۀ کې د اجناسو، خدمتونو(د برابرېدو او تدارک وړ غیر مشورتي)او ودانیزو چارو کمیت، کیفیت او مشخصات او د آفر شرایط او د وړاندې کولو ډول څرګندېږي.

۶ جزء- د نرخ ورکولو غوښتنلیک: هغه سند دی چې د دې قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره د ټیټې بیې لرونکو معیاري اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د نرخ د غوښتنې لپاره وړاندې کېږي.

۱۰ جزء- د تدارکاتو قرارداد: لیکلی موافقه لیک دی چې د تدارکاتو په هکله د تدارکاتي اداري او ژمن ترمنځ عقد کېږي.

در بدل وجوه عامه صورت می گیرد.

جزء ۴ – آفر: پیشنهاد یا نرخ دهی است که توسط داوطلب در مقابل دعوت یا درخواست مبنی بر تهیه اجناس و تدارک خدمات و امور ساختمانی ارائه می گردد.

جزء ۵ – شرطنامه: سندی است که از طرف ادارۀ تدارکات صادر و در آن کمیت، کیفیت و مشخصات اجناس، خدمات (غیر مشورتی قابل تهیۀ و تدارک) وامور ساختمانی وشرائط و طرز ارائۀ آفر در آن توضیح می گردد.

جزء ۶ – درخواست نرخ دهی: سندی است که برای تقاضای نرخ اجناس، خدمات و امورساختمانی معیاری دارای قیمت نازل بانظرداشت احکام این قانون ارائه می گردد.

جزء ۱۰- قرارداد تدارکات: موافقت نامۀ تحریری است که میان ادارۀ تدارکاتی و متعهد در مورد تدارکات عقد می گردد.

۱۱ جزء- د تدارکاتو پړاوونه: هغه تدارکاتي فعالیتونه دي چې د دمخه اهلیت په ارزونې پورې د اړوندو اجراآتو په شمول د تصمیم له نیولو وروسته هغسې چې پدې قانون کې درج شویدي پیل او د قرارداد مطابق د هغو په بشپړېدو سره پای ته رسېږي.

۱۶ جزء- اجناس: د تجهیزاتو، تولیداتو، د جامدو، اوبړن یا ګاز په شکلونو د اومو موادو په شمول د مالونو مختلف ډولونه یا ضمني خدمتونه دي چې د اجناسو د برابرولو لپاره اړین وي، پدې شرط چې د ضمني خدمتونو ارزښت د اجناسو له اصلي بیې څخه زیات نه وي.

۱۷ جزء- داوطلبي: د سیالۍ هغه پړاو دی چې پکې د اجناسو، خدمتونو او ودانیزو چارو د برابرولو لپاره آفر غوښتل، اخستل او ارزول کېږي او په پایله کې له وړونکې داوطلب سره قرارداد صورت مومي.

۱۹ جزء- دتدارکاتو هیئت: د هغې اداري له رئیسانو او نورو مسئولینو څخه جوړ دی چې د دې

جزء ۱۱- مراحل تدارکات: فعالیت های تدارکاتی است به شمول اجراآت مربوط به ارزیابی قبلی اهلیت که بعد از اتخاذ تصمیم طوریکه در این قانون درج گردیده آغاز و با اکمال آن طبق قرارداد خاتمه یابد.

جزء ۱۶- اجناس: انواع مختلف اموال بشمول تجهیزات، تولیدات، مواد خام، اعم از اشکال جامد، مایع یا گاز، یا خدمات ضمنی است که برای تهیۀ اجناس ضروری باشد، مشروط بر اینکه ارزش خدمات ضمنی از قیمت اصلی اجناس بیشتر نباشد.

جزء ۱۷- داوطلبی: مرحلۀ رقابتی است که در آن آفر جهت تهیۀ اجناس، خدمات و امور ساختمانی، درخواست، دریافت و ارزیابی گردیده و در نتیجه با داوطلب برنده عقد قرارداد صورت می گیرد.

جزء ۱۹- هیئت تدارکات: متشکل از رؤسا و سایر مسئولین ادارۀ است که

قانون د حکمونو له په پام کې نیولو سره د تدارکاتو د چارو د تنظیم او پرمخبیولو لپاره د اداري لخوا توظیفېږي.

۲۰ جزء - د تدارکاتو څانګه: هغه څانګه ده چې د دې قانون د حکمونو مطابق، د اړوندې اداري د ټولو تدارکاتو د مدیریت او اداري مسئوله ده.

۲۱ جزء-دکتنې هیئت:له هغو کارکوونکو څخه جوړ دی چې د دې قانون دحکمونو مطابق د تدارکاتو له کمې اوکیفي څرنګوالي څخه دډاډ لپاره داداري لخوا توظیفېږي.

۲۲ جزء - د ارزونې هیئت: له هغو کارکوونکو څخه جوړ دی چې د آفرونو د ارزونې او مقایسې او د هغو د ریوټ د برابرولو په منظور، د اداري لخوا توظیفېږي.

۳- د څلورمې مادې (۳) جزء دې په لاندې متن تعدیل شي:

۳- له هېواد څخه په بهر کې مېشت، د افغانستان د دولتي ادارو تدارکات، د دې قانون په یو نوي- یمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره د مېلمه پا ل هېواد د قواعدو او

بانظرداشت احکام این قانون جهت تنظیم و پیشبرد امور تدارکات، از طرف اداره توظیف می گردد.

جزء ۲۰- شعبهٔ تدارکات: شعبهٔ است که مسئول مدیریت و ادارهٔ تمام تدارکات ادارهٔ مربوط طبق احکام این قانون می باشد.

جزء ۲۱- هیئت معاینه: متشکل از کارکنانی است که جهت اطمینان از چگونگی کمی و کیفی تدارکات طبق احکام این قانون ازطرف اداره توظیف می گردد.

جزء ۲۲- هیئت ارزیابی: متشکل از کارکنانی است که به منظور ارزیابی و مقایسهٔ آفرها و تهیهٔ راپور آن ازطرف اداره توظیف می‌گردد.

۳- جزء (۳) مادهٔ چهارم به متن ذیل تعدیل گردد:

۳ - تدارکات ادارات دولتی افغانستان مقیم خارج کشور بارعایت حکم مندرج مادهٔ نود ویکم این قانون مطابق قواعد و مقررات کشور میزبان صورت می گیرد،

مقرراتو مطابق صورت مومي، خو دا چې په موافقه ليک کې بل ډول تصريح شوي وي.

۴- د څوارلسمې مادې (۳) فقره دې په لاندې متن تعديل شي:

(۳) په تخنيکي مشخصاتو کې د ټاکلو مؤليدينو يا برابروونکو د سوداګريزنوم يا علامې، حق-الاختراع، ډيزاين يا ډول او منشاء يادول مجاز ندي، خو داچې:

۱- د تدارکاتو د اړتياوو د څرګندولو لپاره بله عملي لاره وجود ونلري.

۲- د (دغۀ ډول يا يې معادل) عبارتونه د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوو مشخصاتو کې درج شوي وي.

۵- پنځلسمه ماده دې په لاندې متن تعديل شي:

په برخو باندې وېش

پنځلسمه ماده:

(۱) که چېرې په برخو يا جلا اجزاوو باندې د تدارکاتو د قرارداد تجزيه، له مالي او تخنيکي پلوه تدارکاتي اداري ته زياته ګټه ترلاسه کړي، پدې صورت کې تدارکات په مګر اينکه در موافقتنامه طور ديګری تصريح شده باشد.

۴- فقرۀ (۳) مادۀ چهاردهم به متن ذيل تعديل گردد:

(۳) ذکر نام تجارتی يا علامه، حق الاختراع، ديزاين يا نوع و منشاء مؤلدين يا فراهم کنندگان معين در مشخصات تخنيکی مجاز نبوده مگر اينکه:

۱- راه عملی ديگری برای توضيح ضرورت های تدارکات وجود نداشته باشد.

۲- عباراتی (همچون يامعادل آن) در مشخصات مندرج فقرۀ (۱) اين ماده درج گرديده باشد.

۵- مادۀ پانزدهم به متن ذيل تعديل گردد:

تقسيم به حصص

ماده پانزدهم:

(۱) هرگاه تجزيه قرارداد تدارکات به حصص يا اجزای جداگانه ، از نظر مالی و تخنيکی مفاد بيشتری را برای ادارۀ تدارکاتی عايد نمايد ، در اينصورت تدارکات به

برخو باندې وېشل کېږي او هره برخه جلا مختلفو داوطلبانو ته ورکول کېدی شي، پدې شرط چې دغه اقدام د دې قانون په شپږمه ماده کې د درج شوو تدارکاتو د سیالمنو تګلارو له تطبیق څخه د ډډې کولو په منظور نه وي.

(۲) په جلا برخو د تدارکاتو د وېشلو په صورت کې، لاندې معلومات داوطلبانو ته ورکول کېږي:

۱- د برخو د شمېر او ماهیت په هکله معلومات.

۲- د یوې یا له یوې څخه د زیاتو برخو د آفرونو د تسلیمولو د ډول په هکله معلومات، پدې څرګندونې سره چې آیا د هرې برخې لپاره جلا آفرونه د وړاندې کولو وړ دي؟

۳- د ارزول شوو آفرونو د خورا ټیټ ترکیب له مخې، د قرارداد د عقد د بنسټ په هکله معلومات.

(۳) ټولې برخې یوۀ داوطلب ته هم ورکول کېدی شي، پدې شرط چې پدې ډول د ټولو برخو لپاره ارزول شوی خورا ټیټ آفر، ترلاسه شي.

حصص تقسیم و هر یك از حصص جداگانه به داوطلبان مختلف داده شده می تواند، مشروط بر اینکه این اقدام به منظور اجتناب از تطبیق روش های رقابتی تدارکات مندرج مادۀ شانزدهم این قانون نباشد.

(۲) در صورت تقسیم تدارکات به حصص جداگانه، معلومات ذیل به داوطلبان داده می شود:

۱- معلومات در مورد تعداد و ماهیت حصص.

۲- معلومات در مورد نحوۀ تسلیمی آفر های یك یا بیشتر ازیك حصه با توضیح اینکه آیا آفر های جداگانه برای هر قسمت قابل ارائه است؟

۳- معلومات در مورد اساس عقد قرارداد برویت نازلترین ترکیب آفر های ارزیابی شده.

(۳) تمام حصص به یك داوطلب نیز اعطا گردیده می تواند، مشروط بر اینکه با این شیوه نازل ترین آفر ارزیابی شده برای مجموع حصص حاصل شود.

(۴) که چېرې یوه یا زیاتې برخې داوطلبانو ته ورنکړل شي، تدارکاتي اداره کولای شي، د هغو برخو وېشل چې ندي ورکړل شوې، په نوي تدارکاتي پړاو کې تعدیل کړي.

۶- د اوولسمې مادې عنوان دې په (اهلیت او شرایطو) تصحیح او (۵) فقره دې حذف شي.

۷- اتلسمه ماده دې په لاندې متن تعدیل شي:

د داوطلبانو داهلیت د دمخه ارزونه

اتلسمه ماده:

(۱) په پېچلو تدارکاتو یا په ډله ییزو قراردادونو کې د داوطلب د دمخه ارزونه، د آفرونو د تسلیمې د شرایطو لرونکو داوطلبانو د تشخیص په منظور، صورت موندلی شي. د داوطلبانو د اهلیت د دمخه ارزونه، د دې قانون د اوولسمې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي حکم مطابق صورت مومي.

(۲) د اهلیت په دمخه ارزونې پورې اړوند سندونه هغو داوطلبانو ته سپارل کېږي چې د دمخه ارزونې د

(۴) هر گاه یك یا بیشتر از حصص به داوطلبان داده نشود، ادارۀ تدارکاتی می تواند تقسیم حصص را که اعطاء نگردیده، در مرحلۀ جدید تدارکاتی تعدیل نماید.

۶- عنوان مادۀ هفدهم به (شرایط و اهلیت) تصحیح و فقرۀ (۵) آن حذف گردد.

۷- مادۀ هجدهم به متن ذیل تعدیل گردد:

ارزیابی قبلی اهلیت داوطلبان

مادۀ هجدهم:

(۱) ارزیابی قبلی اهلیت داوطلب در تدارکات پیچیده یا در قرارداد های دسته جمعی، به منظور تشخیص داوطلبان واجد شرایط تسلیمی آفر ها، صورت گرفته می تواند. ارزیابی قبلی اهلیت داوطلبان طبق حکم مندرج فقرۀ (۳) مادۀ هفدهم این قانون صورت می گیرد.

(۲) اسناد مربوط به ارزیابی قبلی اهلیت به داوطلبانی سپرده می شود که به اعلان دعوت

بلنې اعلان ته يې مثبت ځواب ويلی وي او په هغۀ کې د اهليت د دمخه ارزونې د غوښتنليکونو د بشپړولو لپاره لازم معلومات درج وي. په هغۀ صورت کې چې د مقدماتي ارزونې د سندونو د څرګندونې په اړه غوښتنه صورت ومومي، ځواب يې په ليکلې توګه په کورنيو تدارکاتو کې ټولو داوطلبانو ته د (۱۰) کاري ورځو مودې په ترڅ کې او په بين المللي تدارکاتو کې د (۱۴) کاري ورځو مودې په ترڅ کې، د ارزونې له اجراء څخه د مخه وړاندې کېږي. په هغۀ صورت کې چې د داوطلبانو د ځواب وړاندې کولو لپاره کافي وخت لازم وي، تدارکاتي اداره مکلفه ده د غوښتنليکونو د وړاندې کولو ټاکلې موده تمديد کړي.

(۳) تدارکاتي اداره د اهليت د دمخه ارزونې په اړه د هر غوښتنليک په هکله تصميم نيسي، او ټولو هغو داوطلبانو ته چې په مخکنۍ ارزونه کې بريالي شوي دي بلنه ورکول کېږي چې خپل آفرونه د تدارکاتي پړاوونو لپاره تسليم کړي.

۸- د نولسمې مادې (۶) فقره دې په لاندې متن تعديل شي:

ارزیابی قبلی پاسخ مثبت داده و در آن معلومات لازم برای تکمیل درخواست های ارزیابی قبلی اهلیت، درج باشد. درصورتی که تقاضائی مبنی بر توضیح اسناد ارزیابی مقدماتی صورت گیرد، پاسخ آن بصورت کتبی به تمام داوطلبان در تدارکات داخلی در خلا ل مدت (۱۰) روز کاری و در تدارکات بین المللی در خلال مدت (۱۴) روز کاری قبل از اجرای ارزیابی ارائه می گردد. درصورتی که برای ارایۀ پاسخ داوطلبان، وقت کافی لازم باشد، ادارۀ تدارکاتی مکلف است میعاد معینه ارائه درخواست ها را تمدید نماید.

(۳) اداره تدارکاتی در مورد هر درخواست مبنی بر ارزیابی قبلی اهلیت، تصمیم اتخاذ و از تمام داوطلبانی که در ارزیابی قبلی مؤفق شده اند، دعوت بعمل می آید که آفر های شانرا برای مراحل تدارکاتی تسلیم نمایند.

۸- فقرۀ (۶) مادۀ نزدهم به متن ذیل تعدیل گردد:

(۶) د مالیې وزارت او نورې اداري مکلفې دي، هغه داوطلبان او قراردادیان چې د دې قانون له حکمونو څخه د سرغړونې په علت محروم شویدي، د هغو تفصیلات په اړوند معلوماتي مرکز کې خپارۀ کړي.

۹- د شلمې مادې (۵ او ۶) جزء دې په لاندې متن تعدیل شي:

۵ جزء- بین المللي داوطلبي (له بین المللي سرچینې څخه تدارکات).

۶جزء- په دوه پړاویزه داوطلبۍ کې د داوطلبانو بلنه.

۱۰- یوویشتمه ماده دې په لاندې متن تعدیل شي:

د نرخ ورکونې غوښتنلیک

یوویشتمه ماده:

(۱) د لاندې تدارکاتو د نرخ ورکونې غوښتنلیک (د جګړې پاڼه) هغه وخت وړاندې کېږي چې تخمیني بیه یې د تدارکاتو په سندونو کې، د دې قانون د یو نوي یمې مادې د (۱) فقرې د (۸) جزء له اعظمي حد څخه تجاوز ونکړي:

۱- سوداګریز معیاري اجناس چې په اسانۍ سره د ترلاسه کولو وړ وي

(۶) وزارت مالیه و سایر ادارات مکلف اند، داوطلبان و قراردادیان که به علت تخطی ازاحکام این قانون محروم شده اند، تفصیلات آنرا در مرکز معلوماتی مربوط نشر نمایند.

۹- اجزای (۵ و ۶) مادۀ بیستم به متن ذیل تعدیل گردد:

جزء **۵**- داوطلبی بین المللی (تدارکات از منبع بین المللی).

جزء۶- دعوت داوطلبان در داوطلبی دو مرحله یی.

۱۰- مادۀ بیست ویکم به متن ذیل تعدیل گردد:

درخواست نرخ دهی

مادۀ بیست ویکم:

(۱) درخواست نرخ دهی (ورق جگره) تدارکات ذیل زمانی ارائه می گردد که قیمت تخمینی آن در اسناد تدارکات از حد اعظمی جزء (۸) مندرج فقرۀ (۱) مادۀ نود ویکم این قانون، تجاوز نه نماید:

۱- اجناس معیاری تجارتی که به سهولت قابل دریافت بوده و طبق

او د تدارکاتو د اداري دمشخصاتو مطابق، تولید شوي نه وي.
۲- ودانیزي چارې.
۳- د خدمتونو تدارک.
(۲) د نرخ ورکونې په غوښتنلیک کې کمیت، کیفیت، شرایط، د تسلیمۍ وخت، د نرخونو د ورکولو وخت او نور ځانګړي ایجابات ټولو داوطلبانو ته یو شان درجېږي.
(۳) د نرخ ورکونې غوښتنلیک د شرایطو لرونکو لږ تر لږۀ دریو داوطلبو ته استول کېږي.
(۴) په هغۀ صورت کې چې د نظر وړ اجناسو برابرول او د خدمتونو او ودانیزو چارو تدارک په افغانستان کې لږ تر لږۀ له دریو سرچینو څخه په مناسبه بیه د لاس رسۍ وړ وي، د نرخ ورکونې غوښتنلیک دهېواد له دننه څخه صورت مومي.
(۵) داوطلب کولای شي یو واحد نرخ د ټاکلې مودې په ترڅ کې په لیکلې توګه وړاندې کړي. دغه نرخ د بدلون او خبرو اترو وړ ندی، پدې صورت کې د داوطلب د سوداګریزو ثبت (راجستر) شوو سندونو د تصدیق کاپي له هغۀ سره

مشخصات ادارۀ تدارکات ، تولید نگردیده باشد.
۲- امور ساختمانی.
۳- تدارك خدمات.
(۲) در درخواست نرخ دهی کمیت، کیفیت، شرایط، زمان تسلیمی، زمان ارائۀ نرخ ها و سایر ایجابات خاص برای تمام داوطلبان طور یك سان درج می گردد.
(۳) درخواست نرخ دهی حد اقل به سه داوطلب واجد شرایط فرستاده می شود.
(۴) در صورتی که تهیۀ اجناس و تدارك خدمات و امور ساختمانی مورد نظر از حد اقل سه منبع در افغانستان به قیمت مناسب قابل دسترس باشد ، درخواست نرخ دهی از داخل کشور صورت می گیرد.
(۵) داوطلب می تواند نرخ واحدی را در خلال مدت معینه بصورت تحریری ارائه نماید. این نرخ قابل تغییر و مذاکره نمی باشد ، در این صورت کاپی تصدیق اسناد تجارتی ثبت (راجستر) شدۀ داوطلب

ضمیمه کېږي. د نرخونو استول د فکس، الکترونیکي پست یا د مخابراتي ارتباطاتو د نورو ډولونو په واسطه چې د استوونکو محتویاتو یاددښت په هغو کې باقي پاتې شي، صورت مومي.

(۶) هغه داوطلب چې خورا ټیټ نرخ وړاندې او د تدارکاتي اداري شرایط یې د نرخ ورکونې د غوښتنلیک د مندرجاتو مطابق بشپړ کړی وي، د وړونکي په توګه غوره کېږي.

(۷) د وړونکي داوطلب په واسطه په لیکلې توګه د نرخ ورکونې د غوښتنلیک منل کېدل، د اړوندو تدارکاتو دقرارداد حیثیت لري او جلا قرارداد نه ایجابوي.

(۸) د پېرودنې او د نرخ ورکونې د غوښتنلیک پراوونه، د دې قانون د ضمیمې د مندرجاتو مطابق، صورت مومي.

۱۱- لاندې متنونه دې د څلېریشتمې مادې د (۱) فقرې د (۴ او ۵) جزء په توګه ایزاد شي:

۴- تر دریو زرو افغانیو پورې ارزښت لرونکي تدارکات.

۵- د تدارکاتو بیه دې د دې قانون

به آن ضم می گردد. ارسال نرخ ها توسط فکس، پست الکترونیکی یا سایر اشکال ارتباطات مخابراتی که یاد داشت محتویات ارسالی در آن باقی بماند، صورت می گیرد.

(۶) داوطلبی که نازلترین نرخ را ارائه و شرایط ادارهٔ تدارکاتی را طبق مندرجات درخواست نرخ دهی تکمیل نموده باشد، به حیث برنده انتخاب می گردد.

(۷) قبولی درخواست نرخ دهی طور کتبی توسط داوطلب برنده، حیثیت قرارداد تدارکات مربوط را داشته و ایجاب قرارداد جداگانه را نمی نماید.

(۸) مراحل خریداری و درخواست نرخ دهی مطابق مندرجات ضمیمهٔ این قانون صورت می گیرد.

۱۱- متون ذیل به حیث اجزای (۴ و ۵) در فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست و چهارم ایزاد گردد:

۴- تدارکات دارای ارزش الی سه هزار افغانی.

۵- قیمت تخمینی تدارکات

د یو نوي یمې مادې د (۱) فقرې په (۵ او ۶) جزء کې د درج شوي ټاکلي مبلغ له حدودو څخه زیات نه وي.

۱۲- لاندې متن دې د شپږوېشتمې مادې د(۶) جزء په توګه ایزاد شي:

۶- د دې قانون د حکمونو مطابق، نور معلومات.

۱۳- د اووه ویشتمې مادې (۱) فقره دې په لاندې متن تعدیل شي:

(۱) د دمخه ارزونې د بلنې اعلان یا د پرانستې داوطلبۍ اعلان یا دمقیدې داوطلبۍ اعلان د تدارکاتي اداري په لګښت په ټولنیزو رسنیو کې خپور او د بین المللي داوطلبۍ په صورت کې په انګلیسي ژبه په زیات تیراژ لرونکو بین المللي رسنیو کې خپرېږي.

تدارکاتي اداري د امکان په صورت کې خپل تدارکاتي کورنۍ او بهرنۍ اعلانونه، د انترنټ له لارې هم خپروي.

۱۴- اته ویشتمه ماده دې د نهه ویشتمې مادې او نهه ویشتمه ماده دې د اته وېشتمې مادې په توګه تعویض او د اته ویشتمې

بیشتر از حدود معینه مبلغ مندرج اجزای (۵ و ۶) فقرۀ (۱) مادۀ نود ویکم این قانون نباشد.

۱۲- متن ذیل به حیث جزء (۶) در مادۀ بیست و ششم ایزاد گردد:

۶- سایر معلومات مطابق احکام این قانون.

۱۳- فقرۀ (۱) مادۀ بیست وهفتم به متن ذیل تعدیل گردد:

(۱) اعلان دعوت ارزیابی قبلی یا اعلان داوطلبی باز و یا اعلان داوطلبی مقید به مصرف ادارۀ تدارکاتی در رسانه های همگانی نشر و در صورت داوطلبی بین المللی به لسان انګلیسی در رسانه های دارای تیراژ بیشتر بین المللی نشر می گردد.

ادارات تدارکاتی اعلانات خود را اعم از تدارکات داخلی و خارجی در صورت امکان از طریق انترنت نیز به نشر می رسانند.

۱۴- مادۀ بیست و هشتم به حیث مادۀ بیست و نهم و مادۀ بیست ونهم به حیث مادۀ بیست و هشتم تعویض و عنوان مادۀ بیست

مـادې عنـوان دې (د مقیـدې داوطلبۍ په اعلان) تصحیح شي.

۱۵- د دېرشمې مـادې (۱) فقـره دې په لاندې متن تعدیل شي:

(۱) شـرطپاڼه د شـرایطو لرونکـو ټولـو هغـو داوطلبـانو تـه چـې د داوطلبۍ اعلان ته یې ځواب ویلی استول، یا سپارل کېږي.

۱۶- د دېرشمې مادې (۱، ۲، ۴، ۶، ۷ او ۸) اجزا دې په لاندې متن تعدیل شي:

۱- د آفرونو د ترتیب او تسلیمۍ، د تدارکاتو د تشریح، په اعلان کې د شـاملو معلومـاتو، د آفرونـو د پرانـستلو نېټې او ځـای او هغـې مودې په هکله شرایط چې د هغې تـر پایـه پـورې آفرونـه د اعتبـار وړ دي.

۲- د داوطلبـانو د شـرایطو او اهلیت د ځېړنې معیارونه.

۴- د هغـۀ داوطلب پـه واسطه چې آفر وړاندې کوي د آفر د تـضمین د ضـرورتونو برابـرول او د هغـۀ داوطلب په واسطه چې لـه هغـۀ سره قـرارداد عقـد کېږي، د تـدارکاتو د قـرارداد د اجـراء تـضمین او د هغـۀ ماهیـت، ترکیـب، مبلـغ او نـور

وهشتم بـه (اعـلان داوطلبـی مقیـد) تصحیح گردد.

۱۵- فقرۀ (۱) مادۀ سی ام بـه مـتن ذیل تعدیل گردد:

(۱) شـرطنامه بـه تمـام داوطلبـان واجد شرایط که به اعـلان داوطلبی پاسـخ ارائـه نمـوده انـد، ارسال یا سپرده می شود.

۱۶- اجـزای (۱، ۲، ۴، ۶، ۷ و ۸) مـادۀ سـی ام بـه مـتن ذیـل تعدیل گردد:

۱- شـرایط در مـورد ترتیـب و تسلیمی آفر ها، تشریح تدارکات، معلومـات شـامل در اعـلان، تـاریخ و محـل بـازنمودن آفرهـا و مدتیکـه الـی پایـان آن آفرهـا قابـل اعتبـار می باشند.

۲- معیارهـای بررسـی شـرایط و اهلیت داوطلبان.

۴- فراهم نمودن ضروریات تضمین آفـر توسـط داوطلبـی کـه آفـر را ارایـه مـی نمایـد و تـضمین اجـرای قـرارداد تـدارکات توسـط داوطلبـی کـه قـرارداد بـا وی عقـد مـی گـردد و ماهیـت، ترکیـب، مبلـغ

بنسټیز شرایط.

۶- د پیسو د ورکړې او ټاکلو څرنګوالی او د آفر د بیې د اسعارو ډول.

۷- د دې مطلب یا دول چې د آفر بیه د تدارک ضمني لګښتونه، د بیمې ور د حمل او نقل لګښتونه، ګمرکي مکلفیتونه او مالیات په بر کې نیسي.

۸- د تدارکاتو، د اجراء ور ضمني خدمتونو، د ودانیزو چارو یا خدمتونو د اجراء د ځای اود لزوم په صورت کې د اجناسو د تحویلولو یا ودانیزو چارو یا خدمتونو د اجراء دماهیت اوکیفي او تخنیکي لازمو خصوصیاتو څرګندول.

۱۷- د دېرشمې مادې د (۲) فقرې (۱۰) جزء دې حذف شي.

۱۸- د دېرشمې مادې د (۲) فقرې (۱۱) جزء دې په (۱۰) جزء تصحیح او په لاندې متن تعدیل شي:

۱۰- د دې قانون د حکمونو مطابق نور معلومات یا هغه معلومات چې د تدارکاتو د پالیسۍ د اداري لخوا تجویزپږي.

۱۹- د دوه دېرشمې مادې (۱)

و سایر شرایط اساسی آن.

۶- طرز تادیهٔ وتعیین پول و نوع اسعار قیمت آفر.

۷- ذکراین مطلب که قیمت آفر در برگیرندهٔ مصارف ضمنی تدارك، مصارف حمل و نقل قابل بیمه، مکلفیت های گمرکی و مالیات می باشد.

۸- توضیح ماهیت و خصوصیات کیفی و تخنیکی لازم تدارکات، خدمات ضمنی قابل اجرا، محل اجرای امور ساختمانی یا خدمات و در صورت لزوم تعیین زمان برای تحویل اجناس یا اجرای امورساختمانی و خدمات.

۱۷- جزء۱۰ فقرهٔ(۲) مادهٔ سی ام حذف گردد.

۱۸- جزء۱۱ فقرهٔ (۲) مادهٔ سی ام به جزء ۱۰ تصحیح و به متن ذیل تعدیل گردد:

۱۰- سایر معلومات مطابق احکام این قانون و یا معلومات که از طرف ادارهٔ پالیسی تدارکات تجویز می گردد.

۱۹- فقرهٔ (۱) مادهٔ سی و دوم به

فقره دې په لاندې متن تعدیل شي:
(۱) د آفرونو د تسلیمۍ نېټه او وخت د شرطپانې له صادرېدو وروسته له احوالو سره سم له (۲۱ څخه تر ۹۰) کاري ورځو پورې دی، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول تصریح شوي وي.
۲۰- د دري دېرشمې مادې (۱) فقره دې په لاندې متن تعدیل شي:
(۱) آفرونه له تسلیمۍ وروسته په عمومي غونډه کې په لنډ وخت کې د شرطپانې د محتویاتو مطابق د داوطلبانو یا یې د قانوني استازو په حضور کې پرانستل کېږي. د هغو داوطلبانو شهرت او ادرس چې د آفر په پرانستلو کې حضور مومي او وړاندیز شوې بیې د غونډې د پېښبلیک په پاڼه کې درجېږي او د ټولو ګډون کوونکو داوطلبانو په واسطه لاسلیک کېږي.
۲۱- نهه دېرشمه ماده دې په لاندې متن تعدیل شي:

دوه پړاویزه داوطلبي
نهه دېرشمه ماده:
(۱) تدارکاتي اداره د اړتیا وړ تدارکاتو د برابرولو لپاره د بڼې لارې د موندلو په منظور،

متن ذیل تعدیل گردد:
(۱) تاریخ و زمان تسلیمی آفر ها بعد از صدور شرطنامه حسب احوال از (۲۱ الی ۹۰) روز کاری می باشد، مگر اینکه دراین قانون طور دیگری تصریح شده باشد.
۲۰- فقرۀ (۱) مادۀ سی و سوم به متن ذیل تعدیل گردد:
(۱) آفرها بعد از تسلیمی در جلسۀ عمومي به اسرع وقت مطابق محتویات شرطنامه در حضورداشت داوطلبان و یا نماینده گان قانونی آنها باز می شود. شهرت و آدرس داوطلبانی که در باز نمودن آفر حضور می یابند و قیم پیشنهاد شده در ورق رویداد جلسه درج و توسط تمام داوطلبان اشتراك کننده امضاء می گردد.
۲۱- مادۀ سی و نهم به متن ذیل تعدیل گردد:

داوطلبی دو مرحله یی
مادۀ سی ونهم:
(۱) ادارۀ تدارکاتی به منظور دریافت طریقۀ بهتر برای تهیۀ تدارکات مورد ضرورت میتواند

کولای شي د شرط پانې مطابق له داوطلبانو سره د مشاورې مقدماتي پړاو سرته ورسوي.

(۲) دوه پړاویزه داوطلبي د بیا کتل شوې شرطپانې له په پام کې نیولو سره، د لاندې شرایطو د تأمینولو لپاره صورت موندلی شي:

۱- په هغۀ صورت کې چې تدارکاتي اداره د خپلو اړتیاوو لرې کوونکو اجناسو د برابرولو او د خدمتونو او ودانیزو چارو د تدارکاتي اړتیاوو د تدارک په هکله دلایل او څرګندونې وړاندې نکړی شي او د خپلو اړتیاوو د لرې کولو د مختلفو لارو د څېړنې په هکله د وړاندیز د وړاندې کېدو غوښتونکي وي یا د ودانیزو مالونو د تخنیکي اوصافو پر بناء یا د خدمتونو ماهیت ته په پام سره لازمه وي، تدارکاتي اداره د دې قانون د څلېریشتمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطابق، له داوطلبانو سره مشوره کوي.

۲- په هغۀ صورت کې چې تدارکات د څېړنیزو مطالعاتو، د مطالعاتي پرمختیا او ازمېښتونو مرحلۀ مقدماتی مشاوره را با داوطلبان طبق شرطنامه انجام دهد.

(۲) داوطلبی دو مرحله یی بانظرداشت شرطنامۀ تجدید نظر شده، جهت تأمین شرایط ذیل صورت گرفته می تواند:

۱- در صورتی که ادارۀ تدارکاتی دلایل و توضیحات مبنی بر ضروریات تهیۀ اجناس، تدارك خدمات وامور ساختمانی رفع کنندۀ نیازمندی های تدارکاتی خود را ارائه کرده نتواند و خواهان دریافت پیشنهاد در مورد بررسی راه های مختلف برطرف نمودن نیازمندیهای خود باشد یا بنابر اوصاف تخنیکی اموا ل ساختمانی و یا نظر به ماهیت خدمات لازم باشد، ادارۀ تدارکاتی با داوطلبان طبق حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ بیست و چهارم این قانون مشوره می نماید.

۲- در صورتی که تدارکات مربوط مطالعات تحقیقاتی، انکشاف و آزمایش های مطالعاتی باشد،

اړونـد وي، خـو دا چـې مالونـه د سوداګریز ارزښت لرونکي او یـا پـه کـافي کمیـت سـره د څېړنـو د پرمختیـاوو د لګـښتونو د جبـران لپاره تولید شي.

(۳) د دوه پړاویـزې داوطلبـۍ پـه لـومړي پـړاو کـې د اجناسـو، د خـدمتونو او ودانیـزو چـارو د تـدارک، د قـرارداد د شـرایطو او مندرجاتو، د تخنیکي مشخصاتو، کیفیت او نـورو مشخصاتو آفرونـه برابـر او د لـزوم پـه صـورت کـې پـه شـرطپاڼه کـې د داوطلبـانو مـسلکي او تخنیکـي لیاقـت او اهلیـت هـم درجېـږي. د آفـر د بیـې درجول لدی امر څخه مستثنیٰ دی.

(۴) تـدارکاتي اداره کـولای شـي پـه شـرطپاڼه کـې درج شـوي تخنیکـي شرایط یا قرارداد د لـومړي پړاو پـه پای کې، نهایي کړي.

(۵) د دوه پړاویـزې داوطلبـۍ د پروسـې پـه دوه یـم پـړاو کـې، تـدارکاتي اداره د دوه یـم پړاو بلـن لیک هغو داوطلبانو ته چې د هغوی د لومړي پړاو آفرونه رد شوي ندي، وراستوي، څو د پروسې په لومړي پـړاوو کـې د ټاکـل شـوو ایجابـاتو مـــګر اینکـه امـوال حـأیز ارزش تجـــارتی و یـا بـه کمیت کـافی بـــرای جبـران مـصارف تحقیقـــات انکـشافات تولیـد گردد.

(۳) در مرحلـــۀ اول داوطلبـــی دو مرحلـه یـی، آفـر هـای مربـوط مشخـصات تخنیکـی، کیفیـت و سـایر مشخـصات اجنـاس، تـدارک خدمات و امور ساختمانی، شرایط و منـدرجات قـرارداد تهیـه و در صـورت لـزوم، لیاقـت و اهلیـت مـسلکی و تخنیکی داوطلبـان نیـز در شـرطنامه درج مـی گـردد. درج قیمـت آفـر از ایـن امـر مـستثنی است.

(۴) ادارۀ تـدارکاتی مـی توانـد شـرایط تخنیکـی یـا قـرارداد منـدرج در شـرطنامه را در خـتم مرحلۀ اول، نهایی سازد.

(۵) در مرحلۀ دوم پروسۀ داوطلبی دو مرحلـه یـی، ادارۀ تـدارکاتی دعـوت نامـۀ مرحلـۀ دوم را بـه داوطلبـانی کـه آفـر هـای مرحلۀ اول آنها رد نگردیده، ارسال مـی نمایـد تـا بـه اسـاس ایجابـات تعیـین شـده در مرحلۀ اول پروسه،

پربنسټ، په دوه یم پړاو کې ګډون وکړي. د داوطلبۍ په دوه یم پړاو کې د بیو یادول هم شامل دي.

(۶) د داوطلبۍ په پروسې پورې اړوند حکمونه د دوه یم پړاو په داوطلبۍ کې هم تطبیقېږي.

۲۲- د دوه څلوېښتمې مادې (۱)فقره دې په لاندې متن تعدیل شي:

(۱) د تدارکاتو د قرارداد د عقد په اړه د داوطلب د مکلفیت له اداء کولو څخه د ډډ ترلاسه کېدو لپاره د آفر تأمینات په شرطپانه کې درجېږي. د آفر د تأمیناتو لپاره لازمه وجه (د آفر د بیې د فیصدۍ له پام په کې نیولو پرته) د شرطپانې مطابق د یو مقدار ټاکلو پیسو په توګه مشخصېږي. تأمینات د نغدو پیسو یا بانکي تضمین یا د لېتر آف کریډت د پرانستلو، د غیر منقول ملکیت د رهن یا په نورو ډولونو چه اداري ته د منلو وړ وي، وړاندې کېدی شي.

۲۳- د دوه څلوېښتمې مادې (۲) فقره دې حذف او (۳)

در مرحلۀ دوم اشتراك نمایند.

مرحلۀ دوم داوطلبی شامل ذکر قیم نیز می باشد.

(۶) احکام مربوطه به پروسۀ داوطلبی در داوطلبی مرحله دوم نیز تطبیق می گردد.

۲۲- فقرۀ (۱) مادۀ چهل و دوم به متن ذیل تعدیل گردد:

(۱) تأمینات آفر جهت حصول اطمینان از ادای مکلفیت داوطلب مبنی بر عقد قرارداد تدارکات در شرطنامه درج می گردد. وجه لازم برای تأمینات آفر (بدون نظرداشت فیصدی قیمت آفر) به حیث یك مقدار پول معین طبق شرطنامه مشخص می شود. تأمینات بشکل پول نقد یا تضمین بانکی یا اسناد معادل آن شامل افتتاح لیتر آف کریدت، رهن ملکیت غیر منقول یا سایر اشکالی که مورد قبول اداره باشد، ارائه شده می تواند.

۲۳- فقرۀ (۲) مادۀ چهل و دوم حذف و فقرۀ (۳)

فقـره دې د (۲) فقـرې پـه توګـه تصحیح شي.

۲۴- اتـه څلوېښتمه مـاده دې پـه لاندې متن تعدیل شي:

د قرارداد او بیو تعدیل

اته څلوېښتمه ماده:

(۱) که چېرې په قرارداد کې بدلون د مجاز بدلونونو لـه اکثر حد څخه تجـاوز وکـړي، قـرارداد تعـدیل کېـدی شـي. د قـرارداد تعـدیل د عاقدینو پـه واسطه لاسلیک کېږي، دغه تعدیل نشي کولای د قرارداد ماهیـت یـا بنـسټیزو حـدودو تـه بدلون ورکړي.

(۲) کـه چېـرې د قرارداد تعدیل، د قرارداد ارزښت په سلو کې تر(۲۵) پـورې، زیـات کـړي، دغـه تعدیل د اړونـدې کـړنلارې مطـابق د اعطـاء آمـر پـه واسـطه د دې قـانون پـه یـو نـوي یمـه مـاده کې د درج شـوي حکـم لـه پـه پـام کـې نیولو سره منظورېږي.

(۳) کـه چېـرې د قـرارداد تعـدیل د قـرارداد د ارزښـت پـه سلو کـې لـه (۲۵) څخـه زیـات، زیـاتوالي تـه ورسېږي، دغه تعدیل د تدارکاتو د نوې پروسې تېرول یا د دې قانون په

آن بـــه حیـــث فقـــرۀ (۲) تصحیح گردد.

۲۴- مـادۀ چهـل و هـشتم بـه مـتن ذیل تعدیل گردد:

تعدیل قرارداد و قیم

مادۀ چهل و هشتم:

(۱) هرگـاه تغییـر در قـرارداد از حـد اکثـر تغییـرات مجـاز تجـاوز کنـد، قـرار داد تعـدیل شـده مـی توانـد. تعـدیل قـرارداد توسط عاقدین امضاء می گردد، ایـن تعـدیل نمـی توانـد ماهیـت یـا حـدود اساسـی قـرارداد را تغییـر دهد.

(۲)هرگـاه تعـدیل قـرارداد، ارزش قـرارداد را الـی (۲۵) فیـصد افـزایش دهـد، ایـن تعـدیل طبـق طرزالعمـل مربـوط توسـط آمـر اعطـاء بارعایـت حکـم منـدرج مـادۀ نـود ویکـم ایـن قـانون منظور می گردد.

(۳) هـر گـاه تعـدیل قـرارداد بـه افزایش بیش از (۲۵) فیصد ارزش قـرارداد منـتج شـود، ایـن تعـدیل طـی مراحـل پروسـۀ جدیـد تـدارکات یـا طبـق حکـم

څلېرېشتمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق، له واحدې سرچېنې څخه د تدارکاتو منظوري ایجابوي.

(۴) په تدارکاتي قراردادونو کې چې د اعتبار موده یې له (۱۲) میاشتو څخه زیاته وي، د بیو تعدیل په لګښتونو کې د بدلونونو په نسبت صورت موندلی شي.

(۵) د بیې د تعدیل په هکله د تصمیم د نیولو وخت، د هغۀ توجیه کوونکي شرایط (د موادو، کارګر او انرژۍ په نرخ کې زیاتوالی یا لږوالی)، د بیې د اندازې ټاکونکي فورمولونه او شاخصونه او د بیې په تعدیل پورې، نورې اړوندې ټکلارې، په قرارداد کې درجېږي.

(۶) که چېرې د بیې تعدیل د قرارداد له ټاکلې اندازې یا فیصدۍ څخه تجاوز وکړي، قرارداد لغو یا نویو خبرواترو ته موکولېږي.

۲۵- د دري پنځوسمې مادې (۴) فقره دې حذف شي.

۲۶- لاندې متن دې د نهه شپېتمې مادې د (۴) فقرې په توګه ایزاد شي:

مندرج مادۀ بیست و چهارم این قانون منظوری تدارکات را از منبع واحد ایجاب می نماید.

(۴) در قرارداد های تدارکاتی که مدت اعتبار آن بیش از (۱۲) ماه باشد، تعدیل قیم نسبت به تغییرات در مصارف صورت گرفته می تواند.

(۵) زمان اتخاذ تصمیم در مورد تعدیل قیمت، شرایط توجیه کنندۀ آن (تزئید یا کاهش در نرخ مواد، کارگر و انرژی) فورمول ها و شاخص های تعیین کنندۀ اندازۀ تعدیل قیمت و سایر روش های مربوط به تعدیل قیمت، در قرارداد درج می گردد.

(۶) هر گاه تعدیل قیمت از اندازه یا فیصدی معین قرارداد تجاوز نماید، قرارداد ملغی یا موکول به مذاکرات مجدد می گردد.

۲۵- فقرۀ (۴) مادۀ پنجاه و سوم حذف گردد.

۲۶- متن ذیل به حیث فقرۀ (۴) مادۀ شصت و نهم ایزاد گردد:

(۴) قراردادي نشي کولای عقد شوی قرارداد له ثاني شخص سره قرارداد کړي.

۲۷- یو اویایمه ماده دې په لاندې متن تعدیل شي:

د نوې کتنې حق

یو اویایمه ماده:

هغه داوطلب چې د دې قانون له حکمونو څخه د سرغړونې له امله، زیانمن شوی وي، حق لري په لیکلې توګه نوې کتنه وغواړي.

هغه تصمیم، اقدام یا تقصیر چې د دې قانون له حکمونو څخه په سرغړاوي تمام شوی وي، صریحاً په غوښتنلیک کې یاد ېړي.

۲۸- د دوه اویایمې مادې (۱ او ۲) فقرې دې په لاندې متن تعدیل او د هغې (۳ ، ۴، ۵ ،۶ ، ۷ او ۸) فقرې دې حذف شي:

(۱) د تدارکاتو د پالیسۍ اداره، پرغوښتنلیکونو باندې د نوې کتنې د اجراء او پر اړوندو اعتراضاتو د غور په منظور، له متخصصینو څخه جوړه د اداري څېړنې کمیټه توظیفوي.

(۲) د نوې کتنې پړاوونه په جلا کړنلاره کې چې

(۴) قراردادی نمی تواند قرارداد عقد شده را با شخص ثانی قرارداد نماید.

۲۷- مادۀ هفتاد و یکم به متن ذیل تعدیل گردد:

حق تجدید نظر

مادۀ هفتاد ویکم:

داوطلبی که بالاثر تخلف از احکام این قانون، خساره مند گردیده باشد، حق دارد کتباً تجدید نظر را مطالبه نماید.

تصمیم، اقدام یا تقصیری که منجر به تخلف از احکام این قانون گردیده در درخواست صریحاً ذکر می گردد.

۲۸- فقرۀ های (۱ و ۲) مادۀ هفتاد و دوم به متن ذیل تعدیل و فقره های (۳ ، ۴، ۵ ،۶ ، ۷ و ۸) آن حذف گردد:

(۱) ادارۀ پالیسی تدارکات به منظور اجرای تجدید نظر بر درخواست ها و غور بر اعتراضات مربوط،کمیتۀ بررسی اداری متشکل ازمتخصصین را توظیف می نماید.

(۲) مراحل تجدید نظر در طرزالعمل جداگانه که

د تـــدارکاتو د پالیـــسۍ د اداري لخوا وضع کېږي، تنظیمېږي.

۲۹- لاندې مـــتن دې د پنځـــه اویایمې مادې د (۳) جزء په توګه ایـــزاد او (۳ ، ۴، ۵ او ۶) اجـــزاء دې پـــه (۴، ۵، ۶ او ۷) تـــصحیح شي:

۳- د آفرونو پرانستل.

۳۰- د اویایمې مادې (۲) فقره دې په لاندې متن تعدیل شي:

(۲) د خاصـو تـدارکاتو کمېـسیون مکلـف دی، رسـېدلي قراردادونـه وڅېـړي زیـات نـه زیـات د (۲۱) کاري ورځو په ترڅ کې دې د هغو د رد یـا منظـوري په اړه تـصمیم ونیسي، لدې پرته قرارداد ، منظور شوی ګڼل کېږي.

۳۱- د اتیایمې مادې (۲) فقره دې په لاندې متن تعدیل شي:

(۲) د تـــدارکاتو د پالیـــسۍ اداره مکلفـه ده لـه خپلـو اجراآتـو څخـه مـالیې وزیـر او حکومت تـه رپـوټ وړاندې کړي .

۳۲- د یـو اتیـایمې مـادې (۶) جزء دې حذف شي.

۳۳- لاندې متن دې د یو نوي یمې مـادې د (۱) فقـرې د (۸) جـزء پـه

از طـرف ادارۀ پالیـسی تـدارکات وضع می شود ، تنظیم می گردد.

۲۹- مـتن ذیـل بـه حیـث جـزء (۳) مـــادۀ هفتـــاد و پـــنجم ایـــزاد و اجـــزای (۳ ، ۴، ۵ و ۶) بـــه اجـــزای (۴، ۵، ۶ و ۷) تـــصحیح گردد:

۳- باز نمودن آفرها.

۳۰- فقـرۀ (۲) مـادۀ هفتـاد و هفـتم به متن ذیل تعدیل گردد:

(۲) کمیـــسیون تـــدارکات خـــاص مکلف است، قراردادهای واصله را بررســـی نمـــوده حـــد اکثـــر درخـــلال مـــدت (۲۱)روزکـــاری تصمیم مبنی بر رد یـا منظوری آن اتخـاذ نمایـد ، در غیـرآن قـرارداد ، منظورشده محسوب می گردد.

۳۱- فقـرۀ (۲) مـادۀ هـشتادم بـه متن ذیل تعدیل گردد:

(۲) ادارۀ پالیـــسی تـــدارکات مکلف است از اجراآت خود به وزیر مالیـــه و حکومـــت گـــزارش ارائه نماید.

۳۲- جـزء ۶ مـادۀ هـشتاد ویکـم حذف گردد.

۳۳- مـتن ذیـل بـه حیـث جـزء (۸) فقـــرۀ (۱) مـــادۀ نـــود ویکـــم

توګه ایزاد شي:
۸- د نـرخ ورکـونې غوښـتنلیک، تر پنځه سوه زرو افغانیو پورې.
دغـه تعـدیل، ایـزاد او حـذف د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

ایزاد گردد:
۸- درخواست نرخ دهی الی مبلغ پنجصد هزار افغانی.
ایـن تعـدیل، ایـزاد و حـذف از تـاریخ توشـیح نافـذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

قانون بیمه

د بیمې د قانون د توشیح په هکله د افغانستان داسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه:(۵۷)
نېټه:۱۳۸۷/۴/۳۱

لومړۍ ماده:
د افغانستان د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم پربنسټ د بیمې قانون چې د وزیرانو شوري د ۱۳۸۷/۴/۲۴ نېټې د (۱۹) ګڼې مصوبې په اساس په (۸) فصلونو او (۴۴) مادو کې تأیید شوی دی، توشیح کوم .

دوه یمه ماده:
دعدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړیدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، هغې شوري ته وړاندې کړي.

درېیمه ماده :
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه

فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان دربارۀ توشیح قانون بیمه

شماره: (۵۷)
تاریخ:۳۱ /۱۳۸۷/۴

مادۀ اول:
به تأسی از حکم ماده هفتاد ونهم قانون اساسی افغانستان، قانون بیمه را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۹) مؤرخ ۱۳۸۷/۴/۲۴ شورای وزیران به داخل (۸) فصل و (۴۴) ماده تأیید گردیده است، توشیح می دارم.

مادۀ دوم:
وزیر عدلیه ووزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند ، این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی، به آن شورا تقدیم نمایند .

مادۀ سوم:
این فرمان از تاریخ توشیح

نافذ اوله قانون سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپورشي.

نافذ و همراه باقانون درجریدۀ رسمی نشرگردد.

حامد کرزی
دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

دبیمې قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

مبني
لومړی ماده:
دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون په لسمه ماده کې ددرج شوي حکم له په پام کې نیولو سره، په بیمې پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور، وضع شوی دی.

موخه
دوه یمه ماده:
د دغه قانون موخې عبارت دي له :
۱- دژوند او اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو خوندیتوب .
۲-دبیمې په مختلفو برخو کې د پانګونې جلبول.
۳- دبیمې دخدمتونو د وړاندې کولو دکچې لوړول.

اصطلاحګاني
دریمه ماده:
پدې قانون کې لاندې اصطلاحګاني دغه معناوې لري:
۱- بیمه: د بیمه کوونکي او بیمه کېدونکي ترمنځ عقد دی چې په

قانون بیمه
فصل اول
احکام عمومی

مبنی
مادۀ اول:
این قانون با رعایت حکم مندرج مادۀ دهم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به بیمه، وضع گردیده است.

هدف
مادۀ دوم:
اهداف این قانون عبارت اند از :
۱- مصؤنیت حیات وفعالیت های اقتصادی واجتماعی.
۲- جلب سرمایه گذاری در بخش های مختلف بیمه.
۳- ارتقای سطح عرضۀ خدمات بیمه .

اصطلاحات
مادۀ سوم :
اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می نماید :
۱- بیمه: عقدی است میان بیمه کننده و بیمه شونده

لیکلې توګه صورت مومي او پرموجب يې بیمه کوونکی د ټاکلې حق البیمې د اخستلو په وړاندې، د مقابل لوري د زیان د جبران ژمنه کوي.

۲- بیمه کوونکی: حکمي شخص دی چې د قانون د حکمونو مطابق تأسیس او د فعالیت جواز لیک د مالیې له وزارت څخه ترلاسه کوي.

۳- د بیمې د پلورنې استازي کمېشنکار او سروې کوونکي: کورني او بهرني حقیقي اشخاص دي چې پدې قانون کې د درج شوو حکمونو مطابق، په اړونده برخه کې د فعالیت جواز، د مالیې له وزارت څخه ترلاسه کوي.

۴- بیمه کېدونکی: حقیقي یا حکمي شخص دی چې د ځان یا بل په ګټه د بیمې له ډولونو څخه د یوۀ د اخستلو لپاره، اصالتاً یا وکالتاً بیمه عقدوي.

۵- حق البیمه: هغه وجهه ده چې بیمه کېدونکي يې د بیمې د ټرون په وړاندې بیمه کوونکي ته ورکوي.

۶- د زیان جبران: نغده وجهه یا

که طور کتبی صورت گرفته و به موجب آن بیمه کننده در مقابل اخذ حق البیمۀ معین، جبران خسارۀ طرف مقابل را متعهد می گردد.

۲- بیمه کننده: شخص حکمی است که مطابق احکام قانون تأسیس وجوازنامۀ فعالیت را از وزارت مالیه کسب می نماید.

۳- نمایندۀ فروش، کمیشن کار وسروی کنندۀ بیمه: اشخاص حقیقی داخلی وخارجی اند که طبق احکام مندرج این قانون، جوازنامۀ فعالیت را در عرصۀ مربوط، از وزارت مالیه کسب می نمایند.

۴- بیمه شونده: شخص حقیقی یا حکمی است که جهت اخذ یکی از انواع بیمه به نفع خود یا به نفع دیگری اصالتاً یا وکالتاً بیمه را عقد می نماید.

۵- حق البیمه: وجهی است که بیمه شونده در مقابل عقد بیمه به بیمه کننده می پردازد.

۶- جبران خساره: وجه

هغه عوض دی چې د پېښې یا خطر د رامنځته کېدو او د زیان د تشبتېدو په صورت کې، بیمه کېدونکي ته ورکول کېږي.

۷- د بیمې موضوع: دانسان او حیوان حیات چې له مړینې یا معلولیت سره مخامخ کېږي یا شیان، جنسونه او د مشتري ملکیتونه دي چې له تاوان او زیان سره مخامخ کېږي.

۸- بیمه لیک: حقوقي سند دی چې د بیمه کوونکي لخوا د بیمې له قرارداد وروسته، بیمه کېدونکي ته ورتسلیمېږي.

۹- پېښه: هغه حالت دی چې په پلي کېدو سره یې، بیمه کېدونکی د بیمه لیک په استناد، د زیان د جبران ادعا کوي.

۱۰- د بیمې زېرمې: هغه مالي وجوه دي چې د بیمه کوونکي له عایداتي سرچینو څخه د زیان د جبران، عملیاتي لګښتونو اود ډډه لګوونکو (اتکایي) بیمو د ورکړې په مقصد رامنځته کېږي.

۱۱- اتکایي بیمه: دبیمې دخطرونو وېش دی پر مختلفو بیمه کوونکو باندې چې د قرارداد یا نقد یا عوضی است که در صورت وقوع حادثه یا خطر و تثبیت خساره به بیمه شونده پرداخته می شود.

۷- موضوع بیمه: حیات انسان وحیوان که معروض به مرگ یا معلولیت گردیده یا اشیا، اجناس و ملکیت های مشتری است که مواجه به آسیب و خساره می شود.

۸- بیمه نامه: سند حقوقی است که از طرف بیمه کننده بعد ازقرارداد بیمه به بیمه شونده تسلیم داده می شود.

۹- حادثه: حالتی است که با تحقق آن بیمه شونده مستند به بیمه نامه ادعای جبران خساره می نماید.

۱۰- ذخایر بیمه: وجوه مالی است که از منابع عایداتی بیمه کننده به مقصد جبران خساره، مصارف عملیاتی و تأدیات بیمه های اتکائی، ایجاد می گردد.

۱۱- بیمه اتکائی: تقسیم خطرات بیمه به بیمه کنند گان مختلف است که به اساس عقد

موافقـه لیـک د عقـدولو پربنسټ صورت مومي.

۱۲- لـه الـزام (Exgratia) پرتـه جبران: په استثنايي حالاتو کې، د بیمه کوونکي د قانوني مکلفیت له لرلو پرته د بیمه کېدونکي دزیان د جبران ورکول دي.

۱۳- کنترولـي شـرکت: حکمـي شخـصیت دی چې د بـل بیمـه کوونکي په سلو کې له یو پنځو سو څخه د زیاتې پانګې لرونکی وي.

قـرار داد یـا موافقتنامـه صـورت می گیرد.

۱۲- جبـران بـدون الـزام (Exgratia) : پرداخـت جبـران خسارۀ بیمـه شونده است درحالات استثنائی بـدون داشـتن مکلفیـت قانونی بیمه کننده.

۱۳- شـرکت کنترولـی : شخـصیت حکمـی اسـت کـه بـیش از پنجاه ویك فیصد سرمایۀ بیمه کنندۀ دیگر را دارا باشد.

د بېمې موارد

څلورمه ماده:

بیمـه د لاندې پېښو او خطرونـو په وړاندې صورت مومي:

۱- هغـه پېـښې او خطرونـه چـې هوايي، ځمکنیو، سمندری (بحري) نقلیـه وسـایطو یـا د هغـو بـارونو (محمولو) ته ورپېښېږي.

۲- د اور لګېـدنې او غـلا پېـښې او خطرونـه چـې جـسمي روغتیـا او سلامت تیا له ګواښ سره مخامخوي.

۳- غیـر مترقبـه (ناڅاپي) طبیعـي پېښې (زلزلـه، سېلاب، طوفـان او هغو ته ورته).

۴- د نقلیـه وسـایطو ټکر اود هغـو لـه ګرځېـدو څخـه را پیـدا شـوې

موارد بیمه

مادۀ چهارم:

بیمه در برابر حوادث و خطرات آتی صورت می گیرد:

۱- حوادث وخطراتی که بر وسایط حمل و نقل هوایی ، زمینی، بحری یـا مـحـمولـه هـای آنهـا وارد می گردد.

۲- حـوادث وخطـرات حریـق و سرقت که صحت و سلامت جسمی را تهدید می نماید.

۳- حـوادث طبیعـی غیـر مترقبـه (زلزلـه، سیلاب، طوفـان و امثال آن).

۴- تصادم وسایط نقلیـه وحوادث ناشـی از سـیر آنهـا و خطـرات

پېښې او د درېیم شخص خطرونه.
۵- په صنعتي، ودانیزو، خدماتي او هغو ته په ورته مؤسسو کې له کار څخه را پیدا شوې پېښې او خطرونه.
۶- د پیسو غلا کېدل او د لېږدولو پر وخت د هغو تلف کېدل.
۷- له جګړې، مظاهرو، اعتصابونو او اغتشاش څخه راپیدا شوې پېښې او خطرونه.
۸- د ځمکنیو، هوایي او سمندري سفرونو او له هغو څخه د راپیدا شوو پېښو او خطرونو بیمه.
۹- نورې هغه پېښې او خطرونه چې په راتلونکې کې د هغو د بېمه کولو اړتیا احساس شي.

مسئوله مرجع
پنځمه ماده:
د مالیې وزارت، د بیمه کوونکو د چارو د سمون او د هغوی له فعالیتونو څخه د څارنې مسئول دی.

شخص ثالث.
۵- حوادث وخطرات ناشی از کار در مؤسسات صنعتی، ساختمانی، خدماتی و امثال آن.
۶- سرقت پول نقد و اتلاف آن در حین انتقال.
۷- حوادث و خطرات ناشی از جنگ ، تظاهرات ، اعتصابات و اغتشاش.
۸- بیمۀ مسافرت های زمینی، هوائی و بحری و حوادث و خطرات ناشی از آن.
۹- سایر حوادث و خطراتی که در آینده ضرورت بیمه نمودن آن ها ، احساس گردد.

مرجع مسئول
مادۀ پنجم :
وزارت مالیه مسئول انسجام امور بیمه کننده گان ونظارت از فعالیت های آنها می باشد.

دوه یم فصل
د بیمې تړون، حق البیمه او د زیان جبران

د بیمې د عقد ثبت
شپږمه ماده:
(۱) د بیمې د عقد سند (بیمه لیک) د بیمه کوونکي په دفتر کې ثبتېږي. هغه سندونه، پالیسۍ او فورمې چې د تړون په ترتیبولو کې تر ګټې اخستنې لاندې راځي، د هغۀ د ضمیمو په نوم یادېږي او د بیمه کوونکي په دفتر کې ساتل کېږي.
(۲) بیمه کوونکي حق لري، د بیمې د موضوع کتنه وکړي.
(۳) بیمه کوونکی او بیمه کېدونکی مکلف دي د بیمې د په ترڅ کې له هغو مطالبو څخه چې د هغوی د مسئولیت د زیاتېدو یا تخفیف موجب ګرځي، مقابل لوری خبر کړي.

فصل دوم
عقد بیمه، حق البیمه و جبران خساره

ثبت عقد بیمه
مادۀ ششم:
(۱) سند عقد بیمه (بیمه نامه) در دفتر بیمه کننده ثبت می گردد. اسناد ، اوراق و فورمه های که در ترتیب عقد ، مورد استفاده قرار می گیرد ، بنام ضمایم آن یاد شده ودر دفتر بیمه کننده حفظ می شوند.
(۲) بیمه کننده حق دارد موضوع بیمه را معاینه نماید.
(۳) بیمه کننده و بیمه شونده مکلف اند ، حین عقد بیمه از مطالبی که موجب تزئید یا تخفیف مسئولیت آنها می گردد ، طرف مقابل را آگاه سازند.

حق البیمه
اوومه ماده:
(۱) بیمه کېدونکی د بیمه لیک مطابق، د حق البیمې په ورکولو مکلف دی. د حق البیمې د ورکولو ډول د بیمه کوونکي لخوا ټاکل کېږي.
(۲) د بیمه کېدونکي په وړاندې د بیمه کوونکي مسئولیت هغه وخت پیل کېږي چې حق البیمه د بیمه کېدونکي لخوا ورکول شي، خو دا چې په عقد کې بل ډول موافقه شوې وي.
(۳) حق البیمه د قانون د حکمونو مطابق، د صکوکو او مالیې د ورکړې تابع ده.

د زیان جبران
اتمه ماده:
(۱) بیمه کوونکي، زیان د بیمه لیک مطابق، د اووښتي زیان په تناسب جبرانوي.
(۲) بیمه کوونکی اووښتی زیان په نغده جبرانوي یا زیانمن شوی جنس قسماً یا کلاً ترمیم یا تعویضوي.
(۳) په بیمه کې د درېیم شخص خطرونه، د درملنې لګښتونه هم د

حق البیمه
مادۀ هفتم:
(۱) بیمه شونده طبق بیمه نامه ، مکلف به پرداخت حق البیمه می باشد. طرز پرداخت حق البیمه از طرف بیمه کننده تعیین می شود.
(۲) مسئولیت بیمه کننده در برابر بیمه شونده وقتی آغاز می یابد که حق البیمه از طرف بیمه شونده پرداخته شود، مگر اینکه در عقد طور دیگری موافقه صورت گرفته باشد.
(۳) حق البیمه طبق احکام قانون ، تابع پرداخت صکوك ومالیه می باشد.

جبران خساره
مادۀ هشتم:
(۱) بیمه کننده خساره را مطابق بیمه نامه به تناسب خسارۀ وارده جبران می نماید.
(۲) بیمه کننده خسارۀ وارده را نقداً جبران یا جنس خساره مند شده را قسماً یا کلاً ترمیم یا تعویض می نماید.
(۳) در بیمۀ خطرات شخص سوم ، مصارف تداوی نیز در

زیان په جبران کې شامل دي. په دې شرط چې بیمه کېدونکی د قانون په حکم د زیان په ورکولو مکلف شوی وي.

(۴) د اور لګېدنې په بیمه کې، پرهغو لګښتونوبرسېره چې د دې مادې په (۱)فقره کې د درج شوي حکم مطابق، تثبیتېږي، د نورو مالونوبیه چې د اوروژنې د اقداماتو په پایله کې زیانمن کېږي.

د بیمه لیک د شرایطو له په پام کې نیولو سره هم،د اووښتي زیان په جبران کې شاملېږي.

(۵) د حمل اونقل په بیمه کې د حمل او نقل اجرت او نور لګښتونه چې د بیمې د موضوع د لېږدولو لپاره،کارول کېږي، دزیان په جبران کې شامل دي، پدې شرط چې په بیمه لیک کې درج شوي وي.

پرته له الزام څخه د زیان جبران

نهمه ماده:

بیمه کوونکی کولی شي په استثنائي حالاتوکې، پرته له الزام (**Exgratia**) څخه د زیان دجبران له قاعدې څخه ګټه واخلي.

جبران خساره شامل است مشروط براینکه بیمه شونده به حکم قانون به تأدیه خساره مکلف شده باشد.

(۴) در بیمهٔ حریق ، علاوه بر مصارفی که طبق حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تثبیت می گردد ،قیمت سایر اموالی که در نتیجهٔ اقدامات اطفای حریق خساره مند می شود ، با درنظرداشت شرایط بیمه نامه نیز شامل جبران خسارهٔ وارده می گردد.

(۵) در بیمهٔ حمل و نقل ،جبران خساره شامل اجرت حمل و نقل و سایرمصارفی می باشد که جهت انتقا ل موضوع بیمه بکار برده می شود ، مشروط بر اینکه در بیمه نامه درج گردیده باشد.

جبران بدون الزام

مادهٔ نهم :

بیمه کننده می تواند در حالات استثنائی از قاعدهٔ جبران بدون الزام(**Exgratia**) استفاده نماید.

د وخت تېرېدل (مرورزمان)
لسمه ماده:
دزیان دجبران دغوښتنې د تېرېدو مـوده (مرورزمـان)، یوکـا ل دی.د نوموړې نېټې د وخت پیـل د پېښې د رامنځتـه کېـدو لـه ورځـې څخـه شمېرل کېږي.

مرور زمان
مادۀ دهم :
مـــرور زمـــان تقاضـــای جبـــران خـساره، یـك سـال مـی باشـد. تـــاریخ آغـــاز میعـــاد مـــذکور از روز وقـــــــوع حادثـــــــه محاسبه می شود.

درېیم فصل
د بېمې د شرکتونو فعالیت

فصل سوم
فعالیت شرکت های بیمه

دبېمې دشرکتونو جوړېدل
یوولسمه ماده:
(۱)ددولتـــي بیمـــې شـــرکتونه، دمـالیې د وزارت پـه وړانـدیز اود وزیرانـو د شـوري پـه منظـوری جوړېږي.
(۲) د خـصوصي او ګـډو بیمـې شرکتونه د خصوصي پانګې اچونې د قانون دحکمونو مطابق جوړ او د هغوی د فعالیت جواز لیک، د دې قـانون لـه حکمونـو سـره سـمو د مالیې وزارت لخوا صادرېږي.
(۳) د بیمې د شرکتونو د فعالیت ډول د دې قـانون د حکمونـو پـه پـام کـې نیولـو سـره، د اړونـدې اساسنامې په واسطه تنظیمېږي.

ایجاد شرکت های بیمه
مادۀ یازدهم:
(۱) شـرکت هـای بیمـۀ دولتـی بـه پیـشنهاد وزارت مالیـه و منظـوری شـــورای وزیـــران ایجـــاد می گردد.
(۲) شرکت هـای بیمـه خـصوصی و مخـتلط مطـابق احکـام قـانون سرمایه گذاری خصوصی ایجاد و جوازنامـۀ فعالیـت آنهـا مطـابق احکـام ایـن قـانون از طـرف وزارت مالیه صادر می گردد.
(۳) طـرز فعالیـت شـرکت هـای بیمـه بـا رعایت احکـام ایـن قـانون توســط اساســنامۀ مربــوط تنظیم می گردد.

د فعالیت جواز لیک

دوولسمه ماده:

(۱) د فعالیت د جواز لیک د اخستلو فورمه، دحقیقي او حکمي شخص د غوښتنلیک پربنسټ د دولت د وارداتو په حساب د دوه زره پنځه سوه (۲۵۰۰) افغانیو د تحویلولو په بدل کې، د مالیې وزارت لخوا صادرېږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی مبلغ د مالیې وزارت د وړاندیز، د وزیرانو شوري د تصویب او د جمهور رئیس د منظورۍ پربنسټ تعدیلېدی شي.

(۳) د دې قانون د یوولسمې مادې په (۲) فقره کې درج شوی غوښتنلیک ورکوونکی، مکلف دی اخیستل شوې فورمه چې د لاندې مطالبو لرونکی ده، بشپړه اود مالیې وزارت ته وړاندې کړي:

۱- دشرکت نوم.

۲- د شرکت د اصلي غړو او مدیره هیئت نومونه او آدرس.

۳- په افغانستان کې د ثبت شوي دفتر آدرس او د هغۀ د مسئول استازي نوم.

۴- د پانګې او شتمنۍ اندازه.

جوازنامۀ فعالیت

مادۀ دوازدهم:

(۱) فورمۀ اخذ جواز نامه فعالیت به اساس درخواست شخص حقیقی وحکمی در بدل تحویل مبلغ دو هزاروپنجصد (۲۵۰۰) افغانی به حساب واردات دولت ازطرف وزارت مالیه صادر می گردد

(۲) مبلغ مندرج فقرۀ (۱) این ماده به اساس پیشنهاد وزارت مالیه، تصویب شورای وزیران ومنظوری رئیس جمهور تعدیل شده می تواند.

(۳) درخواست دهندۀ مندرج فقرۀ (۲) مادۀ یازدهم این قانون، مکلف است فورمۀ اخذ شده را که حاوی مطالب ذیل می باشد، تکمیل و به وزارت مالیه ارایه نماید:

۱- عنوان شرکت.

۲- اسم وآدرس اعضای اصلی شرکت وهیئت مدیره.

۳- آدرس دفتر ثبت شده درافغانستان واسم نمایندۀ مسئول آن.

۴- اندازۀ سرمایه ودارائی.

۵- دشرکت دونډه والواو مدیرانو په هکله کافي معلومات.
۶- د اړتیا وړ نور معلومات.
(۴) د دې قانون د یوولسمې مادې په (۲) فقره کې درج شوی غوښتنلیک ورکوونکی دلاندې سندونو په وړاندې کولو مکلف دی:
۱- د شرکت تصویب شوې اساسنامه.
۲- تشکیل، کاري پلان او د زیان د جبران د تحویلولو معلومات.
۳- د صکوکو او مالیې نمبر.
۴- د اړتیا وړ نور سندونه.

۵- معلومات کافی درباره شهرت سهم داران ومدیران شرکت.
۶- سایرمعلومات مورد ضرورت.
(۴) درخواست کنندۀ مندرج فقرۀ (۲) مادۀ یازدهم این قانون مکلف به ارایه اسناد ذیل می باشد:
۱- اساسنامۀ تصویب شدۀ شرکت.
۲- تشکیل ، پلان کاری و معلومات تحویلی جبران خساره.
۳- نمبر صکوك ومالیه.
۴- سایر اسناد مورد ضرورت.

د بیمې د خدمتونو نور وړاندې کوونکي
دیارلسمه ماده:
(۱) حقیقي اوحکمي اشخاص کولی شي، د مالیې له وزارت څخه د فعالیت دجواز له اخیستلو وورسته، د کمپشنکار، د خرڅلاو د استازي او سروې کوونکي په توګه، د بیمې د خدمتونو په وړاندې کولو لاس پورې کړي.
(۲)دفعالیت دجواز داخستلو شرایط او ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اشخاصو حقوق او وجیبې دجلا

سایر عرضه کنندگان خدمات بیمه
مادۀ سیزدهم :
(۱) اشخاص حقیقی وحکمی می توانند بعد از اخذ جواز فعالیت از وزارت مالیه منحیث کمیشن کار، نمایندۀ فروش و سروی کننده به عرضۀ خدمات بیمه بپردازند.
(۲) شرایط اخذ جوازنامۀ فعالیت و حقوق ووجایب اشخاص مندرج فقرۀ (۱) این ماده توسط لایحۀ

لایحې په واسطه تنظیمېږي .

د جواز لیک تضمین او فیس څوارلسمه ماده:

(۱) د فعالیت د جواز لیک د اخستلو غوښتنلیک ورکوونکي مکلف دي، د فعالیت د جواز لیک له اخستلو د مخه لاندې مبالغ د تضمین په نوم په امانت توګه د دافغانستان بانک لخوا په یوۀ ثبت شوي بانک کې، تحویل کړي:

۱- د عمري بیمې شرکت څلور سوه میلیونه (۴۰۰۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۲- د غیر عمري بیمې شرکت سل میلیونه (۱۰۰۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۳- کمېشنکار پنځوس میلیونه (۵۰۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۴- دخرڅلاو استازی پنځه ویشت میلیونه (۲۵۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۵- سروې کوونکی یو سلو پنځۀ ویشت زره (۱۲۵۰۰۰) افغانی.

(۲) د دې مادې په (۱)فقره کې درج شوي غوښتنلیک ورکوونکي مکلف دي د فعالیت د جواز د جداګانه تنظیم می شود.

تضمین وفیس جوازنامه

مادۀ چهاردهم:

(۱) درخواست دهندګان اخذ جوازنامۀ فعالیت مکلف اند، قبل از اخذ جوازنامۀ فعالیت مبالغ آتی را به عنوان تضمین طور امانت در یکی از بانك های ثبت شدۀ توسط دافغانستان بانك، تحویل نمایند:

۱- شرکت بیمۀ عمری مبلغ چهارصد میلیون (۴۰۰۰۰۰۰۰۰) افغانی .

۲- شرکت بیمۀ غیرعمری مبلغ یکصد میلیون (۱۰۰۰۰۰۰۰۰) افغانی .

۳- کمیشنکار مبلغ پنجاه میلیون (۵۰۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۴- نمایندۀ فروش مبلغ بیست وپنج میلیون (۲۵۰۰۰۰۰۰) افغانی.

۵- سروی کننده مبلغ یکصدوبیست وپنج هزار (۱۲۵۰۰۰) افغانی.

(۲) درخواست دهندګان مندرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف اند در بدل اخذ جوازنامۀ فعالیت

اخستلو په بدل کې هغومره مبلغ چې اندازه یې د مالیې وزارت په وړاندیزاو د وزایرانو شوري په منظوری ټاکل کېږي، د جواز لیک د فیس په نوم د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحویل کړي.

مبلغی را که اندازهٔ آن به پیشنهاد وزارت مالیه ومنظوری شورای وزیران تعیین می شود، به عنوان فیس جوازنامه بحساب واردات دولت تحویل بانك نمایند.

د جواز لیک داعتبار موده او نوي کول

پنځلسمه ماده:

(۱) پدې قانون کې د درج شوو جواز لیکونو د اعتبار موده یو کال ده چې دهغو د صادرېدو له نېټې څخه محاسبه کېږي.

(۲) د جواز لیک د نوي کولو غوښتنلیک د هغهٔ د مودې له تېرېدو څخه (۳۰) ورځې د مخه، د مالیې وزارت ته وړاندې کېږي. د مؤجه عذر د شتون په صورت کې دغه موده نوري (۱۵) ورځې اوږدېږي.

(۳) پدې قانون کې درج شوي د فعالیت جواز لیکونه، هر کال د جواز لیک د فیس په سلو کې د (۸۰) افغانیو د ورکړې په بدل کې، نوي کېږي.

(۴) د مالیې وزارت، پدې قانون کې د درج شووجواز لیکونو

میعاد اعتبار جوازنامه وتجدید آن

مادهٔ پانزدهم:

(۱) مدت اعتبار جواز نامه های مندرج این قانون یك سال بوده که از تاریخ صدور آن ها محاسبه می شود.

(۲) درخواست تجدید جوازنامه (۳۰) روز قبل از انقضای میعاد آن به وزارت مالیه ارایه می گردد. درصورت موجودیت عذر مؤجه این مدت (۱۵) روز دیگر تمدید می شود.

(۳) جوازنامه های فعالیت مندرج این قانون همه ساله دربدل پرداخت مبلغ (۸۰) فیصد فیس جوازنامه، تجدید می گردد.

(۴) وزارت مالیه فعالیت سالانه دارندگان جوازنامه های مندرج

د لرونکو کلني فعالیتونه ارزوي، د فعالیت د اغېزمنتوب او د اړوندو قوانینو او اساسنامې له دقیق په پام کې نیولو په صورت کې، د هغوی دفعالیت جواز لیک نوی کوي.

د بهرنیو اشخاصو د فعالیت جواز شپاړسمه ماده:

(۱) بهرني حقیقي او حکمي اشخاص کولی شي، د دې قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره، په افغانستان کې دبیمې، د خرڅلاو د نمایندګۍ، کمېشنکارۍ اود بیمې د سروې فعالیتونه سرته ورسوي.

(۲) د مالیې وزارت د بشپړو شوو فورمو او د دې قانون په (۱۲) ماده کې د درج شووسندونو له ارزونې وروسته، غوښتنلیک ورکوونکي ته، له غوښتنې سره سم د فعالیت جواز لیک صادروي.

نه پرېښودنه

اووه لسمه ماده:

د فعالیت جواز لیک چې د دې قانون د حکمونو پربنسټ صادرېږي، د هغۀ په لرونکي پورې منحصر دی او د لېږد او پرېښودنې وړ ندی.

ایـن قـانون را ارزیـابی نمـوده، در صـورت مؤثریـت فعالیـت و رعایـت دقیـق قـوانین واساسـنامۀ مربـوط، جوازنامـۀ، فعالیـت آنهـا را تجدیـد می نماید.

جوازنامۀ فعالیت اشخاص خارجی

مادۀ شانزدهم:

(۱) اشـخاص حقیقـی وحکمـی خـارجی مـی تواننـد بارعایـت احکـام ایـن قـانون ، در افغانستان فعالیـت هـای بیمـه ، نماینـدگی فروش، کمیشن کاری وسروی بیمه را انجام دهند.

(۲) وزارت مالیـه بعـد از ارزیـابی فورمـه هـای تکمیـل شده واسناد مندرج مادۀ (۱۲) این قـانون بـرای درخواسـت دهنـده، جوازنامۀ فعالیت را حسب تقاضا صادر می نماید.

عدم واگذاری

مادۀ هفدهم:

جـواز نامـۀ فعالیـت کـه بـه اسـاس احکام این قانون صادر می گردد ، منحـصر بـه دارنـدۀ آن بـوده، قابـل انتقـا ل و واگـذاری نمی باشد.

څلورم فصل
مالي پلټنه

حسابي چارې
اتلسمه ماده:
پدې قانون کې د درج شوي فعالیت د جواز لیک لرونکو حسابي چارې، هر کال د راجستر شوي کورنۍ او بهرني پلټونکې لخوا پلټنه او تصدیقېږي.
د بیمې د فعالیت د جواز لیک لرونکي مکلف دي د پلټونکو د اړتیا وړ سندونه او مدارک د غوښتنې په وخت کې وړاندې کړي.

د حسابداری چارې
نولسمه ماده:
پدې قانون کې د درج شوو جواز لیکونو د لرونکو حسابي چارې، د بین المللي حسابداری د معیارونو او اصولو او اړوندو تقنیني سندونو مطابق، صورت مومي.

تر کنترول لاندې شرکت د رپوټ وړاندې کول
شلمه ماده:
دبیمې کنترولوونکی شرکت مکلف دی، د تر کنترول لاندې

فصل چهارم
تفتیش مالی

امور حسابی
مادۀ هجدهم :
امور حسابی دارندگان جوازنامۀ فعالیت مندرج این قانون هرسال از طرف مفتشین داخلی و خارجی راجستر شده، تفتیش و تصدیق می گردد.
دارندگان جوازنامۀ فعالیت بیمه مکلف اند اسناد ومدارك مورد ضرورت مفتشین را عندالمطالبه ارایه نمایند.

امور حسابداری
مادۀ نزدهم:
امور حسابداری دارندگان جوازنامه های مندرج این قانون مطابق معیار ها واصول حسابداری بین المللی واسناد تقنینی مربوط صورت می گیرد.

ارایۀ گزارش شرکت تحت کنترول
مادۀ بیستم:
شرکت بیمه کنترول کننده مکلف است گزارش سالانه مالی شرکت

شرکت مالي کلنی رپوټ، په خپل پلټل شوي مالي کلني رپوټ کې منعکس اود مالیې وزارت ته وړاندې کړي.

د بیمې جلا ثبتیدل

یوویشتمه ماده:

دبیمې دفعالیت دجواز لیک لرونکی شرکت مکلف دی، د عمري بیمې، غیر عمري بیمې اومجددې بیمې معاملې په جلا توګه ثبت کړي.

د رپوټ محتویات

دوه ویشتمه ماده:

(۱) پدې قانون کې د درج شوو جواز لیکونو لرونکي مکلف دي، خپل کلني او ربعوار مالي رپوټونه چې د لاندې مطالبو لرونکي وي، د مالیې وزارت ته وړاندې کړي:

۱- بیلانس لیک.

۲- د عوایدو بیلانس.

۳- تر دوران لاندې وجوه.

(۲) ربعوار رپوټ کېدی شي له پلټنې پرته په الکترونیکي یا د چاپې نسخې په ډول، د مالیې وزارت ته وړاندې شي.

کلني مالي رپوټونه له ربعوارو مالي رپوټونو سره پرتله تحت کنترول را در گزارش سالانه مالی تفتیش شده خویش منعکس و به وزارت مالیه ارایه نماید.

ثبت جداگانهٔ بیمه

مادهٔ بیست ویکم :

شرکت دارندهٔ جوازنامهٔ فعالیت بیمه مکلف است معاملات بیمهٔ عمری،غیرعمری و بیمهٔ مجدد را به صورت جداگانه ثبت نماید.

محتویات گزارش

مادهٔ بیست و دوم :

(۱) دارندگان جوازنامه های مندرج این قانون مکلف اند ، گزارش های مالی سالانه و ربعوار خویش را که حاوی مطالب ذیل می باشد، به‌وزارت‌مالیه‌ارایه‌نمایند:

۱- بیلانس نامه.

۲- بیلانس عواید.

۳- وجوه تحت دوران.

(۲) گزارش ربعوار می تواند بدون تفتیش به شکل الکترونیکی یا نسخهٔ چاپی به وزارت مالیه ارایه گردد.

گزارش مالی سالانه با گزارشهای مالی ربعوار درمطابقت قرار داده

کېږي.
(۳) په کلني مالي رپوټ کې د ګټې اخستنې وړ پولی واحد ، افغاني پیسې دي.
(۴) د بیمې شرکتونه،کمېشنکاران او د خرڅلاو استازي او د بیمې سروې کوونکي مکلف دي د کلني ثبت د بیلانس یو نقل (کاپي)، د راتلونکي کال د لومړۍ ربعې له پایته رسېدو د مخه، د مالیې وزارت ته وسپاري.

می شود.
(۳) واحد پولی مورد استفاده در گزارش های مالی سالانه ، پول افغانی می باشد.
(۴) شرکت های بیمه ، کمیشنکاران، نمایندگان فروش وسروی کنندگان بیمه مکلف اند ، یک نقل (کاپی) بیلانس شیت سالانه را قبل از ختم ربع اول سال بعد ، به وزارت مالیه بسپارند.

پنځم فصل
مکلفیتونه

فصل پنجم
مکلفیت ها

د زیان د جبران مسئولیت
درویشتمه ماده:
بیمه کوونکي، بیمه کېدونکي ته د اووښتو زیانونو د جبران مسئولیت، د بیمه لیک د شرایطو مطابق په غاړه لري .

مسئولیت جبران خساره
مادۀ بیست وسوم :
بیمه کننده مسئولیت جبران خسارات وارده به بیمه شونده را مطابق شرایط بیمه نامه به عهده دارد.

د زیان د نه جبران حالات
څلېریشتمه ماده:
بیمه کوونکي په لاندې حالاتو کې د زیان په جبران مکلف ندی:
۱- د بیمه کېدونکي تقلب.
۲- د بیمه کېدونکي چل اوغولول.

حالات عدم جبران خساره
مادۀ بیست وچهارم:
بیمه کننده درحالات ذیل مکلف به جبران خساره نمی باشد:
۱- تقلب بیمه شونده.
۲- حیله و فریب بیمه شونده.

۳- د موضوع ذاتي عيب.
۴- له بين المللي معيار څخه لوړ د مالونو په رسولو کې ځنډ او معطلي.

د پېښې له رامنځته کېدو څخه خبر ورکول

پنځه ویشتمه ماده:

بیمه کېدونکی مکلف دی، د پېښې له رامنځته کېدو څخه د پنځلسو ورځو مودې په ترڅ کې بیمه کوونکی خبر کړي، پرته لدې به د بیمې شرکت مسئولیت ونلري، خو دا چې بیمه کېدونکی ثابته کړي چې د خبر ورکول د هغۀ له ارادې څخه د بهر عواملو له امله شوني او په واک کې نه ؤ.

وقایوي تدبیرونه

شپږویشتمه ماده:

بیمه کېدونکی ملکف دی حتی الامکان، د زیان له پېښېدو څخه د مخنیوي په منظور، لازمه څارنه وکړي او د زیان د راکمولو او تخفیف لپاره لازم تدبیرونه ونیسي او عملي یې کړي.

۳- عیب ذاتی موضوع.
۴- تأخیر و معطلی در رسانیدن اموال بالاتر از معیار بین المللی.

اطلاع از وقوع حادثه

مادۀ بیست وپنجم:

بیمه شونده مکلف است ، درخلال پانزده روز از وقوع حادثه بیمه کننده را مطلع سازد ، در غیر آن شرکت بیمه مسئولیتی نخواهد داشت، مگر اینکه بیمه شونده ثابت نماید که ارایۀ اطلاع بنابر عوامل خارج از ارادۀ او ممکن و مقدور نبوده است.

تدابیر وقایوی

مادۀ بیست وششم :

بیمه شونده مکلف است حتی الامکان به منظور جلوگیری از وقوع خساره مراقبت لازم نموده، جهت کاستن و تخفیف خساره تدابیر لازم اتخاذ وعملی نماید .

د بیمه کېدونکي د مسئولیت لېږدېدل

اووه ویشتمه ماده:

بیمه کوونکی د زیان له جبران وروسته، د بیمه کېدونکي د قایم مقام په توګه د بیمه کېدونکي پر علیه د حقیقي او حکمي ثالثو اشخاصو د حقوقو او غوښتنو (طلباتو) د ورکړې مسئول دی.

اضافي حق البیمه

اته ویشتمه ماده:

که چېرې بیمه کېدونکی د بیمې په سندونو کې ځینې مطالب درج کړي نه وي یا یې د حقیقت خلاف درج کړي وي، په داسې توګه چې د خطر ماهیت په بدلېدو یا د هغۀ داهمیت په راتېټېدوتمام شي، بیمه کوونکی کولی شي، د خطر له پېښېدو دمخه، اضافي حق البیمه وغواړي یا بیمه لیک فسخ کړي او ورکړل شوې حق البیمه، بیمه کېدونکي ته مسترده کړي.

انتقال مسئولیت بیمه شونده

مادۀ بیست وهفتم:

بیمه کننده بعد از جبران خساره ، به حیث قایم مقام بیمه شونده مسئول پرداخت حقوق و طلبات اشخاص ثالث حقیقی و حکمی علیه بیمه شونده می باشد .

حق البیمه اضافی

مادۀ بیست وهشتم:

هرگاه بیمه شونده در اسناد بیمه مطالبی را درج ننموده یا خلاف حقیقت درج نموده باشد به نحویکه منجر به تغییر ماهیت خطر یا کاهش اهمیت آن گردد ، بیمه کننده می تواند ، قبل از وقوع خطر، حق البیمه اضافی مطالبه نموده یا بیمه نامه را فسخ نماید و حق البیمۀ پرداخت شده را به بیمه شونده مسترد نماید .

شپږم فصل
د بیمه لیک د باطلېدو او فسخ موارد

بطلان
نهه ویشتمه ماده:
بیمه لیک په لاندې مواردو کې باطل ګڼل کېږي:
۱- که چېرې بیمه کېدونکی د بیمې د ټرون په وخت کې د خطر له پېښېدو څخه خبرتیا ولري.
۲- که چېرې بیمه کېدونکی عمداً د ځینو مطالبو له ویلو څخه ډډه وکړي یا په دروغو ویلو سره د پېښې یا خطر ماهیت ته بدلون ورکړي یا یې اهمیت راکم کړي وی.
۳- که چېرې پېښه یا خطر د بیمې له ټرون څخه د مخه رامنځته شوي وي.

د بیمه لیک د فسخ حالات
دېرشمه ماده:
بیمه لیک په لاندې حالاتو کې فسخ کېږي:
۱- د بیمه کوونکي د انحلال او افلاس په صورت کې .

فصل ششم
موارد بطلان و فسخ بیمه نامه

بطلان
مادۀ بیست ونهم :
بیمه نامه در موارد آتی باطل شناخته می شود :
۱- هرگاه بیمه شونده حین عقد بیمه از وقوع خطر واقف بوده باشد.
۲- هرگاه بیمه شونده عمداً از اظهار مطالبی خود داری یا با اظهارات کاذبانه ماهیت حادثه یا خطر را تغییر داده یا از اهمیت آن کاسته باشد.
۳- هرگاه حادثه یا خطر قبل از عقد بیمه، وقوع یافته باشد.

حالات فسخ بیمه نامه
مادۀ سی ام :
بیمه نامه در حالات آتی فسخ می گردد :
۱- درصورت افلاس و انحلال بیمه کننده.

۲- ددې قانون په اته ویشتمه ماده کې د درج شوې اضافي حق البیمې په ورکړې، د بیمه کېدونکي د نه موافقې په صورت کې، پدې حالت کې اخستل شوې حق البیمه، بیمه کېدونکي ته مسترد ېږي.

۳- د بیمه کېدونکي مړینه او د بیمه لیک په تأیید باندې د ورثې یا بیمه کوونکي نه موافقه.

۴- د بیمه کېدونکي لخوا بل شخص ته د بیمې د موضوع (مال) د لېږدېدو په صورت کې، پداسې توګه چې نومورې شخص د بیمه لیک دوام ته حاضر نشي.

۵- د بیمې د موضوع (مال) یا مواصلاتي کرښو په کمیت، کیفیت او موقعیت کې د بدلون په صورت کې، پدې شرط چې په هکله ئې د اړخونو لخوا مخکنې موافقه صورت موندلی نه وي.

۲- در صورت عدم موافقهٔ بیمه شونده به پرداخت حق البیمهٔ اضافی مندرج مادهٔ بیست وهشتم این قانون، در این حالت حق البیمهٔ اخذ شده به بیمه شونده مسترد می گردد.

۳- فوت بیمه شونده و عدم توافق ورثه یا بیمه کننده به تأیید بیمه نامه.

۴- در صورت انتقال موضوع بیمه (ما ل) ازطرف بیمه شونده به شخص دیگر، طوری که شخص مذکور حاضر به ادامه بیمه نامه نگردد.

۵- در صورت تغییر درکمیت، کیفیت و موقعیت موضوع بیمه (مال) یا خطوط مواصلاتی، مشروط بر اینکه در مورد موافقه قبلی طرفین صورت نگرفته باشد.

اووم فصل
جزائي حکمونه

دفعالیت د جواز غندول
یودېرشمه ماده:
(۱) کـه چېـرې د زیـان د جبـران د څېړنې په پړاو کې ثابتـه شي چې د بیمه کېدونکي یـا ذینفـع د عمدي اعمالو سرته رسېدل، دېېښې سبب شویدي، مرتکب تر عـدلي تعقیـب لاندې نیول کېږي اود زیان جبران د محکمـې د وروسـتۍ پرېکـړې تـر صـادرېدو پـورې د تعلیـق په حالـت کې راځي.
(۲) که چېرې د ارزونې په پړاو کې ثابتـه شـي چـې د فعالیـت د جـواز لیک د غوښتنلیک فورم، د دروغـو او د حقیقـت خـلاف معلومـاتو لرونکـی دی، مرتکـب تـر عـدلي تعقیـب لاتـدې نیـول کېـږي او د فعالیت جواز لیک یې د محکمې د وروسـتۍ پرېکـړې تـر صـادرېدو پورې د تعلیق په حالت کې راځي.

فصل هفتم
احکام جزایی

تعلیق جوازنامۀ فعالیت
مادۀ سی ویکم:
(۱)هرگـاه درمراحـل رسـیدگی بـه جبـران خـساره ثابـت گـردد کـه انجـام اعمـا ل عمـدی بیمـه شـونده یـا ذینفع،سـبب حادثـه شده، مرتکب تحت تعقیب عدلی قـرار گرفتـه وجبـران خـساره تـا صدورفیـصلۀ نهـائی محکمـه درحالـت تعلیـق قرار داده می شود.
(۲) هرگـاه در مراحـل ارزیـابی ثابـت گـردد کـه فـورم درخواسـت جوازنامۀ فعالیت حاوی معلومات کـاذب وخـلاف حقیقت مـی باشـد. مرتکـب تحـت تعقیـب عـدلی قـرار گرفتـه وجوازنامـۀ فعالیـت وی تـا صـدور فیـصلۀ نهـائی محکمـه درحالـت تعلیق قرار داده می شود.

د زیان د جبران د تر لاسه کولو لپاره دروغ معلومات

دوه دېرشمه ماده:

که چېرې بیمه کېدونکی، د زیان د جبران د ترلاسه کولو لپاره دروغ معلومات وړاندې کړي یا دحقیقت خلاف عملونو مرتکب شي، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

معلومات کاذب جهت دریافت جبران خساره

مادۀ سی ودوم :

هرگاه بیمه شونده معلومات کاذب را به منظور دریافت جبران خساره ارایه نماید یا اعمال خلاف حقیقت را مرتکب گردد ، مورد تعقیب عدلی قرار می گیرد.

د حقیقت خلاف رپوټ

دري دېرشمه ماده:

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، د پېښې د پېښېدو په اړه، د حقیقت خلاف مالي رپوټ، برابر او عمداً یې لاسلیک کړي، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

گزارش خلاف حقیقت

مادۀ سی وسوم:

هرگاه مؤظف خدمات عامه گزارش مالی خلاف حقیقت را در رابطه به وقوع حادثه ترتیب وعمداً امضأ نماید ، تحت تعقیب عدلی قرار می گیرد.

د اسرارو اومحرمو سندونو نه افشاء کول

څلور دېرشمه ماده:

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د بیمې د اسرارو او محرمو سندونو په افشاء کولو لاس پورې کړي، د قانون د حکمونو مطابق، تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

منع افشای اسرار واسناد محرم

مادۀ سی وچهارم:

هرگاه مؤظف خدمات عامه به افشای اسرار واسناد محرم بیمه بپردازد ، طبق احکام قانون تحت تعقیب عدلی قرار می گیرد.

د کار د پلان نه تطبیقول
پنځه دېرشمه ماده:
که چېرې د فعالیت دجواز لیکونو لرونکي ونکړی شي دخپل کار پلان بشپړ او تطبیق کړي،د مالیې وزارت کولی شي د هغوی دفعالیت جواز لیک، د پلان تر بشپړولو او تطبیق پورې وځنډوي.

د تأدیب ډولونه
شپږدېرشمه ماده:
که چېرې د فعالیت د جواز لیکونو لرونکی پدې قانون،نورو تقنیني سندونو او اړونده اساسنامه کې له درج شوحکمونو څخه سرغړونه وکړي،د مالیې وزارت کولی شي سرغړوونکی له احوالوسره سم، په لاندې توګه تأدیب کړي:
۱- لومړی ځل، توصیه.
۲- دوه یم ځل، دا خطا ریې صادرول.
۳- دریم له احوالو سره سم تر (۴۵) ورځو مودې پورې د فعالیت د جواز لیک ځنډول.
۴- څلورم ځل، د فعالیت د جواز لیک فسخ کېدل اود عدلي تعقیب لپاره د هغۀ ورپېژندل.

عدم تطبیق پلان کار
مادۀ سی وپنجم :
هرگاه دارندگان جواز نامه های فعالیت نتوانند پلان کارخویش را تکمیل وتطبیق نمایند ، وزارت مالیه می تواند جوازنامۀ فعالیت آنها را الی اکمال وتطبیق پلان تعلیق نماید.

اشکال تأدیب
مادۀ سی وششم:
هرگاه دارندگان جوازنامه های فعالیت ازاحکام مندرج این قانون، سایر اسناد تقنینی واساسنامۀ مربوط تخطی نمایند ، وزارت مالیه می تواند متخلف را حسب احوال ذیل تأدیب نماید :
۱- بار اول، توصیه .
۲- بار دوم، صدور اخطاریه.
۳- بارسوم، تعلیق جواز نامۀ فعالیت حسب احوال الی مدت (۴۵) روز.
۴- بار چهارم، فسخ جوازنامۀ فعالیت ومعرفی وی غرض تعقیب عدلی.

د نه نوي کولو په صورت کې دجواز فسخ

اووه دېرشمه ماده:

د مالیې وزارت د فعالیت د جواز لیک د نه نوی کېدو په صورت کې، د دې قانون د پنځلسمې مادې په (۲) فقره کې په درج شوې موده کې، د فعالیت جواز لیک فسخ کوي.

فسخ جوازدرصورت عدم تجدید

مادۀ سی وهفتم :

وزارت مالیه درصورت عدم تجدید جوازنامۀ فعالیت، در میعاد مندرج فقرۀ (۲) مادۀ پانزدهم این قانون جوازنامۀ فعالیت را فسخ می نماید.

اتم فصل
متفرقه حکمونه

فصل هشتم
احکام متفرقه

د بیمې د شرکتونو انحلال

اته دېرشمه ماده:

د بیمې شرکت د قانون د حکمونو مطابق منحلېږي.

د شرکت د انحلال په صورت کې، د فعالیت اصل جواز لیک، د مالیې وزارت ته مسترد ېږي.

انحلال شرکت های بیمه

مادۀ سی وهشتم :

شرکت بیمه مطابق احکام قانون منحل می شود.

درصورت انحلال شرکت، اصل جوازنامۀ فعالیت به وزارت مالیه مسترد می گردد.

ورثې ته د حقوقو لېږدېدل

نهه دېرشمه ماده:

د بیمه کېدونکي د مرینې په صورت کې د هغۀ ټول حقوق، د بیمه لیک د شرایطو مطابق، د هغۀ قانوني ورثې ته لېږدول کېږي.

انتقال حقوق به ورثه

مادۀ سی ونهم :

در صورت فوت بیمه شونده تمام حقوق وی مطابق شرایط بیمه نامه به ورثۀ قانونی اش انتقال می یابد .

اتکایي بیمه

څلوېښتمه ماده:

بیمه کوونکی کولی شي د زیان د جبران لپاره د اتکایي بیمې له شرکتونو سره قرارداد عقد کړي.

د شخړو حل او فصل کول

یوڅلوېښتمه ماده:

په بیمې پورې د اړوندو دعواوو څېړل، د بیمه لیک د مندرجاتو مطابق او په هغۀ صورت کې چې په بیمه لیک کې اټکل شوي نه وي، د دې قانون، د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون اود تضامني شرکتونو د حکمونو مطابق، د هغې سوداګریزې محکمې له واکونو څخه دي چې د بیمه کوونکي مقر یا یې نمایندګي د هغې د قضایي واک په دایره کې دننه واقع شوي وي.

اړخونه کولی شي، محکمې ته د دعوي له احالې د مخه، د پام وړ اختلاف د منځګړیتوب اوحکمیت له لارې حل او فصل کړي

بیمۀ اتکائی

مادۀ چهلم:

بیمه کننده می تواند، جهت پرداخت جبران خساره با شرکتهای بیمۀ اتکائی عقد قرارداد نماید.

حل وفصل منازعات

مادۀ چهل ویکم:

رسیدگی به دعاوی مربوط به بیمه مطابق به مندرجات بیمه نامه و در صورتی که در بیمه نامه پیشبینی نشده باشد طبق احکام این قانون، قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت و قانون شرکت های تضامنی ازصلاحیت محکمۀ تجارتی است که مقر بیمه کننده یا نماینده گی آن داخل دایرۀ صلاحیت قضایی آن واقع شده باشد.

طرفین می توانند، قبل از احالۀ دعوی به محکمۀ، اختلاف مورد نظر را از طریق میانجگری وحکمیت حل وفصل نمایند.

د قوانینو په پام کې نیول
دوه څلوېښتمه ماده:
(۱) بیمه کوونکی په خپلو فعالیتونو کې د دې قانون، نورو تقنیني سندونو حکمونه او بین المللي تعاملات په پام کې نیسي.
(۲) هغه موارد چې پدې قانون کې اټکل شوي ندي، د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون اود خصوصي پانګې اچونې د قانون دحکمونو مطابق، حل او فصل کېږي.

رعایت قوانین
مادۀ چهل ودوم:
(۱) بیمه کننده در فعالیت های خود ، احکام این قانون ، سایر اسناد تقنینی و تعاملات بین المللی را رعایت می نماید.
(۲) مواردی که دراین قانون پیشبینی نشده است، مطابق احکام قانون شرکت های سهامی ومحدودالمسئولیت وقانون سرمایه گذاری خصوصی حل و فصل می گردد.

د مقررو اولایحو وضع کول
دري څلوېښتمه ماده:
د مالیې وزارت د دې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، مقررې له پراوونو څخه تېروي او لایحې او کړنلارې وضع کوي.

وضع مقرره ها ولوایح
مادۀ چهل وسوم :
وزارت مالیه به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، مقرره ها را طی مراحل و لوایح وطرزالعمل ها را وضع می نماید.

انفاذ
څلور څلوېښتمه ماده:
دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي، په نافذېدو سره يې د ۱۳۶۸ کال د غبرګولي د ۳۱ نېټې په (۶۹۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د بیمې قانون اود

انفاذ
مادۀ چهل وچهارم:
این قانون ازتاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد. با انفاذ آن قانون بیمه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۶۹۴) مؤرخ ۳۱ جوزاسال ۱۳۶۸

۱۳۸۴/۱۱/۵ نېټې په (۸۷۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د بیمې قانون دځینو موادو د تعدیل او حذف په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس د ۱۳۸۴/۹/۲۷ نېټې (۱۱۸) ګڼه فرمان، لغو ګڼل کېږي.

و فرمان شماره (۱۱۸) مؤرخ ۱۳۸۴/۹/۲۷ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در بارهٔ تعدیل وحذف برخی از مواد قانون بیمه منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۸۷۴) مؤرخ ۱۳۸۴/۱۱/۵ ملغی پنداشته می شود.

قانون محصول حق العبور

عدلیه وزیر محترم سرور دانش!

ګڼه (۱۴۴۸۶)

نېټه ۱۳۸۷/۹/۵

د حق العبور دمحصول قانون چې دملي شوري دمجلسونو دګډ هیئت د۱۳۸۷/۳/۶ نېټې تر(۸۴) ګڼې فیصلې لاندې په (۴) فصلونو او (۲۰) مادوکې تصویب شوی، د منضمه ملاحظاتو په دلیل د ۱۳۸۷/۳/۲۷ نېټې (۲۰۹۶) ګڼه لیك په ذریعه ېېرته دولسي جرګې مجلس ته اعاده او د ۱۳۸۷/۶/۱۰ **نېټې** تر (۹۷) ګڼې مصوبې لاندې د ټولو غړوپه دوو ثلثو سره د دمخه فیصله تصویب شوېده.

بناءً د افغانستان داساسي قانون د (۹۴) مادې دحکم له مخې مصوبه له قانون سره یوځای تاسو ته درواستول شوه څویې درسمي

محترم سرور دانش وزیر عدلیه !

شماره مسلسل (۱۴۴۸۶)

تاریخ تصویب ۱۳۸۷/۹/۵

قانون محصول حق العبور که طی فیصلهٔ شماره (۸۴) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۶ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی در (۴) فصل و(۲۰) ماده تصویب وبدلیل ملاحظات منضمه، ذریعهٔ نامهٔ شماره (۲۰۹۶) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۲۷ دوباره به مجلس ولسی جرگه اعاده وطی مصوبهٔ شماره (۹۷) مؤرخ ۱۳۸۷/۶/۱۰ با دوثلث آرای کل اعضاء فیصلهٔ قبلی مورد تصویب، قرارگرفته است.

بناءً به تأسی از حکم مادهٔ (۹۴) قانون اساسی افغانستان، مصوبهٔ همراه با قانون به شما ارسال **شد** تا درنشر آن از

جریدې لـه لارې پـه خپرولـو لاس پورې کړئ.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

طـــریق جریـدۀ رســمی اقــدام نمایند.

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

ولسي جرګه
مصوبه
دحق العبور دمحصول قانون دټولو غړو په دوه ثلثه رایو سره
پرله پسې ګڼه (۹۷)
دتصویب نېټه ۱۳۸۷/۶/۱۰

ولسي جرګې د ۱۳۸۷/۶/۱۰ نېټې دیکشنبې د ورځې په عمومي غونډه کې داساسي قانون دڅلور نوي یمې مادې دحکم پربنسټ دحق العبور دمحصول قانون د دوه یم ځل لپاره دټولو غړو په دوه ثلثه رایو سره تصویب کړ.

په درنښت
امان الله پیمان
دولسي جرګې دوه یم نائب

ولسی جرگه
مصوبه
قانون محصول حق العبور
به دوثلث آرای کل اعضاء
شماره مسلسل (۹۷)
تاریخ تصویب ۱۳۸۷/۶/۱۰

ولسی جرگه درجلسه عمومی روز یکشنبه مؤرخ ۱۳۸۷/۶/۱۰ خویش به تأسی از حکم مادۀ نودوچهارم قانون اساسی قانون محصول حق العبور را مجدداً به دوثلث آرای کل اعضاء تصویب نمود.

با احترام
امان الله پیمان
نائب دوم ولسی جرگه

د حق العبور د محصول
قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

مبني
لومړی ماده:
دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د دوه څلوېښتمې مادې دحکم له مخې له هغونقلیه وسایطوڅخه چې له عمومي لویو لارو (واټونو) څخه تېرېږي، دحق‌العبور دمحصول د اخستلو د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی.

موخې
دوه یمه ماده:
دحق العبور محصول له ښاره دوتلو (خروجي) دروازو څخه دنقلیه وسایطو د وتلو په وخت کې ، دلاندې موخو دتأمینېدو په منظور اخیستل کېږي:
۱- د قیر شوی سرکونو څارنه او ساتنه.
۲- د خامه سرکونو ترمیم او جغل اچول.
۳-د موجوده قیر شوی سړکونو ترمیم او له سره جوړونه.
۴- د نویو قیر شویو سړکونو

قانون
محصول حق العبور
فصل اول
احکام عمومی

مبنی
مادۀ اول :
این قانون به تأسی ازحکم مادۀ چهل ودوم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به اخذ محصول حق‌العبور ازوسایط نقلیه ایکه شاهراه های عمومی را عبور می نمایند ، وضع گردیده است.

اهداف
مادۀ دوم :
محصول حق العبور حین خارج شدن وسایط نقلیه از دروازه های خروجی شهرها به منظور تأمین اهداف ذیل اخذ می گردد :
۱- حفظ ومراقبت شاهراه های اسفالت شده.
۲- جغل اندازی وترمیم سرك های خامه.
۳- ترمیم و اعمار مجدد شاهراه های موجوده اسفالت شده.
۴- اعمار شاهراه های جدید

جوړونه.
۵- د لویو او کوچنیو پلونو جوړول.

دوسایطودتګ منع کیدل او حق العبور دمحصول داخستلو موارد درېیمه ماده:

(۱) هیڅ ډول زرهی او چین داره وسایط په قیر شویو سړکونو تګ راتګ نشي کولای، بیړني حالت له دی حکم څخه مستثنی دي.

(۲) هغه بار وړونکی وسایط، چې له لویو لارو او د موټر لارو، پلونو پر سر تګ راتګ کوي،نه شي کولای چې اضافه بار د عامه ګټو د وزارت د مقررو او لوایحو خلاف انتقال کړي.

(۳) د عامه ګټو وزارت مکلف دی، چې د تونلونو،لویو هوائی او سیند په سر پلونو او میترو ګانو کې لایحه ترتیب او پلي کړي.

(۴) له هغو وسایطو نه،چې د افغانستان اوګاونډیو هېوادونو ترمنځ د غټو پولونو څخه تېریږي په لاندي ډول تري حق العبور اخیستل کېږي:

اسفالت شده.
۵- اعمار پل های بزرگ و کوچک.

منع عبور وسایط وموارد اخذ محصول حق العبور

مادۀ سوم :

(۱) هیچ یك از وسایط چین دار و زرهی از سرك های اسفالت شده عبور نموده نمی تواند ، حالت اضطراری از این حکم مستثنی است.

(۲) وسایط باربری که از شاهراه ها و پل های مسیر موتر، عبور و مرور می نمایند ، نمی توانند بار اضافی خلاف مقرره و لوایح که از جانب وزارت فواید عامه تنظیم می گردد ، انتقال دهند.

(۳) وزارت فواید عامه مکلف است، لایحه ای محصول حق العبور تونل ها ، پل های بزرگ هوائی و بالای دریا ها ومیتروها را ترتیب و تطبیق نماید.

(۴) محصول حق العبور وسایط نقلیه حین عبور از پل های بزرگ عبوری میان افغانستان و کشورهای همسایه قرار ذیل اخذ می گردد:

۱- کوچني یا تیز رفتاره موټر (۱۰۰) افغاني.
۲- (۳۰۲ او ۳۰۳) موټرو څخه (۲۰۰) افغانۍ.
۳- له بار وړونکو موټرو څخه (۵۰۰) افغانۍ.

دمحصول د ورکړې مکلفیت څلورمه ماده:

دنقلیه وسایطو ټول چلوونکي مکلف دي، ددې قانون دحکمونو مطابق، دعمومي لویو لارو دحق العبور ټاکلی محصول ورکړي.
د دولتي،نظامي(پولیس اوملي اردو) ، دجنازي موټر ، امبولانس، اوروژنې ، موټرسایکل ، بایسکل،ریکشا ،کراچۍ اوګاډۍ نقلیه وسایطوچلوونکي، لدې حکم څخه مستثني دي.

دمحصول دټولولومرجع پنځمه ماده:

(۱) دعامه ګټو وزارت په هېواد کې دعمومي لویولارو دحق العبور دمحصول د ټولولو، کنترول اوخارنې یوازنۍ مرجع ده.
(۲) دکورنیو چارو وزارت دحق العبوردعوایدو د محصول دسم

۱- موترهای تیز رفتار مبلغ (۱۰۰) افغانی.
۲- موترهای (۳۰۲ و۳۰۳) مبلغ (۲۰۰) افغانی.
۳- موترهای باربری مبلغ (۵۰۰) افغانی.

مکلفیت پرداخت محصول مادۀ چهارم :

تمام رانندگان وسایط نقلیه مکلف اند ، مطابق احکام این قانون محصول معین حق- العبور شاهراه های عمومی را بپردازند.
رانندگان وسایط نقلیه دولتی ، نظامی (پولیس و اردوی ملی) ، موترجنازه ، امبولانس ، اطفائیه ، موترسایکل ، بایسکل ، ریکشا ، کراچی و گادی از این حکم مستثنی می باشد.

مرجع جمع آوری محصول مادۀ پنجم :

(۱) وزارت فواید عامه یگانه مرجع جمع آوری کنترول و نظارت از محصول حق العبور شاهراه های عمومی در کشور می باشد.
(۲) وزارت امور داخله به منظور تحصیل بهتر عواید

تحصیل، د اړوندو کارکوونکو دساتنې او امنیت په منظور، دمحصولې ټکټ د وېش اوکنترول په ځایونوکې لاړمې اسانتیاوې برابروي.

ټاکلې بانکي حساب ته دعوایدو تحویلول

شپږمه ماده:

(۱) دعامه ګټو وزارت د نقلیه وسایطودحق العبور محصول، د لاندې فورمول مطابق راټولوي:

د یوه کیلومتر ټاکلی محصول X واټن = د ورکړې وړ محصول.

(۲) دحق العبور دمحصول اوپه دې قانون کې د درج شوو جریمو له درکه ترلاسه شوي وجوه د دولت عواید دي ، په مرکز او ولایتونو کې ټاکلي بانکي حساب ته تحویلېږي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي عواید د دې قانون د دوه یمې مادې په ذکر شوو مواردوکې لګول کیږي.

حق العبور وحفاظت و امنیت کارکنان مربوط تسهیلات لازم را در محلات توزیع تکت محصولی و کنترول فراهم می نماید.

تحویل عواید به حساب معینه بانکی

مادۀ ششم :

(۱) وزارت فواید عامه محصول حق العبور وسایط نقلیه را طبق فورمول ذیل جمع آوری می نماید:

محصول معین یک کیلومتر X فاصله = محصول قابل پرداخت.

(۲) وجوه حاصله ازدرك محصول حق العبور وعواید ناشی از جریمه های مندرج این قانون عواید دولت بوده ، درمرکز و ولایات بحساب معینه بانکی تحویل می گردد.

(۳) عواید مندرج فقرۀ (۲) این ماده صرف درموارد ذکر شده درمادۀ دوم این قانون به مصرف میرسد.

دوه یم فصل
دحق العبور د محصول
د ټولولو ډول

دمحصول دټولولو ځای
اوومه ماده:

(۱) دعامه ګټو وزارت، دحق‌العبور محصول د اړوندو مامورینو په واسطه له بنارونو څخه د وتلو د دروازو په ټاکلي ځای کې دنقلیه وسایطودوتلوپه وخت کې اخلي.

(۲) په نورو ځایونوکې دحق العبور محصول اخستل جواز نه لري.

دمحصول اندازه
اتمه ماده:

له عمومي لویو لارو څخه د تیریدو په وخت کې د نقلیه وسایطو د حق‌العبور محصول، د محصولي ټکټ له مخې په لاندې ډول اخیستل کېږي.

۱- له سراچې، والګا، کرولا، کرونا، سرف، لنډکروزر، جیپ او دوی ته ورته نقلیه وسایطو څخه په یو کیلومتر کې (۰/۳۰) افغانی.

۲- له فلاین کوچ، تونس،

فصل دوم
طرز جمع آوری محصول
حق العبور

محل جمع آوری محصول
مادۀ هفتم :

(۱) وزارت فواید عامه محصول حق العبور را توسط مامورین مربوط درمحل معین دروازه های خروجی شهر ها، حین خروج وسایط نقلیه اخذ می نماید.

(۲) اخذ محصول حق العبور در سایر محلات مجاز نمی باشد.

اندازۀ محصول
مادۀ هشتم :

محصول حق العبور وسایط نقلیه حین عبور از شاهراه های عمومی برویت تکت محصولی قرار ذیل اخذ می گردد:

۱- از وسایط نقلیه سراچه، والګا، کرونا، کرولا، سرف، لندکروزر، جیپ و امثال آن در فی کیلومتر مبلغ (۰/۳۰) افغانی.

۲- از وسایط نقلیه فلاین کوچ،

سوپرکشتم، راف او دوی ته ورته نقلیه وسایطو او تراکتور څخه په یو کیلومتر کې (۰/۵۰) افغانۍ.
۳- له مني بس، کاستر او دوی ته ورته نقلیه وسایطو څخه په یو کیلومتر کې (۰/۷۰) افغانۍ.
۴- له (۳۰۲) ، (۳۰۳) سرویس، کاماز ،بلولین، پاز او دوی ته ورته وسایطو څخه په یو کیلومتر کې (۱/۰۰) افغانۍ.
۵- له خاور، دینا، ذیل ،ماز، هینو، لاری ، لوبای او دوی ته ورته د بار وړونکو نقلیه وسایطو څخه په یو کیلومتر کې (۱/۲۰) افغانۍ.
۶- له (۱۶۲۰) باروړونکو، کرن، بلدوزر، اسکواتور، ګریدر او دوی ته ورته نقلیه وسایطو څخه په یو کیلومتر کې (۱/۵۰) افغانۍ.
۷- له (۱۶۲۰) ټیلر لرونکو بار وړونکو نقلیه وسایطو څخه په یوه کیلومتر کې (۲/۰۰) افغانۍ.

دمحصولی ټکټ ډول

نهمه ماده:

(۱) دعامه ګټو وزارت مؤظفه اداره مکلفه ده، محصولي ټکټ دنقلیه واسطې د ډول له په پام کې تونس، سوپر کشتم، راف وامثال آن و تراکتور، در فی کیلومتر مبلغ (۰/۵۰) افغانی.
۳- از وسایط نقلیه منی بس، کاستر و امثال آن در فی کیلومتر، مبلغ (۰/۷۰) افغانی.
۴- از وسایط نقلیه (۳۰۲)، (۳۰۳) سرویس ،کاماز، بلولین،پاز و امثال آن در فی کیلومتر مبلغ (۱/۰۰) افغانی.
۵- از وسایط نقلیه بار بری خاور، دینا، ذیل ، ماز، هینو ، لاری، لوبای و امثال آن در فی کیلومترمبلغ (۱/۲۰) افغانی.
۶- از وسایط نقلیه (۱۶۲۰) باربری ، کرن، بلدوزر، اسکواتر، گریدر، و امثال آن در فی کیلومتر، مبلغ (۱/۵۰) افغانی.
۷- از وسایط نقلیه باربری (۱۶۲۰) تریلردار در فی کیلومتر مبلغ (۲/۰۰) افغانی.

نوعیت تکت محصولی

مادۀ نهم :

(۱) ادارۀ مؤظف وزارت فواید عامه مکلف است ، تکت محصولی را بانظرداشت نوعیت

نیولو سره په دریو پانې په مختلفو رنګونو ترتیب او دحق العبور دمحصول د ټولولو دمؤظفینو په واک کې ورکړي.

(۲) یو پانه یې د کندې په توګه او دوه پانه نور یې ډربور ته ورکول کېږي دویم پانه یې د ډریور په وسیله دویم تمځای ته تسلیم او درېیم پانه یې د نومورې سند دي.

(۳) دویمه پانه یې د دویم تمځای له خوا د اړوند مستوفیت ته داجراآت او د هغو له روغوالي اوسقم نه ډاډ حاصل کېدلو له پاره سپارل کېږي.

(۴) د عامه ګټو وزارت د دې قانون له تنفیذ څخه د دوه کالو په موده کې د ټول بندرونه، چې حق العبور اخلی کمپیوترایز کړي.

واسطه نقلیه در سه پارچه به رنگ های مختلف ترتیب و به اختیار مؤظفین جمع آوری محصول حق‌العبورقرار دهد.

(۲) پارچه اول به صورت کنده و دوپارچه دیگر به دریور داده می شود. پارچه دوم از طرف دریور به توقفگاه دومی تسلیم و پارچه سومی سند وی شناخته می شود.

(۳) پارچه دوم از طرف توقفگاه دوم به مستوفیت مربوط جهت اجراآت وحصول اطمینان از صحت وسقم آن ارایه می گردد.

(۴) وزارت فواید عامه به مدت دو سال بعد از تنفیذ این قانون جمله بنادریکه حق العبور اخذ می نمایند کمپیوترایز نماید.

دمحصولي ټکټ د وېش (توزیع) مکلفیت

لسمه ماده:

(۱) دحق العبور دمحصول داخستلو مؤظفین مکلف دي، دنقلیه واسطې د وتلوپه وخت کې، محصولي ټکټ د واټنونوجدول او

مکلفیت توزیع تکت محصولی

مادۀ دهم :

(۱)مؤظفین اخذ محصول حق العبور مکلف اند ، حین خروج واسطه نقلیه ، تکت محصولی را با نظرداشت

دنقلیه واسطې ډول ته په پام سره ، دټاکلي مبلغ په بدل کې چلوونکي ته وسپاري.

(۲) وېشل شوی محصولي ټکټ یوازې د یوۀ ځل لپاره، دښارونو د وتلو له دروازو څخه دتېرېدو په وخت کې اعتبار لري.

ځارنه اوکنترول

یوولسمه ماده:

دعامه ګټو وزارت مکلف دی ،په عمومي لویو لارو کې دنقلیه وسایطو دحق العبور دمحصول د اخستلو له بهیر څخه څارنه اوکنترول وکړي.

د رپوټ ورکړې کول

دوولسمه ماده:

د حق العبور د محصول د اخیستنې مؤظفین مکلف دي د خپلو کړنو رپوټ د هرې میاشتې په پای کې د اړونده اداري ته ورکړي او لاس ته راغلي مبلغ د هماغه ځای نژدې بانکي نماینده ګی ته تسلیم او د هغه د آویز د اخیستلو یو کاپي د مالیې وزارت او بله کاپي د عامه ګټو وزارت ته وسپاري.

جدول فواصل ونوعیت واسطه نقلیه دربدل اخذ مبلغ معینه به راننده بسپارند .

(۲) تکت محصولی توزیع شده صرف برای یکبار ،حین عبور از دروازه های خروجی شهر ها اعتبار دارد.

نظارت وکنترول

مادۀ یازدهم :

وزارت فواید عامه مکلف است، از جریان اخذ محصول حق‌العبور وسایط نقلیه درشاهراه های عمومی کنترول و نظارت نماید.

ارایه گزارش

مادۀ دوازدهم :

مؤظفین اخذ محصول حق العبور مکلف اند ، گزارش اجراآت خویش را در اخیر هرماه به ادارۀ مربوطه ارائه و مبلغ جمع آوری شده را به نزدیک ترین نمایندگی بانک تسلیم نموده و آویز اخذ نمایند یک کاپی آن را به وزارت مالیه و کاپی دیگر را به وزارت فواید عامه تسلیم نمایند.

د واټنونودجدول ترتیبول دیارلسمه ماده:

(۱) دعامه ګټو وزارت مکلف دی د اړونـدو ادارو پـه همکـاری ، دعمـومي جـادو او لویـو لارو د واټنونـو جـدول د ولایتونـو او ولسوالیو په تفکیک سره ترتیب او لـه ښـارونو څخـه د وتلـو پـه ټولـو دروازو کـې یـې دحـق العبـور داخـستلو مؤظفینـو پـه واک کـې ورکړي.

(۲) د حـق العبـور دمحـصول د اخستلو مؤظفین مکلف دي، ددې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوی جـدول د حـق العبـور د محـصول داخـستلو اودټکـټ د ورکولـو پـه ځـای کـې پداسې ډول نـصب کـړي چې چلوونکو ته دلیدلو وړ وي.

د چلوونکو مکلفیت څوارلسمه ماده:

دنقلیه واسطې چلوونکی د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- دښـار لـه دروازو څخـه د وتلـو پـه وخـت کـې د محـصولي ټکـټ اخیستل.

۲- پـه محصولي ټکټ کـې د درج شوي مبلغ ورکړه.

ترتیب جدول فواصل

مادۀ سیزدهم :

(۱) وزارت فوایـد عامـه مکلـف است بـه همکـاری ادارات ذیـربط ، جـدول فواصـل جـاده هـا و شـاهراه هـای عمـومی رابـا تفکیـك ولایـات وولـسوالی هـا ترتیـب ودرتمـامی دروازه هـــای خـــــروجی شـهر هـــــا بـــه دســـــــترس مؤظفین اخذ محصول حق العبور قرار دهند .

(۲) مـــؤظفین اخـــذ محـــصول حـق العبـور مکلـف انـد ، جـدول منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن مـاده را در محـــل اخـــذ محـــصول و توزیـــع تکـت طـوری نـصب نماینـد کـه قابلیـت دیـد را بـرای رانـندگان داشته باشد .

مکلفیت رانندگان

مادۀ چهاردهم :

رانـــندۀ واســـطۀ نقلیـــه ، دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- اخـذ تکـت محـــــــصولی حیـــــن خـــــــروج از دروازه شهر.

۲- پرداخـت مبلـغ منـدرج تکـت محصولی .

۳- دځارنې اوکنترول مسئولینو ته دمحصولي ټکټ ښکاره کول .
۴- دپیسو دتحویلولو او دمحصولي ټکټ د اخیستلو په وخت کې دنظم ساتل .
۵- ددې قانون او نورو تقنیني سندونو د حکمونو په پام کې نیول .

۳- ارایهٔ تکت محصولی به مسئولین نظارت و کنترول .
۴- رعایت نظم حین تحویل پول و اخذ تکت محصولی .
۵- رعایت احکام این قانون وسایر اسناد تقنینی .

درېیم فصل
تأدیبي حکمونه

فصل سوم
احکام تأدیبی

دسرغړوونکي مامور تأدیب

پنځه لسمه ماده:
که چېرې د حق العبور دمحصول داخیستلو مؤظف مامور،دنقلیه واسطې چلوونکي ته دښار د وتلو له دروازې څخه دتېرېدو په وخت کې،محصولي ټکټ توزیع نکړي، دقانون دحکمونو مطابق ترعدلي تعقیب لاندې نیول کېږي .

تعقیب عدلی مامور متخلف

مادهٔ پانزدهم :
هرگاه مامور مؤظف اخذ محصول حق العبور ، به رانندهٔ واسطهٔ نقلیه حین عبور از دروازه خروجی شهر، تکت محصولی توزیع نه نماید ، مطابق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرار می گیرد .

د سرغړوونکي چلوونکی تأدیب

شپاړلسمه ماده:
(۱) که چېرې دنقلیه واسطې چلوونکی ، دمحصولي ټکټ له اخیستلو پرته دښار دوتلو له دروازې څخه تېرشي، په محصولي ټکټ کې پر درج شوو پیسو

تأدیب رانندهٔ متخلف

مادهٔ شانزدهم :
(۱) هرگاه رانندهٔ واسطهٔ نقلیه، بدون اخذ تکت محصولی از دروازهٔ خروجی شهر عبور نماید علاوه بر پول مندرج تکت محصولی، پنج چند آن طور

برسېره دهغو پنځه چنده د جريمې په توګه هم ورځخه اخستل کېږي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې جريمه دمخصوص ټکټ له مخې چې شکل او محتوی يې دعامه ګټو وزارت لخوا مشخصېږي، اخستل کېږي .

جریمه از وی نیز اخذ می گردد.

(۲) جریمۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده به رویت تکت مخصوص که شکل ومحتوی آن از طرف وزارت فوایدعامه مشخص می‌شود ،اخذمی گردد.

دمحصولي ټکټ تقلب

اووه لسمه ماده:

که چېرې د حق العبور دمحصول داخستلو مؤظف مامور يا دنقليه واسطې چلوونکی محصولي ټکټ تقلب کړي، دقانون دحکمونو مطابق ترعدلي تعقيب لاندې نيول کېږي .

تقلب تکت محصولی

مادۀ هفدهم:

هرگاه مامور مؤظف اخذ محصول حق العبور یا رانندۀ واسطۀ نقلیه، تکت محصولی را تقلب نمایند ،طبق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرار می گیرند.

څلورم فصل
متفرقه حکمونه

دمحصول پراندازې باندې نوې کتنه

اته لسمه ماده:

(۱) دعامه ګټو وزارت کولای شي، دترانسپورت او دمالیې د وزارتونو په همکاری ،حالاتوته په پام سره ددې قانون په اتمه ماده کې درج شوی دحق العبور دمحصول په هکله نوې کتنه

فصل چهارم
احکام متفرقه

تجدید نظر بر اندازۀ محصول

مادۀ هجدهم :

(۱) وزارت فواید عامه می تواند ، به همکاری وزارت های ترانسپورت ومالیه با نظرداشت حالات،در مورد محصول حق العبور مندرج مادۀ هشتم این قانون تجدیدنظر

وکړي.
(۲) د دې مادې په لومړۍ فقره کې درج شوی حق العبور اندازه ، محصول دملي شوري د تصویب او د جمهور رئیس له توشیح څخه وروسته د اعتبار وړ دی.

د لایحو وضع کول
نولسمه ماده :
دعامه ګټو وزارت کولای شي ، ددې قانون دحکمونو دښه تطبیق په منظور ،جلا لایحې او کړنلارې وضع کړي .

انفاذ
شلمه ماده:
دغه قانون د تصویب له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي اوپه نافذ ېدو سره یې د ۱۴۲۲ هـ.ق کال په (۷۹۸) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د حق‌العبور د اخستلو مقرره ملغي ګڼل کېږي .

نماید .
(۲)اندازۀ محصول حق العبور مندرج فقرۀ (۱) این ماده بعد از تصویب شورای ملی و توشیح رئیس جمهور مدار اعتباراست.

وضع لوایح
مادۀ نزدهم :
وزارت فواید عامه می تواند ، به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، لوایح وطرزالعمل های جداگانه را وضع نماید .

انفاذ
مادۀ بیستم :
این قانون بعد از تصویب نافذ و درجریدۀ رسمی نشر گردد . با انفاذ آن مقررۀ اخذ حق العبور، منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۹۸) سال ۱۴۲۲هـ . ق ملغی شمرده می شود .